بجرہ اجارہ مسئلے

(مولوی) مدداللہ مددار عفی عنہ۔ مدیر جریدہ "نوائے ملت" مردان

مورخہ ۱۰ ر اکتوبر سنہ ۱۹۴۹ء

کتاب ۲

د پښتو

طریقهٔ واضحه

مترجم

فقیر محمد ابراهیم بنیری بازارکوی
عفی عنه

بسم الله الرحمن الرحيم

ثنا خاص هغه پروردګار لره ده - چه راستولے ئے دے حمونږ سردار حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په غوره حجتونو او په روښانه دلیلونو سره (مراد ترے معجزے دی.) دَ خدائ پاک رحمت او سلام دِ وی پر هغه یانِ ترکوے پورے چه دَ مقدمو خاوندان په خپلو مقدمو کښِ. طلب دَ فیصلو کوی دَ حاکمانو په محکموکښِ (یعنے ترقیامته پورے)

پس دَ بسم الله او دَ ثنا او درود و سلام نه وائی محمود بن حمزة چه مفتی دے دمشق شام. هر کله چه ما وُلیدل چه دَ ځنے ځنے کسانو نه علاوه اکثر خلق دَ شهادتونو په طلب کښِ کړبری کوی. او دَ هغے په ضبط او په تحقیق کښِ دَ سستی نه کار آخلی. نو ما اراده وکړه چه دَ قاضی او دَ مفتی دَ پاره یوه لنډه لار اوباسم. یعنے یوه داسے نقشه جوړه کړم. چه هغه بے پروائی راولی دَ کتابونو کتلو او دَ فتاوو لټولو نه. په داسے حال کښِ چه زهٔ امید کوم چه دے نقشے به په اکثرو واقعاتو احاطه کړی وی. او خالی به ترے نه وی. دَ دے نه پخوا اکرکه دا قِسم مسئلے دَ کتاب په شکل کښِ یو ځائے جمع کړے شوی دی. لکه ترجیح البیّنات کتاب شه دَ شیخ غانم عراقی. او فصول کتاب شه. دَ شیخ حسن عدوی رح. او میزان کتاب شه دَ شیخ عبدالباقی او دَ دے نه سوا نور لکه رساله دَ وانی شوه. لکن دَ دے کتابونو نه هر سړے مسئلے نه شی راویستے. فایده ترے نه شی آخستلے. نو ما خپل کتاب له په دَ طریقه ترتیب ورکړلو. چه دوه مقابل شهادتونه م دَ یوے تلے پله دواړو چابړو کښِ کیښودل. غوره شاهدان م وړومبی راوړل بنی دړے ته. او ناغوره ورستوکسے دړے ته دَ پاره دَ دے چه په غوره او په ناغوره کښِ جدائی وُشی. (دَ پانړے په سر کښِ کوم جانب ته چه غوره لیک دے. هغه شاهدان دَ آخره پورے غوره دی. او دَ هغے په مقابله کښِ دَ کوم دَ پاسه چه ناغوره لیک دے. هغه دَ آخره پورے نا غوره

دی۔) او دَ کوم کتاب نه چه رِم مسئله راخستے دہ۔ دَ هغه کتاب نوم هم دَ
مسئلے خوا ته یو طرف ته ولیکلو۔ دَ پاره دَ دے چه دَ ضرورت په وخت کښ
که څوک رجوع غواړی چه رجوع ورته کولے شی۔ او دَ مقدمے نه وروستو به وُړومبے
هغه قسم مسئلے داوړم۔ چه په کومو مسئلو کښ دَ یو مدعی شاهدان غوره
وی۔ او دَ بل ناغوره۔ بیا دَ دے نه وُروستو به هغه قسم مسئلے داوړم
چه په هغے کښ دَ دواړو مدعیانو شاهدان برابر وی۔ او حکم کیږی
دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه سره۔ بیا دَ هغے نه وروستو
به یوه خاتمه ذکر کوُم په بیان دَ تهاتر او دَ تواتر کښ۔ ځکه چه دَ دے دواړو ته
حاجت زیات پیښیږی۔ پس که دوه تنو دَ یو شی دعوه کوله او دواړو
مدعیانو سبب دَ ملکیت یو خوَ۔ لکه هر یو وئیل چه دا شے ما په
بیعه آخستے دے مثلاً۔ نو دا قسم مسئلے به راوړم په مسئلو دَ بیعے کښ۔
او که جدا جدا سبب ئے خوَ لکه یو دَ اِجارے دعوه کوله۔ او بل دَ کانړے یا
دَ هبے (یعنے دَ بخلو چه دا راته فلانی بخلے دے) نو دا قسم مسئلے به راوړم
په مسئلو دَ دعوو کښ۔ او دَ دے کتاب پیر تره والے اگرکه کم دے۔ پانړے
ئے لږے دی۔ لکن مرتبه ئے لویه دہ۔ قایده ئے ډیره دہ۔ په نزد دَ تجربه کارو
ماهرانو عالمانو۔ لکه چه شاعروئیلی دی۔ ؎

دَ عشق په خنجر چه ئے زخمی نه شی ځګر
دَ آشنائے دَ دردو غم نه به هرګز نه شی خبر

او څه چه مالیکلی دی۔ هغه رِم دَ خپل (حنفی) مذهب دَ معتبرو کتابونو نه
راخستی او آنړولی دی۔ لکه جامع صغیر۔ او هدایه۔ او وجیز دَ امام سرخسیؒ
او خانیه۔ او ذخیره۔ او بحر۔ او وجیز دَ کروری۔ او درر۔ او در مختار
او هندیه۔ او مجمله۔ او انقروی۔ او فتاوی دَ علی افندی۔ او تنقیح
او جامع الاجارتین۔ او نور العین۔ او فیض کرکی۔ او حاوی قدسی۔ او جامع
الفصولین۔ او شرح تسهیل۔ او میزان المتداعیین۔ او ترجیح البینات
دَ غانم بغدادی۔ (یعنے محشی کتاب علے) او فتاوی قاری الهدایه۔ او قهستانی
او خیریه۔ او نتیجه۔ او فیضیه۔ او بهجه۔ او شرح المنار۔ او فصول
بدائع۔ او تلویح۔ دا قول دَ کتابونو نوموُنه دی) او دا کتاب ما دَ

هغه بنه بادشاه دَ زمانے دَ ښو یادګارونو نه یو یادګار وګرزه وو - چه هغه
بنا یَست دے دَ بادشاهانو دَ آلِ عثمان - یعنے سلطان ابن سلطان غازی
عبدالحمید خان - خدائ پاک دِ دَ هغه سلطنت دَ آخره پورے باقی ولری
او دَ دے کتاب نوم مِ کیخودو " الطریقة الواضحة الی البینة الراجحة "
(یعنے دَ غوره شهادت لورته ښکاره لار) او خاص دَ خدائ پاک نه سوال
کوم - او دَ هغه په رسول صلی الله علیه وسلم سره وسیله نیسم - چه
دا کتاب خاص دَ خان دَ پاره وګرزوی - په تحقیق سره خدائ پاک لوئ
مهربان او رحم کوُنکے دے - او هغه ځما دَ پاره کافی دے - او ډیر ښه کار
جوړه وُنکے دے.

مُقدّمه

هرکله چه دَ شاهدانو غوره کولو اکثرے مسئلے موقوفه دی دَ مدعی بهرانیٔ او دَ خاوند دَ قبضے په پیژند کلیٔ باندے - نو ضروری شه بیان دَ دوارو - (یعنے ترکومے پورے چه سړے وُنه پیژنی چه مُدعی بهرانیٔ چا ته وئیلے کیږی او خاوند دَقبضے چا ته وئیلے کیږی او خاوند دَ قبضے چا ته - نو په اکثر مسئلو کښی ورته نه شی معلومیدلے چه کوم شاهدان غوره دی - اوکوم نا غوره - دَ دے وجے نه مونږ دَ دوارو بیان کوُو) نو (وایُو چه) خاوند دَ قبضے هغه څوک دے - چه په کوم شی دعوے کیږی یا شوے دَه - هغه ئے په تصرّف کښی وی - په دے شان سره چه دے ترے فایدَه اخلی - او بهرانیٔ هغه څوک دے چه دارنګ نه وی - او (دَ خاوند دَ قبضے په تصرّف کښی دَ کیدو لوته) دا مراد نه دے - چه خاص دَ فیصلے په وخت کښی ئے په تصرف کښی وی - بلکه برابره خبره دَه - چه په دے وخت کښی (هم) وی - اوکه وړومبے وی - نوکه زید (مثلاً) اوس اوس قبضه وکړه په یوه داسے زمکه چه دَ بل په قبضه کښی وه - نو په دے سره زید نه ګرځی خاوند دَ قبضے - یا زید دَ بل په لاس کښی څه شے وُلیدَه - او دَ هغه نه ئے واخست چه دا خو ځما دے - او په دے ئے شاهدان وُدرول - نو (په دے سره زید خاوند دَقبضے نه ګرځی - دَ دے وجے نه) قبلیږی شاهدان دَدَهٔ - ځکه چه دے په واقع کښی بهرانیٔ یعنے بے قبضے دے - (او دا قاعده دَه - چه کوم وخت دوارو دَ مطلق ملکیت دعوه کوی - یعنے هریو وائی چه دا ځما دے - نو په دے صورت کښی شاهدان دَ مدعی بهرانیٔ غوره وی - دَ دے وجے نه شاهدان دَ زید غوره شو) "دارنګ مذکور دی دَ قهستانی په مسئلو دَ دعوی کښی" بیا کوم څیزونه چه منقولی دی (لکه کتاب - آس - وسله - ټوکے - وغیره وغیره) په هغے کښی قبضه والے معلومیږی په لیدو کتو سره - یا په اقرار سره - یا په شهادت سره - (مثلاً خلق ئے وینی راوینی چه دغه منقولی شے دَ زید په قبضه کښی دے یا زید پخپله اقرار کوی چه ځما په قبضه کښی دے - نو معلومه شوه چه زید خاوند دَ قبضے دے - یا) لکه زید دَ دغه منقولی څیز دَ قبضے نه انکار

کاوو - چه ځما په قبضه کښې نه دے - نو چاچه پرے دعوه کړیده - هغه دوه تنه شاهدان راوستل - هغوئ شاهدی وکړه چه هغه شے د یو کال نه د زید په قبضه کښې دے - نو دا شهادت به قاضی آوری - اوزید به خاوند د قبضے کنړلے کیږی " دارنګ وئیلی دی[۱] د هندیې کتاب په باب د تنازع ایدی کښې "

یا نے شه ثبوت د قبضے په هغه څیزونو کښې چه منقولی نه دی - (لکه زمکه - کور دوکان وغیره) نو د فتاوائ خانیئ د دعوو په مسئلو کښې دا ذکر دی - چه یو مدعی که دعوٰ کوله په بل باندے د زمکے - او مدعاعلیه اقرار کړے وی چه دغه زمکه ځما په قبضه کښې ده - نو که مدعی شاهدان ؤدرول غواړی په دے خبره باندې چه دغه زمکه ځما ده - پس د هغے نه چه مدعاعلیه اقرار کړے وی په قبضے سره نو شیخ امام ابوبکر محمد بن فضل صاحب وئیلی دی - چه د مدعی دا شاهدان قبول نه دی تو کومے پورے چه دا مدعی په دے خبره شاهدان تیر نکړی چه دغه زمکه د مدعا علیه په قبضه کښې ده - پس که مدعی په دے خبره شاهدان ؤنه درول چه دغه زمکه د مدعاعلیه په قبضه کښې ده - او په دے خبره ئے شاهدان ؤدرول چه دغه زمکه ځما ده - او حال دا وی چه مدعی علیه وړومبے اقرار د خپلے قبضے کړے وی - او قاضی په دے شهادت سره د مدعی د پاره حکم وکړی (چه زمکه ستا شوه) نو امام محمد صاحب رح په جامع صغیر کتاب کښې وئیلی دی - چه د قاضی دا حکم نافذ او چلیدونکے نه دے - ختم شوه خبره د قاضیخان - او د فتاوٰی خیریئ په مسئلو د دعوے کښې - وئیلی دی - چه دا ثابته شوے خبره ده - چه په غیرمنقولی څیزونو کښې قبضه نه ثابتیږی د مدعی او د مدعا علیه د یو بل په تصدیق کولو سره - مګر که دعوه ئے کوله د غصب (چه ده زما نه په زور نیولے) یا ئے دعوه کوله د قیمت[؟] اختلو (نو بیا ثابتیږی - مطلب دادے چه مدعاعلیه که اقرار کاوو - چه دغه زمکه ځما په قبضه کښې ده - او مدعی ئے هم تصدیق کاوو - چه ؤو - ستا په قبضه کښې ده - نو دا قدر د قبضے د ثبوت د پاره کافی نه دے - ځکه چه کیدے شی - چه خاوند د قبضے شوک غائب سړے وی - او دے مدعی او مدعا علیه دواړو سره دا ټګی دهکړے وی چه نه به خاوند د قبضے شے - او زه به درباندے د ملکیت دعوه وکړم - نو ځما شاهدان

---

[۱] د هندیئ په دے باب کښې دابیان نشته - البته په دعوی العین کښې ئے ذکر شته دے ۱۲ مترجم -

به غوره شی - پرَدیٔ زمکه به واخلو- دَ دے وجهِ نه موږ اووئیل - چه دا قول د کافی نه دے - بلکه مدعا علیه اگرکه اقرار دَ قبضے کړے وی - مدعی به ورومبے دَ هغه په قبضه شاهدان تیرهٔ وی - پس دَ هغے نه به په خپل مالک والی شاهدان تیروی لکن که مدعی دا دعوه کوله چه دغه زمکه ما دَ دے مدعا علیه نه په بیعه اَخستے ده اودَ دهٔ په قبضه کښ ده - یا دهٔ دا نه په زور نیولے ده - او حال دا وی چه مدعا علیه اقرار کړے وی چه دغه زمکه ځما په قبضه کښ ده - نو په دے صورت کښ په مدعی لازم نه دی چه شاهدان تیرکړی - دَ مدعا علیه په قبضے باندے - خو په دے خبره به شاهدات تیره وی - چه دَ دهٔ نه زه په بیعه اَخستے ده - یا په دے خبره - چه زمکه ځما ده خو دهٔ دا نه په زور نیولے ده) او دَ دے بیان وضاحت په هغه خبره سره راځی - کومه چه ذکر ده په جامع الفصولین کتاب کښ (وئیلی ئے دی) چه یو سړی دعوه وکړه - په بل باندے - دَ یو منقولی څیز - نو مدعی علیه اقرار دکړه چه دغه څیز ځما په قبضه کښ دے - نو دا اقرار ئے قبول دے - خو په غیر منقولی څیزکښ قبول نه دے - ترکومے پورے چه مدعی شاهدان وُنه دروی (مدعا علیه په قبضے باندے) پس که مدعا علیه انکار وکړو - دَ قبضے نه (وئے وئیل چه ځما په قبضه کښ نه دے) اودَ مدعی شاهدان نه وو - (په دے خبره چه دغه شے دَ مدعا علیه په قبضه کښ دے) نو مدعا علیه له به قسم ورکیږی (چه ته قسم اوخوره - اودا چه ځما په قبضه کښ نه دے) "مخم" (که چا دعوه وکړه په بل باندے دَ زمکے مثلاً نو مدعا علیه انکار وکړ - چه دغه زمکه ځما په قبضه کښ نه ده - (او دَ مدعی شاهدان نه وو) نو مدعا علیه له به قسم ورکیږی - تر دے پورے چه اقرار وکړی په قبضے باندے - نو که مدعا علیه په قبضے اقرار وکړ - بیا به مدعا علیه له قسم ورکیږی - په ملکیت باندے - (یعنے دا سے قسم به کوی چه دغه زمکه دَ مدعی ملکیت نه دے) پس که مدعا علیه اقرار وکړ - دَ مدعی په ملکیت باندے نو قاضی به مدعا علیه ته حکم کوی - چه ته دغه زمکه پریږده - تصرف پکښ مکوه - اوکه (صورت دَ مسئلے داسے وی چه) مدعا علیه ورومبے اقرار دَ خپلے قبضے کړے وو اوس مدعی شاهدان وُدروی - په دے خبره چه دغه زمکه ځما ده - نو دَ مدعی دا شاهدان قبول نه دی - ترکومے پورے چه دے په دے خبره شاهدان وُنه دروی

عه دا اشاره ده کتاب الاحکام ته - لکن ځما نخه چه کومه نسخه دَ جامع الفصولین کتاب موجوده ده په هغے کښ دا حاشئ په مخم حواله نه ده ورکړے - بلکه په "خ - ے" ورکړے ده - او خ اشاره ده قاضیخان ته ۱۲ مترجم

چه دغه زمکه دَ مدعا علیه په قبضه کښې ده - پس که مدعی شاهدان ونه دروُل - دَ مدعا علیه په قبضه باندے - او شاهدان ئے وُدروُل - په خپل ملکیت پس دَ هغے نه چه مدعا علیه دَ خپلے قبضے اقرار کړے وو - او قاضی حکم وکړو په دغه زمکه سره - دَ پاره دَ مدعی نو دَ قاضی دا حکم نافذ او چلیدونکے نه دے - ترکومے پورے چه مدعی شاهدان وُنه دروی - یا قاضی[1] ته معلومه نه وی - چه دغه زمکه دَ مدعا علیه په قبضه کښې ده - ختم شوه خبره (دَ جامع الفصولین کتاب)

او په ځنګل دَ وُنو کښې قبضه په دے طریقه معلومیږی - چه سړے تړ وُنے پریکوی او خرڅوی - یا دَ دے په مثل بل څه فایده ترے آخلی - (نو دے ئے خاوند دَ قبضے دے) او په ځنګل دَ نلو کښې په دے طریقه معلومیږی - چه سړے تر نلونه پریکوی - او وبی ئے په خپل حاجت کښې دَ لګولو دَ پاره یا دَ خرڅولو دَ پاره ده دارنګ ذکر دی دَ هندیے کتاب په باب دَ تنازع الایدی کښې"

بیا دا خبره زده کړه چه شاهدان شاهدی وکړی په قبضے باندے - نو قاضی به دَ دواړو شاهدانو نه تپوس کوی چه تاسو چه دَ ده په قبضه شاهدی وکړه دا شهادت دَ آوریدو دے او که دلیدو - (اودا) ځکه چه کله دوه تنه دَ یو سړی اقرار واوری دَ دے خبرے چه فلانے شے ځما په قبضه کښې دے - نو دوی دواړه ګمان وکړی - چه اوس ځموږ دَ پاره شاهدی کول په دے قبضه جایز دی - او دا خبره دَ فقهِ دَ ډیرو عالمانو نه مجمله پاتے کیږی - نو خیال نه ئے را نه شی - نو چه دَ کومے پورے شاهدانو دا نه وی ویلی - چه موږ دَ دهٔ قبضه په خپلو سترګو لیدلے ده - شاهدی ئے قبوله نه ده - " دارنګ ویلی دی فتاوی خیرئے په مسئلو دَ دعوی کښې"

بیا ردا خبره زده کړه چه) که چا دعوه وکړه په یو داسے شیز چه حاضر وو - موجود وو دَ یو سړی په لاس کښې چه دا ځما دے - او مدعا علیه اِنکار وکړه (چه دا ستا نه دے) او مدعی شاهدان وُدروُل په خپله دعوه باندے - بیا مدعی قاضی ته سوال وُکه چه ته ماله دَ دے مدعا علیه نه دَ دهٔ دَ نفس ضامن واخله - (چه دے چرته غائب نه شی -) ځما دَ شاهدانو دَ کره والی دَ معلومیدو پورے - نو قیاس خو دا غواړی چه قاضی

---

[1] په بحرالرائق او قاضی خان او جامع الفصولین او ملتقی الابحر کښې دا څاګے دَ قاضی علم لره هم اعتبار ورکړے دے او په خلاصه کښې ذلله صرف دَ شهادت ذکر دے - او په شامی کښې دا ځائے ویلی دی چه مفتی په خبره داده - چه قاضی به حکم نه کوی صرف دَ خپل عِلم په بنا - ۱۲ مترجم -

دِ مدعاعلیه په دے خبره مجبوره نکړی - لکن کوم دلیل ترا ستحسان وَیلے کیږی دَ هغه تقاضا داده چه قاضی به مدعا علیه مجبوره کوی - چه ته مدعی له خامخا ضامن ورکړه - (دا سے ضامن چه ثقه وی - دَ پټیدو نه وی)) پس که مدعیٰ علیه ورله خپل ضامن ورکه - نو بنا ئیږی چه دَ هغه نه یو وکیل دَ مقدمے هم واخلی (او که مدعا علیه ورله وکیل ورکړ - نو مدعی تر دَ وکیل ضامن هم طلبولے شی) فائده به نے داشی چه مدعا علیه که پټ شه - نو قاضی به حکم وکړےشی دَ هغه په وکیل باندے - او په کومٙ شی چه دعوه شویده - دَ هغے ضامن به تر هم واخلی - څکه چه قاضی حکم نه شی کولے - تر کومے پورے چه مدعا علیه (یا دَ هغه قایم مقام) او دَ دعوے ځینا حاضر نه وی - او که یو سړے هم ضامن شه او هم وکیل - نو داجائزه ده - او قاضی په دا کار هاله کوی - که مدعی ورنه دَ دے درخواست وکړ - او که مدعا علیه دَ خپل ضامن ورکولو نه انکار وکړ - نو قاضی به مدعی ته وائی چه ته ئے ذرمنئ کوه دَ شپے - او دَ ورځے ورسره گرځه په نظر کښی ئے ساته - په یا دَ بل په ذریعه - دا حکم چه تیر شه هاله دے - که مدعی شاهدان ودرول په خپله دعوه باندے - او که مدعی دعوه کړے وی - او شاهدان ئے نه دی ودرولی - او قاضی ته وائی چه ماله ترے ضامن واخله - نو (په دے کښی دوه صورته دی -) که مدعی وئیل چه څما شاهدان غائب دی نو قاضی به ورله دَ مدعا علیه نه ضامن نه آخلی - او که مدعی وئیل - چه څما شاهدان په ښهر کښی حاضر دی نو قیاس خو دا غواړی چه ضامن ورله واخلی او استحسان دلیل دا وائی چه قاضی به ورله دَ مدعا علیه نه ضامن ورله آخلی - تر دویم نشسته دَ قاضی پورے - (یعنی قاضی چه کوم وخت بیا فیصلو نه کینی تر هغه وخته پورے به دغه ضامن وی -) او دا دلیل حکم دے که مدعی صِرف یو شاهد وُدرولے وی نو دَ مدعا علیه نه به دَ هغه دَ حاضرولو ضامن - او په کوم شی چه دعوه شویده شی دَ حاضرولو ضامن او دَ مقدمے وکیل او دَ وکیل دَ حاضرولو ضامن اخلی - نو که مدعا علیه ورله وکیل ورکه - او بیدوئے ورکه - یا ئے بیاو ورکه - او وکیل ئے ورنکه - نو قاضی به دا نه قبلوی - بے دَ مدعی دَ رضا نه - او که دعوه کړے شوے څیز منقولی وو - او مدعی قاضی ته او وئیل

له که منقولی وو - ۱۲ مترجم - لله په شامی کښی ئے دَ بحر نه نقل کړیدی او په مجمع الانهر کښی ئے هم ښکلی دی چه مدعی که جاهل وو - نو قاضی دِ ورله بے درخواسته ضامن واخلی - ۱۲ مترجم

چه زهٔ دَ نفس په بيايو اودَ دغه شيز په بيئو اخستلو راضي نه يم - زهٔ خو داغواړم چه دا شئے دَ چا ثقه معتبر سړي څخه کيښودے - توکه مدعا عليه په خپله بنه ثقه وو - يره ترِنه کيږه چه دغه شے به چرته پټ کړي - تو قاضي به دَ مدعي داخبره نه قبلوي - اوکه مدعا عليه فاسق وو - يره ترِ کيږلا - نو بيا به قاضي دغه شے دَ چا سم سړي په لاس کيږدي - اوکه دعوه کړے شوے شے منقولي نه وو - اومدعي قاضي ته اووئيل چه ته ئے دَ چا ثقه سړي په لاس کيږدهٔ - نو قاضي به ئے دا خبره نه مني - مگرکه هغه ميوه دارے وُنے وے نو بيا به ئے مني -

اوکه دعوه کړے شوے شيز څاروے يا وينزه وهٔ - چه ضرورت ئے پيښيابودَ خوراک موداک خرچے ته - او مدعا عليه دَ بيئو ورکولو ته انکار وکړو - او مدعي قدرت دَ ورنئي کولو نه لرلو نو قاضي ته ئے درخواست وکه - چه ته ئے دَ چا سم سړي څخه پريږدهٔ وه نو قاضي به مدعي ته وائي چه ستاکه خوښه وي زه به ئے دَ چا معتبر سړي څخه پريږدم - او خرچه صرفه به ئے په تا وي - برابره خبره ده که ستا شاهدان کره ثابت شو - اوکه نه - اوکه بيا ما ستا دَ پاره حکم وکه اوکه رِم ونکه - نوکه مدعي په دے خبره راضي شو - قاضي به ئے دَ چا سم سړي څخه پاتے کړي - اوکه مدعي راضي نه شه - نو ته به ئے پاتے کړي - اوکه مدعي دَ قاضي نه دا طلب وکه - چه ته دَ دے دعوه کړي شوي شئ اودَ مدعي عليه په مينځکښ پناه لئ راوله (چه مدعا عليه ورنه څه اونه شي وړيلے) نوکه مدعي لا په خپله دعوه شاهدان نه ؤو وُدرولي اودا طلب ئے وکه نو قاضي به ئے دا خبره نه قبلوي - او دا رنګ حکم دے که يو فاسق شاهد يا دوه فاسقان شاهدان ئے وُدرولي ؤو - (نو هم به قاضي دَ مدعي دغه مطالبه نه قبلوي) ځکه چه دَ فاسق شهره معتبره نه ده - اسے ته نه ګورے که فاسق سړي اووئيل چه دا اُوبه نجسے دي يا پاکے دي نو دَ هغه قول په دے کښ معتبر نه دے - ديه ظاهرالرواية[له] کښ - اوکه وُړومبے مدعي يو ثقه شاهد ودرولے وي - يا دوه دا سے شيځے ئے وُدرولي وي - چه ښه والے اوبد والے ئے ښکاره نه وو - نوکه دعوه دَ شيځے په بابت کښ وه - نکه شاهدي ئے کوله په دے خبره چه دا وينزه دَ دے مدعي ده - نو پناه لئ به راوستے شي - دَ دغه وينزے اودَ مدعا عليه په منځکښ - او وينزه به دَ يو ثقه سړي کره کيښولے شي - او دا رنګ حکم دے که شيځے دعوه وکړه چه زهٔ په اصل کښ آزاده

[له] ظاهرالروايت څه ته وائي ؟ دَ دے بيان دَ دے کتاب په آخر کښ وګوره - ۱۲ مترجم ❊

یَم - یا زَه خپل صولی آزاده کړے یَم - یا شاهدانو شاهدی کوله چه دا ښځه خاوند طلاقه کړے دَه په طلاقو باینُ سره (یعنے هغه طلاق چه رجوع پکښې بیا نه شی کیدے - تر څو پورے چه نوے نکاح نه وی شوے -) یا په دریوُ طلاقو سره - نو قاضی به پټانی را اولی دَ دغه ښځے او دَ خاوند په منځکښې - او دا پټانی به په دے طریقه راولی - چه قاضی به دَ دغه ښځے سره یوه نیکه پاکه ښځه ملګرے کړی - او ښځه به نه وځی دَ خاوند دَ کوره نو که دَ وېتږے او دَ مدعیٰ علیه په منځکښې پټانی وُغورزولے شوه - او بیا دَ مدعی دَ شاهدانو کره والے ثابت نه شه - او مدعی او وئیل چه ځما نور شاهدان هم حاضر شته - نو عالمانو وئیلی دی - چه دغه پټانی به نه پورته کیږی - او وینزه به دَ هغه ثقه سړی دَ لاسه نه آخستلے کیږی - دَ مجلس دَ آخره پورے - او بعض عالمان وائی چه نیتیه به ورته کیخودے شی - دَ یو شو وړزو لکه چه قاتل که دعوه وکړه - چه مانړ دَ مقتول ځوئ مثلاً دَ دے قتل عفوه کړیده - او شاهدان م شته - نو (په دے صورت کښې قاتل له) مهلت ورکیږی - دَ یو څو وُرزو - او که چا دعوه وکړه - دَ نکاح دَ یوے ښځے - او دغه ښځه وه دَ بل سړی په قبضه کښې نو مدعی شاهدان وُدرول په خپله دعوه باندے - بس که مدعی قاضی نه درخواست وُکه - چه ترکومے پورے چه تر ځما دَ شاهدانو دَ حال تحقیق کوی - دَ هغه وخته پورے دَ دے ښځے او دَ دغه سړی په منځکښې پټانی راوله - یا دا ښځه دَ یو ثقه سړی کره کینوه - نو قاضی به دا درخواست منظور کړی - او که مدعی دا درخواست ونکه - قاضی به دَ خپل طرفه دا کار نه کوی - او دا رنګ حکم دے که ښځے دَ نکاح دَ فاسد والی دعوه وکړه - او شاهدان ئے وُدرول - او سوال ئے وُکه دَ پټانی راوستلو - او دارنګ حکم دے که زیں دعوه وکړه په یوه وینزه - او دغه وینزه دَ بکر په قبضه کښې وه - نو زیں او وئیل چه دا وینزه ما په بکر باندے خرڅه کړے وه په بیعه فاسدے سره - او بکر او وئیل چه دا وینزه ما دَ زیں نه قیمةً آخستے ده په جایزه طریقه - نو دا سے ده - لکه چه ښځه دَ نکاح دَ فاسد والی دعوه کوی (نو که مدعی په خپله دعوه شاهدان وُدرول - او دَ قاضی نه ئے سوال دَ پټانی راوستلو کاوو - قاضی به ئے دا سوال منظور کړی) او که دعوه دَ ښځو نه سوا دَ بل څیز په بابت کښې وه - او مدعی شاهدان وُدرول په خپله دعوه باندے نو قاضی به دَ مدعا علیه نه دَ مدعا علیه ضامن او دَ دعوه کړی شوی څیز ضامن او دَ مقدمے وکیل آخلی - او دَ چا ثقه سړی څخه دَ دغه څیز کیخودلو ته او پټانی

راوسنلو نه دلته ضرورت نشته - مګر هاں په کوم شي چه دعوه شوې ده - که د هغې د پټولو یا د ضایع کولو یره وه - نو بیا حاجت شته دې - اوکه وه یوه ښځه د دوو تنو په قبضه کښې - او هر یو دعوه کوله چه دا ځما ده - نو قاضي به دغه وینزه د دې دواړو څخه پریږدي - او هر یو ته به وائي چه ته شاهدان تیارکړه په خپله دعوه باندې پس که په د دواړو مدعیانو کښې هر یو داغوښتله چه وینزه دِ ځمره ما څخه وي - او د دواړو مدعیانو په دې خبره جګړه وه - نو د جګړې د خورولو د پاره به ورته قاضي حکم کوي - چه ناسویو درېمګړې سړې خوښ کړئ - چه د شاهدانو تیریدلو پورې ورڅخه دا وینزه پاتې کړې شي - پس که یو مدعي شاهدان ودرول په خپله دعوه باندې او هغه بل ونه درول نو قاضي به د شاهدانو د حال معلومولو پورې دغه وینزه د یو ثقه نیک سړي په لاس کیږدي - اوکه یو سړي په یوې داسې لوئې ښځې باندې د نکاح دعوه وکړه چه هغه د چا پر قبضه کښې نه وه - او هغې د ده د نکاح نه انکار کاوو - او په خپله دعوه ئې شاهدان ودرول - او قاضي ته ئې سوال وکه - چه د شاهدانو د حال معلومیدلو پورې دا ښځه یو سم سړي ته حواله کړه - نو قاضي به دا نه کوي - لکن د ښځې نه به ضامن اخلي (د حاضرولو) او دارنګ حکم دې - که یو سړي دعوه د نکاح اوکړه د یوې داسې باکرې جینۍ چه د پلار کره وه - او مدعي شاهدان ودرول - بیائې قاضي ته سوال وکه - چه ته ئې د چاکره کینوه - تر دې پورې چه ځما د شاهدانو حال معلوم شي -) نو قاضي به دغه جینۍ (د پلار د کوره) نه لرې کوي (خو ضامن به ورله آخلي) اوکه دعوه کړې شوې څیز منقولي وو - خو دومره لوئې او دروند یا ډیر وو - چه د یو ځائې نه بل ځائې ته یې د کړاوَ نه وړې راوړې کیدې نه شه - لکه لویه ګرګله - د جرندې پل - ډیر بیزې - د جوکلو او د تللو څیزونه - لکه د دانو ګشه - د نوکو ډیر تهانو نه نو د دې په حکم کښې عالمانو اختلاف کړیدې - بعضو ویلي دي - چه دغه شې به د قاضي مجلس ته راوړلې کیږي - او د راوړلو مشقت ئې پر مدعا علیه باندې دې - خو صحیح خبره دا ده چه کوم ځائې دغه شې پروت وي - قاضي به هغه ځائې ته یو داسې سړې لیږي - چه د دغه شي د څنګه د مدعي د شاهدانو شهادت واوري - او وزسره به (نور) شاهدان لیګي - نو چه دوئې واپس راشي - د قاضي په مخکښې به داسې شاهدي وکړي چه ځموږ په مخکښې د مدعي شاهدانو د

مدعی دَ پاره شاهدی وکړه. پس دَ دے نه به قاضی حکم کوی دَ پاره دَ مدعی. او کوم سړے چه قاضی دَ خپل جانبه دَ شهادت آوریدلو دَ پاره لیږلے دے. هغه فیصله کولے نه دے. نو ضروری شوه چه قاضی به حکم کوی په دغه شهادت سره. ختم شوه خبره "دارنګ ویلی دی قاضیخان په مسئلو دَ دعوٰی کښ"

او که چا دعوه کوله په بل بانده دَ غصب (چه دهٔ دا نه فلانے څیز په زور آخستے دے.) نو چه کوم سړی تړے دغه شے په زور اخستے دے. او ورځخه دے. دا مدعی به وائی چه دا شے څما ملکیت دے. او څما په قبضه کښ وو. تر دے پورے چه دے سړی دا نه په زور واخستو. او یا به دا سے وائی چه دغه شے څما ملکیت دے او څما په قبضه کښ وُو تر دے پورے چه دے سړی پرے ناحقه قبضه وکړه. او که مدعی په دے طریقه دعوه وکړه چه دا شے څما ملکیت دے. او څما په قبضه کښ وو. او خاوند دَ قبضے پرے ناحقه قبضه کړیده. نو دا دعوه دَ غصب نه ده. په خاوند دَ قبضے باتل دے." دارنګ ذکر دی دَ قاضیخان په مسئلو دَ دعوه کښ."

دَ مجملے شاهدئ څه حکم دے؟ او دَ کاغذ نه دعوه کول یا شاهدی کول څرنګ دی؟

کوم وخت چه یو شاهد شاهدی وکړی دَ دعوے سره برابره. سره دَ نورو ضروری خبرو نه. کومے چه په شاهدئ کښ ضروری دی. او دویم شاهد (په مجمله طریقه) او وائی چه زه شاهدی کوم دَ دے ورومبی شاهد په شهادت (یعنے زهٔ هم دغه شان شهادت کوم) نو خصّاف صاحب رح ویلی دی چه (د دویم شاهد دا شاهدی) قبوله نه ده. او شمس الائمه سرخسی صاحب رح ذکر کړیدی. چه قاضی که پرے دَ دروغو گمان کاوو. تهمت دَ دروغو پرے لګیدلو نو دا مجمله شاهدی به ئے نه قبلوی. او که نه وی نو بیا به ئے قبلوی. او که مدعی دَ لیکلی کاغذ نه دعوه کوله (یعنے دعوه ئے په کاغذ لیکلے وه. کاغذ نه ئے کتل او دعوه ئے کوله) نو قاضی به آوری دا دعوه دَ ده. ځکه چه ممکنه ده. چه دے به (په یاد و) دعوه نه شی کولے. لکن کوم کوم ځائے چه دَ اشارے ضرورت وی. هلته اشاره کول ضروری دی. (مثلاً دا شے چه وائی نو هغه شی ته به

لاس نیسي) اوکه شهادت په کاغذ لیکلے وُو۔ او شاهد دَ کاغذ نه شاهدي کوله او کوم ځایَ چه دَ اشارے کولو ضرورت وُو۔ اشاره ئے کوله۔ نو دا شاهدي جائزه ده۔ آو که قاضي دوه وُ نو نو ته حکم وکړلو چه څوک دَ دعوے دَ پاره راشي۔ او دَ دعوے کولو نه عاجز او بے خبره وي۔ تا سو ورته دَ دعوے او دَ مقدمے طریقے ښئ۔ نو په منتقی کتاب کښ ویَلي دي چه په دے کښ څه عیب او بدي نشته "۔ دا دلیل ذکردی دَ قاضیخان په مسئلو دَ دعوي کښ"۔ اوس شروع کیږي مسئلے دَ کتاب په مدد دَ رب الارباب۔ او خاص هغه دے توفیق ورکوُنکے او مسبّب الاسباب۔

دَ نکاح مسئلے

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ مدعي بے قبضے په دے خبره بانده چه دَ دے ښځے سره ما نکاح کړیده۔ او حال داوي چه تاریخ دَ نکاح ئے نه وي ذکر کړے۔ او ښځه هم اقرار کوي۔ چه دُ دهٔ ذهٔ په نکاح آخستے یمه	شاهدان دَ بل مدعي بے قبضے په دے خبره باندے چه دَ دے ښځے سره ما نکاح کړیدے۔ او حال دا وي چه دهٔ هم تاریخ دَ نکاح نه وي ذکر کړے۔ او ښځه انکار کوي دَ دهٔ دَ نکاح نه	هندیه
شاهدان دَ مدعي بے قبضے۔ په دے خبره باندے چه دَ دے ښځے سره ما په فلاني تاریخ نکاح کړیده۔ او حال داوي چه ښځه اقرار کوي دَ دهٔ په نکاح سره۔	شاهدان دَ بل مدعي بے قبضے په دے خبره باندے چه دَ دے ښځے سره په دغه تاریخ ما نکاح کړیدے۔ او حال دا وي چه ښځه منکره وي دَ دهٔ دَ نکاح نه	هندیه
شاهدان دَ مدعي بے قبضے په دے خبره باندے چه دَ دے ښځے سره ما په فلاني تاریخ نکاح کړے دے۔ او حال داوي چه ښځه هم اقرار کوي دَ دهٔ په نکاح سره۔ او دهٔ چه کوم تاریخ خووُلے دے هغه دَ دے بل مدعي	شاهدان دَ بل مدعي بے قبضے په دے خبره باندے چه دَ دے ښځے سره ما په فلاني تاریخ نکاح کړیدے او حال داوي چه ښځه دَ دهٔ دَ نکاح نه انکار کوي۔ او دهٔ چه کوم تاریخ خووُلے دے هغه	هندیه

غوره	ناغوره	حواله
دَ تاریخ نه ورومبے وی	هم ورستے وی	
شاهدان دَ مدّعی[1] بے قبضے په دے خبره باندے چه دَ دے ښځے سره ما په فلانی تاریخ نکاح کړے دے او حال داوی چه ښځه اقرار کوئکی وی دَ دهٔ په نکاح سره - او دهٔ چه کوم تاریخ خودلے دے هغه ورومبے وی۔	شاهدان دَ بل مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دَ دے ښځے سره ما په فلانی تاریخ نکاح کړیده او حال داوی چه ښځه اقرار کوی دَ دهٔ په نکاح سره - او دهٔ چه کوم تاریخ خودلے دے هغه وُرستے وی۔	هندیه
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا ښځه ما په فلانی تاریخ په نکاح آخستے ده۔	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دا ښځه په دغه تاریخ ما په نکاح اخستے ده	هندیه
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا ښځه ما په نکاح آخستے ده - او تاریخ دَ نکاح و نخنئ	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دا ما په فلانی تاریخ په نکاح آخستے ده	هندیه
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا ښځه ما په نکاح آخستے ده - او حال داوی چه ښځه اقرار کوی د دهٔ په نکاح سره او تاریخ دَ نکاح نه وی ذکر کړے۔	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دا ښځه ما په نکاح اخستے ده - او دے هم تاریخ دَ نکاح و نخنئ۔	هندیه
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په نکاح دَ یوے ښځے بے دَ ذکره دَ تاریخه دَ نکاح نه	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په نکاح دَ دغه ښځے بے دَ ذکره دَ تاریخه دَ نکاح نه	هندیه

[1] په دے مسئله کښ دَ وُرومبی تاریخ واله دَ پاره که ښځے اقرار نه وی کړے۔ بلکه انکار ئے کړے وی۔ نو هم دَ هغه شاهدان غوره دی۔ ځکه چه دَ غوره والی سبب دَ تولو نه مخکښ ورومبے ولے دَ تاریخ دے۔ که دا نه وو نو بیا قبضه ده۔ بیا دخول یعنے کور والے دے۔ بیا اقرار دے۔ دا ټکله ذکر دی په بحر او په شامی کښ ۱۲ مترجم

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دا ښځه ما په فلانی تاریخ په نکاح اخستے ده - او حال داوی چه دا تاریخ وړومبے وی -	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه داما په فلانی تاریخ په نکاح آخستے ده - او حال داوی چه دا تاریخ وروستے وی	هندیه
شاهدان دَ مدعی[1] بے قبضے په دے خبره باندے چه مادَ دے ښځے سره نکاح کړیده او هم ورسره دخول (یعنے کوروالے) کړیدے او حال داوی چه ښځه اقرار کونکے وی -	شاهدان دَ بل مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دَ دے ښځے سره ما نکاح کړیدے او هم ورسره دخول کړیدے - او حال داوی چه ښځه منکره وی -	هندیه
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په نکاح دَ یوے ښځے داسے نکاح چه ظاهر یا هر (او خلقو ته ښکاره او معلوم) وی -	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په نکاح دَ دغه ښځے هرڅنګه چه وی (ناغوره وی) مګر دَ تاریخ په وړومبی والی سره (یعنے که دَ دَهٔ تاریخ دَ نکاح وړومبے وو - نو بیائے شاهدان غوره دی)	هندیه
شاهدان دَ زید په دے خبره باندے چه دا ښځه خما ښځه ده -	شاهدان دَ دغه ښځے په دَ خبره باندے چه زهٔ دَ بکر ښځه یم او حال داوی چه بکر انکار کوی دَ دے دَ ښځوالی نه -	غانم
شاهدان دَ زید په دے خبره باندے چه ما دَ زینبے سره نکاح کړیده او تاریخ دَ نکاح و نځیٔ	شاهدان دَ یوے داسے ښځے چه هغه دَ زینبے خور وی او شاهدان په دَ خبره ودروی چه زید خما سره نکاح کړیده	تنقیح

[1] په هندیه کښ وئیلی دی چه دوه تنو بے قبضه مدعیانو که دَ یوے ښځے په نکاح او په دخول شاهدان ودرول - نو دَ کوم یو دَ پاره چه ښځے دَ وړومبی دخول اقرار وکړه دَ هغه شاهدان غوره دی - او که دَ دواړو نه منکره وه - نو قاضی به دَ دے او دَ دواړو په مینځکښ تفریق راولی او په هر یو به دَ دخول په وجه مقرره مهر او یا مهر مثل کوم چه کم وی هغه به لازم شی - ۱۲ مترجم :

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ خاوند يا دَ ښځے په دے خبره باندے چه څمونږ دا نکاح فاسد شوید ے۔	شاهدان دَ هغه بل په دے خبره باندے چه دا نکاح صحيح دے۔	تنقيح
شاهدان دَ يوے ښځے[1] ياکرے په دے خبره باندے چه کوم وخت ماته څما دَ نکاح خبر را ورسيد نو ما رد وکه (دُم وَيل چه زهٔ په دے نکاح راضي نهٔ يم۔ غاړه نهٔ ږدم)	شاهدان دَ خاوندان په دے خبره باندے چه کوم وخت تا ته دَ نکاح خبر دررسيد۔ نو ته چپ شوے (هيڅ دِے ونه وَئيل)	تنقيح
شاهدان دَ خاوند په دے خبره چه تا دَ دے نکاح اجازه کړے وه۔	شاهدان دَ ښځے په دے خبره بانڼ چه ما رد کړے وو (ما وَيلي وُو چه زهٔ دَ دے نکاح ته غاړه نهٔ ږدم راضي نهٔ يم)	تنقيح
شاهدان دَ يوے ښځے په دے خبره باندے چه کوم وخت زه خپل پلار دے زيد له په نکاح ورکولم نو زهٔ لويه وُم او په دے نکاح راضي نه وُم۔	شاهدان دَ زيد په دے خبره باندے چه دَ دے نکاح دَ دے پلار څما سره کړيدے په داسے حال کښ چه دا ديه وه	تنقيح
شاهدان دَ ښځے په دے خبره بانڼ چه ما دَ خپل نه چه دَ خاوند ته ابراء کړيده (دَ مهر نه م آزاد کړيدے) نو هغه م په يو شرط سره کړيده۔	شاهدان دَ خاوند په دے خبره باندے چه ماته دے ابراء کړے دهٔ۔ بے دَ څه شرط نه	تنقيح
شاهدان دَ لور په دے خبره بانڼ چه زهٔ دے پلار په داسے حال کښ په نکاح ورکړے يم چه ځوانه جانه وُمه او ما دِے نکاح	شاهدان دَ پلار په دے خبره باندے چه ماته په نِکاح ورکړے وے په داسے حال کښ چه ته	

[1] يعنے هغه ښځه چه پرده د رحم ئے دَ جماع په سبب نه وی لرے شوی ۔ ۱۲ مترجم

[2] او قاضيخان په دعوے الملک بسببِ کښ وَئيلي دی چه په دے صورت کښ شاهدان دَ خاوند غوره دی لکن ترجيح مسئلے دَ نِکاح وګوره ۔ ۱۲ مترجم

غوره	ناغوره	حواله
رد کړے وو	وړه وے.	تنقیح
شاهدان د مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه فلانئ ښځه چه مړه ده هغه ځما ښځه وه. ما ورسره په فلانی تاریخ نکاح کړے وو. او تاریخ د نکاح داسے وخئ چه هغه د دے بل مدعی د تاریخ نه وړومبے وی.	شاهدان د یو بل مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه هغه ځما ښځه وه. ما ورسره په فلانی تاریخ نکاح کړے وو. او دے د خپل نکاح داسے تاریخ وخئ چه وُرستے دی.	هندیه
شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره باندے چه دا ښځه ما په فلانی تاریخ په نکاح آخستے ده.	شاهدان د مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دا ښځه په دغه تاریخ ما په نکاح اخستے ده.	هندیه
شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره باندے چه دا ښځه ما په نکاح آخستے ده. او تاریخ د نکاح ونځئ.	شاهدان د مدعی بے قبضے په دے خبره چه دا ما په فلانی تاریخ په نکاح آخستے ده.	هندیه
شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره باندے چه دا ښځه ما په نکاح آخستے ده. او حال داوی چه ښځه اقرار کوی د ده په نکاح سره او تاریخ د نکاح نه وی ذکر کړے.	شاهدان د مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دا ښځه ما په نکاح اخستے ده. او دے هم تاریخ د نکاح ونځئ.	هندیه
شاهدان د خاوند د قبضے په نکاح د یوے ښځے بے د ذکره د تاریخ د نکاح نه.	شاهدان د مدعی بے قبضے په نکاح د دغه ښځے بے د ذکره د تاریخ د نکاح نه	هندیه

سله په دے مسئله کښں د وُړومبی تاریخ واله د پاره که ښځے اقرار نه وی کړے - بلکه انکار ئے کړے وی - نو هم د هغه شاهدان غوره دی - ځکه چه د غوره والی سبب د تولو نه مخکښں وړومبے والے د تاریخ دے - که دا نه وو نو بیا قبضه ده - بیا دخول یعنے کور والے دے - بیا اقرار دے - دا دنکه ذکر دی په بحرا و یه شامی کښں ۱۲ مترجم مولوی محمد ابراهیم عفی عنه

غوره	نا غوره	
شاهدان د ښځې په دې خبره باندئ چه کوم وخت ما ته ځما دې نکاح خبر داورسيد نو ما رد وکړلو (زوم وئيل چه زۀ راضي نه يمه)	شاهدان د خاوند په دې خبره چه کوم وخت تا ته دې نکاح خبر دورسيدلو نو ته چپ شوې (هيڅ دې ونه وئيل)	انقره وي
شاهدان د خاوند[1] په دې خبره باندئ چه کوم وخت ځما نکاح د دې ښځې سره وشه او دې ته خبر ورسيده نو دې اجازه وکړه (وې وئيل چه په دې نکاح راضي يمه)	شاهدان د ښځې په دې خبره باندئ چه کوم وخت زۀ د دې نکاح نه خبر شوم نو ما رد وکړلو (زوم وئيل چه زۀ پرې راضي نه يمه)	انقره وي
شاهدان د ښځې په[2] دې خبره باندئ چه مال دې خاوند چرته راليږلې وو۔ هغه مهر وه	شاهدان د خاوند په دې خبره باندې چه هغه په مهر کښې حساب وو۔	تنقيح
شاهدان د ښځې په دې خبره باندئ چه دا څيز ماله خپل خاوند زيني (چه مړ دې) په مهر کښې راکړې وو۔	شاهدان د ميراث خوړونکي په دې خبره باندې چه دا څيز ما ته زيني کانړه کړيدې۔ يا په دې خبره چه دا ئے ما ته هبه کړې (يعنې بخلې) دې	تنقيح
شاهدان د ورومبي[3] مدعي بې قبضې په دې خبره باندې چه دا ځما ښځه ده۔ دې ځما په نکاح سره اقرار کړيدې۔	شاهدان د بل مدعي بې قبضې په دې خبره باندې چه دا ځما ښځه ده۔ دې ځما په نکاح سره اقرار کړې دې۔	غانم
شاهدان د يو مسلمان[4] په نکاح د يوې ذمۍ[5] ښځې (چه کتابيه وي) او دې تاريخ	شاهدان د يو ذمي په نکاح د دغه ښځې۔ بې د ذکره د تاريخه	

[1] دا رنګ په قاضيخان کښې وئيلي دي۔ ۱۲ مترجم [2] په حاشيه کښې ئے په قاضيخان حواله ورکړې ده لکن قاضيخان په باب د نفقې کښې په دې مسئله کښې شاهدان د خاوند غوره کړي دي۔ وګوره ترجيح ۱۲ مترجم [3] د ورمبي نه مراد دا دې چه په دې دواړو مدعيانو کښې قاضي چه د کوم يو شاهدان ورومبي واخستل نو هغه غوره دي۔ او خو به د قاضي ده۔ وګوره ترجيح ۱۲ مترجم [4] په دې مسئله کښې د امام ابويوسف صاحب رح اختلاف دې ۱۲ مترجم [5] ذمي هغه کافر دې چه د مسلمان بادشاه په سوري کښې وسي۔ او جزيه ئے قبوله کړې وي۔ نو د هغه او د هغه د مال حفاظت د مسلمان په شان کيږي ۔ ۱۲ ۔ مترجم

غوره	ناغوره	حواله
د نکاح ونځنۍ	دَ نکاح نه ۔	غائم
شاهدان دَ ښځې په دے خبره باندے چه ځما مهر زر روپۍ دے ۔ او حال داوی چه ظاهر حال دَ خاوند دَ پاره شاهد[1] وی	شاهدان دَ خاوند په دے خبره باندے چه ستا مهر پنځه سوه روپۍ دے او حال داوی چه ظاهر حال هم دَدهٔ شاهد وی	غائم
شاهدان دَ ښځې په دے خبره باندِ چه ځما مهر دوه زره روپۍ دے ۔	شاهدان دَ خاوند په دے خبره باندِے چه مهر دِ زر روپۍ دے	خانیه
شاهدان دَخاوند په دے خبره باندے چه ستا مهر زر روپۍ دے ۔ او حال داوی چه مهرِ مثل دَ زرو نه زیات وی	شاهدان دَ ښځې په دے خبره باندے چه ځما مهر دَ زرو روپو نه زیات دے ۔ او حال داوی چه مهر مثل هم دَ زرو روپو نه زیات وی.	غائم
شاهدان دَ ښځې په دے خبره باندے چه دا څیز ځما په مهر کښ دے	شاهدان دَ خاوند په دے خبره چه دَ دے نه علاوه ستا مهر دے۔	خانیه

دَ طلاقو مسئلے

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ ښځې په دے خبره باندے چه دے سړی کوم وخت چه زهٔ خلعه[2] کوله دَ دهٔ عقل په ځائے وو۔ دے هوښیار وو۔	شاهدان دَ دغه سړی په دے خبره باندے چه کوم وخت ما دا خلعه کوله زهٔ په هغه وخت کښ لیونے وُمه	غائم
شاهدان دَ ښځې په دے خبره باندِ چه زید چه کوم وخت زهٔ خلعه کوله په هغه وخت کښ زید هوښیار وو عقل ئے په ځائے وو۔	شاهدان دَ میراث خورو دَ زید یا شاهدان دَ واکدار دَ زید په دے خبره باندِ چه زید په هغه وخت کښ لیونے وو۔	انقروی

[1] یعنے دَ دغه ښځې مهر مثل دَ هغه مقدار همره وی چه خاوند ئے دعوه کریده یا دَ هغې نه کم وی۔ ۱۲ مترجم

[2] دَ خلعے بیان ما دَ دویمی کتاب په حاشیه کښ دَ طلاقو په مسئلو کښ لیکلے دے۔ ۱۲ مترجم

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ زید په دے خبره باندے چه دے ښځے اقرار کړیدے چه ما دَ دے (طلاقو لو) نه وُرستو عدت تیر کړیدے. بیا مې دَ بل سړی سره نکاح کړے. بیا هغه پسے کوروالی نه طلاقه کړم نو عدت مې تیر شه. اوس مې زید په نکاح اخستے دے.	شاهدان دَ دغه ښځے په دے خبره باندے چه زهٔ خپل خاوند (زید) په دریو طلاقو طلاقه کړے یمه. او تاریخ دَ طلاقو وُنه ځئ.	غانم
شاهدان دَ ښځے په دے خبره باندے چه زهٔ حمام ته بے دَ دهٔ دَ اجازت نه تلے یم. نو په دریو طلاقو طلاقه شوے یم (خاوند ورته ویلی وُو چه ته که بے ځما دَ اجازت نه حمام ته لاړے نو په دریو طلاقو به طلاقه یے)	شاهدان دَ خاوند په دے خبره باندے چه دا حمام ته ځما په اجازت تلے ده. نو نه ده طلاقه شوے.	بهجه
شاهدان دَ ښځے په دے خبره باندے چه دهٔ زهٔ خلعه کړے یمه او تاریخ دَ خلعے وُنه ځئ.	شاهدان دَ خاوند په دے خبره باندے چه دا ما په فلانی تاریخ په نکاح اخستے ده	غانم
شاهدان دَ میراث خورو دَ زید په دے خبره چه زید دا خپله ښځه طلاقه کړے ده په طلاق بائن سره (چه رجوع پکښې صحیح نه ده) نو دَ ښځے حق دَ هغه په میراث کښې نشته.	شاهدان دَ دغه ښځے په دے خبره باندے چه زه ئے طلاقه کړے وُمه په طلاق رجعی سره (چه رجوع پکښې صحیح ده) نو حق مې شته دے دَ هغه میراث کښې.	نتیجه
شاهدان دَ ښځے په دے خبره باندے چه دهٔ زهٔ په فلانی تاریخ خلعه کړے یمه.	شاهدان دَ خاوند په دے خبره باندے چه دا ما په نکاح اخستے ده او تاریخ دَ نکاح وُ نه ځئ.	غانم
شاهدان دَ ښځے په دے خبره چه دهٔ زهٔ خلعه کړے یمه (شاهدان	شاهدان دَ خاوند په دے خبره چه دا ما په نکاح اخستے ده. او دَ	

غوره	ناغوره	حواله
په خلعه ودردی) او تاریخ د خلعې ونخئ	هم تاریخ د نکاح ونه خئ	غانم
شاهدان د میراث خورو د زید په دے خبره چه زید دا ښځه د مرګ نه رومبے طلاقه کړے وه (نو میراث ئے نه رسی.	شاهدان د ښځې په دے خبره چه زه د زید د مرګه پورے د زید ښځه ومه (نو حق رسېدلے دے د هغه په میراثه کښې)	تنقیح
شاهدان د ښځې په[2] دے خبره باندې چه زه زید له حلاله ومه په وخت د مرګ کښې.	شاهدان د میراث خورو د زید په دے خبره چه دا ورله د مرګ نه مخکښې حرامه وه.	تنقیح
شاهدان د خاوند په دے خبره باندې چه زه چه مرتد شوے وم. (د اسلام نه ګرزیدلے وم) نو هغه د بیهوشئ په حالت کښې وو.	شاهدان د ښځې په دے خبره باندې چه د ده مرتد کیدل د جوړوالی په حالت کښې وو. نو زه ئے د نکاح نه وتے یمه.	ذخیره
شاهدان د ښځې په دے خبره باندې چه دے سړی زه طلاقه کړے یمه او تاریخ د طلاق ورنه خئ.	شاهدان د دغه سړی په دے خبره باندې چه دا ما په نکاح اخستے ده. او دے هم د نکاح تاریخ ونخئ	ذخیره
شاهدان د ښځې په دے خبره چه دے سړی زه په فلانی تاریخ طلاقه کړے یمه.	شاهدان د دغه سړی په دے خبره باندې چه دا ما په نکاح اخستے ده. او دے تاریخ د نکاح ذکر نکړی.	ذخیره
شاهدان د ښځې په دے خبره باندې چه دے سړی زه په فلانی تاریخ طلاقه کړے یمه. او حال داوی چه دا تاریخ وروستے وی.	شاهدان د دغه سړی په دے خبره باندې چه دا ما په فلانی تاریخ په نکاح اخستے ده. او حال داوی چه تاریخ وړومبے وی.	ذخیره
شاهدان د ښځې په دے خبره باندې چه ده زه په فلانی تاریخ طلاقه کړے یمه	شاهدان د دغه سړی په دے خبره باندې چه دا ما په دغه تاریخ په نکاح اخستے ده	ذخیره

[1] دا حکم د سغدی صاحب رح په قول بنا دے ۔۱۲ ح [2] دا حکم بنا دے د امام ابن الفضل په قول باندے ۔ او دا قول قاضیخان وړومبے راوړے دے ۔ ۱۲ ح

غوره	نا غوره	حواله
شاهدان د یو سړي په دے خبره بالله چه دا ښځه ما په فلانی تاریخ په نکاح اخستے ۔ او وخت دا سے تاریخ چه وروستے وی ۔	شاهدان د دغه ښځے په دے خبره باندِ چه دې زه په فلانی تاریخ طلاق کړے یمه ۔ او وخت دا سے تاریخ چه وړومبے دی ۔	ذخیره

د نفقے مسئلے

غوره	نا غوره	حواله
شاهدان د ښځے په دے خبره باندِ چه مال په دے خاوند باندِ سل روپۍ نفقه مقرر کړے شوې ده ۔	شاهدان د خاوند په دے خبره باندِ چه په ما باندے پنځوس روپۍ مقرر کړے شوې دی ۔	تنقیح
شاهدان د ښځے په دے خبره باندِ چه ځما دا خاوند مالدار دے نو په دهٔ باندِ ځما نفقه د مالدار والی ده ۔	شاهدان د خاوند په دے خبره چه زه خوار غریب یم ۔ نو په ما باندِ نفقه د غریبوالی ده ۔	غانم
شاهدان د خاوند په دے خبره باندِ چه زهٔ مینه مالدار اوم ۔ اوس غریب شوے یم ۔	شاهدان د ښځے په دے خبره باندِ چه دے مالدار دے او د مالدارئ تاریخ ئے دا سے وخت چه وړومبے وی ۔	فتح
شاهدان د ښځے په دے خبره باندِ چه ځما نفقه په دے خاوند باندِ د دوؤ کالونو (مقرر کړے شوے) ده	شاهدان د خاوند په دے خبره باندِ چه د دے نفقه د یو کال (مقرر کړے شوے) ده	غانم
شاهدان د خاوند په دے خبره باندِ چه هغه روپۍ (کومے چه ما دے خپلے ښځے له ورکړے دے) د نفقے وے ۔	شاهدان د ښځے په دے خبره باندے چه هغه منجره وه پیشکش وو ۔	غانم
شاهدان د خاوند په دے خبره باندِ چه ځما دے ښځے اقرار کړے دے چه هغه روپۍ (کومے چه ما دے له	شاهدان د دغه ښځے په دے خبره باندے چه دهٔ اقرار کړے دے چه هغه منجره	

غوره	ناغوره	حواله
ورکړے وے) دَ نفقے وے	وه۔ پیشکش وو۔	غانم
شاهدان دَ خاوند پہ[1] دے خبره بانډِ چه ځما دے ښځے اقرارکړے دے چه ځما مقرر شوے نفقه کمه ده (مثلاً شل روپئ دَ میاشتے دی)	شاهدان دَ ښځے په دے خبره بانډِ چه دَه اقرار کړے دے چه هغه زیاته ده۔ (مثلاً پنځوس روپئ دَ میاشتے دی)	غانم
شاهدان دَ ځوئ پہ دے خبره بانډِ چه ځما دے پلار کوم وخت چه ځما مال پہ ځان لګاوو۔ نو دے پہ هغه وخت کښ مالدار وو	شاهدان دَ پلار په دے خبره بانډے چه زهٔ په هغه وخت کښ غریب او نادار وُم۔	غانم
شاهدان دَ یو شل کُنا هلک پہ دے خبره بانډے چه زید ځما پلار دے۔ نو ځما نفقه پرے لازمه ده	شاهدان دَ زید په دے خبره بانډے چه دَ دهٔ پلار عُمر دے نو نفقه ئے په هغه ده۔	غانم

دَ تی ورکولو مسئله

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ دائی په دے خبره بانډِ چه هغه ورولی له ما خپل تے ورکړے دے۔ نو زهٔ ئے اجرت غواړم۔	شاهدان دَ پلار دَ دغه واړهٔ په دے خبره بانډے چه دَ ورله دَ بیزے پئ ورکړیدی (د نو اجرت ئے نشته)	تنقیح

دَ مرئ آزادولو مسئلے

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ یو سړی پہ دے خبره بانډے چه زهٔ پیدا اَصیل یَم یعنے په اصل کښ آزاد یَمه	شاهدان دَ یو بل سړی په دے خبره بانډے چه دے ځما مرئے دے۔ اَصیل نه دے	تنقیح

[1] مذکوره ترجیح ۱۲ مترجم رح

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ اخستونکی دَ یوے وینزے په دے خبره بانَدے چه دے وینزے بچے راوړیے اوو میاشتے دُروستو دَ هغے نه چه دا ماته سپارلے ده خرڅونکی نودا بچے ځما مرئے دے ،	شاهدان دَ خرڅونکی دَ دغه وینزے په دے خبره باندے چه داوینزه چه ما په ده خرڅه کړیده۔ او ده ته م سپارلے ده دے پس ځما دَ سپارلو نه په پنځمه میاشت بچے راوړیے نودا[1] بچے ځما دے	بحجه
شاهدان دَ یو مرئی په دے خبره باندے چه زه آزاده کړے شوے دَ زید یَمه۔	شاهدان دَ میراث خورو دَ عمر په دے خبره باندے چه دا مرئے مرئے وو دَ عمر تروخته دَ مرګه پورے دَ عمر	غانم
شاهدان دَ یو مرئی په دے خبره بانِدِ چه زهٔ آزاد کړے شوے دَ فلانکی سړی یَمه۔ په دا سے حال کښِ چه هغه ځما مالك وو۔	شاهدان دَ یو بل سړی په دے خبره باندے چه دے ځما مرئے دے۔	القرهٔوی
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره بانِدِ چه دا سړے ځما مرئے وو۔ او ما آزاد کړے	شاهدان دَ مدعی یهرانی په دے خبره باندے چه دا سړے ځما مرئے دے	غانم
شاهدان دَ هغه مدعی چه نه وی مرئے په لاس دَ هغه کښِ او شاهدان دُدوی په دے خبره بانِدے چه دا ځما مرئے وو ما آزاد کړیے۔	شاهدان دَ هغه چا چه وی دغه مرئے په لاس دَ هغه کښِ او شاهدان ددوی په دے خبره بانِدِ چه دا ځما مرئے دے ما مدبر کړیے۔ (یعنے دا م ورته ویَلی دی چه ته پس ځما دَ مرګ نه آزاد یے)	هندیه
شاهدان دَ یوے مرئی په هغه چا بانِدِ چه دے ئے په قبضه کښِ وی او شاهدان په دے خبره اودروی چه زه خالد	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره بانِدِ چه دا مرئے ما شخه هغه خالد چه غائب دے په طور دَ	

[1] دا حکم بنا دے په قول دَ امام ابو یوسف صاحب رح او امام محمّد صاحب تِرِ مخالف دے۔ ۱۲ ح
[2] انقرهٔ وی ویَلی دی چه دا حکم اتفاقی دے۔ ۱۲۔ ح

غوره	ناغوره	حواله
آزاد کړے یَم	امانت پرېښے دے۔	غانم
شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره بانډے چه داوینزه ځما وینزه ده۔ ما آزاده کړیده	شاهدان دَ خاوند دَ قبضه په دے خبره باندے چه دا ځما وینزه ده ځما نه ئے بچے شویدے۔	هندیه
شاهدان دَ یو مرئی په دے خبره بانډے چه زه دے مالک آزاد کړے یَم۔ او تاریخ دَ آزادولو وُ نخئ۔	شاهدان دَ مالک په دے خبره چه زهٔ دَ دهٔ مالک یَم اوتاریخ دَ ملکیّت وُ نخئ۔ (چه دَ کله نه ئے مالک شوے یَم)	ذخیره
شاهدان دَ مرئی په دے خبره چه زهٔ دے مالک آزاد کړے یُم په فلانی تاریخ۔	شاهدان دَ مالک په دے خبره چه زهٔ ددهٔ مالک شوے یَم دَ دَدغه تاریخه نه۔	ذخیره
شاهدان دَ مرئی په دے خبره چه زهٔ دے مالک په فلانی تاریخ آزاد کړے یم۔ او تاریخ دَ آزادولو داسے وخئ چه وُرستے وی۔	شاهدان دَ مالک په دے خبره چه زهٔ دَ فلانی تاریخ نه دَ دهٔ مالک شوے یَم۔ او دے داسے تاریخ وخئ چه وړومبے وی	ذخیره
شاهدان دَ مرئی په دے خبره چه زهٔ دے مالک په فلانی تاریخ آزاد کړے یُم۔	شاهدان دَ مالک په دے خبره چه زهٔ دَ دهٔ مالک یُم۔ اوتاریخ دَ ملکیت وُنخئ۔ (چه دَ کوم وخت نه ئے مالک شوے یُم۔)	ذخیره
شاهدان دَ مالک په دے خبره چه زهٔ دَ دے مرئی مالک یَم۔ او په فلانی تاریخ ئے مالک شوے یَم۔ او تاریخ داسے وخئ چه دَ مرئی دَ تاریخ نه وُرستے وی۔	شاهدان دَ دغه مرئی په دے خبره باندے چه دهٔ زهٔ په فلانی تاریخ آزاد کړے یَم او حال داوی چه دا تاریخ وړومبے وی۔	ذخیره
شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دا مرئے (ځما دے) ځما په ملکیّت کښې پیدا شوے دے۔	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا ځما مرئے دے ما آزاد کړیدے په داسے حال کښې چه زهٔ ئے مالک وُم	غانم

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ یو سړی په دے خبره چه دا مړئے (حمادے) مامس بر کړے دے.	شاهدان دَ یو بل سړی په دے خبره باندے چه دا حُما مړئے دے.	انقروی
شاهدان دَ میراث خور دَ زید په دے خبره باندے چه حُما مورث (زید) حرالاصل وو. (یعنے په اصل کښں آزاد وُو مړئے نه وُو)	شاهدان دَ یو بل سړی په دے خبره باندے چه زید دَ هغه مړئ حُوئ وُو. کوم چه ما آزاد کړے وُو. نو میراث ئے حُمادے.	هندیه
شاهدان دَ یو سړی په دے خبره بانِدِ چه دا مړئے حُما مړئے دے	شاهدان دَ دغه مړئ په دے خبره بانِدِ چه زهٔ بل سړی مکاتب کړے یم (دَ هغه مړئے یم)	هندیه
شاهدان دَ یو سړی په دے خبره باندے چه دا سړے حُما مړئے وو. خو ما آزاد کړیدے په مال (یعنے په عوض دَ مال کښں)	شاهدان دَ یو بل سړی په دَ خبره باندے چه دا حُما مړئے وو. خو ما آزاد کړے دے بے ماله.	هندیه
شاهدان دَ یو سړی په دے خبره باندے چه ما دَ زید سره (چه مړ دے) هغه خاصه دوستانه تړ نه کړے وه. چه هغے ته په شریعت کښں عقدِ موالاة[1] ویلے شی نو میراث ئے حُما دے.	شاهدان دَ یو بل سړی په دے خبره باندے چه زید حُما مړئے وو. او ما آزاد کړے وو. نو میراث ئے حُما دے.	هندیه
شاهدان دَ یوے وینزے آزادے کړے شوے په دے خبره بانِدِ چه زهٔ بخوا دَ پیدا کیدلو دَ دے بچی نه آزاده شوے یمه. نو دا بچے هم اصیل او آزاد دے.	شاهدان دَ مالک دَ دغه وینزے په دے خبره باندے چه دا بچے مخکښں دَ آزادیدلو سنا نه پیدا شوے دے. او حُما مړئے دے.	غانم

[1] دَ ترجیح دَ مړئ آزاده دلو دَ مسئلو په شروع کښں چه کومه حاشیه ده هغه وگوره چه دا او دَ دے باب نور مسئلے درته واضحه شی.

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان د یوې وینزې په دې خبره چه زه خپل مالک پخوا د پیدا کیدو لو دې بچی نه مکاتبه کړې وُمه (یعنې دا تې راته ویلی وو - چه ماله دومره مال راکړه نو ته به آزاده شې - نو ځما په آزادیدو لو سره به دا بچې هم آزاد یکی -	شاهدان د مالک د دغه وینزې په دې خبره باندې چه ما ته مکاتبه کړې وه د دې بچی د پیدا کیدو نه وُروستو نو دې ځما مرئ دې -	غانم
شاهدان د یوې وینزې په دې خبره باندې - زه چه مالک (چه مړ دې) په حال د ناجوړتیا کښې مدبره کوله (یعنې دا تې راته ویل چه ته پس ځما د مرګ نه آزاده ئې) نو هغه په دغه وخت کښې هوښیار او خاوند د عقل وو -	شاهدان د میراث خورو د مالک د دغه وینزې په دې خبره باندې - ته چه خپل مالک مدبره کوله نو هغه په دغه وخت کښې لیونې وو -	غانم
شاهدان د وینزې په دې خبره باندې چه زه د خپل مالک زیږ چه مړ دې د بچی مورئیه او دا بچې م د هغه خوئ دې -	شاهدان د قرضدار د دې زیږ په دې خبره باندې چه دا وینزه ده او دا بچې ئې هم مرئ دې آزاد نه دې -	هندیه
شاهدان د خاوند د قبضې په دې خبره باندې چه دا وینزه ما مدبره کړېده - په داسې حال کښې چه زه ئې مالک وُم -	شاهدان د مدعی بې قبضې په دې خبره باندې چه دې بچې راوړیدې ځانه په داسې حال کښې چه زه مالک ئم -	غانم
شاهدان د مالک په دې خبره باندې چه ما دا مرئې مکاتب کړېئ نو ما ورسره د مکاتبوالی عوض دوه زره روپئ مقرر کړې وو -	شاهدان د دغه مکاتب په دې خبره باندې چه ما را سره زر روپئ کړې وې	غانم

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ مالک په دے خبره بانِ چه ما دا مرئے چه مکاتب دا مکاتب کول فاسد وو (ځکه چه ما دے دَدهٔ په قیمت مکاتب کړے وو مثلاً)	شاهدان دَ دغه مکاتب په دے خبره باندے چه دا مکاتب کول صحیح دُو	غانم
شاهدان دَ مکاتب په دے خبره بانِد چه دے مالک زهٔ په خپل نفس او په مال په دواړو مکاتب کړے یم (نو چه زهٔ ورله هغه مقرره روپئ ورکړم نو زهٔ به هم آزاد شم - او ځما خپل مال چه وی هغه به هم ځما شی)	شاهدان دَ مالک په دے خبره باندے چه ما ته مکانب کړے ئے په نفس باندے بے دَ مال نه -	غانم
شاهدان دَ مرئ په دے خبره بانِد چه دے مالک چه زهٔ مکاتب کړے یم نو دهٔ ځما سره دَ دوپودَ اداکولو کښتو نه پنځو کالو پورے یاد کړی وو -	شاهدان دَ مالک په دے خبره بانِد چه ما دَ دهٔ سره دَ قسطونو میعاد درے کاله ایښے وو - (چه ټولے به په درے کاله کښی دا دَ سوے)	غانم
شاهدان دَ زید په دے خبره بانِد چه فلانے مرئے ځما مرئے وو - او ما آزاد کړے وو په فلانئ تاریخ - او وخت دا دے تاریخ چه وړومبے وی)	شاهدان دَ بکر په دے خبره بانِد چه دغه مرئے ځما مرئے وو - او ما آزاد کړے وو په فلانئ تاریخ - او دَ وُخت دا دے تاریخ چه وروستے وِی -	نتیجه
شاهدان دَ خاوند دَ یو مرئ په دے خبره باندے چه ځما دا مرئے لا آزاد شوے نه وو چه دا مال ګټلے وو - (نو دا مال ئے ځما دے)	شاهدان دَ دَغه مرئ په دے خبره باندے چه دا مال ما وروستو دَ آزادیدو نه ګټلے دے - (نو دا ځما دے -)	فیضیه
شاهدان دَ یوے وینزے په دے خبره بانِدے چه ما بچے راوړی دے خپل	شاهدان دَ یو سړی په دے خبره بانِد چه دا وینزه ما دَ دغه مالک نه	

غوره	ناغوره	حوال
خپل مالک نه او وخت وته خپي دَ بچي دَ پیدا کیدلو	آخستے ده په بیعه سره نو دا ځما وینزه ده۔ او دے هم وته خپي وخت دَ آخستلو۔	انقره
شاهدان دَ یو مرئي په دَ خبره باندِ چه زه خپل خاوند آزاد کړے یَمه په فلانکی تاریخ۔ او ذکر کړي داسے تاریخ چه وړومبے دي۔	شاهدان دَ یو سړي په دے خبره باندِ چه دا مرئے ما دَ دغه مالک نه اخستے دے په بیعه سره په فلانکی تاریخ او دے ذکر کړي دا تاریخ چه وروستے وی دَ تاریخ دَ مرئي نه	انقره
شاهدان دَ هغه چا چه آخستے وی یو مرئے په بیعه سره۔ او شاهدان دُ دروی په دَ خبره باندِ چه دا مرئے ما اخستے دے۔ دَ دهٔ دَ مالک نه په فلانی تاریخ۔ او وخپي داسے تاریخ چه وړومبے وی۔	شاهدان دَ دغه مرئي په دے خبره باندے چه زهٔ مالک آزاد کړے یَمه په فلانی تاریخ۔ او وی دا تاریخ وروستے دَ تاریخه دَ دغه مدعی دَ اخستو نه	انقر
شاهدان دَ یو مرئي په دے خبره باندے۔ چه زهٔ خپل مالک مدبر کړے یَمه۔ په فلانکی تاریخ (یعنې په دغه تاریخ کې راته ویلی وُو۔ چه ته به پس ځما دَ مرګ نه آزاد ئے) او حال داوی چه دا تاریخ وړومبے وی)	شاهدان دَ یو سړي په دے خبره باندِ چه دا مرئے ما دَ دغه مالک نه آخستے دے۔ په بیعه سره په فلانکی تاریخ۔ او حال داوی چه دا تاریخ وُروستے وی۔ دَ تاریخه دَ مرئي نه۔	انقر
شاهدان دَ یو مرئي په دے خبره باندے چه زهٔ خپل مالک بکر آزاد کړے یَمه په داسے حال کښ چه هغه ځما مالک وو	شاهدان دَ زید په دے خبره باندے۔ چه دا مرئے ځما مرئے دے۔	انقر
شاهدان دَ زید په دے خبره باندِ چه دا مرئے ځما مرئے	شاهدان دَ دَغه مرئي په دے خبره باند چه زهٔ بکر	

غوره	ناغوره	حواله
دے	آزاد کړے[1] یمه۔	انقروی
شاهدان د زید مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دا مرئے ځما مرئے دے۔	شاهدان د دغه مرئی چه دی شاهدی کوی په دے خبره چه دا مرئے بکر آزاد کړے دے۔ او حال دا وو چه دا مرئے ئے په قبضه کښ وو۔	انقروی
شاهدان د یو مرئی په دے خبره باندِ دا زید چه په ما دعوه د مرئیتوب کوی۔ د دهٔ پلار زۀ آزاد کړے ومه	شاهدان د زید چه مدعی بهرانی دے۔ په دے خبره باندِ چه دا مرئے ما تر ځما پلار په وړوکوالی کښ بخلے وو۔	هندیه
شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره باندے چه دا زید ځما مرئے وو۔ او ما آزاد کړے دے په دا سے حالت کښ چه زۀ ئے مالک ومه او حال دا وی چه دغه زید هم تصدیق کوی د دهٔ۔	شاهدان د یو مدعی بهرانی په دے خبره باندے چه دا زید ما آزاد کړیدے۔ او حال دا وی چه زید ودته دروغژن وائی۔ په دے خبره کښ۔	هندیه
شاهدان د یو مدعی بهرانی په دے خبره باندے چه دا غانم ځما مرئے وو۔ او ما آزاد کړے دے په دا سے حالت کښ چه زۀ ئے مالک ومه۔ او حال دا وی۔ چه غانم هم تصدیق کوی د دے خبرے۔	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره باندے چه دا غانم ما آزاد کړے دے۔ او حال دا وی چه غانم ودته دروغژن وائی۔ په دے خبره کښ۔	هندیه
شاهدان د یو مدعی بهرانی په دے خبره باندِے چه زید اصیل (یعنے په اصل کښ آزاد) دے۔ ما ودسره	شاهدان د خاوند د قبضے په په دے خبره باندے چه زید ځما مرئے وو۔ او ما	

[1] په دے مسئله کښ او په تیره شوے مسئله کښ فرق دا دے چه هلته ئے وئیلی وو۔ زۀ ئے آزاد کړے یم۔ په دا سے حال کښ چه هغه ځما مالک وو۔ او دلته ئے دا سے نه دی وئیلی ۱۲ح

غوره	ناغوره	حواله
هغه نرنه ده ۔ دوستي کړيږه چه هغې ته په شریعت کښي موالاة وئیلې شي۔	آزاد کړے دے ۔	هنديه
شاهدان دَ يو مدعي بهرانې په دے خبره يا ندے چه دا مرئې ځما مرئې دے ۔	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا مرئے ځما مرئے دے۔ ما مکاتب کړے دے ۔	هنديه
شاهدان دَ يو مدعي بهرانې په دے خبره باندے چه دا مرئے پيدا شوے دے ځما په ملک کښې۔	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا مرئے ما آزاد کړيدے په داسے حالت کښې چه زه ئې مالک وُم	هنديه
شاهدان دَ مدعي بهرانې په دے خبره باندے چه دا مرئے پيدا شويدے ۔ ځما په ملکيت کښې او ما آزاد کړے دے۔	شاهدان دَ يو بل مدعي بهرانې په دے خبره باندے چه دا ځما مرئے دے پيدا شوے دے ځما په قبضه کښې۔	هنديه
شاهدان دَ مدعي بهرانې په دے خبره باندے چه دا مرئے پيدا شوے دے ځما په ملکيت کښې او ما آزاد کړے دے۔	شاهدان دَ يو بل مدعي بهرانې په دے خبره باندے چه دا مرئے پيدا شوے دے ځما په ملکيت کښې (او ځما مرئے دے)	هتديه
شاهدان دَ يو مدعي بهرانې په دے خبره باندے چه دا مرئے پيدا شويدے ځما په ملکيت کښې ما مدبر کړيدے ۔	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دے پيدا شوے دے ځما په ملکيت کښې (او ځما مرئے دے)	هنديه
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا مرئے ځما په ملک کښې پيدا شويدے ۔ او ما بالکل آزاد کړيدے	شاهدان دَ يو مدعي بهرانې په دے خبره باندے چه دے پيدا شوے دے ځما په ملک کښې او ما مدبر کړيدے	هنديه

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه داوینزه ځما په ملک کښې پیدا شویده ۔ او ما بالکل آزاده کړے ده ۔	شاهدان دَ یو مدعی بهرائی په دے خبره باندے چه دا پیدا شویده ځما کره ۔ او بچے ئے داوړیں ے ځما نه ۔	هندیه
شاهدان دَ مدعی بهرائی په دے خبره باندے چه داوینزه ما آخستے ده په دومره قیمت سره بیا مے آزاده کړیده ۔	شاهدان دَ یو بل مدعی بهرائی په دے خبره باندے چه دا ما آخستے ده دَ خاوند دَ قبضے نه په دومره قیمت سره	هندیه
شاهدان دَ یو مرئی په دے خبره باندے چه زهٔ خپل مالک آزاد کړے یمه ۔ یارا ته ئے وئیلی دی چه ته آزاد ے پس ځما دَ مرګه	شاهدان دَ یو مدعی بهرائی په دے خبره باندے چه مالک دَ دے مرئی دا مرئے په ما را خرڅ کړیے او ما نه دے قبض کړے ۔	هندیه
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه مالک دَ دے مرئی دا مرئے په ما باندے په زرروپئے را خرڅ کړیے ۔	شاهدان دَ دغه مرئی په دے خبره باندے چه زه خو خپل مالک آزاد کړے یم ۔ یارا ته ئے وئیلی دی چه ته پس ځما دَ مرګ نه آزاد ئے ۔	هندیه
شاهدان دَ یو مرئی په دے خبره باندے چه زهٔ په فلانکی تاریخ خپل خاوند آزاد کړے یم ۔ یائے راته وئیلی دی چه ته ځما دَ مرګ نه پس آزاد ے او حال دا دی چه دا تاریخ وړومبے وی ۔	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه خاوند دَ دے مرئی دا مرئے خرڅ کړے دے په ما باندے په فلانکی تاریخ ۔ او حال داوی چه دا ستا ریخ وروستے وی ۔	هندیه
شاهدان دَ مدعی بهرائی په دے خبره باندے چه دا مرئے خپل خاوند په ما باندے په زر روپئ په فلانکی تاریخ را خرڅ کړیے ۔ او وختی دا سے تاریخ	شاهدان دَ دغه مرئی په دے خبره باندے چه زهٔ خو خپل خاوند په فلانکی تاریخ آزاد کړے یم ۔ یائے مدبر کړے یم ۔ ریعنے دائے راته	

غوره	ناغوره	حواله
چه ورډ ښے وي	وبیلي دي چه نه آزاد ئے پس څما د مرګه) او وخت داسے تاریخ چه ورسته وي	هندیه
شاهدان د مالک په دے خبره بانده چه زه د دے مریي مالک یم - او ما ورته ویلي دي - چه نه آزاد ئے پس څما د مرګه.	شاهدان د یو بل مدعي په دے خبره بانده چه زه د دے مریي مالک یم - او دے ما مکاتب کړے دے.	هندیه
شاهدان د یوے وینزے په دے خبره بانده چه څما بچے شوے دے د خپل مالک نه.	شاهدان د یو اخستونکي په دے خبره بانده چه دا وینزه ما د دغه مالک نه په بیعه آخستے ده.	هندیه
شاهدان دَ هغه چا چه دعوی دَ قتل کوی (مثلاً دَ زید یو میراث خور دعوے کوی چه زید وژلے شوے دے)	شاهدان دَ هغه چا چه دعوی دَ ژوندانه کوی (مثلاً دَ زید یو بل میراث خور دعوے کوی چه زید ژوندے دے.	تنقیح
شاهدان دَ هغه چا چه دعوی کوی دَ فساد والی دَ بیعې دَ وجه دَ نیتی فاسدے نه (مثلاً وائی چه دا بیعه فاسده شوې ځکه چه دَ قیمت دَ اداکولو ئے جهولداو نامعلومه نیټه مقرر کړے شوې ده	شاهدان دَ هغه چا چه دَ دغې بیعې دَ صحیح والی دعوے کوی	انقروی
شاهدان دَ هغه چا چه[2] دعوی کوی دَ فساد والی دَ یوے بیعے دَ یوے داسے معنے دَ وجه نه چه هغه په بیعه کښې دننه داخله وی. (مثلاً وائی چه دا بیعه شوې په زرو روپو او په سیر شرابو)	شاهدان دَ هغه چا چه دَ دغه بیعې دَ صحیح والی دعوی کوی	انقروی
شاهدان دَ بیعې[3] وفا	شاهدان دَ بیعې قطعی	قاضیخان

[1] مګر که شاهدانو دَ ژوندانه داسے تاریخ وخوډ چه وروستے وو. نو بیا دی غوره دی مذکوره مسئلے دَ دعوی ۱۲ ح ÷

[2] دا حکم بنا دے په ظاهر روایت بانده ۱۲ ح [3] مذکوره دَ دے کتاب مسئلے دَ بیعې ۱۲ مترجم ÷ ÷

غوره	نا غوره	حواله
شاهدان دَ دے خبرے چه په دے بیعه کښ په قیمت کښ ډیرغبن شویدے	شاهدان دَ دے خبرے چه دغه قیمت پوره او مناسب قیمت دے	خیریه
شاهدان دَ هغه چاچه دعوی دَ څه خبرے کوی یا دَ څه کار (مثلاً دا شاهدان شاهدی کوی چه زیئ دا خبره کړیده یا دا کار ئے کړیدے ـ	شاهدان دَ هغه چاچه دَ دغه خبرے یا دَ دغه کار دَ نه کولو دعوی کوی. (نو شاهدان ئے شاهدی کوی چه زیئ دا خبره نه ده کړے یا دا کار ئے نه دے ـ)	تنقیح
شاهدان دَ هغه چاچه دعوی کوی چه دا صحن دا میدان وقف دے	شاهدان دَ هغه چاچه دعوی کوی چه دا حصه ده دَ لار دے ـ	خیریه
شاهدان دَ مدعی په دے خبره چه دا صحن دے دَ جُمات نه	شاهدان دَ هغه چاچه وائی دا حصه ده دَ لارے ـ	خیریه
شاهدان دَ هغه چاچه دعوی دَ میراث کوی ـ یا دَ زیاتوالی دَ میراث کوی ـ	شاهدان دَ هغه چاچه هغه دَ میراث دَ څه حصے دعوی کوی	خیریه
شاهدان دَ هغه چاچه دَعوی دَ غریبوالی کوی پس دَ غنی توب نه ـ او تاریخ دَ غریبوالی دا سے څئی چه وروسته وی ـ (مثلاً زیئ وائی چه زه مینه مالدار وُمه خو دَ صفیے په میاشت کښ غریب شوے یم)	شاهدان دَ هغه مدعی چه هغه دعوه کوی چه دے غنی دے او تاریخ دَ غنی توب ئے دا سے څئی چه وروسته وی ـ (مثلاً دے وائی چه نه یم دَ محرم په میاشت کښ غنی وو)	انقروی
شاهدان فیرنګیان دَ یوهلک مسلمان په دے خبره باندے چه څما پلار مړ دے په دا سے حال کښ چه هغه مسلمان وو ـ نو میراث ئے څما دے ـ	شاهدان دَ کافر رور دَ دغه هلک په دے خبره باندے چه څمونږ دغه پلار مړ دے په دا سے حال کښ چه هغه فیرنګے وو ـ (مسلمان نه وو) نو میراث ئے څما دے ـ	تنقیح

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان فیرنګیانؒ د پاره د یو مسلمان په میراث د یو فیرنګي باندے	شاهدان فیرنګیان د پاره د یو فیرنګي په میراث د یو فیرنګي باندې	تنقیح
شاهدان د هغه چا چه زید تئ اذن کړے وی۔ چه په دے کار کښ چه څه مال لګوے۔ څما د طرفه ولګوه) او اوس شاهدان ودروی په دے خبره باندے چه زید د ضرورت او د مناسب نه زیاته خرڅه کړیده۔	شاهدان د زید په دے خبره باندے چه ما چه څه خرچه کړیده. هغه د ضرورت سره موافقه او مناسبه ده۔ (زیاتے م نه دے کړے۔	قاری الهدایه
شاهدان د میراث خورو د زید په دے خبره باندے چه زید د مرګ نه مخکښ دا ښځه طلاقه کړے وه۔ نو د هغه په میراث کښ د دے هیڅ حق نشته۔	شاهدان د ښځے په دے خبره باندې چه زه ورله حلاله ومه د مرګه پورے۔	تنقیح
شاهدان د لور د یو مړی په دے خبره باندے چه څما پلار حُرُّ الاصل (یعنے د اصل نه آزاد وو۔ (مریٔ نه وو)	شاهدان د مدعی په دے خبره باندې چه هغه مریٔ وو ما آزاد کړے وو۔ نو زه ئے د میراث حقدار یم۔	هندیه
شاهدان د مریٔ په دے خبره باندې چه څما مالک لا نه وو مړ چه زه ئے آزاده کړے ومه۔	شاهدان د میراث خورو د دغه مړی په دے خبره باندے چه تر اوسه پورے مریٔ ئے	تنقیح
شاهدان د مدبر کولو د یو مریٔ (مثلاً زید شاهدان ودروی چه دا مریٔ ما مدبر کړیدے په داسے حال کښ چه زه ئے مالک یم۔ یعنے ما ورته وئیلی دی۔ چه تر څما د مرګ نه	شاهدان د مکاتب کولو د دغه مریٔ (مثلاً بکر شاهدان ودروی چه دا مریٔ څما دے او ما ورسره دومره روپئ کړی دی۔ چه دا ادا کړے نو آزاد به شی	هندیه

[1] په دے مسئله کښ د امام ابو یوسف صاحبؒ اختلاف دے ۱۲ ح [2] دا د امام محمد صاحبؒ قول دے۔ ۱۲ ح

غوره	ناغوره	حواله
پس آزاد ئے)		
شاهدان دَ يو مسلمان په دے خبره باندے چه څموږ پلار په حالت دَ مسلمان والی کښ مړ دے. نو ميراث ئے څما دے.	شاهدان دَ يو عيسائی دور دَ دغه مسلمان په دے خبره باندے چه څموږ پلار په حالت دَ عيسائی توب کښ مړ دے نو ميراث ئے څما دے.	نتيجه
شاهدان دَ اصلی آزادی او دَ موالاة[1] (مثلاً زيد شاهدان ودروی چه بکر يو آزاد سړے وو. ما ورسره عقد موالاة کړے وو. نو ميراث ئے څما دے.)	شاهدان دَ بل مدعی په دے خبره باندے چه بکر مرئے وو. څما پلار آزاد کړے وو. نو ميراث ئے څما دے.	فيضيه
شاهدان دَ مالک په دے خبره باندے چه دے مرئی دا مال دَ آزادی نه مخکښے گټلے وو. (نو دا مال ئے څما دے.	شاهدان دَ دغه مرئی په دے خبره باندے چه دا مال ما ودوستو دَ آزاديدلو نه گټلے دے. نو دا څما دے.	فيضيه
شاهدان دَ هغه چا چه هغه مالک وو. دَ پاسنئ جرندے او شاهدان وړدوی په دے چه خاوند دَ کوزے جرندے لګيدلے دے دَ خپلے جرندے دَ اوبو بند ئے اوچت کړيدے (نو اوبهٔ ئے ... شوبيدی او څما جرنده ودريدلے ده)	شاهدان دَ هغه چا چه هغه مالک وی دَ کوزے جرندے. او شاهدان وړاندی پهٔ دے خبره چه ما دَ اوبو دغه بند دَ وړومبی حاله نه دے بدل کړے.	بهجه
شاهدان دَ صحيح والی دَ بيعے. په داسے حالت کښ چه خرڅونکی روپئ قبض کړی وی. او دَ خرڅ هغه	شاهدان دَ فاسد والی دَ بيعے. په داسے حالت کښ چه خرڅونکی روپئ قبض کړی وی. او هغه شے ئے	

[1] دکوره دَ مرئی دَ آزادولو په مسئلو کښ اوله حاشیه له کتاب عـ ۱۲ مترجم

غوره	ناغوره	حو
اخستونکی ته سپارلے وی	شئے نے سپارلے وی۔	الفر
شاهدان دَ فاسد والی دَ بیعے۔ اوحال دا وی چه خرخونکی لا روپئ نه وی قبض کړے۔	شاهدان دَ صحیح والی دَ بیعے او حال دا وی چه خرخونکی لا روپئ نه وی قبض کړے۔	الفر
شاهدان دَ فاسد والی دَ بیعے اوحال دا وی چه خرخونکی لا هغه شئے اخستونکی ته نه وی سپارلے۔	شاهدان دَ صحیح والی دَ بیعے اوحال دا وی چه خرخونکی لا هغه خرڅ کړے شئے اخستونکی نه وی سپارلے۔	الفر
شاهدان دَ یو میراث خور دَ زید په دے خبره باندے چه زید وژلے شویدے یا په دے خبره باندِ چه زید مړدے (تو زهٔ خپله حصه میراث غواړمه)	شاهدان دَ یل میراث خور دَ زید په دے خبره باندے چه زید لا ژوندے دے۔	قاضیخان
شاهدان دَ یوے ښځے په دَے خبره باندے چه زید چه مړدے هغه زهٔ په فلانی تاریخ په نکاح آخستے ومه	شاهدان دَ خوئ دَ زید په دے خبره باندے چه ځما پلار دَ دغه تاریخ نه پخوا مړشویدے۔	تنقیح
شاهدان دَ خوئ دَ زید په دے خبره باندِ چه زید په فلانی تاریخ وژلے شویدے۔	شاهدان دَ یوے ښځے په دے خبره باندے چه زید زهٔ دَ دغه تاریخ نه وروستو په نکاح آخستے ومه	تنقیح
شاهدان دَ یوے ښځے چه وی ورسره یو بچے او شاهدان په دے خبره ودروی چه زید چه مړدے زهٔ په فلانی تاریخ په نکاح آخستے ومه اودا زم خوئ دَ هغه نه۔	شاهدان دَ میراث خور دَ زید په دے خبره باندے چه زید دَ دغه تاریخ نه مخکښه وژلے شویدے۔	قاضیخان
شاهدان دَ میراث خور دَ زید په دے	شاهدان دَ مدعی په دے خبره بانډِ	

ملحد ادرے وارکه مسئلے او دادلئے ددے باب ځئے ځئے مسئلے وه وجیه هم ذکر شوی دی - ۱۲ مترجم ۲ امام صاحب رح والی چه زهٔ دا خبره نه گنړم چه دَ ښځے شاهدانٓ قبول کړم - او دَ دغه بچی نسب ثابت کړم - او دَ قتل شاهدانٓ نو ته بیکاره ګڼم - دادلئے دیلی دی په قاضیخان کښی ۱۲ ح

غوره	ناغوره	حواله
خبره باندے چه دکړے مدعی عمرا تلس کاله دے.	چه زه د زید چه مړ دے ځوی یم. او عمرم شل کاله دے.	تنقیح
شاهدان د هغه چاچه یو ځیز ئے په لاس کښی وی او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا یواځے ځما دے	شاهدان د بل هغه چاچه دغه ځیز ئے لاس کښی وی او شاهدان ودروی په دے خبره باندې چه دا ځما او د ده په شریکه دے.	مجله
شاهدان د هغه چاچه د یو ځیز د ملکیت دعوی ئے کړے وی او تاریخ د خپل ملکیت ئے ښودلے وی او دغه تاریخ وړومبے وی د دے بل مدعی د تاریخ نه	شاهدان د بل مدعی چه د دغه ځیز د ملکیت دعوی ئے کړی وی او تاریخ د خپل ملکیت ئے ښودلے وی. او دا تاریخ وروستے وی.	مجله
شاهدان د هغه چاچه هغه دعوی د زیاتوالی کوی په مقرره قیمت یا په هغه ځیز خرڅ کړی شوی کښی (مثلاً خرڅونکے والی چه ما په زید باندے دا شئے په سل روپئ خرڅ کړیدے. یا زید والی چه تا دوه ښاروی راخرڅ کړیدی)	شاهدان د هغه چاچه هغه دعوی د کموالی کوی په مقرره قیمت یا د خرڅ په شئ کښی (مثلاً زید والی چه تا دا په پنځوس راخرڅ کړیدے. یا خرڅونکے والی چه ما یوښاروے درخرڅ کړیدے.)	مجله
شاهدان د دے خبرے چه ما زید فلانی سړی مالک کرزولیدے د هغه ځیز چه د زید په لاس کښی دے.	شاهدان د دے خبرے چه دغه فلانی دا شئے زید ته په طور د امانت ایښے دے.	مجله
شاهدان د یو داسے سړی چه بچے ئے مړ وی او شاهدان په دے خبره ودروی چه سنتونکی ځما د وارهٔ په سنتولو کښی تجاوز (زیاتے) کړیو نو هغه د دے نه مړ شویدے.	شاهدان د سنتونکی په دے خبره باندے چه هغه د دے نه جوړ شوے وو. د بیا وروستو مړ شوے دے)	تمرتاشی

غوره	نا غوره
شاهدان د هغه چا[1] چه هغه دعوه د بیعے کوی (مثلاً خالد وائی چه دا ما د زید نه په بیعه آخستے دے)	شاهدان د هغه چا چه دعوه د هبے کوی (مثلاً بکر وائی چه دا ما ته زید هبه کړے یعنی بخلے دے)
شاهدان د هغه[2] چا چه هغه دعوه د بیعے کوی (مثلاً خالد وائی چه دا ما د زید نه په بیعه آخستے دے)	شاهدان د هغه چا چه هغه دعوه د کانړے کوی (مثلاً بکر وائی چه دا ما ته زید کانړه ابخلے دے۔)
شاهدان د هغه چا چه هغه دعوه د بیعے کوی (مثلاً خالد وائی چه دا ما د زید نه په بیعه آخستے دے)	شاهدان د هغه چا چه هغه دعوه د اجارے کوی (مثلاً بکر وائی چه دا ما د زید نه په اجاره آخستے دے)
شاهدان د هغه چا چه[3] دعوه د کانړے کوی او د قبض کولو (مثلاً خالد وائی چه دا ما ته زید کانړه کړیے او ما قبض کړیے)	شاهدان د هغه چا چه دعوه د هبے کوی او د قبض کولو (مثلاً بکر وائی چه دا ما ته زید بخلے دے۔ او ما ترے قبض کړیدے)
شاهدان د هغه چا چه دعوه د اجارے کوی (مثلاً خالد وائی چه دا ما په اجاره آخستے دے د زید نه)	شاهدان د هغه چا چه هغه دعوه د کانړے کوی (مثلاً بکر وائی چه دا ما ته زید کانړه کړیدے)
شاهدان د دے خبرے چه په دے عاریت کښی څه قید نه وو (مثلاً خالد په دے خبره شاهدان ودروی چه زید چه ماله آس په طور د عاریت راکاوو نو ما ته ئے دا نه وو ویلی چه ته به ترے صرف دومره کار آخلے یا داسے کار آخلے هیڅ پابندی ئے نه وه لګولے)	شاهدان د دے خبرے چه په دے عاریت کښی ئے قید لګولے وو۔ (مثلاً زید شاهدان ودروی په دے خبره چه ما ورته ویلی وو چه خاص تر فلانی ځایه پورے سور شے۔ یا خاص دومره کار به ترے آخلے یا نور څه پابندئ ذکر کړی۔

[1] دا حکم هاله دے چه دواړه مدعیان بے قبضے وی۔ او دواړو یو سړی ته نسبت کړے وی لکه چه دلته ئے زید ته کړیے۔ او دواړو د خپلے خپلے بیعے تاریخ نه وی خودلے۔ یائے خودلے وی خو یو وی۔ او که د دے مسئلے او د دے دا تولو مسئلے تفصیل غواړے نو ګوره ترجمه ۱۲ مترجم [2] دا حکم هاله دے چه مالک کړونکے د دواړو مدعیانو یو وی۔ او هبه په شرط د عوض نه وی یعنے زید بکر ته د هغه هبه د څه شی په عوض کښی نه وی کړی۔ ۷ ابو سعید مه عالمان وائی وجه ئے دا ده چه قیمتاً اخستل زورداره دی د کانړے نه لکه چه په هندیه کتاب کښی ویلی دی۔ لکن دا حکم عام نه دے۔ وګوره مسئلے د کانړے۔ ۱۲ [3] دا حکم هاله دے چه هبه په شرط د عوض نه وی که وی نو بیا شاهدان د هبے غوره دی۔ بله خبره دا ده چه دواړه مدعیان بے قبضے وی ځکه چه یو د دے دواړو ته که خاوند د قبضے وو نو بیا هغه غوره دے لکن په دے صورت کښی که دواړو تاریخ خودلے وو او تاریخ د مدعی بے قبضه وړومبے وو نو بیا شاهدان د مدعی بے قبضه غوره دی۔ دا ئے ویلی دی په بحر کښی۔ ۱۲ مترجم

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دَ خبره باندے چه زمانه تیره شویے په دَ وقف (یعنے دَ وقف واکدار خاوند دَ قبضے والی چه دے وقف شپږ[1] دیرش کاله شوی دی اود پرے دعوه نه ده کړے نو اوس چه پرے دعوه کوی دَ ده دعوی دِ وانه وریدے شی)	شاهدان دَ مدعی به قبضے په دے خبره باندے چه تیره شوے موده کمه ده دَ دے نه (دغه مدعی وائی چه دغه زمانه لا نه ده تیره شوے نو بناتیږی چه حُما دعوی واوریدے شی۔)	علی العمادی
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دَ خبره باندِ چه زمانه تیره شویه په دے زمکه چه حُما په قبضه کښ ده (یعنے خاوند دَ قبضے والی چه لس کاله کیږی چه دا شاهی زمکه حُما څخه ده۔ نو اوس چه پرِ دا مدعی دعوی کوی۔ دَ ده دعوه دِ وانه وریدلے شی۔)	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه تیره شوے موده کمه ده دَ دے نه نو بناتیږی چه حُما دعوه واوریدلے شی)	علی العمادی
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دَ خبره بانِدِ چه حُما په دَ ملکیت زمانه تیره شویه (یعنے خاوند دَ قبضے والی چه دا زمکه مثلاً چه حُما په ملکیت او په قبضه کښ ده۔ دَ دے پنځلس کاله کیږی او دے مدعی پرے دعوه نه ده کړے نو اوس دِ دَ ده دعوه وانه وریدلے شی)	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه تیره شوے موده کمه ده دَ دے نه نو بناتیږی چه حُما دعوی دِ واوریدلے شی)	علی العمادی
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دَ خبره باندِ چه حُما دَ تصرف پنځلس کاله کیږی (او دے مدعی پرے دعوه نه ده کړے	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دَ ده دَ تصرف لس کاله شوی دی (پنځلس نه دی	

[1] شامی هم دَ دغه دعاوی نه لږ و په روجه دا بیان راوړے دے۔ ۱۲ مترجم [2] مدعی چه دیره موده لا پس دعوی کوی اوبے دَ څه شرعی عذر نه دا دعوی پریخی دی۔ نو اوس به یے قاضی دا دعوه نه آوری۔ او دَ دے مُدے اندازه بعضے عالمانو دیرش او ودے دیرش کاله هم خوښے کړے ده۔ او پنځلس کاله بنا دی په نهی سلطانی یعنے په بادشاهی بندیز ۱۲ مترجم

غوره	ناغوره	حواله
نواوس پرِ دعوی کوی) نو دَ دَهٔ دا دعوه دِ وا نه وُرېدل شي.	شوی) نو بیا ئېږی چه ځما دعوه واوَرېدل ے شی.	علی العمادی
شاهدان دَ هغه چا چه دَ یو داسے شیٔ دعوه کوی په هغے سره ورانیکی معامله (مثلاً زید وائی چه ما اوبکر چه بیعه کړے وه هغه مونږ بیا ورانه کړے ده بلکه زید وائی چه دَ بکر چه ما ته کومه قرضه وه هغه ئے را ته پرېښے ده.)	شاهدان دَ هغه چا چه هغه دَ دغه معاملے دَ باقی پاتے کېدلو دعوه کوی (مثلاً بکر وائی چه هغه بیعه په خپل حال ده. یا وائی چه ځما قرضه ورسته پورے ده)	قنیه
شاهدان دَ هغه چا چه هغه خپل حق ثابتوی (مثلاً ښځه وائی چه ماله خاوند دا مرگے په مهرکښی مقرر کړے نو دا ښځه خپل حق ثابتوی)	شاهدان دَ هغه چا چه دَ بل حق ثابتوی (مثلاً دَ دغے ښځے خاوند شاهدان وُدروی په دے خبره چه ما تاله په په مهرکښی ستا مور مقرره کړې ده. او حال داوی چه دغه مور کے دَ خاوند وینځه وی.)	محیط
شاهدان دَ یو مدعی په دے خبره باندے چه وکیل چه دا کار کړے دے نو هاله ئے کړے دے چه هغه دَ وکالت نه وېستلے شوے وو.	شاهدان دَ بل مدعی په دے خبره باندے چه وکیل دا کار په داسے حالت کښی کړے دے چه هغه لا وکیل وو.	قنیه
شاهدان دَ هغه چا چه دعوه دَ یو داسے شیٔ کوی چه دَ هغه په معنے کښی وجود وی (یعنی شته والے وی) لکه رد کول شو (مثلاً جینیٔ شاهدان وُدروی چه کوم وخت ما ته ځما دَ نکاح خبر دا وُرسېدلو نو رد و کړلو. وُم وئیل چه زه پرے راضی نه یم.	شاهدان دَ هغه چا چه دعوه دَ یو داسے شیٔ کوی چه دَ هغے په معنے کښی نشتوالے وی. لکه چپ کېدل شو (مثلاً دَ دغه جینیٔ خاوند شاهدان وُدروی په دے خبره چه ته په دغه وخت کښی چپ شوے وے)	قنیه
شاهدان دَ یو لازمه ونکی څیز دَ هغه دوؤ	شاهدان دَ یو باطلونکی اولړے کونکی	

غوره	ناغوره	حواله
خیزونو نه چه دَ هغې په معنے کښې شته والے وی۔ (مثلاً خاوند شاهدان ودروی چه کوم وخت دَ دے نجې سره نکاح وشه۔ او دا خبره شوه۔ نو دے اجازت وکړلو دَ دے نکاح۔ نو دا اجازت ورکول چه دی۔ دا لازمه وی دغه نکاح)	خیز دَ هغې دوو خیزونو نه چه دَ هغې په معنے کښې شته والے وی۔ (مثلاً دغه شاهدان ودروی په دے خبره باندے چه کوم وخت زهٔ خبر شوم دَ دے نکاح نه نو ما رد وکړلو چه دی باطلوی او خرابه وی دغه نکاح	قنیه
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا زمکه خراجی زمکه ده دَ دے کلی دَ خلقو دَ قاعدے سره مطابق ئے خاص زهٔ مالک شوے یم۔	شاهدان دَ مدعی په قبضے په دے خبره باندے چه دا دَ بادشاهی[1] ترون دَ لاندے داخله زمکه ده۔	علی العمادی
شاهدان دَ هغه چا چه دَ مدعی شاهدان پرِ شاهدی کوی نو دے شاهدان ودروی په دے خبره چه دَ مدعی دا شاهد چه دے څما او دَ دهٔ په مینځ کښې دشمنی ده۔ نو قبوله نه ده شاهدی دَ دهٔ په ما باندے۔	شاهدان دَ مدعی په صفایئے دَ خپلو شاهدانو	علی العمادی
شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه دَ مدعی دا شاهدان چه په ما دا شاهدی کوی۔ څما او دَ دوی په مینځ کښې خلاف دے او جګړه ده۔ او وخت دا سے جګړه چه رد کیږی په هغې سره شاهدی	شاهدی دَ مدعی په صفایئے دَ خپلو شاهدانو	علی العمادی

[1] دَ بادشاه ترون نه مراد مشتبه مسکه ده۔ او هغه داده چه بادشاه کومه زمکه دَ بیت المال دَ پاره محفوظ کړی دی هغه په خاص اجورت سره چاله دَ همیشه دَ پاره ورکوندے او دا وبوکولو دَ پاره ورکړی او چو په هغه وخت نو دغه اجورت وصولوی۔ په در منتقی کښې دَ عشر او خراج په باب کښې ویلی دی چه په داسے زمکو نه خراج شته نه عشر بلکه مقرره اجورت تر اخستنے کیږی۔ او دَ شامی په وقف کښې ئے داوړی دی چه خاوند دَ قبضے که په داسے زمکه دَ ملکیت دعوه وکړه او وے ویل چه زهٔ دَ دے مالک یم۔ او خراج ترے ادا کوم۔ نو خبره ئے معتبره ده۔ باقی دَ دے نور هم ډیر احکام دی۔ در منتقی ذکر کړی دی۔ او شامی په کتاب دَ بیع کښې هم هغې ته قدرے اشاره کړیده۔ ۱۲ مترجم

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان د غوښتونکی د خپل څیز. چه شاهدان ئے ودرولی وی د دعوے په یو څیز باندے ـ او حکم پرے کړے وی قاضی ـ	شاهدان د هغه چا چه دعوه پرے کړے شوی وی د دغه څیز ـ تو دے شاهدان په دے خبره ودروی چه شاهدان د دے مدعی چه په مائے شاهدی کړیده ـ فاسقان بدکاران دی ـ	تمرتاشی
شاهدان هغه شاهدان چه په یو شاهد تپ کوی او عیب ئے ظاهره وی ـ	شاهدان هغه شاهدان چه د دغه شاهد صفائی بیانه وی	تنقیح
شاهدان هغه شاهدان چه په یو شاهد کښ په پټه سره تپ کوی ـ او قاضی ته ئے عیب ښکاره کوی ـ	شاهدان هغه شاهدان چه د دغه شاهد صفائی بیانوی ـ	ابوالسعود
شاهدان د صفائیے د یو شاهد سره د حکم کولو د قاضی نه په شاهد ئے د هغه ـ	شاهدان د خالی تپ او د طعن لګولو په دغه شاهد کښ پس د هغے نه چه نورو شاهدانو ئے صفائی بیان کړی وی او حکم پرے کړے وی قاضی ـ	علی الحامدی
شاهدان د تپ او د طعن لګولو په یو شاهد خود اسے طعن چه لازمیږی په هغے سره حق د شرعے یا د بنده ـ	شاهدان د صفائیے د هغه	داماد
شاهدان د صفائیے د یو شاهد	شاهدان د خالی تپ او طعن لګولو په دغه	

[1] زده کړه دا خبره چه د شاهد فاسقوالے بیانول او په هغه کښ داسے خبره ظاهره ول چه په هغے سره شاهدی رد کیږی ـ د ته د فقهے عالمان جرح وائی ـ د جرح ترجمه ما په تپ او په طعن لګولو سره کړیده ـ بیا دا طعن په دوه قسمه دے ـ یو خالی طعن دے چه په هغے سره ثم حق د خدائے پاک یا ثم حق د بنده نه لازمیږی ـ دے قسم ته جرح مجرد ویلے شی ـ لکه شاهدان په دے خبره شاهدی ورکړی چه د مدعی دا شاهدان فاسقان دی ـ یا او وائی چه زناکاران دی ـ یا او وائی چه شراب خواره دی ـ یا او وائی چه سود خواره دی ـ یا او وائی چه دوی اقرار کړیدے چه مونږ شاهدی په دروغه کړے ـ یا دوی اقرار کړیدے چه مونږ په اجرت راوستی شوی یو ـ د دے شاهدئ د پاره یا دوی اقرار کړیدے چه دا مدعی په دے دعوه کښ دروغژن دے ـ یا دوی اقرار کړیدے چه خمونږ شهادت نشته په مدعا علیه باندے ـ وغیره وغیره ـ دویم قسم د طعن هغه دے چه په کوم سره ثم حق د خدائے پاک یا ثم حق د بنده لازمیږی ـ او دے ته جرح مرکب ویلے شی ـ لکه چه شاهدان د مدعا علیه شاهدی ورکړی په دے خبره چه د دے مدعی شاهدانو زنا کړیده د فلانئ ښځے سره په دے طریقه ـ یا شراب ئے څښلی دی ـ یا خمونږ نه ئے فلانے مال غلا کړیدے او ورته ئے لاندی شوی ـ یا دوی مریونه دی ـ یا یو پکښی مرئے دے ـ یا دوی د دے ـ غوړے په مال کښ د مدعی سره شریک دی ـ یا دے شاهدانو ته د زنا نسبت په دروغه کړے وو ـ کنزل ئے کړی وو نو زیدان پرے د دے دعوه کوی ـ یا په دے شاهد د دے کنزلو حد جاری شوے دے ـ یا دے مدعی اقرار کړیدے ـ چه دا شاهدان ما په اجرت راوستی دی د پاره د شاهدئ وغیره وغیره ـ بیا زده کړه دا خبره چه شاهدان په جرح مجرد باندے قبول نه دی او په جرح مرکب قبول دی مد تفصیل ذکر کړیدی ابن نجیم صاحب په اووم جلد د بحرالرائق کښ ـ ۱۲ مترجم

غوره	ناغوره	حواله
	شاهد په ښکاره طور سره	ابوالسعود
شاهدان د هغه مدعا علیه چه شاهدان د مدعی پر شاهدی کوی. نو دے شاهدان و دروی په دے خبره چه د مدعی دا شاهدان خوړلی ښنل کوی د خلقو په مخکښی په بازار کښی (نو شاهدی ئے قبوله نه ده.	شاهدان د مدعی په صفایئے د دغه خپلو شاهدانو پخوا[1] د حکمه د قاضی نه	
شاهدان د مدعی علیه په دے خبره چه د مدعی دا شاهدان چه په ما شاهدی کوی دوئ متیازے کوی په لارے کښی (نو شاهدی ئے قبوله نه ده.)	شاهدان د مدعی په صفلیئے د دغه خپلو شاهدانو. پخوا د حکمه[1] د قاضی نه.	تمرتاشی
شاهدان د مدعا علیه په دے خبره چه د مدعی دا شاهد چه په ما شاهدی کوی دے مریئے دے (صحیح نه ده شاهدی د ده.)	شاهدان د مدعی په صفایئے د دغه خپل شاهد	خصاف
شاهدان د مدعا علیه په دے خبره چه د مدعی دا شاهد چه په ما باندِ شاهدی کوی ده اتیا درے خوړلی دی. تهمت د زنائے لکولے وو په یو سړی تو حد د کنزلو پرے جاری شویئے (نو صحیح نه ده شاهدی د ده)	شاهدان د مدعی په صفلیئے د دغه خپل شاهد.	خصاف
شاهدان د مدعا علیه په دے خبره چه د مدعی دا شاهد چه په ما شاهدی کوی ده شراب ښنلی دی او بوئے ئے خیژی د خلی نه. (نو قبوله نه ده شاهدی د ده)	شاهدان د مدعی په صفایئے د دغه خپل شاهد باندے	خصاف

[1] یعنی قاضی لا حکم نه وی کړے د پاره د دے مدعی د هغه شاهد انو په شهادت سره چه تلے پرے کړے شوے دے ۱۲ مترجم-

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه دا شاهد دَ مدعی چه په ما شاهدی کوی۔ دهٔ په زید دَ زنا تهمت لګولے دے لا یوه میاشت نهٔ ده تیره شوے او زیاپرِد عوه هم کوی۔	شاهدان دَ مدعی په صفایئے دَ دغه خپل شاهد۔	خصاف
شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه دا شاهد دَ مدعی چه په ما شاهدی کوی په دهٔ یو حد جاری شوے دے دَ حد ودونه (حد دَ زنا یا دَ شرابو یا دَ کنزلو) او یوه میاشت نه لا نهٔ ده شوے (نو قبوله نه ده شاهدی دهٔ)	شاهدان دَ مدعی په صفایئے دَ دغه خپل شاهد	خصاف
شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه دا شاهدان دَ مدعی چه په ما شاهدی کوی دوی په فلانئ ښځے زنا کړیده۔ او یوه میاشت نه لا نهٔ ده تیره شوے۔ (نو قبوله نه ده شاهدی دَ دوی)	شاهدان دَ مدعی په صفایئے دَ دغه خپلو شاهدانو	هندیه
شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه دَ مدعی شاهدان چه په ما شاهدی کوی دوی حمّانه غلا کړیده فلانے څیز او یوه میاشت نے لا نهٔ ده تیره شوے (نو قبوله نه ده شاهدی دَ دوی)	شاهدان دَ مدعی په صفایئے دَ دغه خپلو شاهدانو	هندیه
شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه دا شاهدان دَ مدعی چه دی دوی دَ مدعی سره شریک دی په دے مال دَ دعوی کښی (نو قبوله نه ده شاهدی دَ دوی)	شاهدان دَ مدعی په صفایئے دَ دغه خپلو شاهدانو	هندیه
شاهدان دَ مدعا علیه[1] په دے خبره چه دَ مدعی	شاهدان دَ مدعی	

[1] دَ امام صاحب علیه الرحمة په نزد به دا شاهدان وغور نیږی او صفائی معتبره ده۔ ۱۲م

غوره	نا غوره	حواله
اقرار کړیدي چه ما دا شاهدان د شاهدي د پاره په اُجرت نیولي دي (نو قبوله نه ده شاهدي د دوئ)	په صفايئ د خپلو شاهدانو	هندیه
شاهدان د مدعي په صفائي د خپلو شاهدانو.	شاهدان د مدعا علیه په دے خبره چه د مدعي دا شاهدان چه په ما شاهدي کوي فاسقان دي یا زناکاران دي	هندیه
شاهدان د مدعي په صفايئ د خپلو شاهدانو.	شاهدان د مدعا علیه په دے خبره چه دا شاهدان د مدعي چه دي دوئ سودخواره دي (نو قبوله نه ده شاهدي د دوئ)	هندیه
شاهدان د مدعي په صفايئ د خپلو شاهدانو	شاهدان د مدعا علیه په دے خبره چه دا شاهدان د مدعي چه دي دوئ شاهدي کړیده په دروغ (نو قبوله نه ده شاهدي د دوئ په ما باندے)	هندیه
شاهدان د مدعي په صفايئ د خپلو شاهدانو	شاهدان د مدعا علیه په دے خبره چه د مدعي دے شاهدانو اقرار کړیدے چه موږ په اُجرت نیولي شوي یو د شاهدئ د پاره (نو قبوله نه ده شاهدي د دوئ په ما باندے)	هندیه
شاهدان د مدعي په صفايئ د خپلو شاهدانو	شاهدان د مدعا علیه په دے خبره چه د مدعي دے شاهدانو اِقرار کړیدے چه موږ لره شاهدي نشته په دے مدعا علیه باندے.	هندیه
شاهدان د مدعي په صفايئ د خپلو شاهدانو	شاهدان د مدعا علیه په دے خبره چه د مدعي دے شاهدانو اقرار کړیدے چه دا مدعي دروغژن دے په خپله دے دعوه کښ	هندیه
شاهدان د مدعي په صفايئ د خپلو شاهدانو.	شاهدان د مدعا علیه په دے خبره چه مدعي دے شاهدانو ویلي دي چه نشته دے موږ لره شاهدي د پاره د دے مدعي (نو اوس څرنګ شاهدي کوي په ما باندے)	قاضیخان

غوره	نا غوره	حواله
شاهدان دَ مدعی په صفایئے دَ خپلو شاهدانو۔	شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه دَ مدعی دَ شاهدانو اقرار کړیدے چه په کوم مجلس کښی دا کار شوے وو مونږ په هغے کښی حاضر نه وُو (نو څرنګ شاهدی کوی په ما باندی)	قاضیخان
شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه دَ مدعی دا شاهدان چه په ما شاهدی کوی دَ مدعی اقرار کړیدے چه دوی حاسره شریک دی په مال دَ دے دعوه کښی (نو قبوله نه ده شاهدی دَ دوی)	شاهدان دَ مدعی په صفایئے دَ خپلو شاهدانو	قاضیخان
شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه دَ مدعی اقرار کړیدے چه حما دا شاهدان فاسقان بدکاران دی۔	شاهدانو دَ مدعی په صفایئے دَ خپلو شاهدانو۔	قاضیخان
شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه دَ مدعی دا شاهد و دوه جے وېرد جے وکیل کړے وو په دے مقدمه کښی (نو قبوله نه ده شاهدی دَ ده په ما باندے)	شاهدان دَ مدعی په صفایئے دَ دغه خپل شاهد	قاضیخان
شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه دَ مدعی اقرار کړیدے چه حما دے شاهدانو په دروغه شاهدی کړیده	شاهدان دَ مدعی دَ دغه خپلو شاهدانو۔	
شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه دَ مدعی اقرار کړیدے چه حما دا شاهدان نه وو حاضر په هغه مجلس کښی چه دا کار پکښی شویدے (نو قبوله نه ده شاهدی دَ دوی)	شاهدان دَ مدعی په صفایئے دَ دغه خپلو شاهدانو۔	قاضیخان
شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه ما دَ مدعی دے شاهدانو له دومره روپئ ورکړے وے دَ پاره دَ دے چه دا شاهدی ونکړی په ما باندے او دوی شاهدی کړیده نو زه ترے خپل مال غواړم۔ او شاهدی ئے قبوله نه ده)	شاهدان دَ مدعی په صفایئے دَ دغه خپلو شاهدانو	قاضیخان
شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره چه دَ مدعی شاهد چه دَ دے مدعی خوی دے نو قبوله نه ده دا شاهدی دَ ده)	شاهدان دَ مدعی په صفایئے دَ دغه خپل شاهد	در

ملـ دغه شان ذکر دی په فتح القدیر کښی - ۱۲ - مترجم -

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ مدعا علیه په دَ خبره چه دا شاهد دَ مدعی چه دَ دے مدعی پلار دے (نو قبوله نه ده شاهدی دده)	شاهدان دَ مدعی په صفایئ دَ دغه خپل شاهد۔	در
شاهدان دَ دعوے کونکی دَ طلاق (لکه زینب شاهدان وُدروی چه زهٔ دے خاوند زیب طلاقه کړے یمه)	شاهدان دَ دعوے کونکی دَ نکاح (لکه دغه زید شاهدان وُدروی په دے خبره بانږ چه دا زینب ما اخستے ده په نکاح)	تنقیح
شاهدان دَ دعوے کونکی دَ آزادولو (لکه مریئ شاهدان وُدروی په دَ خبره بانږ چه زهٔ خپل مالک آزاد کړے یم۔	شاهدان دَ دعوے کونکی دَ ملکیت (لکه دغه مالک شاهدان وُدروی په ملکیت دَ دَ مریئ بانډے چه دا ځما مریئ دے)	تنقیح

دَ وکالت مسئلے

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ هغه چا چه وکیل کړے ئی وو یو سړے په خرڅولو دَ یو شیز سره نو هغه خرڅ کړلو اوس دے شاهدان وُدروی په دے خبره بانډے چه ځما وکیل چه ځما دا شئے خرڅ کړیے نو پس دَ هغه نے خرڅ کړیئ چه ما هغه معزوله کړے وو۔ (یعنے ویستلے رم وو دَ خپل وکالت نه۔ نو نه ده شوے دا بیعه) او وُ نخښی تاریخ دَ خرڅولو۔	شاهدان دَ هغه چا چه آخستے ئے وی دغه شیز په بیعه دَ دغه وکیل نه او شاهدان وُدروی په دے خبره بانږ چه دا بیعه شوے ده پخوا دَ معزوله کیدلو دَ وکیل نه۔ (نو شوے ده دا بیعه) او دے هم وُ نه ښیځی تاریخ)	انقروی
شاهدان دَ هغه چا چه وکیل کړے ئے وی یو سړے په خرڅولو دَ شیز سره نو هغه خرڅ کړه۔ اوس دے شاهدان وُدروی په دے خبره بانډے چه ځما وکیل چه دا ځما شیز خرڅ کړیدا نو په فلانی تاریخ خرڅ کړیئ پس دَ هغے نه چه	شاهدان دَ اخستونکی دَ دغه شیز په بیعه سره په دے خبره بانډے چه دا بیعه شوے وه۔ پخوا دَ معزوله کیدلو دَ وکیل نه هم په دغه تاریخ (نو شوے ده دا بیعه)	انقروی

غوره	ناغوره	حواله
ماهغه معزوله کړے وو. (یعنے ما ویستلے وو دَ خپل وکالت نه نو نه ده شوے دا بیعه)		
شاهدان دَ هغه چا چه وکیل کړے ئے وو سړے په خرڅولو دَ یو څیز سره نو هغه خرڅ کړو. او س دے شاهدان وُدروی په دے خبره باندے چه داخرڅول حُمادَ دے وکیل پس دَ معزوله کیدلو نه وو- په فلانکی تاریخ (نو دا بیعه نه ده شوے)	شاهدان دَ اخستونکی په دے خبره باندے چه دا بیعه وه پخوا دَ معزوله کیدلو دَ دغه وکیل نه او ذکر وُنکړی دَ تاریخ)	انقروی
شاهدان دَ هغه چا چه وکیل کړے ئے وی یو سړے په خرڅولو دَ یو څیز سره نو هغه خرڅ کړو او س دَ شاهدان وُدروی په دے خبره باندے چه حُما وکیل چه دا څیز خرڅ کړے نو پس دَ هغے نه چه ما هغه ویستلے وو دَ خپل وکالت نه او و نه څنیَ تاریخ.	شاهدان دَ اخستونکی دَ دغه څیز په دے خبره باندے چه دا بیعه شوے ده پخوا دَ معزوله کیدلو دَ وکیل نه په فلانکی تاریخ	انقروی
شاهدان دَ اخستونکی په دے خبره باندے چه وکیل په ما دا شئے را خرڅ کړے وو پخوا دَ معزوله کیدلو نه او وُ خئ تاریخ دَ بیعے داسے چه وُروستے وی.	شاهدان دَ هغه چا چه وکیل کړے ئے وی یو سړے چه حُما دا څیز خرڅ کړه - او او س شاهدان وُدروی په دے خبره چه ما دغه ویستلے وو دَ خپل وکالت نه په فلانی تاریخ. او وخئ داسے تاریخ چه وروستے وی دَ بیعے دَ تاریخ نه کوم چه خوولے وی اخستونکی	انقروی
شاهدان دَ یوے داسے شئے چه څوک ئے وکیل کړے وو په نکاح سره نو هغه چا له	شاهدان دَ خاوند په دے خبره باندے چه ستا نکاح کړے دے	

غوره	ناغوره	حواله
دا په نکاح ورکړه اوس دا ښځه شاهدان ګُدروی په دې خبره چه زه خپل وکیل په نکاح ورکړے یم نو پس د هغې نه ئې ورکړے یم چه هغه ما ولیستلے وو د خپل وکالت نه او ونځۍ تاریخ د نکاح	ځما سره دغه وکیل ستا ښځوا د معزوله کیدلو د هغه نه۔ او دے هم ونځۍ تاریخ۔	انقروی
شاهدان د یوے دا سے ښځې چه څوک ئې وکیل کړے وو په نکاح سره نو هغه چاله ورکړه په نکاح اوس دا ښځه شاهدان ګُدروی په دې خبره۔ زه چه خپل وکیل په نکاح ورکړے یم نو په فلانکی تاریخ ئې ورکړے یم په دا سے حال کښې چه هغه ما ولیستلے وو د خپل وکالت نه (نو نه دے شوے دا نکاح)	شاهدان د خاوند په دے خبره باندے چه ته ماله په نکاح راکړے ئې وکیل ستا ښځوا د معزوله کیدلو د هغه نه هم په دغه تاریخ چه ته ئې یاده وے۔	انقروی
شاهدان د یوے دا سے ښځې چه څوک ئې وکیل کړے وو په نکاح سره نو هغه چاله ورکړه په نکاح اوس دا ښځه شاهدان ګُدروی په دے خبره زه چه خپل وکیل په نکاح ورکړے یم نو په فلانی تاریخ ئې ورکړے یم په دا سے حال کښې چه هغه ما ولیستلے وو د خپل وکالت نه (نو نه دے شوے دا نکاح)	شاهدان د خاوند په دے خبره باندے چه ته ماله په نکاح راکړے ئې وکیل ستا ښځوا د معزوله کیدلو د هغه نه او دے ونځۍ تاریخ	انقروی
شاهدان د ښځې وکیل نیولے په دے خبره چه ځما وکیل چه زه ئې په نکاح ورکړے یم نو پس د هغے نه ئې ورکړے یم چه ما هغه ولیستلے وو د خپل وکالت نه (نو نه دے شوے دا نکاح او وُنځۍ تاریخ۔	شاهدان د خاوند په دے خبره باندے چه دغه وکیل ستا۔ ستا نکاح کړیدے ځما سره په فلانی تاریخ په دا سے حال کښې چه هغه لا نا نه وو معزوله کړے (ایستے نه دِ وو ولیستلے د خپل وکالت نه نو دا نکاح شوېده)	انقروی
شاهدان د خاوند چه وکیل کړے ئې وو یو سړے	شاهدان د دغه ښځې۔ په دے خبره	

۲ غوره	ناغوره	حواله
په طلاق و دَ تنځے سره نوهغه طلاقه کړه اوس دے شاهدان ووړوی په دے خبره باندې چه ځما وکیل چه حماد ابنځه طلاقه کړیدۀ نو پس دَ هغے نه ئے طلاقه کړیدۀ چه هغه ما وبیستلے وو دَ خپل وکالت نه نو نه ده طلاقه شوے) او ونښۍ تاریخ	باندے چه هغه وکیل زۀ طلاقه کړے ئیم پخوا دَ معزوله کیدو نه -او دا هم ونښۍ تاریخ نو طلاقه شوے ئیم۔	انفړه وی
شاهدان دَ خاوند په دے خبره باندې چه ځما وکیل چه حماد ابنځه طلاقه کړیدۀ نو طلاقه کړے ئے ده په فلانی تاریخ پس دَ هغے نه چه هغه ما وبیستلے وو دَ خپل وکالت نه نو نه ده طلاقه شوے)	شاهدان دَ دغه ښځے په دے خبره باندې چه هغه زۀ طلاقه کړے ئیم هم په دغه تاریخ پخوا دَ معزوله کیدو دَ هغه نه نو طلاقه شوے ئیم)	انفړه وی
شاهدان دَ خاوند په دے خبره باندې چه ځما وکیل چه حماد ابنځه طلاقه کړیده نو طلاقه کړے ئے ده په فلانی تاریخ پس دَ هغے نه چه هغه ما وبیستلے وو دَ خپل وکالت نه (نو نه ده طلاقه شوے)	شاهدان دَ دغه ښځے په دے خبره باندې چه ستا وکیل زۀ طلاقه کړے ئیم په داسے حالت کښې چه تا لا هغه نه وو معزوله کړے یعنے نه دِ وو بیستلے دَ خپل وکالت نه (نو طلاقه شوے ئیم) او دا ونښۍ تاریخ	انفړه وی
شاهدان دَ خاوند په دے خبره باندې چه ځما وکیل چه حماد ابنځه طلاقه کړیده نو پس دَ هغے نه ئے طلاقه کړیدۀ چه هغه ما وبیستلے وو۔ دَ خپل وکالت نه (نو نه ده طلاقه شوے) او ونښۍ تاریخ۔	شاهدان دَ ښځے په دے خبره باندے چه ستا وکیل زۀ طلاقه کړے ئیم په فلانکی تاریخ په داسے حالت کښې چه هغه لا ستا وکیل وو۔ (نو طلاقه شوے ئیمه)	انفړه وی
شاهدان دَ هغه چا چه وکیل کړے ئے وو بو سړے په آزادولو دَ مریٔ نو هغه آزاد کیدلو اوس دے شاهدان ووړوی په دے خبره باندې چه ځما وکیل چه حماد ا مریٔ آزاد	شاهدان دَ دغه مریٔ په دے خبره باندې چه ستا وکیل زۀ آزاد کړے ئیمه په داسے حالت کښې چه هغه لا تا نه وو ویستلے دَ	

غوره	ناغوره	حواله
کړیږي حماد طرف ته نو پس د هغې نه ئے آزاد کړیږي چه هغه ما وبیستلے وو د خپل وکالت نه. او ونختئ تاریخ د آزادولو	خپل وکالت نه (نو آزاد شوے یمه) او دے هم ونخئ تاریخ.	انقروی
شاهدان د هغه چاچه وکیل کړے ئے وو یو سړے په آزادولو د مرئي نو هغه آزاد کړلو. اوس دے شاهدان وُدروي په دے خبره باندې چه حما وکیل حمادا مرئے آزاد کړیږي په فلاني تاریخ پس د هغې نه چه هغه ما وبیستلے وو د خپل وکالت نه (نو صحیح نه دي آزادول د هغه)	شاهدان د دغه مرئي په دے خبره باندے چه زهٔ وکیل آزاد کړے یَم هم په دغه تاریخ په دا سے حالت کښې چه هغه لا نهٔ وو معزوله شوے د وکالت نه (نو آزاد شوے یَم)	انقروی
شاهدان د هغه چاچه وکیل کړے ئے وو سړے په آزادولو د مرئي نو هغه آزاد کړلو اوس دے شاهدان وُدروي په دے خبره باندے چه حما وکیل حمادا مرئے آزاد کړیږي په فلاني تاریخ پس د هغې نه چه هغه ما وبیستلے وو د خپل وکالت نه. (نو صحیح نه دی دا آزادول د هغه)	شاهدان د دغه مرئي په دے خبره باندے چه زهٔ هغه وکیل آزاده کړے یَم په دا سے حالت کښې چه هغه لا نهٔ وُو بیستلے شوے د وکالت نه (نو آزاد شوے یم) او دے وُنه خئ تاریخ.	انقروی
شاهدان د وکیل نیوُنکي په دے خبره باندے چه حما وکیل آزاد کړیږي دا مرئے پس د هغې نه چه هغه ما وبیستلے وو د خپل وکالت نه (نو نه دے آزاد شوے) او وُنخئ تاریخ د آزادولو.	شاهدان د دغه مرئي په دے خبره باندې چه زهٔ وکیل آزاد کړے یَم په فلاني تاریخ په دا سے حالت کښې چه هغه لا نهٔ وو بیستلے شوے د وکالت نه (نو آزاد شوے یَم)	انقروی
شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره باندې چه د وکیل د زید اقرار کړیږي چه دا کور د زید نه دے.	شاهدان د وکیل د زید په دے خبره باندے چه دا کور د زید دے.	محیط
شاهدان د وکیل په دے خبره باندے چه	شاهدان د وُرور د زید په دے	

غوره	ناغوره	حواله
زید زۀ وکیل کړمے ځوم په دَ او قاضی پرِ هم حکم کړے وو په فلانی تاریخ	خبره باندِ چه زید مړ شوید سے پنځوا دَ دغه وخت نه	علے الحاوی

دَ دعوے مسئلے

(بیان دَ دعوے[1] دَ ښځے او دَ خاوند چه مختلف شی سره دواړه)

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ ښځې په دے خبره باندے چه دا کور ځما ملکیت دے۔	شاهدان دَ خاوند دَ دغه ښځې په دے خبره باندِ چه دا کور ځما ملکیت دے۔	تنقیح وبحر
شاهدان دَ خاوند دَ یوے ښځې چه دعوه کوی په دا سے سامان باندِ چه هغه مناسب وی دَ ښځو سره۔	شاهدان دَ دغه ښځې چه دعوه کوی په دغه سامان باندِ چه مناسب دے دَ ښځو سره۔	تنقیح
شاهدان دَ خاوند دَ یوے ښځې په دے خبره باندے چه دا زنانه څادر ځما ملک دے۔	شاهدان دَ دغه ښځې په دے خبره باندے چه دا زنانه څادر ځما ملک دے۔	بحر
شاهدان دَ خاوند دَ یوے ښځې په دَ خبره باندے چه دا کانکر ځما دی (یعنے زۀ ئے مالک یَم۔)	شاهدان دَ دغه ښځې په دے خبره باندے چه دا کانکړ ځما دی۔	بحر
شاهدان دَ خاوند دَ یوے ښځې په دے خبره باندے چه دا زنانه کوتے ځما مِلک دے۔	شاهدان دَ دغه ښځې په دے خبره باندے چه دا زنانه کوتے ځما مِلک دے۔	بحر
شاهدان دَ خاوند دَ یوے ښځې په دے خبره باندے چه دا پانزیب ځما مِلک دے۔	شاهدان دَ دغه ښځې په دے خبره باندے چه دا پانزیب ځما مِلک دے۔	بحر
شاهدان دَ خاوند دَ یوے ښځې په دَ خبره باندِ چه دا کالی دَ زرو ځما دَ ملکیت دی	شاهدان دَ دغه ښځې په دے خبره باندِ چه دا کالی دَ زرو ځما دَ ملکیت دی	بحر

[1] که ښځه او خاوند مختلف شول او دواړو دَ یو څیز دَ ملکیت دعوه کوله نو موږ به ئے گورو چه دغه څیز په هغه سے دواړو کښ دَ کوم یو دَ پاره صالح او مناسب دے۔ دَ هر یو دَ پاره چه مناسب دی خبره دَ هغه معتبره دی۔ او که شاهدان وو نو شاهدان دَ هغه بل غوره دی او که دغه څیز مناسب وو دَ دواړو سره نو بیا خبره دَ خاوند معتبره ده لکن که شاهدان وُو نو شاهدان دَ ښځے غوره دی ۱۲ مترجم

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ نیځې په دے خبره باندے چه دا بچونړے چه دے دا خما ملک دے	شاهدان دَ خاوند دَ دغه نیځې په دَ خبره باندِ چه دا بچونړے خما ملک دے .	بحر
شاهدان دَ نیځې په دے خبره باندِ چه دا سامان دَدے کورچه دَدے دا خما ملک دے	شاهدان دَ خاوند دَ دغه نیځې په دے خبره باندے چه دا سامان خما ملک دے	بحر
شاهدان دَ نیځې په دے خبره چه دا لوحې خما دی .	شاهدان دَخاوند دَ دغه نیځې په دے خبره باندے چه دا لوحې خما دی .	بحر
شاهدان دَ نیځې په دے خبره باندے چه دا صندوق خما ملک دے .	شاهدان دَخاوند دَ دغه نیځې په دے خبره باندِ چه دا صندوق خما ملک دے	بحر
شاهدان دَ نیځې په دے خبره باندِ چه دا وینزه خما ملک دے .	شاهدان دَ خاوند دَ دغه نیځې په دَ خبره باندے چه دا وینزه خما ملک دے	بحر
شاهدان دَ نیځې په دے خبره باندے چه دا نقدی مال خما ملک دے .	شاهدان دَ خاوند دَ دغه نیځې په دے خبره باندِ چه دا نقدی مال خما ملک دے .	بحر
شاهدان دَ نیځې په دَ خبره باندے چه دا لپتۍ یاکوړ خما ملک دے .	شاهدان دَخاوند دَ دغه نیځې په دے خبره باندے چه دا خما ملک دے .	بحر
شاهدان دَ نیځې په دَ خبره باندِ چه دا نوُره خما ملک دے .	شاهدان دَ خاوند دَ دغه نیځې په دَ خبره باندے چه دا نوُره خما ملک دے	بحر
شاهدان دَ نیځې په دے خبره باندِ چه دا اَس خما ملک دے .	شاهدان دَخاوند دَ دغه نیځې په دے خبره باندِ ے چه دا اَس خما ملک دے .	بحر
شاهدان دَ نیځې په دے باندِ چه دادَ اوسپنے زغره چه ده دا خما ملک دے .	شاهدان دَخاوند دَ دغه نیځې په دَ خبره باندِ چه دادَ اوسپنے زغره چه ده دا خما ملک دے	بحر
شاهدان دَخاوند په دا سے قسم سامان باندِ چه هغه مناسب وی دَ نیځې او خاوند دواړو سره او شاهدان په دے خبره وُدروی چه دا سامان خما ملک دے	شاهدان دَ میراث خورو دَ دغه نیځې چه مړه شوی وی په اوله سپه دَ وادهٔ او دا میراث خواره ئے شاهدان وُدروی په دغه قسم سامان چه دا دَ دغه نیځې ملک وُ	بحر
شاهدان دَ خوئی چه اوسی دَ خپل پلار سره او شاهدان وُدروی په دے خبره باندِ چه	شاهدان دَ پلار دَ هغه په دے خبره باندے چه دا سامان دَ دے کورا چه	

غوره	ناغوره	حواله
داسامان دَدے کورچه دَدا ځما ملک دے	دے۔ دا ځما ملک دے	قاضیخان
شاهدان دَهغه چاچه اوسی دَ بل سره او شاهدان ګُدروی پر دے خبره بانذِ چه سامان دَ دے کور ځما ملک دے۔	شاهدان دَ خاوند دَ دغه کور په دے خبره باندے چه سامان دَ دے کور ځما ملک دے۔	قاضیخان
شاهدان دَ میراث خورو دَ خاوند دَ یوے ښځے په داسے شئے باندے چه هغه مناسب وی دَ ښځو او سړو دواړو سره (یعنے میراث خاره ئے وائی چه دا شئے دَ هغه وو)	شاهدان دَ دغه ښځے په داسے شئ باندے چه هغه مناسب وی دَ ښځو او دَ سړو دواړو سره (یعنے ښځه وائی چه دا شئے ځما دے)	بحر
شاهدان دَ میراث خورو دَ خاوند دَ یوے ښځے په داسے څیز باندے چه هغه لایق وی دَ ښځے سره۔	شاهدان دَ دغه ښځے پر داسے څیز بانذِ چه هغه لایق وی دَ دے سره	بحر
شاهدان دَ میراث خورو دَ ښځے په داسے څیز باندے چه هغه مناسب وی دَ ښځو او سړو دواړو سره۔	شاهدان دَ خاوند دَ دغه ښځے په داسے څیز بانذِ چه هغه مناسب وی دَ ښځو او سړو دواړو سره۔	بحر
شاهدان دَ میراث خورو دَ ښځے پر داسے څیز باندے چه هغه لایق وی دَ خاوند سره	شاهدان دَ خاوند دَ دغه ښځے پر داسے څیز باندے چه هغه لایق وی دَ دهٔ سره	بحر
شاهدان دَ طلاقے کړے شوے ښځے په هغه سامان بانذِ چه هغه مناسب وی دَ ښځو او سړو دواړو سره (دا وائی چه دا ځما ملک دے۔	شاهدان دَ خاوند طلاقی په هغه سامان بانذِ چه مناسب وی دَ دواړو سره (دے وائی چه دا ځما ملک دے)	بحر
شاهدان دَ طلاقے کړے شوے ښځے۔ په هغه سامان باندے چه مناسب وی خاص دَ خاوند سره۔	شاهدان دَ خاوند دَ طلاقی۔ په هغه سامان باندے چه مناسب وی خاص دَ دهٔ سره۔	بحر
شاهدان دَ خاوند دَ یوے ښځے چه طلاقه	شاهدان دَ دغه ښځے طلاقے کړے	

غوره	ناغوره	حواله
کړے ئے وی دغه نجه او شاهدان ودروی په داسے سامان بانړِ چه هغه مناسب وی خاص دَ نجے سره۔	شوے په هغه سامان باندے چه مناسب وی خاص دَ دے سره۔	بحر
شاهدان دَ یوے وینجے نِکاح کړے شوے په دے خبره باندے چه سامان دَ دے کور ځما ملک دے	شاهدان دَ خاوند دَ دغه نجے چه آزاد سړے وی او شاهدان ودروی په دے خبره باندے چه سامان دَ دے کور ځما ملک دے	بحر
شاهدان دَ یو مړی چه دَ خاوند وی دَ یوے آزادے نجے او شاهدان ودروی په دے خبره بانړِ چه سامان دَ دے کور ځما دے	شاهدان دَ دغه آزادے نجے دَ مړی په دے خبره باندے چه سامان دَ دے کور ځما دے۔	بحر
شاهدان دَ میراث خورو دَ یو آزاد سړی په دے خبره بانړِ چه سامان دد دے کور ملک وو دَ دغه سړی چه اوس مړ دے او میراث ئے پاتے شوے دے موږ ته۔	شاهدان دَ وینجے نجے دَ دغه سړی په دے خبره باندے چه سامان دَ دے کور ځما ملک دے۔	بحر
شاهدان دَ میراث خورو دَ یوے وینجے نِکاح کړے شوے په دے خبره بانړِ چه سامان دَ دے کور ملک وو دَ دغه وینجے چه اوس مړه ده او میراث ئے پاتے شوے دے موږ ته	شاهدان دَ آزاد سړی خاوند دَ دغه وینجے نجے په دے خبره باندے چه سامان دد دے کور ځما ملک دے۔	بحر
شاهدان دَ یوے نجے په دے خبره بانړِ چه دا و نجه ماله خپل خاوند زیں راکړے وه په مهرکښې۔	شاهدان دَ یو میراث خور دَ زید په دے خبره بانړے چه دا و نجه ماته هبه کړے وه دغه زید (یعنے را بخلے ئے وه)	هندیه
شاهدان دَ نجے په دے خبره بانړِ چه ځما دا خاوند مالدار او بختور دے نو لازم دی په ده چه راکړی ماله نفقه دَ بختورانی۔	شاهدان دَ خاوند دَ دغه نجے۔ په دے خبره باندے چه زهٔ غریب عاجزه یم نو په ما باندے دَ دے نفقه ده مناسب ځما دَ غریبوالی سره	تنقیح

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ خاوند دَ یوے بنځے په دَ خبره باندے چه ما دے خپلے بنځے ته دَ دے نفقه رسولے ده۔	شاهدان دَ دغے بنځے په دے خبره باندې چه حماد دے خاوند اقرار کړیے چه ما دے له دَ دے نفقه نه ده ورکړے۔	هندیه
شاهدان دَ بنځے دَ یو سړی په دے خبره چه قاضی ما له مقرر کړیده نفقه په دے خاوند باندے۔	شاهدان دَ خاوند په دے خبره باندې چه دَ نفقے مقرر کولو په وخت کښې دا بنځه په ما حرامه وه۔	هندیه

بیان دَ دعوے دَ ملکِ مطلق[1]

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ هغه چا چه وی یو شئے په لاس دَ هغه او په لاس دَ بل کښې او دے شاهدان وُدروی په دے خبره باندې چه دا شئے یواځے حما ملکیت دے۔	شاهدان دَ هغه بل خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا شئے حمونږ دَ دواړو ملک دے په شریکه۔	مجلة
شاهدان دَ مدعی بهرانی په دے خبره باندے چه دا شئے حما ملک دَے بے دَ ذکره دَ تاریخه دَ ملکیت نه (یعنے دا مدعی تاریخ وُنه ښئی چه دَ کوم تاریخ نه زَه مالک شوے یم)	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا شئے حما ملک دے۔ او دے هم تاریخ دَ خپل ملکیت وُنه ښئی	مجلة
شاهدان دَ دے خبرے چه دا معامله کونکے په وخت دَ دغه معاملے کښې هوښیار او خاوند دَ عقل وو۔	شاهدان دَ دے خبرے چه دا معامله کونکے په دغه وخت کښې لیونے وو یا عقل ئے کم وُو۔	مجلة
شاهدان دَ خاوند دَ یو میدان په دے خبره باندے چه حما په دے میدان کښې دا لختے دے دا نوے رخکړے شویدے	شاهدان دَ خاوند دَ لختی په دے خبره چه دغه لختے پخوانے دے۔	مجلة
شاهدان په ژوندون باندې دَ دوو کالو نه	شاهدان دَ مرګ دَ پخوا دَ کالو نه	

[1] دعوه دَ ملکِ مطلق هغه ده چه سبب دَ ملکیت پکښې نه وی بیان شوے۔ لکه څوک اووائی چه دا شئے حما دے یا حما ملک دے یا دَ دے شئ زَه مالک یم وغیره۔ او سبب دَ ملکیت بیان نه کړی چه په بیعه م آخستے یا په میراث کښې دا ته پاتے شوے۔ یا دا ته چا هبه کړیدے وغیره۔ غرض دا دے چه نور څه وُنه وائی خو صرف خپل ملکیت ذکر کړی۔ ۱۲ مترجم

غوره	ناغوره	حواله
(یعنے شاهدان په دے خبره شاهدی کوی چه زیں ژوندی دے دوه کاله کیږی چه مونږ لیدلے دے)	(یعنے دا شاهدان په دے خبره دا شاهدی کوی چه زیں مړ دے پنځه کاله نے کیږی)	تنقیح
شاهدان د یومدعی بهرانی په دے خبره بانیږ چه فلانے څیز چه د زیں په لاس کښں دے د هغے زه مالک یم د فلانی تاریخ نه اووخئ داسے تاریخ چه وروستے وی د دے بل مدعی د تاریخ نه	شاهدان د بل مدعی بهرانی په دے خبره بانیږ چه د هغے زه مالک یم د فلانی تاریخ نه اووخئ داسے تاریخ چه وروستے وی۔	تنقیح
شاهدان د یومدعی بهرانی په دے خبره بانیږ چه فلانے څیز چه د زیں په لاس کښں دے د هغے زه مالک یم د فلانی تاریخ نه۔	شاهدان د یو بل مدعی بهرانی په دے خبره بانیږ چه د هغے زه مالک یم او دے ونه ځئ تاریخ د ملکیت۔	تنقیح
شاهدان د یومدعی بهرانی په ملکیت د یو شئ بانیږ بے د ذکره د سببه د ملکیت او د تاریخ نه	شاهدان د خاوند د قبضے په ملکیت د دغه شئ باندے بے د ذکره د سببه د ملکیته او د تاریخه نه۔	تنقیح
شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره بانیږ چه دا څیز ځما ملک دے۔ اووخئ تاریخ د ملکیت وروستے (چه د فلانی تاریخ نه نے مالک یم)	شاهدان د مدعی بهرانی په دے خبره بانیږ چه دا ځما ملک دے۔ او دے وخئ تاریخ د خپل ملکیت وروستے (چه د فلانی تاریخ نه نے مالک یم)	تنقیح
شاهدان د یومدعی بهرانی په دے خبره بانیږ چه دا څیز چه د دے سړی په لاس کښں دے دا ځما ملک دے اووخئ تاریخ د ملکیت (چه د فلانی تاریخ نه نے مالک یم)	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره باندے چه دا څیز ځما ملک دے۔ او دے ونخئ تاریخ د خپل ملکیت	تنقیح
شاهدان د یومدعی بهرانی په دے خبره بانیږ چه دا څیز چه د دے سړی لاس کښں دے دا ځما ملک دے۔ اووخئ تاریخ د ملکیت (چه فلانی تاریخ نه نے مالک یم)	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره بانیږ چه دا ځما ملک دے۔ اووخئ تاریخ د ملکیت خپل هغه چه خوولے وی مدعی بهرانی۔	تنقیح
شاهدان د یومدعی بهرانی په ملکیت	شاهدان د خاوند د قبضے په ملکیت	

له دا حکم بنا دے په قول د امام محمد صاحب علیه الرحمة چه مفتی به دے ۱۲-ح

غوره	نا غوره	حواله
د یو شي باندے بے د ذکره د تاریخه د ملکیت نه۔	د دغه شي باندے سره د ذکره د تاریخه د ملکیته نه	تنقیح
شاهدان د یو تن د دوؤ تنو مدعیانو نه په دے خبره باندے چه دا څیز څما په قبضه کښې دے د یو کال نه	شاهدان د هغه بل په دے خبره باندې چه دا څما په لاس کښې دے د دوه و کالونه	تنقیح
شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره باندې چه دا شئے څما ملک دے۔ او تاریخ د ملکیت خپل داسے بیان کړی چه وړومبے وی د تاریخه د مدعی بهرانی نه۔	شاهدان د مدعی بهرانی په دے خبره باندې چه دا څما ملک دے او دے تاریخ د ملکیت خپل داسے بیان کړی چه وروستے وی۔	هندیه
شاهدان د یو مدعی بهرانی په دے خبره باندے چه دا شئے چه د ده په قبضه کښې دے دا څما ملک دے۔ او ذکر نه کړی تاریخ د ملکیت خپل۔	شاهدان د خاوند د قبضے په ملکیت د دغه شي باندے۔ بے د ذکره د تاریخ د ملکیته نه۔	هندیه
شاهدان د یو مدعی بهرانی په دے خبره چه دا شئے څما ملک دے۔ او وخت تاریخ د ملکیت	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره چه دا څما ملک دے۔ او دے وخت تاریخ	هندیه
شاهدان د یو مدعی بهرانی په دے خبره باندے چه فلانے شئے چه د زید په لاس کښې دے څما ملک دے او وخت تاریخ د ملکیت۔ او حال دا وی چه زید انکار کوی د دے نه۔	شاهدان د یو بل مدعی بهرانی په دے خبره باندے چه هغه شئے څما ملک دے (او وخت سبب د ملکیت) او وخت تاریخ د ملکیت۔	حاوی قدسی
شاهدان د یو مدعی بهرانی په دے خبره باندے چه فلانے شئے چه د زید په لاس کښې دے۔ هغه د شلو کالونه څما ملک دے۔	شاهدان د یو بل مدعی بهرانی په دے خبره باندے چه څما ملک دے د پنځو کالونه	غانم

ـه دا حکم بنا دے په قول د امام محمد صاحبؒ او د امام زفر صاحبؒ چه مفتٰی به دے ۱۲ م

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان د یو مدعی پهرانی په دے خبره بانده چه دا مرئے حُما دے۔ غائب شوے دے حُما ته یوه میاشت کیږی	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره بانده چه دا مرئے حُما دے د یو کال نه	فیضیه
شاهدان[1] د زیدا چه وی یو کور په لاس د دهٔ او په لاس د عمر کښی او زیدا شاهدان وړاندی په دے خبره چه دا کور ټول حُما دے۔	شاهدان د هغه بل خاوند د قبضے یعنے د عمر په دے خبره بانده چه دا کور نیم حُما دے۔	هندیه
شاهدان د مدعی بے قبضے په دے خبره بانده چه دا کور حُما د نیکه وو۔ هغه نے حدبندی[2] کړے وه۔ بیا د هغه نه حُما پلار ته او حُما د پلار نه ما ته په میراث کښی پاتے شوید ے۔	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره چه دا کور حُما د نیکه وو۔ هغه حدبندی کړے وه۔ بیا د هغه نه حُما پلار ته او حُما د پلار نه ما ته په میراث کښی پاتے شوے دے۔	هندیه
شاهدان د هغه مدعی چه هغه نه وی خاوند د قبضے او شاهدان وړاندی په دے خبره بانده چه دا شئے حُما ملک دے بے د ذکره د سبب د ملکیت نه	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره چه د مدعی په بیعه آخستے وو دا شئے حُما نه خو موږ بیا اِقاله کړیده (یعنے مونږ دغه بیعه بیا ورانه کړے ده)	هندیه
شاهدان د زید چه اخستے وو یو څیز د خالد نه په بیعه سره او س شاهدان وړاندی په دے خبره چه د دے څیز مستحق "دعویدار" یو بل سړے کر زید لے دے نو که د خالد نه خپلے روپئ غواړم۔	شاهدان د خرڅونکی د دغه څیز چه خالد دے په دے خبره بانده چه دا څیز حُما ملک دے	هندیه
شاهدان د زید چه آخستے وو یو څیز د خالد نه په بیعه سره او س شاهدان وړاندی په دے خبره چه د دے څیز مستحق (حقدار)	شاهدان د خرڅونکی چه خالد دے په دے خبره چه دا څیز ما په بیعه آخستے دے د دغه	

[1] دا حکم د امام صاحب رح په قول بنا دے ۔ ۱۲ح ۔ [2] د حدبندی نه مراد دا دے۔ چه سړے د خپل کور نه چاپیره څوډیوال وغیره وکړی۔ د پاره د دے چه معلومه شی چه دا د دهٔ ملکیت دے ۱۲ ۔ مترجم ؛ ؛ ؛

غوره	ناغوره	حواله
یوبل سړے کړزیدلے دے۔ نوزۀ غوارم د خالد نه روپۍ خپلې او حال داوی چه د زید د پاره ورومبیه حکم کړے وی قاضی په واپس آخستلو د روپو خپلو د خرڅونکی نه	مستحق نه چه وائی دا خما دے	
شاهدان[1] د خالد چه خرڅ کړے وو یو څیز په زید باندے او س شاهدان وُدروی په دے خبره چه دغه څیز ما په بیعه آخستے دے د دغه مستحق نه چه وائی چه دا خما دے۔	شاهدان د آخستونکی چه زید دے په دے خبره چه د دے څیز مستحق (دعویدار) یوبل سړے کړزیدلے دے نوزۀ غوارم د خالد نه روپۍ خپلے	هندیه
شاهدان د خالد چه خرڅ کړے وو۔ یو څیز په زید باندے او س شاهدان وُدروی په دے خبره چه دغه څیز ما په بیعه اخستے دے د دغه مستحق نه چه وائی چه دا خما دے	شاهدان د مستحق د دغه څیز چه وائی چه دا خما دے او شاهدان وُدروی په دے خبره چه دا څیز خما ملک دے او قاضی هم حکم کړے وو خما د پاره په دے سره۔	هندیه
شاهدان د خالد چه خرڅ کړے وی یو څاروے په زید باندے۔ او شاهدان وُدروی په دے خبره چه دا څاروے خما کره پیدا شویدے (یعنی خما کورنے دے)	شاهدان د مستحق د دغه څاروی چه وائی دا خما دے په دے خبره چه دا څاروے خما ملک دے۔ او قاضی حکم کړے وو په دے سره۔	هندیه
شاهدان د خالد چه خرڅ کړے وی یو څاروے په زید باندے۔ او شاهدان وُدروی په دے خبره چه دا څاروے خما کورنے پیدا دے۔	شاهدان د اخستونکی د دغه څاروی چه زید په دے خبره چه د دے څاروی مستحق دعویدار یو بل سړے کړزیدلے دے نوزۀ غوارم د خالد نه روپۍ خپلے۔	هندیه
شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره چه دے مدعی بے قبضے اقرار کړیدے ویلی ئے دی	شاهدان د یو مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دا څیز خما ملک	

[1] فرق په دے مسئله او په تیره شوے مسئله کښ دا دے چه هلته قاضی د اخستونکی د پاره ورومبیه حکم کړے وو۔ د دے وجے نه ئے شاهدان غوره شوی وو۔ او دلته حکم نه دے شوے ۱۲ ح

غوره	ناغوره	حواله
چه دا شیز ما په بیعه آخستے دے او اوس دعوه کوی دَ ملک مطلق یعنی صرف وائی چه دا خما دے) نو شاهدی چه دَ دَه دعوه وانه وریدے شی	دے۔ او ذکر نکری سبب دَ ملکیت خپل۔	هندیه
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره بانډِ چه دا شیز چه په ما چا راخرڅ کړمیدے دے مدعی بے قبضے په هغه بانډِ دعوه کرے وه چه دا شیز خما ملک دے په بیعه رم آخستے دے (او اوس دعوه کوی خَ ملک مطلق صرف وائی چه دا خما دے۔ نو شاهدی چه دا دعوه وانه وریدے شی)	شاهدان دَ یو مدعی چه نه وی خاوند دَ قبضے او شاهدان وُدروی په دے خبره باندے چه دا شیز خما ملک دے۔ او وُ نخیٔ سبب دَ ملکیّت خپل	هندیه
شاهدان دَ زید چه خرڅ کرے وو یو شے په خالد باندے اوس شاهدان وُدروی په دے خبره چه دے مستحق بکر چه په دے شی دعوه کړیدَه۔ دَه خو مخکښی اقرار کرے وو چه دا شے دَ زید دَ پلار ملک وو زید ته میراث پاتے شوے دے۔	شاهدان دَ آخستونکی دَ دغه شیز چه خالد دے او شاهدان وُدروی په حضور دَ دغه مستحق په دے خبره چه دَ دے مستحق (حقدار) بکر کړنیدلے دے۔ نو نزهٔ غوارم دَ زید نه روپئ خپلے۔	هندیه
شاهدان دَ زید چه خرڅ کرے وو یو شیز په خالد باندے او اوس شاهدان وُدروی په دے خبره چه دے مستحق بکر چه په دے شیز دعوه کړیدَه نو دَه خو مخکښی اقرار کرے وو۔ چه دا شیز دَ فلانکی بن فلانکی ملک دے۔ (دا دواړه خبرے یدلے دی نو صحیح نه دَه دعوه دَ دَه)	شاهدان دَ آخستونکی دَ دغه شیز چه خالد دے۔ او شاهدان وُدروی په حضور دَ دغه مستحق (حقدار) بکر کړنیدلے دے نو نزهٔ غوارم دَ زید نه خپلے روپئ۔	هندیه

دعوه د کورنی پیدایش د مرئی یا د څاروی

(مثلاً دا دعوه کول چه دا بیزه حما ده - حما کورنئ پیدا ده)

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان[1] د خاوند د قبضے په دے خبره چه دا (مثلاً څاروے) حما دے. پیدا شوے دے حما کره یعنے حما کورنے دے او وخنئ تاریخ د پیدائیش	شاهدان د مدعی چه نه وی خاوند د قبضے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا حما دے حما کورنے پیدا دے. او دے هم وخنئ تاریخ.	مجله
شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره چه دا څاروے حما دے حما کورنے پیدا دے او وخنئ تاریخ د پیدائیش د دغه څاروی داسے چه برابروی د دغه څاروی د عمر سره.	شاهدان د هغه مدعی چه نه وی خاوند د قبضے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا حما دے حما کورنے پیدا دے. او دے وخنئ دا تاریخ د پیدائیش چه برابر نه وی د دغه څاروی د عمر سره بلکه زیات یا کم روی.	مجله
شاهدان د داسے مدعی چه نه وی خاوند د قبضے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا څاروے حما دے. حما کورنے پیدا دے او وخنئ داسے تاریخ د پیدائیش چه موافق وی د دغه څاروی د عمر سره.	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره چه دا حما دے. حما کورنے پیدا دے. او دے وخنئ داسے تاریخ د پیدائیش چه مخالف وی د دغه څاروی د عمر نه	مجله
شاهدان د هغه مدعی چه نه وی خاوند د قبضے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا څاروے حما دے. حما کورنے پیدا دے. او کا نړه کړے م د دے خاوند د قبضے نه	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره باندے چه دا حما دے. حما کورنے پیدا دے.	نورالعین
شاهدان د داسے مدعی چه دے نه وی	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره	

[1] که چا ولید چه ورغوے د زیږ په بیزه پسے ور پسے دے. او هغه روی نو دے شاهدی کولے شی په دا چه دا ورغوے د زیږ کورنے پیدا دے. دا ذلک حکم دے په نورو څاروو کښے ۱۲ - مترجم

غوره	ناغوره	حواله
خاوند دَ قبضے او شاهدان وُدروی په دے خبره چه دا خاروے ځما دے ځما کورنے پیدا دے۔ او دے خاوند دَ قبضے را نه په زور آخستے دے۔	باندے چه دا ځما دے۔ ځما کورنے پیدا دے۔	نورالعین
شاهدان دَ داسے مدعی چه دے نه وی خاوند دَ قبضے او شاهدان وُدروی په دے خبره چه دا خاروے ځما دے ځما کورنے پیدا دے او دے خاوند دَ قبضے ته ړم په طور دَ امانت ورکړے دے	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا ځما دے۔ ځما کورنے پیدا دے۔	نورالعین
شاهدان دَ داسے مدعی چه دے نه وی خاوند دَ قبضے او شاهدان وُدروی په دے خبره چه دا خاروے ځما دے۔ ځما کورنے پیدا دے۔ او دے خاوند دَ قبضے ته ړم په اجاره ورکړے دے۔	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا ځما دے۔ ځما کورنے پیدا دے۔	نورالعین
شاهدان دَ داسے مدعی چه نه وی خاوند دَ قبضے او شاهدان وُدروی په دے خبره چه دا خاروے ځما دے۔ ځما کورنے پیدا دے۔ او دے خاوند دَ قبضے را نه غوښتلے وو۔ نو دهٔ ته ړم په طریقه دَ سوال ورکړے دے۔	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا ځما دے۔ ځما کورنے پیدا دے۔	نورالعین
شاهدان دَ دے خبرے چه دا خاروے کورنے پیدا وو۔ او ملک وو دَ هغه سړی چه خرخ کړے ئے دے دا خاروے په دے خاوند دَ قبضے باندے	شاهدان دَ دے خبرے چه دا کورنے پیدا وو او مِلك وو دَ هغه سړی چه خرخ کړے ئے دے په دے مدعی باندے چه نه دے خاوند دَ قبضے۔	تنقیح
شاهدان دَ یو داسے مدعی چه دے نه وی خاوند دَ قبضے او شاهدان وُدروی	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا خاروے ځما دے ځما کورنے پیدا	

غوره	ناغوره	حواله
په دے خبره بانده چه دا نوره ځمکه ملک دے او وخت تاریخ د ملکیت دا سے چه موافق وی	دے - او وختی تاریخ د پیدا ایش دا سے چه مخالف دی د دغه ښاروی د عمرنه	تنقیح
شاهدان د دا سے مدعی چه نه وی خاوند د قبضے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا ښاروے ځما کورنے پیدا دے ځما دے - او د خاوند د قبضے اقرار کړیدے وئیلی ئے دی چه دا ما په بیعه آخستے دے -	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره باندے چه دا ښاروے ځما په ملک کښ پیدا شویدے ځما دے -	تنقیح
شاهدان د یو دا سے مدعی چه دے نه وی خاوند د قبضے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا ښاروے ځما دے ځما کورنے پیدا دے او وختی دا سے تاریخ د پیدا ایش چه موافق وی د عمر د دغه ښاروی سره -	شاهدان د یو بل مدعی چه دے هم نه وی خاوند د قبضے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا ښاروے ځما دے ځما کورنے پیدا دے - او وختی دا سے تاریخ د پیدا ایش چه مخالف وی د دغه ښاروی د عمر نه -	تنقیح
شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره چه دا مرئے ځما دے - پیدا شویدے ځما په ملک کښ ځما د وینځے نه -	شاهدان د مدعی بهرانی په دے خبره چه دا مرئے ځما دے پیدا شویدے ځما په ملک کښ ځما د وینځے نه	تنقیح
شاهدان د مدعی بهرانی یعنے بے قبضے په دے خبره باندے چه دا ځما وینځه ده - دا مرئے ترے پیدا شویدے ځما په ملک کښ - او ځما دے -	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره چه دا ځما وینځه ده - دا مرئے ترے پیدا شویدے ځما په ملک کښ او ځما دے -	تنقیح
شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره باندے چه دا چرګه پیدا شویده او بچے ئے راوړیدے ځما په ملک کښ -	شاهدان د یو مدعی بهرانی په دے خبره باندے چه دا چرګه پیدا شویده ځما په ملک کښ -	غانم
شاهدان د یوے ښځے چه وی خاونده د قبضے او شاهدان ودروی په دے خبره چه	شاهدان د دعوه کونکے ښځے چه نه وی خاونده د قبضے او شاهدان ودروی	

غوره	ناغوره	حواله
دا مالوچ ځمادی ماوُریشلے دی	په دے خبره چه دا مالوچ ځمادی ماوُریشلے دی	هندیه
شاهدان دَیوے داسے ښځے چه هغه نه دی خاونده دَ قبضے اوشاهدان وُدروی په دے خبره چه دا وړے ځمادی ماوریشلی دی۔	شاهدان دَیو داسے ښځے چه نی خاونده دَ قبضے او شاهدان وُدروی په دے خبره چه دا وړے ځما دی ماوریشلی دی۔	هندیه
شاهدان د اجارهٔ کر چه کړے وی د اجارے	شاهدان د ورکونکی د دغه کور په اجاره	

غوره	ناغوره	حواله
په کور کښې نوے آبادی او شاهدان ودروی په دے خبره چه مانه دے سړی چه دا کور ئے په اجاره راکړے دے د آبادۍ اجازت کړے وه	سره په دے خبره چه دغه آبادی ئے بے ځما د اجازت نه کړے ده	هندیه
شاهدان د اجاره گر په دے خبره چه د اجارے د دے کور د دروازے دا یوه تنبه چه غوړ زیدلے ده او پرته ده دا ځما ده	شاهدان د ورکونکی د دغه کور په اجاره سره په دے خبره چه دا غوړزیدلے تنبه ځما ده	هندیه
شاهدان د مالک د کور په دے خبره چه فلانے کور چه دا سړے پکښې اوسی ماده له په اجاره ورکړے دے.	شاهدان د اوسیدونکی د دغه کور په دے خبره چه دا کور ده ماله په عاریت راکړے دے	هندیه
شاهدان د مالک د کور په دے خبره چه فلانے کور چه دا سړے پکښې اوسی ماده له په اجاره ورکړے دے۔	شاهدان د اوسیدونکی د دغه کور په دے خبره بانندے چه دا کور ده ماله هبه د وسیدو د پاره راکړے دے۔	هندیه
شاهدان د وسیدونکی په دے خبره چه دا کور مانه مالک د دے کور هبه کړیدے (بخښلے دے)	شاهدان د مالک د دغه کور په دے خبره چه دا ورله ما په اجاره ورکړے دے۔	هندیه
شاهدان د هغه چا چه ورکړے ئے وی یو کور په اجاره او شاهدان ودروی په دے خبره چه مده د اجارے د دے کور یوه میاشت ده (مثلاً زید د عمر نه یو کور په اجاره اخستے وه په لس روپئ د یوے میاشتے د پاره خو یوه ورځ پکښې اوسید لو بیا ترے لاړ شه نو اوس عمر شاهدان ودروی په دے خبره چه مده د اجارے یوه میاشت وه۔	شاهدان د هغه چا چه په اجاره ئے آخستے وی دغه کور او شاهدان ودروی په دے خبره چه مده د دے اجارے یوه ورځ وه (مثلاً زید شاهدان ودروی په دے خبره چه مده د اجارے یوه ورځ وه نو زه به صرف اجاره د یوے ورځے ورکوم)	هندبه

غوره	ناغوره	حواله
نو ماله به پوره لس روپئ داکوی)		
شاهدان د هغه چا چه ورکړے ئے وو یو کوړ په اجاره باندے د پاره د یوے میاشتے مثلاً - او شاهدان وددروی په دے خبره چه په دے کور کښی دا اجاره کړ پس د تیریدو د دغه یوے میاشتے نه نورهم اوسیدلے وو - د هغے په وجه کوړ نړیدلے دے - نو دے ضامن دے	شاهدان د هغه چا چه په اجاره ئے اخستے وه د دغه کور - او شاهدان وددروی په دے خبره چه دا کوړ په دغه یوه میاشت کښ د ننه د ننه نړیدلے دے نو په ما باندے ئے ضمان نشته	هندیه
شاهدان د هغه چا چه ورکړے ئے وو کوړ په اجاره باندے (او کنجی ئے هم سپارلے وه) او شاهدان وددروی په دے خبره چه دا سړے چه ما ورله دا کور په اجاره ورکړیدے وسیدلے دے په دے کور کښی نو زه نړے غواړم اجاره -	شاهدان د اخستونکی د دغه کوړ په اجارے سره په دے خبره چه دغه کور بند پاتے شوے دے څکه چه ما ئے چندره نه شوه بیرته کولے - نو نشته په ما باندے اجاره	هندیه
شاهدان د میراث خورو د یو داسے سړی چه په کرایه ئے ورکړے وی یو خاروے او اوس مړ وی - نو خامخا شاهدان وددروی په دے خبره چه څمونږ پلار چه مړ دے هغه چه دغه خاروے دے سړی له په کرایه ورکا وو - نو خرڅ خوراک دد خاروی ئے هم په ده ایښے وو.	شاهدان د هغه سړی چه په کرایه ئے بوتلے وو دغه خاروے او شاهدان وددروی په دے خبره چه خرڅ خوراک د خاروی په هغه وو (په ما نه وو -)	هندیه
شاهدان د زید چه په کرایه ئے اخستے وی خاروے او کار ئے ترے لا نه وی اخستے او شاهدان وددروی په دے خبره	شاهدان د هغه چا چه په کرایه ئے ورکړے وی دغه خاروے زید له او زید ترے لا کار نه وی اخستے	

غوره	ناغوره	حواله
چه داما په اجاره اخستے دے دَ پاره دَ بارو وړلو	او دے شاهدان وُدروی په دے خبره چه داما زيں له په اجاره ورکړے دے دَ پاره دَ سورلئ	هنديه
شاهدان دَ هغه چا چه دَ بل نه ئے کرايه کړے وی يو څاروے دَ پاره دَ سورلئ او ښه ئے نه وی وپيلی چه خر يا قچر او کار دَ سورلئ کے ترے لا نه وی آخستے چه شاهدان وُدروی په دے خبره چه ما چه ستا نه کوم څاروے اجاره کړے وو۔ هغه قچر وو۔ (نو حرام شه که دا خر بوزم)	شاهدان دَ ورکونکی دَ دغه څاروی په کرايه باندے هغه لره چه هغه ترے لا کار دَ سورلئ نه وی اخستے او دے شاهدان وُدروی په دے خبره چه کوم څاروے تا ځما نه اجاره کړے وه هغه خروو۔ (نو ته به دا خر بيائے)	هنديه
شاهدان دَ علاج کونکی دَ سترګو دَ چه دَ يو سړی دَ سترګو علاج ئے کاوو نو دَ هغه نظر ورک شه۔ اوس دے شاهدان ودروی) په دے خبره چه زه دَ سترګو په علاج کښے ماهر تجربه کار يَمه۔ نو دَ دَه نظر چه ورک شوے دے دَ دے ضامن نه يَم۔	شاهدان دَ هغه چا چه دَ سترګو علاج ئے کاوو په دے ډاکټر صاحب باندے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دے جاهل دے نو ځما نظر چه ورک شويدے دے ئے ضامن دے۔	هنديه
شاهدان دَ چمیار په دے خبره چه دا موزه چه ما رغکړے ده۔ دَ دے اجرت مونږ يوه روپئ کړے وه	شاهدان دَ خاوند دَ موزے په دے خبره چه مونږ نيمه روپئ کړے وه۔	هنديه
شاهدان دَ ورکونکی دَ يو شی په اجارے سره په دے خبره چه اجرت دَ دے جنسه وو (مثلاً روپئ وے)	شاهدان دَ اجاره کر په دے خبره چه اجرت دَ دے جنسه وو۔ (مثلاً اشرفئ وے)	هنديه
شاهدان دَ کشتئ چلونکی په دے خبره چه زه مالک دَ کشتئ په مزدوری	شاهدان دَ مالک دَ کشتئ په دے خبره چه په ده باندے ځما کرايه ده	

غوره	ناغوره	حواله
نیولے وُم (نو زهٔ ترِ مزدوری غواړم او دے را باندے بر ناحقه دعوه کوی)	چه سور شویدے په کشتۍ کښې (نو زهٔ ترے کرایه غواړم)	هندیه
شاهدان دَ خاوند دَ قچر په دے خبره چه دا سړے چه ځما په قچر سور تلے وو۔ دهٔ هغه په کرایه بوولے وو ځما نه (نو زهٔ ترِے کرایه غواړم)	شاهدان دَ دغه سړی په دے خبره چه مالک دَ دے قچر لیګلے وُمه۔ ما ته ئے ویلی وو چه مزدوری به درکم دا قچر وُرسوه فلانی ځائ ته (نو زهٔ ترے غواړم خپله مزدوری)	هندیه
شاهدان دَ هغه چا چه کوړ ئے په اجاره اخستے وی او شاهدان ودروی په دے خبره چه په دے کور کښې سائبان ما جوړ کړے دے۔	شاهدان دَ هغه چا چه دغه کوړ ئے په اجاره ورکړے وو۔ او شاهدان په دے خبره وُدروی چه دغه سائبان په کښې دَ مخکښې نه جوړ وو	هندیه
شاهدان دَ هغه چا چه په اجاره ئے اخستے وی یو کور۔ او شاهدان ودروی په دے خبره چه په دے کوړ کښې دا پوړئ ما جوړے کړیدی۔	شاهدان دَ هغه چا چه ورکړے وی دغه کوړ په اجاره او شاهدان ودروی په دے خبره چه دغه پوړئ پکښې دَ مخکښې نه جوړے وے۔	هندیه
شاهدان دَ هغه چا چه ورکړے وی کوړ په اجاره باندے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا اندړپایه په دے کوړ کښې چه ده دا ځما ده	شاهدان دَ هغه چا چه په اجاره ئے اخستے وی دغه کوړ او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا اندړپایه ځما ده	هندیه
شاهدان دَ هغه چا چه اخستے ئے وو دَ بل نه یو کوړ په اجاره باندے (او اجرت ئے دا خولے وو چه ترکومے پورے زهٔ په دے کور کښې وُسېږم۔ ستا بال بچ له به خرچه نفقه ورکوم) وُس شاهدان وُدروی په دے خبره چه ما دَ دهٔ بال بچ له نفقه خرچه ورکړیده دَ دے کور په مناسب اجرت	شاهدان دَ هغه چا چه ورکړے ئے وو دغه کوړ په اجاره باندے او شاهدان وُدروی په دے خبره چه خپل بال بچ له ما په خپله نفقه خرچه ورکړے ده نو ما له به مناسب اُجرت راکوے (ځکه چه دا اجاره فاسده شوے ده)	هندیه

غوره	ناغوره	حواله
کېن نو په ما باندے هیڅ اجرت نشته		
شاهدان ذ اجاره کړیه دے خبره چه ذده نه کوم څاروے یا مرئے ما په اجاره اخستے وو۔ هغه دومره ورزے ناجوړه شوے وو۔ نو ماترے فائده نه ده اخستے۔ نو نشته ذ دغه ورزو اجاره څما په ذمه باندے۔	شاهدان ذهغه چا چه دغه څاروے یا مرئے ورکړے دے په اجاره باندے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دے اجاره کړ ترے فائده اخستے ده نو ماله به پوره اجاره راکوی۔	تاتارخانیه
شاهدان ذ اجاره کړ په دے خبره چه فلانے شے چه ما دده نه په اجاره اخستے وه۔ هغه دومره ورزے چا په زور تیولے وه۔ نو ماترے فائده نه ده اخستے (نو نشته ذ دغه ورزو اجاره څما پر ذمه باندے)	شاهدان ذ هغه چا چه دغه شے ئے په اجاره ورکړے دے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دے اجاره کړ فائده آخستے ده (نو ماله به پوره اجاره راکوی)	تاتارخانیه
شاهدان ذ اجاره کړ پر دے خبره چه کوم مرئے چه ما دده نه په اجاره بوولے وه۔ هغه بیا چرته تختیدلے وه۔ او بیرته ورزے نه وه۔ چو ماترے فائده نه ده آخستے (نو نشته ذ دغه ورزو اجاره څما په ذمه باندے)	شاهدان د هغه چا چه دغه مرئے ئے په اجاره ورکړے مرئے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دے ترے فائده اخستے ده (نو ماله به پوره اجاره راکوی)	تاتارخانیه
شاهدان ذ اجاره کړ په دے خبره چه ما ذده نه چه جرنده په اجاره اخستے وه ذ هغے او به دومره ورزے بندے	شاهدان ذ هغه چا چه دغه جرنده ئے په اجاره ورکړے وه۔ او شاهدان ودروی په دے خبره چه اوبه بهیدلے او ده ترے	

ك قاعده پر ذ قسم مسئلو کښ داده۔ چه پس ذ تيريدلو ذ مُدے ذ اجارے نه که د اجاره سره مختلف شول ذ عارض په پيښيدو کښ مثلاً اجاره کړونيل چه ذ اجارے دا مرئے ناجوړه شوے وو یا د اجارے دا جرنده خرابه شوے وه۔ وغیره۔ او بیا هغه عارض لرے شوے وی۔ او اوس موجود نه دی۔ نو خبره سره ذ قسم نه ذ هغه به معتبره ده۔ چا چه دغه شے په اجاره ورکړے وه او که شاهدان وی۔ نو شاهدان ذ اجاره کړ غوره دی)۔ او که هغه عارض نه وی لرے شوے نو بیا خبره ذ اجاره کړ غوره ده۔ او شاهدان ذ هغه بل غوره دی۔ ۱۱-ح

غوره	ناغوره	حواله
شوے وے (نوشته دَدغه ورزو اجاره حُما په ذمه باندے)	فائده آخستے وه (نو ماله به پوره اجاره داکوی)	تاتارخانیه
شاهدان دَ اجاره کړ په دے خبره چه مادَدَه نه چه په اجاره جرنده اخستے وه۔ دَ هغے پَل مات شوے وه۔ او یو څو ورزے دغه سے وه (نوشته دَدغه ورزو اجاره حُما په ذمه باندے)	شاهدان دَ هغه چا چه دغه جرنده ئے په اجاره ورکړیده۔ او شاهدان ورروی په دے خبره چه دَ جرندے پَل نه جوړ وه۔ او دهٔ ترے فائده آخستے وه۔ (نو ماله به پوره اجاره داکوی)	تاتارخانیه
شاهدان دَ هغه چا چه اخستے ئے وی حمام په اجاره باندے او شاهدان ورروی په دے خبره چه دَدغه حمام او به بندے شوے وے دومره ورزے نو ما ترے فائده نه ده اخستے۔	شاهدان دَ هغه چا چه دغه حمام ئے په اجاره ورکړے وی او شاهدان ورروی په دے خبره چه او به بے بهیدلے جاری وے۔ او ده ترے فائده اخستے ده۔	تتارخانیه
شاهدان دَ اجاره کړ په دے خبره چه دَدے حمام دیګ دا او بو چه دے هغه دومره ورزے معطله شوے وو۔ خراب پروت وو۔ نو ما ترے نه فائده نه ده آخستے	شاهدان دَ ورکونکی دَدغه حمام په اجاره سره په دے خبره چه دغه دیګ نه جوړ وو۔ او دهٔ ترے فائده آخستے ده	تتارخانیه
شاهدان دَ هغه چا چه په اجاره ئے آخستے وه یوه جرنده او شاهدان ورروی په دے خبره چه دَدغه جرندے څرخ خراب شوے وو دومره ورزے	شاهدان دَ هغه چا چه په اجاره ئے ورکړے وه دغه جرنده او شاهدان په دے خبره ورروی چه دغه څرخ نه جوړ وو۔ او ده ترے فائده اخستے ده۔	تتارخانیه
شاهدان دَ هغه چا چه په اجاره ئے ورکړے وی بل لربو شے او شاهدان وُدروی په دے خبره چه دغه شے ماده تر سپارلے وو په اول دَ هغه وخت کښ چه مقرر	شاهدان دَ اجاره کړ په دے خبره چه دغه شے ما قبضه کړے وه په منځ دَ هغه مُدے کښ چه مقرر وه دَ پاره دَ اجارے دنوره به نیه (اجاره ورکوم)	تتارخانیه

غوره	ناغوره	حواله
وه۔ دَ اجارے (نو مالہ بہ پوره اجاره را کوی۔		
شاهدان دَ هغه چاچه په اجاره ئے ورکړے وی یل له یو شادوانے او شاهدان وددروی په دے خبره چه دغه شادوانے ماده ته سپارلے وو په شروع دَ هغه منزل کښ چه مقرر وو دَ پاره دَ اجارے (نو مالہ بہ پوره اجاره را کوے)	شاهدان دَ اجاره کر په دے خبره چه دغه شادوے ما قبضه کړے وو په میځ دَ هغه منزل کښ چه مقرر وه دَ پاره دَ اجارے د نوزه بوله نیمه اجاره ورکوم)	تثارخانیه
شاهدان دَ اجاره کر په دے خبره چه دَ اجارے دا کور وران شوے وو۔ او دومره ورزے هسے پاتے وو۔ د نو نشته په سبب دَ دغه ورز اجاره ځما په ذمه بانده)	شاهدان دَ هغه چاچه ورکړے وی دغه کور په اجاره او شاهدان وددروی په دے خبره چه دغه کور بنه جوړ وو۔ او دے اجاره کر ترے فائده اخستے ده (نو مالہ بہ پوره اجاره داکوی)	تتارخانیه
شاهدان دَ هغه چاچه په اجاره ئے ورکړے وی جونده او شاهدان وددروی په دے خبره چه او به دَ دے جرندے چه بند شوے وے نو دَ دومره ورزو پورے بندے وے۔ (مثلاً پنځه ورزے)	شاهدان دَ اجاره کر په دے خبره چه او به دَ دے جرندے بندے وے ډیرے ورزے (مثلاً لس ورزے)	
شاهدان دَ هغه چاچه په اجاره ئے ورکړے وی کور او شاهدان وددروی په دے خبره چه دا کور چه وران شوے وو۔ نو دومره ورزے خراب پاتے وو (مثلاً لس ورزے)	شاهدان دَ اجاره کر په دے خبره چه دغه کور ډیرے ورزے وران پروت وو (مثلاً شل ورزے)	تتارخانیه
شاهدان دَ هغه چاچه په اجاره ئے ورکړے	شاهدان دَ اجاره کر په دے خبره چه	

غوره	نا غوره	حواله
وی بل له یو کور او شاهدان ودروی په دے خبره چه ما دا کور دهٔ ته سپارلے وو په اول وخت دَ هغه مدے کښې چه کومه مقرر وه دَ اجارے (نو ماله به پوره اجاره راکوی)	دغه کور ما قبضه کړے وه۔ پس دَ تیریدلو دَ اول وخت دَ هغه مدے نه چه مقرر وه دَ اجارے۔	تتارخانیه
شاهدان دَ هغه چا چه بل لره څه شے په اجاره ورکړے وی او شاهدان ودروی په دے خبره چه دغه شے ما دے اجاره کوته سپارلے وو۔ دننه دننه په مده دَ اجارے کښې۔	شاهدان دَ اجاره کړ په دے خبره چه دغه شے ما قبض کړے وو۔ پس دَ تیرو دَ مدے دَ اجارے نه۔	تتارخانیه
شاهدان دَ هغه چا چه اخستے ئے وی یو مرئے په اجاره او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا مرئے تختیدلے وو په فلانئ ورځ او نه وو دَ فلانکے ورځے پورے بیا راغلے دے۔ نو نښته اجاره په ما باندے۔	شاهدان دَ هغه چا چه ورکړے وی دغه مرئے په اجاره او شاهدان ودروی په دے خبره چه دغه مرئے ددے اجاره کړ څخه په ټوله مده دَ اجارے کښې وو۔ نو ماله به ئے راکوی پوره اجاره۔	تتارخانیه
شاهدان دَ مالک دَ بوخاروی په دے خبره چه دا خاروے چه دَ دے سری په قبضه کښې دے۔ دا ورله ما په اجاره ورکړے دے (نو ماله به راکوی اجاره)	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا خاروے دهٔ ماله په طریقه دَ عاریت او دَ سوال راکړے دے۔ (نو نښته اجاره په ما باندے)	ذخیره
شاهدان دَ ناغوره جانب پس دَ هغے نه چه قاضی حکم کړے وی په شاهدئ دَ دوئ سره۔ ځکه چه غوره جانب عاجز شوے وی دَ شاهدانو نه (نو اوس دا شاهدان غوره دی)	شاهدان دَ غوره جانب پس دَ هغے نه چه قاضی حکم کړے وی په شاهدانو دَ ناغوره جانب سره۔ نو اوس دا شاهدان ناغوره دی۔	مجله

د حجر مسئلے[1]

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان د هغه چا چه د بل نه ئے په بیعه اخستے وی یو شے او شاهدان ورد روی په دے خبره چه دا شے په ما دا خرڅ کړے وو. پس څه هغه نه چه نه څوا ئے نه رسید لے وے (بالغ و ے)	شاهدان د خرڅونکی په دے خبره چه دغه شے ما درخرڅ کړے وو. پخوا د لوی والی څما نه (یعنی زه په دغه وخت کښ نا بالغه وم)	تنقیح
شاهدان د هغه چا چه په بیعه ئے اخستے وی څه شے د زید نه. او شاهدان ورد ړی په دے خبره چه دا شے ما د زید نه په بیعه اخستے وو په داسے حال کښ چه دے لا د تصرف نه نوے منع کړے شوے.	شاهدان د زید چه منع کړے شوے وی د تصرف کولو نه او شاهدان ورد روی په دے خبره چه دا بیعه په داسے وخت کښ شوے ده چه زه منع کړے شوے وم د تصرف نه.	تنقیح
شاهدان د قرض ورکونکی په دے خبره چه دے زید مال هلاک کړے دے پس د هغے نه چه دے بند شوے او سم شوے وو نو دے ضامن دے)	شاهدان د زید چه په سبب د ورکوالی منع او مجبور وو او شاهدان ورد روی چه ما دغه مال هلاک کړے په حالت د نا اهلئ او بد یو کښ نو په ما ضمان نشته (دا ځائے د مجبور نه عام مراد نه دے چه مثلاً په وجه د بد چلنئ الخ)	محیط
شاهدان د هغه چا چه امانت ایخودے وی د زید څخه او شاهدان ورد روی په دے	شاهدان د زید چه د بد چلنئ او د بد خرڅئ په وجه قاضی منع کړے وی	

[1] حجر ممانعت او بندیز ته وئیلے کیږی. دا ځائے نوے د بیعے او د تصرف نه بندیز مراد دے. د حجر د پاره درے سببونه دی. یو ورکوالے بل لیونتوب بل مریی والے او په آزاد عاقل بالغ باندے د امام صاحبؒ په نزد حجر جائز نه دے. مگر د ضرر عامه په صورت کښ جائز دے. او د صاحبینو رح په نزد د فساد یعنی د اسراف او بد چلنئ وغیره په صورت کښ هم حجر کیدے شی. دا مسئله ما د اخرے رسلے په هغه بیان کښ چه چالدقسم نه د کیږی په حاشیه کښ هم لیکلے ده ۱۲ مترجم

غوره	نا غوره	حواله
خبره چه دے زیں هغه امانت ضائع کړے دے۔ پس دَ هغې نه چه دے بنه شوے او سم شوے وو (نو دے ضامن دے)	دَ تصرف کولو نه۔ او شاهدان ودروی په دے خبره چه هغه امانت ما ضایعه کړے په دا سے زمانه کښ چه زۀ بنه نه وم۔ نو ته دے تاوان په ما باندے۔	محیط
شاهدان دَ هغه چاچه په سبب دَ وړوکوالی مجبور وَ او شاهدان ودروی چه دا مال دا کول او ځما ضائع کول ځما دَ نا اهلئ او بند بز په وخت کښ دَ نو په ما تاوان نشته دَ هغې (داځائے مجبور نه مراد عام نه دے چه مثلاً دَ بد چلنې په وجه الخ)	شاهدان دَ قرض ورکونکی په دے خبره چه ده له ځما قرض ورکول۔ او دَ ده هغه ضایعه کول دا دواړه کاره دَ دهٔ دَ تیک چلنې (یعنے صلاح او اهلیت) په وخت کښ شوی دی۔ نو دے ضامن دے۔	
شاهدان دَ هغه چاچه دَ بد چلنې په وجه قاضی منعه کړے وی دَ تصرف کولو نه۔ او شاهدان ودروی په دے خبره چه دے سړی چه ځما ثخه امانت ایخودے دے۔ او هغه ما ضایعه کړیے دا دواړه کاره ځما دَ بد چلنې په زمانه کښ شوی دی۔ نو زهٔ ئے تاوان دار نه یمه۔	شاهدان دَ هغه چاچه ورکړے وی دغه شے په طور دَ امانت او شاهدان په دے خبره ودروی چه ځما دَ ده ثخه امانت ایخودل او دَ ده ضایعه کول دا دواړه کاره په حالت دَ تیک چلنې (یعنے صلاح او اهلیت) دَ ده کښ شوی ی۔ نو دے ئے ضامن دے۔	محیط
شاهدان[1] دَ هغه چاچه دَ بے وقوفئ دَ وجے نه هغه لره قاضی منعه کړے وو۔ دَ تصرف کولو نه او س شاهدان ودروی په دے خبره چه زهٔ هوښیار	شاهدان دَ واکدار انتظام کونکی دَ دغه بے وقوفه سړی په دے خبره چه دے لا تر اوسه پورے بے وقوفه دے۔	ابوالسعود

[1] ابو سعود په حاشیه دَ اشباه کتاب کښ اختلاف نقل کړیدے۔ او مطلب دا دے چه په دے مسئلے کښ قاضی حکم کړے وو دَ دغه سړی په بے وقوفئ مګر نو اوس دے وائی چه ښه کیدل عارض شویدی (جو شاهدان ئے غوره شو دَ شاهدانو دَ استصحاب حال نه) او په دے دا تلو کے مسئله کښ قاضی اا حکم نه دے کړے (نو جو بیوقوفی عارضه ده) ۱۲-ح

غوره	ناغوره	حواله
شوے او سم شوے یم		
شاهدان دَ واکدار سرپرست دَ زبیا په دے خبره باندے چه زبیا لاهغه شان بے وقوفه دے	شاهدان دَ زبیا په دے خبره باندے چه زۀ نبه هوښیار ئیمه	درر
شاهدان دَ هغه جانب چه ناغوره وی۔ خو قاضی پرے حکم وکړی دَ رجه دَ نشتوالی دَ شاهدانو دَ غوره جانب نه۔ (نو اوس دا شاهدان چه حکم پرے شوید ے غوره دی۔	شاهدان دَ هغه جانب چه غوره وی لیکن دا جانب عاجز وو دَ شاهدانو دَ ناغوره جانب سره اوس دا غوره جانب شاهدان ودره وی (نو دا ناغوره دی)	مجله

مسئلے دَ غلا متعلق

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا څیز فلانی نه په میراث کښ پاتے شوے وو او دَ هغه نه په بیعه اخستے دے۔ یو کال ئے کیږی	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دا څیز ځما نه غلا شوید ے۔ یوه میاشت ئے کیږی۔	تنقیح
شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دَ دے سړی په قبضه کښ چه خر دے هغه ځما دے۔ ځما نه غلا کړے شوید ے یوه میاشت کیږی۔	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا خر ځما ملک دے۔ او دَ یو کال نه ځما په قبضه کښ دے۔	تنقیح

مسئلے

متعلق دَ هغه چا چه[۱] اِذن ورته دَ تصرف کولو شوے وی

۱؎ یعنے هغه مریے چه مالک ورته دَ تجارت کولو عام اذن کړے وی۔ دا رنګ هغه هغه هلک چه پلار یا تیکه یا وصی یا قاضی ورته دَ بیعے دَ تصرف کولو اذن ورکړے وی۔ ۱۲۔ مترجم۔

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان د یو مرئی په دے خبره چه ما اقرار کړے وو۔ چه د دے سړی نه چه زه کوم شے په زور اخستے وو۔ هغه ما ضائعه کړیدے۔ دغه اقرارم هغه وخت کبن کړے وو چه ماته لاچیل مالک اذن د تصرف کولو نه وو کړے (نو دغه اقرار معتبر نه دے)	شاهدان د هغه چا چه اقرار کړے وی دغه مرئی د پاره د هغه۔ او شاهدان ودروی په دے خبره چه ده اقرار په داسے حالت کبن کړیدے۔ چه مالک ورته اجازه د تصرف کولو کړے وه	تنقیح
شاهدان د یو مرئی په دے خبره ما چه اقرار کړے وو۔ چه ما د دے سړی امانت ضائع کړیدے۔ هغه اقرارم په داسے حالت کبن کړے وو۔ چه ماته لاچیل مالک اجازه د تصرف کولو نه وه کړے (نو هغه اقرار معتبر نه دے)	شاهدان د هغه چا چه اقرار کړے شوے وی د پاره د هغه او شاهدان ودروی په دے خبره چه دے مرئی دغه اقرار په داسے حالت کبن کړے دے چه مالک ورته اجازه د تصرف کولو کړے وه (نو دغه اقرار معتبر دے)	تنقیح
شاهدان د یو مرئی په دے خبره ماچه اقرار کړے وو چه د دے سړی چه کوم شے ماله په طور د عاریت راکړے وو هغه ما ضایع کړیدے۔ دا اقرار ما په هغه وخت کبن کړے وو۔ چه ماته مالک د تصرف کولو اذن لا هم نه وو کړے۔	شاهدان د هغه چا چه اقرار کړے شوے وی د پاره د هغه او شاهدان ودروی په دے خبره چه دے مرئی دغه اقرار په داسے حالت کبن چه مالک ورته اجازت د تصرف کولو کړے وو	تنقیح
شاهدان د یو هلک په دے خبره ماچه اقرار کړے وو چه د دے سړی نه چه کوم شے ما په زور اخستے وو هغه ما ضائع کړیدے۔ دا اقرارم په هغه وخت کبن کړے وو۔ چه ماته لاچیل ولی واکدار اذن د تصرف کولو نه	شاهدان د هغه چا چه اقرار کړے وی دغه هلک د پاره د هغه او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا اقرار ده په داسے وخت کبن کړے وو۔ چه واکدار ورته اذن د تصرف کولو کړے وو (نو دغه اقرار معتبر دے)	تنقیح

غوره	ناغوره	حواله
وو کړے (نو دغه اقرار معتبر نه دے)		
شاهدان دَ یو هلک په دے خبره چه ما کوم اقرار کړے وو چه دَ دے سړی امانت ما ضائعه کړیدے۔ دا اقرار م په هغه وخت کښ کړے وو چه ما ته لا خپل ولی واکدار اذن دَ تصرف کولو نه وو کړے۔	شاهدان دَ هغه چا چه دغه هلک اقرار کړے وی دَ پاره دَ هغه او شاهدان وُدروی په دے خبره چه دهٔ دا اقرار په داسے وخت کښ کړے چه واکدار ورته اذن دَ تصرف کولو کړے وو۔	تنقیح
شاهدان دَ یو هلک په دے خبره چه ما کوم اقرار کړے وو۔ چه دے سړی چه فلانے شے ماله په عاریت راکړے وو۔ هغه ما ضائعه کړے دے۔ دا اِقرارم په هغه وخت کښ کړے چه ما ته لا خپل ولی واکدار اذن دَ تصرف کولو نه وو کړے۔	شاهدان دَ هغه چا چه دغه هلک ئے دَ پاره اقرار کړے وی او دے شاهدان ودروی په دے خبره چه دهٔ دا اقرار په داسے حال کښ کړے چه واکدار ورته اذن دَ تصرف کولو کړے وو۔	تنقیح
شاهدان دَ یو مړئ په دے خبره چه ما کوم اقرار کړے وو چه ما دَ دے سړی سره معامله دَ نیم سودی (مضاربت) کړے ده۔ دا اقرار م په هغه وخت کښ کړے وو چه ما ته لا خپل مالک اذن دَ تصرف کولو نه وو کړے۔	شاهدان دَ هغه چا چه اقرار کړے وی دغه مړئ دَ پاره دَ هغه او شاهدان وُدروی په دے خبره چه دے مړئ دا اقرار کړیدے په داسے حالت کښ چه اذن ئے ورته کړے وو۔	
شاهدان دَ یو هلک په دے خبره چه ما کوم اقرار کړے وو چه ما دَ دے سړی سره دَ نیم سودی (مضاربت) معامله کړے ده۔ دا اقرارم په هغه وخت کښ کړے چه ما ته لا خپل ولی واکدار اذن دَ تصرف کولو نه وو کړے۔	شاهدان دَ هغه چا چه دغه هلک اِقرار کړے وی دَ پاره دَ هغه او شاهدان ودروی په دے خبره چه دے هلک دا اقرار په داسے حالت کښ کړیدے چه واکدار ورته اذن کړے وو۔	تنقیح

غوره	ناغوره	

مسئلې دَ غصب

(دَ چا نه څه شے په وچ زور[له] آخستل)

غوره	ناغوره	
شاهدان دَ خاوند دَ یو داسې څیز چه هغه تېرې بل چا په زور آخستې وي - او شاهدان ودروي په دې خبره چه هغه څیز دې په زور اخستونکي سړي ضایع کړې دې.	شاهدان دَ هغه چا چه دغه څیز ئې آخستې وي په زور او شاهدان ودروي په دې خبره چه هغه څیز ما دې مالک ته واپس کړې دې.	تنقیح
شاهدان دَ هغه چا چه دَ بل نه ئې په زور اخستې وو مړئ یا څاروې او شاهدان ودروي په دې خبره چه هغه مړ شوې دې دَ دې مالک څخه.	شاهدان دَ مالک په دې خبره چه هغه مړ شوې دې دَ دې سړي په زور اخستونکي څخه	تنقیح
شاهدان دَ مدعي بې قبضې په دې خبره چه فلانۍ خاوند دَ قبضې دغه فلانۍ څیز نن ځمانه په زور آخستې دې.	شاهدان دَ یو بل مدعي بې قبضې په دې خبره چه دغه فلانۍ خاوند دَ قبضې دغه څیز یوه میاشت کیږي چه ځمانه په زور اخستې دې.	تنقیح
شاهدان دَ مدعي بې قبضې په دې خبره چه دې خاوند دَ قبضې دا شئ ځمانه په زور آخستې دې.	شاهدان دَ خاوند دَ قبضې په دې خبره چه دا ما دَ فلانۍ سړي نه "چه غائب دې" په زور اخستې دې.	تسهیل
شاهدان دَ زید چه دَ بکر نه ئې په زور اخستې وي څه شئ او په قبضه کښې ئې وي او شاهدان ودروي په دې خبره چه دې بکر اقرار کړې دې چه دا شئ دَ زید دې.	شاهدان دَ خاوند دَ بکر په دې خبره چه زید دا شئ ځمانه په زور اخستې دې.	غانم بحواله قاضیخان
شاهدان دَ خاوند دَ قبضې په دې خبره	شاهدان دَ زید په دې خبره چه	

له په دې مسئله کښې خلاف دې دَ امام ابو یوسف صاحب رح - ۱۲ - ح

غوره	ناغوره	حواله
چه مادَ زید نه چه فلانئ زمکه په زور اخستله - نو آبادی پکښی نه وه	دهٔ ځما نه په زور اخستے ده - په داسے حال کښی چه آبادی پکښی موجود وه	غانم
شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه فلانے شے چه دَ زید په لاس کښی دے هغه ئے ځما نه په زور اخستے دے۔	شاهدان دَ بل مدعی بے قبضے په دے خبره چه دغه شئے ځما دے	غانم
شاهدان دَ مالک دَ یو کور په دے خبره چه دے زید چه ځما نه کور نیولے وو په زور دهٔ هغه نړولے دے۔	شاهدان دَ زید په دے خبره چه هغه ما واپس کړے دے دهٔ ته په داسے حالت کښی چه آباد وو۔	غانم
شاهدان دَ زید چه بکر تره په زور بوتلے وو یو آس مثلاً - او دے شاهدان ودروی په دے خبره چه هغه اس مړ شوے دے دَ دے بکر په سورلئ سره۔	شاهدان دَ بکر په دے خبره چه هغه اس ما دے زید ته واپس کړے وو بیا دَ دهٔ څخه مړ شوے دے۔	القروی و قاضیخان
شاهدان[1] دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه زید خاوند دَ قبضے نن ځما نه په زور بوتلے ده یوه وینزه	شاهدان دَ یو بل مدعی بے قبضے په دے خبره چه زید دغه وینځه ځما نه په زور اخستے ده - یوه میاشت ئے کیږی۔	قاضیخان
شاهدان دَ مالک دَ بیزے په دے خبره چه دے سړی چه ځما نه په زور بیزه بوتلے وه هغه دهٔ حلاله کړے ده۔	شاهدان دَهغه چا چه دغه بیزه ئے په زور اخستے وه - او شاهدان ودروی په دے خبره چه هغه حلاله کړے شوے ده دے مالک څخه	قاضیخان

[1] لکن عالمان وائی چه کوم مدعی ورته وخت خوښ کړے دے (یعنے یوے میاشتے واله) هغه لره به هغه سړے چه وبیزه ئے په زور بوتلے وه - قیمت دَ دغه وینځے ورکوی - بنا په قول دَ امام محمد صاحبؒ او امام ابو یوسف رح وائی چه دے هغه لره دَ قیمت ورکولو ضامن نه دے - ۱۲ - ح

غوره	نا غوره	حواله
شاهدان دَ بکر چه خالد نه ئے یو شے په زور آخستے وو او شاهدان ودروی په دے خبره چه دغه شے ما په زید خرڅ کړے دے دَ دے خالد په اجازه سره۔	شاهدان دَ خالد په دے خبره چه دغه شے ما خرڅ کړے وو په بکر باندے (نو ماله به دے روپئ دا کوی)	محیط
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا مرئے ځما مرئے دے دَ شلو کالو نه	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دا مرئے ځما دے او دَ یو کال نه ځما په قبضه کښې وو۔ تو دے پورے چه دے خاوند دَ قبضے راته په زور واخستلو۔	تنقیح
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا شے ما په زر روپئ قیمت اخستے دے دَ دے مدعی نه	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دا شئ ځما نه دے خاوند دَ قبضے په زور اخستے دے۔	هندیه
شاهدان دَ مالک په دے خبره چه کوم څیز چه ځما نه دے سړی په زور آخستے دے۔ دَ هغے قیمت دومره وو (مثلاً شل روپئ وو۔	شاهدان دَ آخستونکی دَ دغه څیز په زور سره په دے خبره چه قیمت دَ هغے څیز دومره وو۔ (مثلاً پنځوس روپئ وو۔)	هندیه
شاهدان دَ مالک په دے خبره چه زید کوم څاروے دَ سورلئ ځما نه په زور بوولے وو۔ هغه دَ زید دَ سورلئ په وجه مړ شوے دے۔	شاهدان دَ زید په دے خبره باندے چه هغه ما دے مالک ته روغ جوړ رسولے وو۔	هندیه
شاهدان دَ خاوند دَ څاروی په دے خبره چه دے سړی چه ځما نه څاروے په زور بوولے وو۔ هغه دهٔ هلاک کړیدے۔	شاهدان دَ اخستونکی دَ دغه څاروی په زور سره په دے خبره چه هغه څاروے ما دے خاوند ته روغ موټ واپس کړیدے۔	
شاهدان دَ زید چه دَ یو سړی نه ئے یو	شاهدان دَ مالک دَ هغه څاروی په	

غوره	ناغوره	
خاروے دَ سورلئ په زور بولے وو او شاهدان ودروی په دے خبره چه هغه دَ دے مالک تخنه مړشوے دے۔	دے خبره چه هغه دَ زین تخنه مړشوے دے او حال داوی چه دا شاهدان وُنه وائی چه دَ زین دَ سورلئ په وجه مړشوی دے۔	هندیه
شاهدان دَ مالک دَ بوداسے کورچه زین ترے نیولے وو په زور نو شاهدان ودروی په دے خبره چه هغه کور دے زین نړولے دے۔	شاهدان دَ زین په دے خبره چه هغه کور مادے مالک ته واپس کړے وو. بیا وروستو نړلیدلے دے۔	هندیه
شاهدان دَ مالک دَ یوضایعه شوی توکی په دے خبره بانسے چه قیمت دَ دغه توکی سل روپئ وو۔	شاهدان دَ هغه چاچه دغه توکے ئے په زور اخستے وو. او شاهدان ودروی په دے خبره چه قیمت ئے کم وو دَ سلو نه۔	هندیه
شاهدان دَ خاوند دَ توکی په دے خبره چه کوم توکے چه ځما نه دے سړی په زور آخستے وو. هغه نوے نُرے وو او نو ادس دے شرم نه کوره چه دا زوړ توکے راکوی۔	شاهدان دَ هغه چاچه په زوړ سے توکے آخستے وو. او شاهدان وُدروی په دے خبره چه دا زوړ توکے هغه توکے دے چه ما ستا نه په زوړ اخستے وو۔	هندیه
شاهدان دَ مالک په دے خبره بانسے چه ځما هغه توکے هروی وو ریعنے په هرات بنهر کښ رحکړے شوے وو	شاهدان دَ زین چه هغه توکے ئے په زور وړے وی دَ دغه مالک نه او اوس شاهدان ودروی په دے خبره چه دا زطی توکے ستا هغه توکے دے۔	
شاهدان دَ یومدعی بے قبضے په دے خبره چه دَ فلانی سړی په لاس کښ چه توکے دے۔ دغه توکے ځما نه په زوړ اخستے دے۔	شاهدان دَ یوبل مدعی بے قبضے په دے خبره چه دغه توکے ځما دے۔ او دغه فلانی خاوند دَ قبضے په دے سره اقرار کړے دے۔ ځما دَ پاره	هندیه

غوره	نا غوره	حواله
شاهدان دَ مالک دَ یو داسے مرئی چه مړ وی په دَ خبره چه دَ سړی چه ځمانه مرئے په زور آخستے وو. هغه مرئے دَ دهٔ تخه مړ دے	شاهدان دَ هغه چاچه په زور ئے آخستے وی مرئے اوشاهدان وددروی په دَ خبره چه دغه مرئے لا ما په زور نه وو آخستے چه مړ دے دَ دے مالک تخه	
شاهدان دَ مالک دَ یو مرئی په دے خبره چه دَ لوئ اختر مبارکه ورځ وه. او دَ مکے شریفے پاکه زمکه وه چه دے سړی په دغه ورځ په دغه ځائ کښ ځمانه په زور مرئے آخستے او بوئے دے.	شاهدان دَ هغه چاچه دغه مرئے ئے په زور اخستے وی. او شاهدان وددروی په دے خبره چه دا مالک دَ مرئی دَ لوئ اختر په ورځ په کوفه کښ وو.	هندیه
شاهدان دَ مالک دَ یو مرئی په دے خبره چه دے سړی دَ لوئ اختر په ورځ په مکه شریفه کښ ځمانه مرئے په زور آخستے او بوولے دے.	شاهدان دَ اخستونکی دَ دغه مرئی په زور سره په دے خبره چه دغه مرئے چه په زور سره اخستے شوے دے دَ لوئ اختر په ورځ په کوفه ښهر کښ.	هندیه
شاهدان دَ هغه چاچه په زور ے آخستے وی یو توکے او شاهدان وددروی په دے خیره چه دا توکے مارنلپ کړیدے.	شاهدان دَ مالک دَ دغه توکی په دے خبره چه دا توکے ئے هم دغسے رنلپ کړے ځمانه په زور آخستے دے	هندیه
شاهدان دَ هغه چاچه په زور ے اخستے وی کور او شاهدان وددروی په دَ خبره چه ما ودان کړے دے داکور.	شاهدان دَ مالک دَ کور په دے خبره چه دا کور دَه دَ غسے ودان ځمانه په زور اخستے دے.	هندیه
شاهدان دَ هغه چا چه دَ بل نه ئے په زور یوه توره اخستے دی او شاهدان وددروی په دے خبره چه دے توره له ما دَ زرو دستے جوړه کړے ده.	شاهدان دَ مالک دَ دغه تورے په دے خیره با ندے چه دا توره ځمانه ده دَ زرو دَ دغه دستے سره په زور آخستے ده	هندیه
شاهدان دَ مالک دَ یو داسے مکان چه بل نرے اخستے وی په زور. او شاهدان وددروی په دے خبره چه په دغه مکان کښ چه کوم سامان دے هغه ځما دے.	شاهدان دَ هغه چاچه دغه مکان ئے اخستے دی په زور او شاهدان وددروی په دے خیره چه دغه سامان ځما دے.	هندیه

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ مالک دَ یو داسے مکان چه بل ترے آخستے وی په زور او شاهدان ودروی په دے خبره چه مخے خبیث چه په دے مکان کښ دی - دا ځما دی -	شاهدان دَ هغه چا چه دغه مکان ئے اخستے وی په زور او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا مخے خبیث ځما ملک دے	هندیه
شاهدان دَ مالک دَ یو داسے مکان چه بل ترے اخستے وی په زور او دے شاهدان ودروی په دے خبره چه دا ورپه دَ کور کښ چه دے ځما دے -	شاهدان دَ هغه چا چه دغه مکان ئے نیولے وی په زور او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا ور ځما ملک دے -	هندیه

دَ شفعے مسئلے

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان[1] دَ هغه چا چه په بیعه ئے آخستے وی یو مکان (او بیا ئے نړولے وی) او شاهدان ودروی په دے خبره چه قیمت دَ دے آبادئ چه ورانه کړے شوے ده سل روپئ وو - مثلاً دغه مکان ئے ټول په دړے سوه اخستے وو - نو وائی چه آبادی م په سل آخستے وه او دا ځائے چه مکان پکښ آباد وو په دوه سوه -	شاهدان دَ هغه چا چه دَ هغه حق وی دَ شفعے او شاهدان ودروی په دے خبره چه قیمت دَ دغه آبادئ چه ورانه کړے شوے ده - دوه سوه روپئ وو - (دے ورته وائی چه تا دا آبادی په دوه سوه آخستے وه او دغه میدان چه آبادی په کښ وه هغه دے په سل روپئ -	تنقیح
شاهدان دَ هغه چا[2] چه دَ هغه حق وی	شاهدان دَ هغه چا چه آخستے ئے	

[1] دَ دواړو اختلاف دَ ودانئ په قیمت کښ دے - په ثمن کښ نه دے - نو هر یو وائی چه آبادی دَ دومره قیمت وه خو په دے تفصیل کښ اشاره ده دلیل نه اخستونکے وائی آبادی دَ سلو روپو ده نو ځائے دا ته په دوه سوه پریوت نو شاهدان ئے زیات شو په اثبات کښ - ۱۲ - مترجم رح

[2] دا دَ امام صاحب رح او دَ امام محمد صاحب رح قول دے او وئیلی دی امام ابو یوسف صاحب رح چه شاهدان دَ هغه چا غوره دی چه دشه ځائے ئے په بیعه آخستے دے - ۱۲ - ح

غوره	ناغوره	حواله
دَ شفعے او ودروی شاهدان ودروی په دے خبره چه دَ اخستونکی دا ځائے چه څما پرے دَ شفعے دعوه دَه- په دومره قیمت آخستے دے (بیعے په لږ قیمت)	وی- دغه ځائے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا ما په دومره قیمت آخستے دے (بیعے په ډیر قیمت)	تنقیح
شاهدان دَ هغه چا چه آخستے ئے وی یو مکان په بیعه سره او شاهدان ودروی په دے خبره چه ما صرف آبادی مځکښ آخستے دَه- او دغه میدان چه مکان پکښ آباد دے وروستو آخستے دے- نو نشته پکښ حق دَ شفعے-	شاهدان دَ دعوه کونکی شفعے په دے خبره چه دے اخستونکی دا دواړه په هیر آخستی دی په بیعه سره نو حق دَ شفعے شته دے ما لره	تنقیح
شاهدان دَ خاوند دَ شفعے په دے خبره چه دے سړی فلانے ځائے چه څما پکښ دَ شفعے حق دے- دا ځائے په بیعه آخستے دے-	شاهدان دَ دغه سړی مدعا علیه په دے خبره چه دا ځائے ماله په طور دَ امانت راکړے شوے دے-	تنقیح
شاهدان دَ خاوند دَ شفعے په دے خبره چه دا ځائے تا دَ زیدنه په بیعه آخستے دے-	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا ما ته عمرو په طور دَ امانت پریخے دے-	تنقیح و قاضیخان
شاهدان دَ خاوند دَ شفعے په دے خبره چه کوم وخت دَ دے بیعے نه زه خبر شوم- طلب دَ شفعے م اوکړو-	شاهدان دَ آخستونکی په بیعه سره په دے خبره چه تا طلب وروستو کړے دے-	انقروی
شاهدان دَ خاوند دَ شفعے په دے خبره چه دے سړی چه دا کور په بیعه اخستے دے- دَ غسے ودان ئے اخستے دے-	شاهدان دَ هغه چا چه اخستے ئے وی دغه کور په بیعه سره او شاهدان ودروی په دے خبره چه دا ما خالی اخستے وو- او ما آباد کړے دے-	قاضیخان

غوره	نا غوره	حواله
شاهدان دَ خاوند دَ شفعے په دے خبره چه دے سړی فلانئ زمکه په بیعه آخستے ده په دا سے حال کښې چه دا وُنے پکښې نالے وے	شاهدان دَ اخستونکی دَ دغه زمکے په بیعه سره په دے خبره چه دا وُنے پکښې ما نالے کړی دی۔	قاضیخان
شاهدان[1] دَ هغه چا چه په بیعه ئے اخستے وی یو کور او شاهدان وُدروی په دے خبره چه ما نیمه حصه دَ دے کور مخکښې په بیعه آخستے ده	شاهدان[1] دَ خاوند دَ شفعے په دے خبره چه تا دغه ټول کور په هیڅ په بیعه اخستے دے۔	قاضیخان
شاهدان دَ هغه چا چه په بیعه[2] ئے آخستے وی یو کور او شاهدان ودروی په دے خبره چه خرڅونکی ما ته بخلے وه آبادی۔ پس دَ هغے نه م دغه زمکه په بیعه اخستے ده. چه آبادی وریکښې ده	شاهدان دَ خاوند دَ شفعے په دے خبره چه تا دکور ټول په هیڅ په بیعه اخستے دے۔	قاضیخان
شاهدان[3] دَ خاوند دَ شفعے چه هم خاوند دَ قبضے وی۔ او شاهدان ودروی په دے خبره چه خرڅونکی او اخستونکی دَ دے کور دا کور ما ته سپارلے دے۔	شاهدان دَ خرڅونکی او دَ اخستونکی. دَ دغه کور په دے خبره چه دے خاوند دَ شفعے پریخودے وه شفعه خپله	محیط
شاهدان[4] دَ خاوند دَ قبضے خرڅونکے وی	شاهدان دَ خاوند دَ شفعے په دے	

[1] په قاضیخان کښې ئے یوه حیله دَ شفعے دَ لرے کولو دَ پاره دا هم خوښے چه مثلاً زید نیم کور مینه په زیات قیمت په بیعه واخلی او بیا باقی نیمه حصه ئے په ډیر لږ قیمت واخلی۔ نو کوم نیمه حصه چه ئے په زیات قیمت اخستے۔ خاوند دَ شفعے به هغه دَ قیمت دَ زیاتوالی په وجه اخستل نه غواړی۔ او ترکومے پورے چه راوانخلی دَ باقی نیمے حصے دَ اخستو حق ئے نشته. ځکه چه دَ خرڅونکی سره زید په دغه کور کښې شریک دے۔ او دے ګاونډی دے او شریک وړومبے وی دَ ګاونډی نه ۱۲ مترجم

[2] دا حکم دَ امام ابو یوسف صاحب رح په قول بنا دے۔ او امام محمد صاحب رح ترخلاف دے۔ ۱۲ ح

[3] په قاضیخان کتاب کښې ئے دا حیله هم ذکر کړے چه خرڅونکی که مثلاً زید نه مینه یوازے دَ کور آبادی او نخله او بیائے په زید دغه زمکه چه آبادی پکښې ده په زیات قیمت خرڅه کړه۔ لو دا حیله هم صحیح ده ۔ ۱۲ ۔ مترجم

[4] دا حکم اتفاقی دے ۔ ۱۲ ح

[5] دا حکم بنا دے دَ امام ابو یوسف صاحب رح په قول باندے او امام محمد صاحب رح تورے مخالف دے ۔ ۱۲ ح

غوره	ناغوره	حواله
اوکه اخستونکے وی۔ چه شاهدان ودروی په دے خبره چه خاوند دَ شفعے خپله شفعه دَ دے کور پریښودے ده۔	خبره چه دے اخستونکی او خرڅونکی دواړو مانه سپارلے دے دغه کور۔	محیط
شاهدان دَ هغه چاچه په بیعه ئے اخستے وی یوه زمکه او زیدا پرے دعوه کوی دَ شفعے نو دا اخستونکے شاهدان ودروی په دے خبره چه زیدا دکومے زمکے په وجه چه په دے زمکه دَ شفعے دعوه کوی دَ اقرار کړے دے چه هغه دَ فلانی سړی ملکے دَ (دَ زید نه دے)	شاهدان دَ دعوه کونکی دَ شفعے په دے خبره چه دَ کوم ځائے په وجه زه دعوه دَ شفعے کوم هغه ځما ملک دے۔	هندیه
شاهدان دَ خاوند دَ شفعے په دے خبره چه دَ کوم ځائے په وجه زه دعوه دَ شفعے کوم۔ هغه ځما ملک دے۔	شاهدان دَ هغه چا چه په بیعه ئے آخستے وی زمکه او شاهدان ودروی په دے خبره چه دَ کوم ځائے په وجه دا خاوند دَ شفعے دعوه دَ شفعے کوی هغه دَ فلانی ملک دے۔	هندیه
شاهدان[1] دَ خرڅونکی دَ یو کور په دے خبره باندے چه دغه کور دَ کوم سامان په عوض کړی چه ما په زید خرڅ کړے وو او هغه سامان ضایعه شوے دَ هغے سامان قیمت دومره دے	شاهدان دَ زید په دے خبره باندے چه هغه سامان چه ضایعه شوے دے دَ هغے قیمت دومره وو	هندیه
شاهدان[1] دَ خاوند دَ شفعے په دے خبره چه کوم ځائے دے زیدا په بیعه آخستے وو او هغه آبادی ئے نړولے ده۔ دَ هغه آبادی قیمت دومره وو۔	شاهدان دَ زیدا په دے خبره باندے چه دَ هغه آبادی قیمت دومره وو۔	هندیه

[1] دا حکم دَ امام ابو یوسف صاحب رح په قول بنا دے - ۱۲ - ح

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان د آخستونکی د یو کور په بیعه سره په دے خبره چه ما یوازے دا میدان چه آبادی پکښې ده په زر روپے اخستے دے۔	شاهدان د خاوند د شفعے په دے خبره چه دا کور نحول تپال په زر روپئ آخستے دے۔	هندیه
شاهدان د خاوند د شفعے چه هم خاوند د قبضے وی (یعنے یو کور خرڅونکی خرڅ کړے وی په بل او د ده پرے دعوه د شفعے وی۔ او دغه کور هم د ده په لاس کښې وی) او دے شاهدان ودروی په دے خبره چه دے سړی چه دا کور په بیعه اخستے وه۔ ما ته ئے سپارلے دے۔	شاهدان د هغه چا چه په بیعه ئے آخستے وی دغه کور او په قبضه کښې ئے نه وی۔ او شاهدان ودروی په دے خبره چه دے خاوند د شفعے ما ته پرېښودے ده شفعه خپله	هندیه
شاهدان د هغه چا چه اخستے ئے وی په بیعه سره یو کور او په قبضه کښې ئے وی او شاهدان ودروی په دے خبره چه خاوند د شفعے پرېښودے ده شفعه خپله۔	شاهدان د خاوند د شفعے چه دغه کور ئے په لاس کښې نه وی۔ او شاهدان ودروی په دے خبره چه دے آخستونکی دغه کور ما ته سپارلے دے۔	هندیه
شاهدان د خاوند د شفعے د یو کور په دے خبره باندے چه دغه کور چه زبیر د صلحے په بدل کښې د بکر نه آخستے دے د دغه کور قیمت دومره دے۔	شاهدان د زبیر په دے خبره باندے چه کوم کور ما آخستے دے۔ د هغے قیمت دومره دے۔	هندیه
شاهدان[له] د آخستونکی د یو کور په بیعه سره په دے خبره چه خرڅونکی ما ته یوه کوټه د دے کور بخلے ده پس لا باقی کور دا خرڅ کړیدے	شاهدان د خاوند د شفعے د دغه کور په دے خبره چه دے آخستونکی دغه تحول کور په بیعه آخستے دے۔	هندیه

له په دے مسئله کښې خلاف دے د امام محمد صاحب رح - ۱۲ - ح

غوره	ناغوره	حواله
(نو نشته د ده حق د شفعه) شاهدان د خاوند د شفعه د یو کور په دے خبره چه دے سړي چه فلانے کور په بیعه آخستے دے. ده څه حصه د دغه کور نه وړے ده	شاهدان د اخستونکي د دغه کور په بیعه سره په دے خبره چه دغه کور ما هم دغه شان په بیعه آخستے دے چه څرنګه دے	هندیه
شاهدان[1] د یو نن مدعي د شفعه په دے خبره باندے چه په فلاني دوؤ همغاړو کورونو کښې هغه یو کور د دوؤ میاشتو نه ما په بیعه اخستے دے. (نو په دغه بل کوړ م شفعه ده.)	شاهدان د بل مدعي د شفعه په دے خبره باندے چه په دغه دواړو کورونو کښې هغه بل کور ما د یوے میاشتے نه په بیعه اخستے دے. (نو اوس ځما شفعه ده په هغه کور باندے چه دے وائي. ما د دوؤ میاشتو نه په بیعه آخستے)	قاضیخان
شاهدان د یو مدعي د شفعه په دے خبره چه په هغه دوؤ همغاړو کورونو کښې هغه یو کوړ ما یوه میاشت کیږي چه په بیعه آخستے.	شاهدان د بل مدعي د شفعه په دے دے خبره باندے چه په دغه کورونو کښې هغه بل کوړ ما په بیعه آخستے دے. او دے و نغښي تاریخ	قاضیخان

دوېش مسئلے

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان د مدعي بے قبضے په دے خبره چه فلانے کور چه د دے سړي په لاس کښې دے هغه ځما په برخه کښې رسیدلے دے.	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره چه دغه کوړ ځما په برخه کښې رسیدلے دے	تنقیح
شاهدان د مدعي بے قبضے په دے خبره چه دوه کامه د دے سړي په	شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره چه دغه دوه مره کامه ځمکه	

[1] په دے دواړو مسئلو کښې هر یو مدعي د شفعه دعوه کوي. نو په اوله مسئله کښې د وړومبي تاریخ واله د پاره حکم کیږي (نو موتږ به وایو چه کورے د ده میاشتے کیږي چه په بیعه آخستے او په هغه بل ئے شفعه ثابته ده) او په دوېمه مسئله کښې به حکم کیږي د پاره د خاوند د تاریخ نو بشه بیا ارشه - ۱۲-ح

غوره	ناغوره	
زمکه کښې ځما په برخه کښې رسیدلی دی	ځما په برخه کښې رسیدلی دی	قاضیخان
شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دَ فلانی کورهغه یوه کمره ځما په برخه کښې رسیدلے ده	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے چه دغه تول کور ئے په قبضه کښې وی۔ اوشاهدان • ودروی په دے خبره چه داکمره ځما رسیدلے ده	قاضیخان
شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دا دِ ده ځما وه۔ اونوتے ده۔ دَ دے سړی په برخه کښې۔	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دغه دِوه ځما وه۔ اوشامله شوے ده ځما دَ برخے سره	قاضیخان
شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دادیوال ځمادے اوشامل شوے دے دَده په برخه کښې۔	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دغه دیوال ځما دے۔ اوشامل شویدے ځمادَ برخے سره۔	غانم
شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه فلانئ زمکه چه دَ دے سړی په قبضه کښې ده۔ هغه ځما رسیدلے ده په برخه	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دغه زمکه ځما په برخه رسیدلے ده	قاضیخان
شاهدان دَ یوتن دَ هغو دوؤ تنونه چه هغو ویشلی وَو په خپل مینځ کښې شریک خیزونه اوحال داوو۔ چه په دے کښې یعنے په دے ویش کښې په دے دواړو کښې یوتن له دریؤورزو مثلاً خیار شرعاً ایخلے شوے وو۔ نو دامدعی دعوه کوی چه خاوند دَ خیار په مده دَ خیار کښې	شاهدان دَ هغه بل شریک په دے خبره چه خاوند دَ خیار په مده دَ خیار کښې داویش غوره کړے وو۔ (خاوند دَ خیار دے وی اوکه هغه بل وی)	هندیه
شاهدان دَمدعی بے قبضے په دے خبره چه دغه څلور حصے چه دَ دے سړی	شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا څلور واړه حصے ځما رسیدلی دی	هندیه

غوره	ناغوره	حواله
په قبضه کښې دی - یوه پکښې څه داده شاهدان د زید مدعی بے قبضے په دے خبره چه دے عمر اقرار کړیدے چه دا کور د زید رسیدلے دے	شاهدان د عمر و د خاوند د قبضے په دے خبره چه زید اقرار کړیدے چه ماخپله تول حصه لاس ته کړے ده -	هندیه

د مزارعت[1] مسئلے

(بل له زمکه په برخه خورے ورکول)

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان د مزارع پس د فصل کیدلو نه په مقرره مقدار د حاصل باندے ریغے کارنده شاهدان ودروی چه	شاهدان د خاوند د زمکے او د تخم پس د فصل کیدلو نه په مقرره حصه د حاصل باندے ریغے دے	

[1] مزارعت دے ته وائی چه سړے خپله زمکه د اړولو او د کرلو د پاره بل له ورکړی او د زمکے د پیداوار نیمه یا دریمه وغیره ورسره مقرر کړی او دغه کارندہ ته مزارع ویلے کیږی - دا معامله اګرکه د امام صاحب رح په نزد جایزه نه ده - لیکن د خلقو د ضرورت او د تعامل د وجه فتوی د صاحبینو په قول ده - دوی وائی چه مزارعت جایز دے - مګر یو څو شرطونه پکښې ضروری دی - یو دا چه زمکه د کرونده قابله وی - دویم دا چه د زمکے خاوند او مزارع عاقل بالغ وی - دریم بیان د مدے ضروری دے - چه د یو کال د پاره یا د دوو د پاره مثلاً - څلورم دا بیانول ضروری دی چه تخم به په چا وی - پنځم د کوم یو د جانب نه چه تخم نه وی د هغه د پاره د حاصل نه دریمه یا څلورمه یا دا رنګ بل څه حصه مقرر کول ضروری دی شپږم دا چه خاوند د زمکے دغه زمکه دغه کارنده ته وسپاری - خپل څه عمل پکښې شرط نکړی - اوم دا بیانول ضروری دی چه تخم به د کوم جنس نه وی - اتم دا چه زمکے که پیدا ورکړلو نو دوی دواړه به پکښې شریک وی - په طریقه د نیمائی یا د دوه دریمے یا په بله طریقه خو که یوله د حاصل نه خاص پیمانے مقرر کړے شوے - مثلاً دے وئیل چه تا له به دوے څټے یا شل پیمانے ورکوم نو دا مزارعت فاسد دے او د فاسد مزارعت حکم دا دے چه زمکے که څه پیدا وار ورکړلو نو هغه به خاوند د تخم وی او په فاسد مزارعت کښې که تخم د زمکے د خاوند وو - نو کارنده چه څومره کار کړے دے د هغے متناسب مزدوری به اخلی - لکن که دا مزدوری د مقرره حصے نه زیاته کیده - نو بیا به مقرره اخلی - او که تخم د کارنده وه - نو خاوند د زمکے به ترے د خپلے زمکے اجرت اخلی - دا رنګ ذکر دی په هدایه کښې - اوس واوره قسمونه د مزارعت چه کوم قسم جایز دے او کوم جایز نه دے:-
(۱) که زمکه او تخم او غوایان او سامان د یو سړی وی وه - او کار کول د بل نو دا صورت جایز دے - (۲) او که زمکه د یو وه - او نور ټول د بل - نو دا صورت هم جایز دے - (۳) او که زمکه او تخم د یو وو - او غوایان او سامان او کار د بل وو - نو بیا هم جایز دے - او که زمکه او غوایان د یو وو او زمکه او کار د بل - نو دا هم جایز نه دے او که تخم د یو وو او باقی د بل نو دا هم جایز نه دے - خو د امام ابو یوسف صاحب رح نه په دے دواړو صورتونو کښې د جواز روایت شته دے - او که څلورته وو - د یو زمکه وه - او د بل غوایان او د بل تخم او د بل کار نو دا هم جایز نه دے - او د امام ابو یوسف صاحب رح نه چه کوم روایت شوے دے

د هغے په بنا جایز دے - او که مزارعت د معلمے کولو په وخت کښې دا شرط کړلو - چه څه تخم به په تاوی او څه به په ما - نو دا صورت

هم جایز نه دے - دا رنګ ذکر دے په بدائع کښې - او ګوره

شپږم جلد د هغے ۱۳ - مترجم محمد ابراهیم بازارګوی غفرله

غوره	ناغوره	حواله
ماله نیمه حصه دَ حاصل مقرر کړے شوے وو۔ مثلاً)	شاهدان وډروی چه تالر دریمه حصه دَ حاصل مقرر کړے شوے وه مثلاً)	تنقیح
شاهدان دَ خاوند دَ زمکے پس دَ فصل کیدلو نه په هغه مقدار دَ حاصل باندے چه کړے ئے دے دَ خاوند دَ تخم سره (مثلاً خاوند دَ زمکے ورته وائی چه ستا دریمه حصه ده)	شاهدان دَ خاوند دَ تخم پس دَ فصل کیدلو نه په مقرره حصه باندے (مثلاً دے وائی چه ځما نیمه ده)	تنقیح
شاهدان دَ خاوند دَ زمکے چه فصل شوے وی۔ او دے شاهدان وډروی چه مونږ حاصل نیم په نیمه مقرر کړے وو (چه نیم به ځما وی او نیم ستا	شاهدان دَ مزارع (چه دے خاوند دَ تخم وی او شاهدان وډروی) په دے خبره چه مونږ شل پیمانے مقرر کړے وے (یعنے تاله شل پیمانے مقرر شوے وے نو دا معامله فاسده شوے ده اوس حاصل ټول ځما دے تاله به صرف دَ زمکے اجرت درکوم)	تنقیح
شاهدان دَ مزارع چه زمکے څه پیداوار نه وی کړے۔ او دے شاهدان وډروی په دے خبره چه دَ خاوند دَ زمکے دَ پاره نیمه حصه مقرر کړے شوے وه (نو چه حاصل ونشه اوس دَ ده هیڅ نشته۔)	شاهدان دَ خاوند دَ زمکے په خاصو پیمانو باندے (یعنے دے وائی چه ماله مثلاً شل پیمانے مقرر کړے شوے دی نو دا مزارعت فاسد شوے دے۔ اوس به ماله دَ زمکے اجرت راکوی)	تنقیح
شاهدان دَ بوتن دَ هغه دوو تنو چه کړے ئے دی معامله دَ مزارعت او شاهدان وډروی په صحیح والی دَ دے معاملے باندے۔	شاهدان دَ هغه بل په فاسد والی دَ مزارعت باندے په سبب دَ شرط کولو دَ خاصو پیمانو سره	تنقیح
شاهدان دَ خاوند دَ زمکے او دَ تخم په دے	شاهدان دَ مزارع په دے خبره	

غوره	ناغوره	حواله
خبره چه ماله نیمه حصه دَحاصل مقرره کړے شوے وه. اوورسره لسمه حصه دَحاصل (نومزارعت فاسدشو بیاے)	باندے چه موښ صرف په نیمه حاصل مقررکړے وو.	تنقیح
شاهدان دَمزارع په دے خبره چه خاوند دَزمکے ماله نیمه حصه دَحاصل مقرره کړے وه (اوحال داوی چه کروندهٔ شوے وی.)	شاهدان دَخاوند دَ زمکے اودَ تخم په دے خبره باندے چه ما ورسره دریمه حصه دَ حاصل کړے وه	قاضیخان
شاهدان دَ مزارع په دے خبره باندے چه خاوند دَ زمکے ماله نیمه حصه دَحاصل مقرر کړے وه	شاهدان دَ خاوند دَ زمکے په دے خبره باندے چه ما ورله دریمه حصه مقرر کړے وه.- (اوحال داوی چه کرونده لانه وی شوی)	قاضیخان
شاهدان دَخاوند دَزمکے پس دَفصل کیدلو نه په دے خبره چه دَ مزارع دَپاره دریمه حصه حاصل مقرره کړے شویده.	شاهدان دَ مزارع خاوند دَ تخم په دے خبره باندے چه ماله نیمه حصه مقرره کړے شویده	قاضیخان
شاهدان[1] دَ خاوند دَ تخم اودَغویانو پس دَفصل کیدلو نه په دے خبره چه ماله نیمه حصه ده.-	شاهدان دَخاوند دَ زمکے په دے خبره باندے چه تاله شل پیمانے مقرره دی.-	قاضیخان
شاهدان دَمزارع چه زمکه پیدااوارونکړی اودے شاهدان وړوی په دے خبره باندے چه دَ خاوند دَزمکے دَپاره نیمه حصه حاصل وه.-	شاهدان دَ خاوند دَ زمکے چه زمکه پیدااوار ونکړی اودے شاهدان وړوی چه ماله مزارع شل پیمانے مقرره کړے وے (نو ماله به اوس دَ زمکے اجرت راکوی)	

[1] دا مسئله دَ حوالے نه مخالفه ده.- معلومیږی چه کاتب په لیکلو کښې کړ بړی کړے او اصلی مسئله دا ده.- چه شاهدان دَ خاوند دَزمکے پس دَ فصل کیدلو نه په دے خبره باندے چه ماله نیمه حصه مقرره ده "غوره دی" دَ شاهدانو دَمزارع نه په دے خبره چه خاوند دَ زمکے له شل پیمانے مقرره کړے شوے وے.- ۱۲- مترجم

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ مزارع چه زمکه پیداوار ونکړی او دے شاهدان وُدروی په دے خبره چه دَخاوند دَ زمکے دَ پاره نیمه حصه دَه دَ حاصل	شاهدان دَ خاوند دَ زمکے چه زمکه پیداوار او نکړی او دے شاهدان ودروی چه مالره اجرت دَ زمکے دے په مزارع باندے۔	قاضیخان
شاهدان دَ میراث خورو دَ مزارع په دے خبره باندے چه مزارع له نیمه حصه دَ حاصل مقرر کړے شوے وَه۔	شاهدان دَ خاوند دَ زمکے او دَ تخم په دے خبره باندے چه مزارع له کمه حصه مقرر کړے شوے وه	محیط
شاهدان دَ میراث خورو دَ مزارع په دے خبره چه مزارع له نیمه حصه دَ حاصل مقرر کړے شوے وه۔	شاهدان دَ میراث خورو دَ خاوند دَ زمکے او دَ تخم په دے خبره باندے چه مقرر کړے شوے حصه کمه وه۔	محیط
شاهدان دَ میراث خورو دَ خاوند دَ زمکے په دے خبره باندے چه مزارع له څلورمه حصه مقرر کړے شوے وو دَ حاصل۔	شاهدان دَ مزارع خاوند دَ تخم په دے خبره باندے چه ماله نیمه حصه مقرر شوے وه	محیط
شاهدان دَ میراث خورو دَ خاوند دَ زمکے په دے خبره باندے چه مزارع له څلورمه حصه دَ حاصل مقرر کړے شوے وه	شاهدان دَ میراث خورو دَ مزارع چه خاوند دَ تخم وو۔ په دے خبره باندے چه مزارع له نیمه حصه مقرر شوے وه۔	محیط
شاهدان دَ میراث خورو دَخاوند دَ زمکے په دے خبره چه تخم خاوند دَ زمکے ورکړے وو۔	شاهدان دَ مزارع په دے خبره باندے چه تخم حما وو۔	محیط
شاهدان دَ میراث خورو دَخاوند دَ زمکے په دے خبره باندے چه تخم خاوند دَ زمکے ورکړے وو۔	شاهدان دَ میراث خورو دَ مزارع په دے خبره چه تخم دَ مزارع وو۔	محیط
شاهدان دَ خاوند دَ زمکے په دے خبره چه	شاهدان دَ مزارع په دے خبره چه	

غوره	ناغوره	حواله
تخم ما ورکړے	تخم څما خپل وو۔	محیط
شاهدان دَ خاوند دَ زمکے په تخم او په مقرړ کړے شوے اندازے باندے (یعنے دے وائی چه تخم څما وو. او مزارع لږم درېمه مقرر کړے وه دَ حاصل نه مثلاً)	شاهدان دَ مزارع په تخم باندے او په مقرر کړے شوے اندازے باندے راودے وائی چه تخم څما وو۔ او ماله نیمه مقرر کړے شوے وه۔ مثلاً)	محیط
شاهدان دَ میراث خورو دَ خاوند دَ زمکے په تخم باندے او په مقرر شوے اندازے باندے۔	شاهدان دَ میراث خورو دَ مزارع په تخم باندے او په مقرر شوے اندازے باندے	محیط
شاهدان دَ خاوند دَ زمکے په تخم باندے او په مقرر شوے اندازے باندے	شاهدان دَ میراث خورو دَ مزارع په تخم باندے او په مقرر شوے اندازے باندے۔	محیط
شاهدان دَ میراث خورو دَ خاوند دَ زمکے په تخم باندے او په مقرر شوے اندازے۔	شاهدان دَ مزارع په تخم باندے او په مقرر شوے اندازے باندے	محیط

دَ کانړے مسئلے

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ هغه چا چه بل ته ئے څه شے کانړه کړے وی۔ او هغه شے ضائع شوے وی۔ نو دے شاهدان وړدوی په دے خبره چه قیمت دَ دغه شی دوهره وو	شاهدان دَ هغه چا چه دغه شے ئے په کانړه اخستے وی او ضائع شوے وی او شاهدان وړدوی په دے خبره چه قیمت دَ دغه شی کم وو۔	تنقیح
شاهدان دَ هغه چا چه بل ته ئے څه شے کانړه کړے وو۔ او شاهدان زوروړی په دے خبره چه دغه څیز دے سړی سره دے)	شاهدان دَ دغه سړی په دے خبره چه هغه څیز چه ما دَ ده نه کانړه کړے وو۔ هغه م ده ته بیا واپس ورکړیدے۔	تنقیح

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان د هغه چا چه د بل نه ئے څه څیز گانړه کړے وو۔ او شاهدان وړدروی په دے خبره چه کوم څیز ما ددۀ نه گانړه کړیدے هغه دا فلانے څیز دے۔	شاهدان د هغه چا چه دغه څیز ئے په گانړه ورکړے وو۔ او شاهدان وړدروی په دے خبره چه دا هغه فلانے څیز دے۔	تنقیح
شاهدان د هغه چا چه بل ترے څه شے گانړه کړے وو۔ او شاهدان وړدروی په دے خبره چه هغه شے سړی ځنے چه ما ورته گانړه کړے وه۔ ضائع شوے دے	شاهدان د گانړه چی په دے خبره چه هغه شے د گانړے ضائع شویدے۔ د دے سړی ځنے چه ماله ئے راکړے وه په گانړه۔	تنقیح
شاهدان د زید په دے خبره باندے چه ما ته بکر دوه توکی گانړه کړیدی	شاهدان د بکر په دے خبره باندے چه ما زید ته صرف یو توکے گانړه کړے دے۔	تنقیح
شاهدان د هغه چا چه گانړه کړے ئے وی بل ته څه شے او شاهدان وړدروی په دے خبره چه دا شے د گانړے چه عیب ناک شویدے د عیب پیدا کیدو نه مخکښ د دے قیمت دومره وو۔	شاهدان د گانړے چی په دے خبره چه قیمت د دے شی پخوا د عیب نه دومره وو۔ (یعنے کم وو۔)	تنقیح
شاهدان د هغه چا چه په گانړه ئے ورکړے وو څه شے او شاهدان وړدروی په دے چه دغه شے ما دۀ له روغ موتې ورکړے وو۔ او قیمت ئے دومره وو یعنے زیات۔	شاهدان د گانړه چی په دے خبره چه دغه شے ئے ما ته عیب ناک گانړه کړے وو۔ او قیمت ئے دومره وو۔ یعنے کم۔	تنقیح
شاهدان د هغه چا چه بل ترے په زرو روپو کښې گانړه کړے وو خپل مرئے	شاهدان د هغه چا چه دغه مرئے ئے گانړه کړے وو۔ او بیا دغه مرئے	

غوره	ناغوره	حواله
(بیا دغه مرئے په یوه سترګه ړوند شه نو اوس دے شاهدان ودروی په دے خبره چه قیمت دَ دے مرئی په وخت دَ ګانړه کولو کښې زر روپئ وو۔ نو دَ ړوند والی په سبب اوس په ما نیمه قرضه پاتے شوه۔ پنځه سوه کمے شوے۔)	ور ځخه ړوند شوے وو۔ او شاهدان ودروی په دے خبره چه قیمت دَ دے مرئی په وخت دَ ګانړه کیدو کښې پنځه سوه روپئ وو۔ نو اوس دوه نیم سوه روپئ کمے شوے۔ دومره حصه قرضه پاتے شوه)	غائم وتنقیح
شاهدان دَ هغه چا چه دَ بل نمے ګانړه کړے وه ځه شے بیا ضائع شوے وو نو دے شاهدان ودروی په دے خبره چه قیمت دَ دے شی کم وو ځما دَ قرضے نه چه دغه شے پکښې ګانړه وو۔ نو ماله به باقی قرضه راکوی)	شاهدان دَ هغه چا چه دغه شے ئے په ګانړه ورکړے وو۔ او شاهدان ودروی په دے خبره چه قیمت دَ دغه شی برابر وو ځما د دے قرضے سره۔ نو په ما دا قرضه خلاصه شوه۔	‌هجه
شاهدان دَ هغه چا چه په ګانړه ئے ورکړے وو ځه شے او شاهدان نو ودروی په دے خبره چه هغه شے دَ ګانړے ضائع شویئے دَ ګانړچی سره۔	شاهدان دَ ګانړه چی په دے خبره چه هغه ما ستا نه قبض کړے وو۔ او تا ځخه ضائع شوے دے۔	انقروی
شاهدان دَ هغه چا چه ګانړه کړے ئے وو یو شے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دغه شے ضائع شویدے دَ ګانړه چی سره ورستو دَ قبض کولو نه۔	شاهدان دَ ګانړه چی په دے خبره چه دغه شے مالا نه وو قبض کړے چه ستا ځخه ضائع شوے دے	انقروی
شاهدان[1] دَ زید چه بکر ترے په طریقه دَ سوال او دَ عاریت اخستے وو بو توکے دَ پارچے دے چه خالد ترے ګانړه	شاهدان دَ بکر چه دغه توکے ئے په سوال آخستے وو دَ زید نه او ګانړه کړے وو خالد سته - او	

[1] په دے مسئله ... او په دا تلو تکے مسئله کښې دَ زید او دَ بکر شاهدان نه وی - نو بیا خبره دَ بکر معتبره مع دَ قسم قسم نه او ځما ان پرے نشته - دا دلته په هدایه او عالمګیری کښې دی - ۱۲ مترجم۔

غوره	ناغوره	حواله
کړی ی۔ اوس هغه توکے ضایعه شوبیدے نوزید شاهدان ودروی په دے خبره چه دغه توکے لادے بکرد کانړے نه ووآزاد کړے په دلسے حال کښ ضایعه شویدے (نو دے ضامن دے)	شاهدان ودروی په دے خبره چه دغه توکے ضایعه شوبیدے پس دَ هغے نه چه ما دا آزاد کړے وو دَ کانړے نه نوزهٔ ضامن نهٔ یمه۔	انقروی
شاهدان دَ زید چه بکر ترے څه توکے په طریقه دَ سوال آخستے وو دَ پاره دَ کانړه کولو خالص ته۔ نو اوس هغه توکے ضایعه شویدے نو زید شاهدان ودروی په دے خبره چه دغه توکے ضایعه شویدے پس دَ هغے نه چه دے بکر کانړه کړے وو۔ (نو دے ضامن دے)	شاهدان دَ بکر په دے خبره چه هغه توکے ضایعه شویدے په دا سے حال کښ چه ما لا چا ته نه وه کانړه کړے (نو زهٔ ضامن نه یم۔)	انقروی
شاهدان دَ هغه چا چه بل ته ئے کانړه کړی وی څه شے او شاهدان ودروی په دے خبره چه دے کانړه چی خپله قرضه وصول کړے ده۔ او دغه شے دَ کانړے ور څخه هم ضایعه شویدے	شاهدان دَ کانړه چی په دے خبره چه ما ترے خپله قرضه وصول کړے ده۔ او هغه شے رم دَ کانړے ورته واپس ورکړیدے۔	انقروی
شاهدان دَ کانړه کونکی دَ بو شی بل ته په دے خبره چه فلانے شے ما ده ته په یو نیم سل روپو کښ کانړه کړیدے	شاهدان دَ کانړه چی په دے خبره چه دا را ته ده په عوض دَ سلو روپو کښ کانړه کړیدے۔	انقروی
شاهدان[1] دَ زید چه بکر ورته څه شے کانړه	شاهدان دَ بکر پس دَ ضایع کیدو	

[1] دا دواړه مسئلے مخالفے دی دَ هغے مسئلے نه چه دَ دے باب په شروع کښ تیره شویده۔ او د ادلهٔ دَ هغے مسئلے نه چه دَ مختلفی کتاب په مسلو دَ کانړے کښ ذکر شوے او په بحر رائق کښ دَ کانړے په مسلو کښ راوړی دی چه مثلاً بکر که زید ته څه شے کانړه کړلو۔ بیا هغه شے ضایعه شه۔ بیا دَ هغے په قیمت کښ دَ دے دواړو اختلاف راغے نو خبره دَ بکر معتبره ده سره دَ قسم نه۔ او که شاهدان وی نو شاهدان دَ بکر غوره دی۔ ځکه چه بکر په زید باندے دَ زیات دعوه کوی او هغه منکر دے نو دَ بکر شاهدان په اثبات کښ زیات شول۔ دَ خیره سره غوره شول۔ او په هندیه کښ هم دا دلیل ویلی دی۔ ۱۲۔ مترجم

غوره	نا غوره	حواله
کړے وی۔ او بیا هغه ضائع شوے وی نو اوس زید شاهدان ودروی۔ چه دَ هغه شی قیمت دومره وو	دَ هغه شی نه په دے خبره باندِ چه دَ هغے قیمت دومره وو۔ یعنے زیات وو	القروی
شاهدان دَ زید چه بکر ورته څه شے گانړه کړے وی۔ او بیا دَ هغے څه حصه ضائع شوے وی۔ تو اوس زید شاهدان ودروی په دے خبره چه دَ هغے قیمت دومره وو۔	شاهدان دَ بکر په دے خبره باندِ چه دَ هغے قیمت دومره وو۔ زیات وو۔	القروی
شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه فلانے ځیز چه دَ زید په لاس کښں دے۔ هغه زمے نه ما په بیعه اخستے دے۔ او ونخنی تاریخ دَ بیعے۔	شاهدان دَ یو بل مدعی بے قبضے په دے خبره چه دغه ځیز ما گانړه کړے دے دَ زید نه۔ او دے هم ونخنی تاریخ دَ گانړے۔	تنقیح
شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه فلانے شے ما په فلانی تاریخ گانړه کړیدے دَ زید نه او وخنی تاریخ داسے چه مخکښں وی۔	شاهدان دَ مدعی بل بے قبضے په دے خبره چه دغه شے ما په بیعه آخستے دے دَ زید نه په فلانی تاریخ چه وخنی داسے تاریخ چه وروستے وی۔	تنقیح
شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه فلانے شے ما په فلانی تاریخ گانړه کړیدے دَ زید نه	شاهدان دَ بل مدعی بے قبضے په دے خبره چه دغه شی ما په بیعه آخستے دے دَ زید نه ونخنی تاریخ	تنقیح
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا فلانے شے ما گانړه کړیدے دَ زید نه او تاریخ ونخنی	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دغه شی ما په بیعه اخستے دے دَ زید نه او ونخنی تاریخ	تنقیح
شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا ځیز ما گانړه کړیدے دَ زید نه په فلانی تاریخ او دا تاریخ مخکښں وی دَ تاریخ دَ مدعی بے قبضے نه۔	شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دغه شے ما په بیعه آخستے دے دَ زید نه په فلانی تاریخ۔ او دا تاریخ وروستے وی دَ خاوند دَ قبضے دَ تاریخ نه	تنقیح

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان د خاوند د قبضې په دے خبره چه دا څیز ما کانړه کړیږے د زید نه په فلانۍ تاریخ	شاهدان د مدعی بے قبضې په دے خبره چه دغه څیز ما په بیعه آخستے دے د زید نه او تاریخ ونخئ	تنقیح
شاهدان د خاوند د قبضې په دے خبره چه دا څیز ما د زید نه کانړه کړیږے په فلانۍ تاریخ	شاهدان د مدعی بے قبضې په دے خبره چه دغه شے ما په بیعه آخستے دے د زید نه هم په دغه تاریخ	تنقیح
شاهدان د مدعی بے قبضې په دے خبره چه دغه څیز چه د دے سړی په قبضه کښې دے دا ما د زید نه په بیعه آخستے دے په فلانۍ تاریخ او دا تاریخ وړومبے وی	شاهدان د خاوند د قبضې په دے خبره چه دا څیز ما کانړه کړیږے د زید نه په فلانۍ تاریخ۔ او حال داوی چه دا تاریخ وروستے وی۔	تنقیح
شاهدان د خاوند د قبضې په دے خبره چه دا څیز ما په بیعه آخستے دے د زید نه او ښکاره نکی تاریخ	شاهدان د مدعی بے قبضې په دے خبره چه دغه څیز ما کانړه کړیږے د زید نه او ونخئ تاریخ۔	تنقیح
شاهدان د خاوند د قبضې په دے خبره چه دا څیز ما په بیعه آخستے دے د زید نه په فلانۍ تاریخ او دا تاریخ وړومبے وی۔	شاهدان د مدعی بے قبضې په دے خبره چه دا ما کانړه کړیږے د زید نه په فلانۍ تاریخ او دا تاریخ وروستے وی	تنقیح
شاهدان د خاوند د قبضې په دے خبره چه دا څیز ما په بیعه آخستے دے د زید نه په فلانۍ تاریخ	شاهدان د مدعی بے قبضې په دے خبره چه دا ما کانړه کړیږے د زید نه او ونخئ تاریخ۔	تنقیح
شاهدان د خاوند د قبضې په دے خبره چه دا څیز ما په بیعه آخستے دے د زید نه په فلانۍ تاریخ۔	شاهدان د مدعی بے قبضې په دے خبره چه دا ما کانړه کړیږے د زید نه هم په دغه تاریخ	تنقیح
شاهدان د کانړه چی په دے خبره چه د کانړے هغه مرئے تښتیدلے دے	شاهدان د دغه سړی چه ورکړے شوے وو دغه مرئی په طور د کهانړے	

غوره	ناغوره	حواله
د دے سړي څخه چه ماته ئے هغه کانړه کړے وو۔	او ودروی شاهدان په دے خبره چه هغه تختیں لے دے د دے کانړه چې څخه۔	هندیه
شاهدان د کانړه چې په دے خبره چه دے زید ماته مرئے کانړه کړیدے او هغه ما قبض کړے دے۔ او ما څخه دے۔	شاهدان د زید په دے خبره چه ما ورته تورکے کانړه کړیدے هغه د ه آخستے دے ور څخه دے۔ (مرئے ورته نه کانړه کوم۔	
شاهدان د هغه چا چه مل تړ ئے څخه شئے ایخودے وی کانړه او شاهدان ودروی په دے خبره چه ماد ه نه هغه مرئے کانړه ایخودے وو۔ چه اوس هلاک شویدے۔ او د هغه قیمت زر روپئ وو۔	شاهدان د کانړه چې په دے خبره چه ماته ئے تورکے کانړه کړے وو۔ او قیمت د هغے سل روپئ وو۔	هندیه
شاهدان د کانړه چې په دے خبره چه دے سړي ماته کانړه کړے وو هغه مرئے چه اوس هلاک شویدے او قیمت د هغے زر روپئ وو۔	شاهدان د کانړه ورکونکي په دے خبره چه ماد ه نه کانړه کړے وو تورکے او قیمت د دغه تورکي زر روپئ وو۔	هندیه
شاهدان د کانړه چې په دے خبره چه ده ماته کانړه کړیدے دغه مرئے او تورکے دواړه۔	شاهدان د کانړه ورکونکي په دے خبره چه ما ورته کانړه کړیدے یو د دے دواړو نه	هندیه
شاهدان د کانړه چې په دے خبره چه ده ماته مرئے کانړه کړیدے نه وینزه۔	شاهدان د کانړه ورکونکي په دے خبره چه ما ده ته دا مرئے او وینزه دواړه کانړه کړیدی او حال دا وی چه مرئے او وینزه دواړه ژوندی وی۔ (او د کانړه چې په لاس کښ وی)	هندیه
شاهدان د کانړه ورکونکي په دے خبره چه	شاهدان د کانړه چې په دے خبره چه	

غوره	ناغوره	حواله
ماده ته دا مرئے کانړه کړے وو۔ او هغه ویزه چه اوس هلاکه شویده	دا ماته دا مرئے کانړه کړے وو نه ویزه۔	هندیه
شاهدان دَ کانړه چی په دے خبره چه دا ماته کانړه کړیږه دا ویزه او دَ دے خوئی او ما دا دواړه قبض کړی دی	شاهدان دَ کانړه ورکونکی په دے خبره چه ما دَ ته پوازے ویزه کانړه کړے دا۔	هندیه
شاهدان دَ کانړه چی په دے خبره چه دا ماته داخاص شے کانړه کړیدے	شاهدان دَ کانړه ورکونکی په دے خبره چه ما دَ ته بل شے کانړه کړیدے نه دا۔	
شاهدان دَ کانړه ورکونکی په دے خبره چه ما چه دَ ته مرئے کانړه کړیدے او بیا هغه په یوه سترګه روند شویدے۔ دَ دے روندیدلو نه دَ دغه مرئی قیمت دَ هغے قرضے همره وو۔ چه په کومه کښ دے کانړه شویدے۔	شاهدان دَ کانړه چی په دے خبره چه قیمت دَ دے مرئی پخوا دَ روندیدلو نه ځما دَ نیمے قرضے همره وه۔	تنقیح
شاهدان[1] دَ ناغوره جانب پس دَ حکم کولو دَ قاضی نه په دے شهادت سره په سبب دَ نشتوالی دَ شاهدانو دَ غوره جانب۔	شاهدان دَ غوره جانب چه ودرولے شی پس دَ هغے نه چه حکم کړے شوے وی په شاهدانو دَ ناغوره جانب سره۔	مجله

دَ جنایتونو مسئلے

(یعنے دَ جرمونو)

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ جنایت کونکی په دے خبره چه فلانے چه ما په همسا وهلے وو۔ هغه مړ شویدے وروستو دَ هغے	شاهدان دَ میراث خورو دَ دغه فلانی چه وهلے شوے وو په همسا په دے خبره چه هغه مړ شویدے	

[1] دا حکم جاری دے په ټولو مسئلو دَ شهادت کښ - ۱۲ - ۲

غوره	نا غوره	حواله
نه چه ځما د وهلو نه جوړ شوے وو	د دے هم سا د وهلو د اثر نه	الفتاوی
شاهدان د میراث خورو په دے خبره چه ځمونږ فلانے زخمی مړ شویدے په سبب د زخم سره	شاهدان د زخمی کونکی په دے خبره چه هغه مړ شویدے پس د جوړیدو د زخم نه.	تنقیح
شاهدان د خوئ په دے خبره چه دے سړی وژلے دے ځما پلار په فلانی وُرځے	شاهدان د دغه سړی په دے خبره چه پلار د دے هلک خو مړ وو په فلانئے وُرځے.	تنقیح
شاهدان د مالک په دے خبره چه د دے سړی ځما خاروے هلاک کړیدے	شاهدان د دغه سړی په دے خبره چه هغه خاروے ژوندے دے	تنقیح
شاهدان د قاتل په دے خبره چه دا سړے د مقتول خوئ دے۔ او دۀ ماته د دے قتل عفوه کړیده (بخانه نے کړیده)	شاهدان د ورور د مقتول په دے خبره چه د مقتول یو میراث خور نشته سوا ځما نه۔ او زۀ نے غواړم قصاص	
شاهدان د هغه چا چه وهلے نے وه پردے وینزه او زخمی کړے نے نه وه۔ او شاهدان وردوی په دے خبره چه هغه جوړه شوے وه ځما د وهلو نه	شاهدان د مالک د وینزے په دے خبره چه هغه مړه شوے ده۔ ستا د گذار نه۔	غانم
شاهدان د خوئ د مقتول په دے خبره چه ځما د پلار قاتل رور د هغه د دے (یعنے ځما تره وژلے دے.	شاهدان د ورور د مقتول په دے خبره چه قاتل ځما د ورور دا خوئ دے (یعنے ځما دے وراره خپل وژلے دے.)	
شاهدان د وهونکی په دے خبره چه فلانے چه مړ دے۔ هغه جوړ شوے وو ځما د سوک نه.	شاهدان د میراث خور د دغه مړی په دے خبره چه ځمونږ پلار مړ دے د وهونکی د سوک نه	الفتاوی

[1] دا حکم بنا دے په یو قول بانډے لکه چه دلیلی دی په محیط کتاب کښی او تفصیل به مخکښی راشی د هندیه په حواله سره۔ ۱۲ مترجم

غوره	ناغوره	حواله
شاهدان دَ وهونکي په دے خبره چه فلانۍ وینزه چه ما وهلے وه هغه بیا جوړه شوے وه۔	شاهدان دَ مالک دَ وینزے په دے خبره چه دے وهونکي هغه وینزه په کیڼه وهلے وه۔ تو هغه مړه شویده دَ دَه په وهلو سره	هند یه
شاهدان دَ وهونکي په دے خبره چه پلار دَ دے مدعي جوړ شوے وو او ښه شوے وو ځما دَ سوک نه	شاهدان دَ مدعي په دے خبره چه دے وهونکي ځما پلار په سوک وهلے وو په سینه کښې او هغه مړ دے دَ دغه سوک نه	ر هندیه
شاهدان دَ وهلي شوي په دے خبره چه دے وهونکي ځما پر نے غابښ ځیجولے دے۔	شاهدان دَ وهونکي په دے خبره چه دَ دے وهلي شوي دغه غابښ نه وو موجود۔ مخکښې ونسکلے شوے وو۔	هندیه
شاهدان[1] دَ وهونکي په دے خبره چه دَ دے مدعي پلار ځما دَ سوک نه جوړ شوے او ښه شوے وو	شاهدان دَ مدعي په دے خبره چه دے وهونکي ځما پلار په سوکونو وهلے وو۔ هغه دَ دغه سوکونو نه مړ شویدے۔	هندیه
شاهدان دَ قاتل په دے خبره چه دَ مقتول یو ځوئ شته دے۔	شاهدان دَ ورور دَ مقتول په دے خبره چه دَ مقتول هیڅوک میراث خور لشته بے ځما نه۔	هندیه
شاهدان دَ قاتل په دے خبره چه دَ مقتول یو ځوئ دے۔ هغه ځما سره دَ دے قتل نه صلحه کړیده۔	شاهدان دَ ورور دَ مقتول په دے خبره باندے چه دَ مقتول هیڅ څوک میراث خور لشته بے ځما نه۔	هندیه
شاهدان دَ قاتل په دے خبره چه دَ مقتول یو ځوئ دے۔ هغه ماته دَ دے قتل عفوه کړے ده (ریحانه ئے کړیده)	شاهدان دَ ورور دَ مقتول په دے خبره باندے چه دَ مقتول هیڅوک میراث خور لشته بے ځما نه (او زه ئے قصاص غوارم)	هندیه

[1] بعضے عالمان وائي چه په دے صورت کښې شاهدان دَ مدعي غوره دي۔ لکه چه ویلي دي په هندیه کښې۔ ۱۲۔ مترجم

حواله	ناغوره	غوره
هندیه	شاهدان دَ رور دَ مقتول په دے خبره چه دے قاتل ځما رور وژلے دے زۀ ئے قصاص غواړم	شاهدان دَ قاتل په دے خبره چه دَ مقتول کوم رور چه غائب دے دَ هغه ځما سره صلحه کړیده دَ دے قتل نه
هندیه	شاهدان دَ رور دَ مقتول په دے خبره چه دے قاتل ځما رور وژلے دے زۀ ئے قصاص غواړم	شاهدان دَ قاتل په دے خبره چه دَ مقتول کوم ولی واکدار چه غائب دے هغه ما ته دَ دے قتل عفوه کړیده۔

دَ وصیتونو مسئلے

حواله	ناغوره	غوره
تنقیح	شاهدان دَ هغه چا چه مړی وصیت کړے وو دَ پاره دَ هغه په څه شی سره په دے خبره چه هغه مړ شوے دے په داسے حال کښې چه قائم وو او ټینګ وو په خپل وصیت باندے	شاهدان دَ میراث خورو دَ یو مړی په دے خبره چه دَ هغه مړی چه کوم وصیت کړے وو۔ دَ هغے وصیت نه بیا هغه رجوع کړے وه۔ داګرزیدلے وو۔
انقروی	شاهدان دَ میراث خورو دَ دغه وصیت کونکی په دے خبره چه په دغه وخت کښې دَ دغه وصیت کونکی عقل زائله شوے وو۔ نا پوهه وو۔	شاهدان دَ هغه چا چه مړی وصیت کړے وو دَ پاره دَ هغه په څه شی سره او شاهدان وړوی په دے خبره چه دغه وصیت کونکی ځما دَ پاره وصیت کړیدے په داسے حال کښې چه هغه خاوند دَ عقل او دَ پوهے وو۔
	شاهدان دَ میراث خورو دَ اول وصی په دے خبره چه هغه چه قیمت دَ دغه کور اخستے وو۔ نو دَ دغه یتیم	شاهدان دَ دوئم وصی دَ یو یتیم په دے خبره چه دَ دے یتیم هغه اول وصی دَ دۀ کور خرڅ کړے وو او روپئ ئے

سه مثلاً دَ یتیم یو وصی وو دَ جانبه دَ پلار هغه مړ شه۔ نو قاضی ورله مقرر که بل وصی یا پلار دَ دغه هلک وپا ته شے وروستو دوه تنه وصی کړی وو۔ نو اوس دوئم وصی دا دعوه

غوره	ناغوره	حواله
ځان له لګولی دی.	په ضرورت کښې ئې لګولے وه.	القروی
شاهدان دَ هغه چا چه په بیعه ئې اخستے وو څه شے دَ داسے سړی نه چه هغه دَ چا وصی وو. او شاهدان وددوی په دے خبره چه دا ځیز ما په بیعه اخستے وو دَ وصی نه په داسے حال کښې چه هغه لا وصی وو.	شاهدان دَ میراث خورو په دے خبره چه دے اخستونکی دا ځیز په بیعه اخستے دے. دَ هغه وصی نه په داسے حال کښې چه هغه ایستلے شوے وو دَ وصی توب نه.	القروی
شاهدان دَ یو هلک په دے خبره چه دا فلانے ځیز چه ځما دَ دے وصی په لاس کښې دے. دا دے ځما دَ پلار دَ میراث نه	شاهدان دَ وصی په دے خبره چه دے هلک اقرار کړیدے چه ځما دَ دے وصی څخه ځما هیڅ شے نه دے پاتے شوے بلکه ما ترے هر څه پوره پوره آخستے دی.	قاضیخان
شاهدان دَ وصی په دے خبره چه هغه مړی چه دَ دے فلانی دَ پاره دَ دومره روپو وصیت کړے وو. هغه بیا رجوع کړے وه دَ دے وصیت نه یعنے دَ دے وصیت نه راګرزیدلے وو	شاهدان دَ فلانی چه دَ پاره ئې چه وصیت شوے وی په دے خبره چه هغه مړی ځما دَ پاره دَ دومره روپو وصیت کړیدے	محیط
شاهدان دَ زید چه دے وصی وی دَ یو داسے واړه چه پلار ئې مړ شوے وی. او زید ئې وصی کړے وی دَ پاره دَ دے وړوکی. او بکر ئې وصی کړے وی دَ پاره دَ یو بل خپل وړوکی. نو اوس زید شاهدان وددوی په دے خبره چه دَ دے واړه پلار اقرار کړے وو. چه څه	شاهدان دَ بکر چه دے وصی وی دَ یو داسے واړه چه هغه ورور وی دَ دغه بل وړوکی او بکر شاهدان وددوی په دے خبره چه څه چه دَ زید په لاس کښې دی. هغه دَ دے دواړو ورو دَ پلار میراث دے نو دَ دواړو شریک دی.	هندیه

غوره	ناغوره	حواله
چه د زید په قبضه کښې دی۔ هغه خاص د هغه وړوکی دی۔ چه زید ئے وصی دے۔		
شاهدان د زید چه دے وصی د یو د لسے وړوکی وی۔ چه پلار ئے مړ شوے وی۔ او زید ئے وصی کړے وی د پاره د ده او بکر ئے وصی کړے وی د پاره د خپل بل وړوکی۔ او زید شاهدان ودروی په دے خبره چه بکر مخکښې د د غه نیم کور دعوه کړے وه د پاره د هغه وړوکی چه د دے وصی دے۔ نو اوس چه د دے د قول کور دعوه کوی دا دعوه بیا کیږی چه وانه وړے شی۔	شاهدان د بکر په دے خبره چه پلار د دے وړوکی په خپل ژوندانه کښې اقرار کړے وو۔ چه دا قول کور د هغه وړوکی دے چه دا بکر ئے وصی دے	هندیه
شاهدان د یو وصی د زید په دے خبره چه دے مدعی اقرار کړیدے چه کومه قرضه په زید باندے ځما ده هغه عوض وو د هغه قرضے چه په یو بل سړی باندے وو۔	شاهدان د مدعی په دے خبره باندے چه زید مړ دے۔ ځما د پاره ئے اقرار کړے وو په دے قرضے سره	هندیه
شاهدان د څوک د مړی په دے خبره چه ځما پلار چه د دے سړی د پاره وصیت کړے وو۔ چه ځما نه د مال نه ورله دریمه حصه ورکړئ۔ هغه په خپل ژوندانه کښې د دے وصیت نه بیا رجوع کړے ده۔ (دا کوز زید لے وو)	شاهدان د هغه چا چه وصیت ئے د پاره شوے وو۔ او شاهدان ودروی په دے خبره چه د غه مړی د خپل مال د دریمے حصے ځما د پاره وصیت کړے دے۔	هندیه
شاهدان د څوک د مړی په دے خبره	شاهدان د هغه چا چه وصیت ئے د پاره شوے	

غوره	ناغوره	حواله
چه ځما پلار خپل ژوندانه کښې رجوع کړے وو- دَ هغه وصیت نه چه هغه کړے وو-	وو- او شاهدان ودروی په دے خبره چه دغه مړی دَ خپل مال دَ دریمے حصے ځما دَ پاره وصیت کړیدے.	هندیه
شاهدان[1] دَ ځوئ دَ مړی په دے خبره چه ځما پلار خپل ژوندانه کښې دَ دے وصیت نه انکار کړے وو .	شاهدان دَ هغه چا چه وصیت ئے دَ پاره شوے وو - او شاهدان ودروی په دے خبره چه دغه مړی دَ خپل مال دَ دریمے حصے ځما دَ پاره وصیت کړے دے-	هندیه
شاهدان دَ میراث خورو دَ زید په دے خبره چه دے بکر اقرار کړے وو چه دَ زید میراثه فارغه (روزګاره) نه دَه دَ قرضے نه ریخه دومره دَه چه کومه قرضه په مړی پورے دَه هغه به پورے خلاصه شی یا میراثه ترے کمه دَه) نو صحیح نه دَے دا وصیت	شاهدان دَ بکر چه وصیت ئے دَ پاره شوے وی - او دے شاهدان ودروی په دے خبره چه زید دَ خپل مال دَ دریمے حصے ځما دَ پاره وصیت کړے دے	هندیه
شاهدان[2] دَ میراث خورو دَ یو مړی په دے خبره چه دغه مړے چه دَ یو وړوکی دَ پاره وصیت کړے وو دَ هغه وړوکی دے پلار اقرار کړیدے چه دَ دغه مړی میراثه فارغه نه دَه (روزګاره نه دَه) دَ قرضے نه.	شاهدان دَ پلار دَ هغه وړوکی چه وصیّت ئے دَ پاره شوے وو- په دے خبره چه دغه مړی وصیّت کړیدے ځما دَ ځوئ دَ پاره او قاضی حکم کړے دے په دے وصیت سره	هندیه
شاهدان دَ زید په دے خبره چه فلانی مړی چه وصیت کړے وو- چه دا خیز عمر له ورکړے- هغه بیا دَ غه وصیت	شاهدان دَ عمر په دے خبره چه هغه مړی چه وصیت ئے کړے دے- ځما دَ پاره په دے خیز سره هغه	

[1] دا حکم بنا دے دَ مبسوط کتاب په روایت باندے او دا دَ استحسان دلیل حکم دَے- او روایت دَ جامع کتاب دا دے- چه دَ وصیت نه انکار کول دَ وصیت نه راګرزیدل نه دی- او قیاس هم دا دے. رخو استحسان دلیل ترے قوی دے ح-۱۱
[2] په دے مسئله او په عکس مسئله کښې خلاف شته دے - ۱۲ - ح

غوره	ناغوره	حواله
نه رجوع کړے وه - او ځما د پاره ئے وصیت کړے دے چه دغه څیز زید له ورکړے	مړ شوید ے په داسے حال کښې چه قایم وو - په دغه خپل وصیت بانده	محیط
شاهدان د زید په دے خبره چه فلانی مړی چه وصیت کړے وو - چه زر روپئ د عمر له ورکړے شی - ځما د مال نه هغه بیا د دغه وصیت نه رجوع کړے وه (دا کړ زید ئے وو) او د دغه زرو روپو وصیت ئے ځما د پاره کړے دے - چه ورد ے کړے شی زید له -	شاهدان د عمر په دے خبره چه هغه مړی چه ځما د پاره د زرو روپو وصیت کړے وو - هغه مړ شوید ے په داسے حال کښې چه قایم (ولاړ) وو - په دغه خپل وصیت بانده	محیط
شاهدان[1] د نا غوره جانب پس د حکم کولو د قاضی نه په دے شاهدانو سره	شاهدان د غوره جانب چه راپیدا شی په داسے وخت کښې چه د رومبیه حکم شوے وی په شاهدانو د نا غوره جانب سره	مجله

دا ټولو نکے مسئلے هغه مسئلے دی چه دوه تنه د یو څیز دعوه کوی او دواړه په خپله خپله دعوه شاهدان ورووی - او د دواړو د پاره حکم کیږی - یعنے شاهدان د یو جانب غوره نه وی د شاهدانو د بل جانب نه - بلکه دواړه برابر وی - نو د دواړو مدعیانو د پاره حکم کیږی -

د مرئ د ازادولو د دعوے مسئلے

شاهدان د دوو تنو چه یو مدعی بے قبضه وی - او بل خاوند د قبضے او هر یو شاهدان ورولی وی په دے خبره چه دا مرئے ما آزاد کړے دے په داسے حال کښې چه زه ئے مالک وُم - او حال دا وی چه مرئے دواړو ته دروغژن وائی - نو حکم به کیږی د پاره د دواړو مدعیانو په ولا[2] د دغه مرئی سره - یعنے نیمه ولا به ئے د دوه وی - او نیمه د دے بل - (هندیه)

[1] دا حکم جاری دے په ټولو مسئلو کښې - ۱۲ - ح [2] د ولا د پاره او ګوره حاشیه د محکمې کتاب د مرئی ازادولو په مسئلو کښې - ۱۲ مترجم

شاهدان دَ دوؤ تنو چه دواړو دعوه کړی وی دَ ولا دَ یو مړی - او هر یو شاهدان ودرولی وی په دے خبره چه فلانے مړئے چه مړ دے هغه ما آزاد کړے وو - نو میراث ئے ځما دے نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په ولا او په میراثے سره (غانم)

شاهدان دَ دوؤ تنو چه دواړو دعوه کړے وی او هر یو شاهدان ودرولے وی په دے خبره چه دا فلانے مړئے ما آزاد کړے دے په زر روپئ - نو نه به کوری قاضی دَ مړئ خبرے ته - او حکم به کوی چه دَ دهٔ په ذمه زر روپئ دی - دَ پاره دَ هر یو تن دَ دے دواړو مدعیانو ته - (هندیه)

دَ ملکٔ مطلق دَ دعوے مسئلے

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دعوه کړی وی - او شاهدان ئے ودرولی په مطلق ملک (یعنے وائی چه فلانے شیز ځما دے - او نه بیانوی سبب دَ ملکیت) او حال دا وی چه دواړه ونځئ تاریخ دَ ملکیت او دغه شیز دَ دریم سړی په لاس کښ وی - نو حکم[2] به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه سره - (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دعوه کړی وی - او شاهدان ئے ودرولے وی په دے خبره چه فلانے شیز ځما دے - او دواړه تاریخ دَ ملکیت خپل یوځئ - او حال دا وی چه دغه شیز دَ یو دریم سړی په لاس کښ وی نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه سره - (میزان)

شاهدان[3] دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دعوه کړے وی - او شاهدان ئے ودرولے وی په دے خبره چه فلانے شیز ځما ملکٔ دے - او یو تن تاریخ بیانوی - او بل نه - او حال دا وی چه دغه شیز دَ یو دریم سړی په لاس کښ وی - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه سره (میزان)

شاهدان[3] دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دعوه کړے وی - او شاهدان ئے ودرولے وی په دے خبره چه دا شیز ځما ملک دے - او دواړه نه بیانوی تاریخ دَ ملکیت او حال دا وی چه دغه شیز دَ دواړو په لاس کښ وی - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه - میزان

---

[1] یعنے صرف دا دعوه کوی - چه دا شیز ځما دے - او سبب دَ ملکیت نه بیانوی - ۱۲ مترجم - [2] کوم کوم ځلے چه ما دا ویلی دی - چه حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو په شریکه - دَ دے نه مراد دا دے چه دَ دعوے هغه شے به نیم دَ یو مدعی شی او نیم دَ بل ۱۲ - مترجم - [3] په دے مسئله کښ دَ صاحبینو رح خلاف دے - ۱۲ - ح

شاهدان د هغه دوؤ تنو چه هر یو دعوه کړے وی - او شاهدان ئے وددولی وی - په دے خبره چه دا څیز څما ملک دے - او دواړه یو تاریخ ښئ د ملکیت[1] - او دغه څیز هم د دواړو په لاس کښ وی - نو حکم به کیږی د پاره د دواړو مدعیانو - (میزان)

شاهدان د هغه دوؤ تنو چه هر یو دعوه کړی وی - او شاهدان ئے وددولی وی په دے خبره چه فلانے کور چه د فلانی د ریم سری په لاس کښ دے هغه څما دے - خو یو دعوه د ټول کور کوی او بل د نیم کور - نو حکم[2] به کوی قاضی چه د دے کور د څلورو حصونه دریے حصے د هغه مدعی دی - چه دعوه ئے د ټول کور کړے ده - او یوه حصه د هغه یو چه دعوه ئے د نیم کور کړے ده - (میزان)

شاهدان د هغه دوؤ تنو چه هر یو دعوه کړے وی - او شاهدان ئے وددولی وی په دے خبره چه دا څیز څما ملک دے - او یو تن د دوئ نه تاریخ ښئ - او بل نه ښئ - او دغه څیز د دعوے د دواړو په لاس کښ وی - نو حکم[3] به کیږی د پاره د دواړو مدعیانو په شریکه - (میزان)

د میراث د دعوے مسئلے

شاهدان د هغه دوؤ تنو چه هر یو شاهدان وددولی وی په دے خبره چه دا څیز ماته د خپل پلار نه میراث پاتے شوے دے - او دواړه تاریخ ونه ښئ او حال داوی چه دغه څیز د یو د ریم سری په لاس کښ وی - نو حکم به کیږی د پاره د دواړو مدعیانو په شریکه (میزان)

شاهدان د هغه دوؤ تنو چه هر یو شاهدان وددولی وی په دے خبره چه فلانے څیز ماته د خپل پلار نه میراث پاتے شوے دے د فلانی تاریخ نه - او دواړه یو تاریخ وښئ - او حال داوی چه دغه څیز د دعوے د د ریم سری په لاس کښ وی - نو حکم به کیږی د پاره د دواړو مدعیانو په شریکه - (میزان)

شاهدان د هغه دوؤ تنو چه هر یو شاهدان وددولی وی په دے خبره چه فلانے څیز ماته د خپل پلار نه میراث پاتے شوے دے - او تاریخ د یو وړومبے وی - او دغه څیز د دعوے د

---

[1] یعنے والئ چه زه ئے د فلانی تاریخ نه مالک شوے یم - ۱۲ مترجم. [2] داد امام صاحبؒ قول دے - او صاحبینؒ والئ چه کور به دریے حصے کړے شی - ۱۲ - مترجم. [3] په دے مسئله کښ د صاحبینو رح خلاف دے - ۱۲ - ح

دریم سړی په لاس کښې وی۔ نو حکم[1] به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو شاهدان وُددولی وی په دے خبره چه فلانے ځیز ماته دَ خپل پلار نه میراث پاتے شوے دے۔ او یو تاریخ خوولے وی۔ نه بل۔ او دغه ځیز دَ دریم سړی په لاس کښې وی۔ نو حکم[2] به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو شاهدان وددولی وی په دے خبره چه دا ځیز ماته دَ خپل پلار نه میراث پاتے شوے دے او دواړو نه وی خوولے تاریخ او دغه ځیز دَ دواړو په لاس کښې وی۔ نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه۔ (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو شاهدان وددولی وی په دے خبره چه دا ځیز ماته دَ خپل پلار نه میراث پاتے شویے۔ او دواړو خوولے وی۔ یو تاریخ۔ او دغه ځیز دَ دواړو په لاس کښې وی۔ نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو شاهدان وددولی وی په دے خبره چه دا ځیز ماته دَ خپل پلار نه میراث پاتے شوے دے۔ او تاریخ دَ یو وړومبے وی او دغه ځیز دَ دواړو په لاس کښې وی۔ نو[3] حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړی وی چه دا ځیز ماته دَ خپل پلار نه میراث پاتے شویے۔ او یو تن تاریخ خوولے وی او بل نه وی خوولے۔ او دغه ځیز دَ دواړو په لاس کښې وی۔ نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه سره (میزان)

مسئلے دَ دعوے

(دَ دے خبرے چه دا ما په بیعه اخستے دے)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړے وی چه دا فلانے ځیز ما په بیعه اخستے دے خو یو وائی چه ما دَ زید نه اخستے دے۔ او بل وائی چه ما دَ عمر نه۔ او حال دا وی چه دغه ځیز دَ یو دریم سړی په لاس کښې وی۔ او دواړو تاریخ دَ بیعے نه وی خوولے نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه سره (میزان)

---

[1] دا حکم بنا دے دَ امام محمد صاحب رح په قول باندے چه غوره دے۔ ۱۲ ح [2] دا حکم اتفاقی دے ۱۲

[3] دا حکم بنا دے دَ امام محمد صاحب رح په قول باندے۔ که دا تاریخ دَ مرګ دَ هغه چا ئی چه دا میراث ترے پاتے شوے دے۔ ۱۲ ح

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغونه دعوه کړے وی۔ چه دا ښیز ما په بیعه آخستے دے۔ خو یو وائی چه ما دَ زید نه آخستے دے او بل وائی ما دَ عمر نه۔ او دواړو تاریخ دَ بیعے یو خودلے وی۔ او حال داوی چه دغه ښیز دَ دریم سری په لاس کښ وی۔ نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه سره۔ (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغونه دعوه کړے وی چه دا ښیز ما په بیعه آخستے دے۔ خو یو وائی چه ما دَ زید نه په بیعه آخستے دے۔ او بل وائی ما دَ عمر نه۔ او تاریخ دَ یو تن ښکښ وی۔ او حال داوی چه دغه ښیز دَ دریم په لاس کښ وی۔ نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو په شریکه سره۔ (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغونه دعوه کړے وی۔ چه دا ښیز ما په بیعه آخستے دے۔ خو یو وائی۔ چه ما دَ زید نه آخستے دے۔ او بل وائی چه ما دَ عمر نه او یو تن تاریخ خودلے وی او بل نه وی خودلے۔ او حال داوی چه دغه ښیز دَ یو دریم په لاس کښ وی نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه۔ (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغونه دعوه کړے وی۔ چه دا ښیز ما په بیعه آخستے دے۔ خو یو وائی چه ما دَ زید نه اخستے دے او بل وائی ما دَ عمر نه او دواړو تاریخ نه وی خودلے۔ او حال داوی چه دغه ښیز دَ دواړو په لاس کښ وی۔ نو حکم کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه سره۔ (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغونه دعوه کړے وی چه دا ښیز ما په بیعه آخستے دَے خو یو وائی چه ما دَ زید نه په بیعه آخستے دے او بل وائی دَ عمر نه۔ او تاریخ دواړو یو خودلے دی۔ او دغه ښیز هم دَ دواړو په لاس کښ وی۔ نو حکم کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه سره (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دعوه کړے وی چه دا ښیز ما په بیعه آخستے دے۔ خو یو وائی چه ما دَ زید نه په بیعه آخستے دے۔ او بل وائی چه ما دَ عمر نه۔ او یو تاریخ خودلے وی۔ او بل نه وی خودلے۔ او دغه ښیز دَ دواړو په لاس کښ وی نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه سره۔ (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغونه شاهدان وی په دے خبره چه دا ښیز ما په بیعه آخستے دے دَ زید نه۔ او دواړو تاریخ نه وی خودلے۔ او دغه ښیز دَ دریم سره

---

[1] دا حکم بنا دے دَ امام محمد صاحب رح په قول باندے۔ او شیخینؒ ترے مخالفت کړیدے۔ ۱۲۔م

[2] دا حکم اتفاقی دے۔ ۱۲۔م

لاس کښ وی۔ نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دوارو مدعیانو په شریکه سره۔ (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړی وی۔ چه دا څیز ما په بیعه آخستے دَے دَ زید نه او دوارو یو تاریخ خودلے وی۔ او دغه څیز دَ دیم په لاس کښ وی۔ نو حکم به کیږی۔ دَ پاره دَ دوارو مدعیانو په شریکه سره (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړی وی چه دا څیز ما په بیعه آخستے دَے دَ زید نه او دوارو تاریخ نه وی خودلے۔ او دغه څیز دَ دوارو په لاس کښ وی۔ نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دوارو مدعیانو په شریکه۔ (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو۔ چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړی وی چه دا څیز ما په بیعه آخستے دے دَ زید نه۔ او دوارو یو تاریخ خودلے وی۔ او دغه څیز دَ دوارو په لاس کښ وی۔ نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دوارو مدعیانو په شریکه (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړے وی۔ چه دا څیز ما په بیعه آخستے دے دَ زید نه۔ او یو تاریخ خولے وی۔ بل نه وی خودلے۔ او دغه څیز دَ دوارو په لاس کښ وی۔ نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دوارو مدعیانو په شریکه۔ (میزان)

دعوه دَ کوزنی پیدائیش او دَ یو داسے سبب چه صرف یو ځل وی

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړے وی۔ چه دا څاروے ځما دے۔ او ځما کورنے پیدا دے۔ او دوارو تاریخ دَ پیدائیش نه وی خولے۔ او څاروے دَ یو دیم تن په لاس کښ وی۔ نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دوارو مدعیانو په شریکه سره۔ (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړے وی۔ چه دا څیز ځما ملک دے او ما پکښ عمل (کار) کړیدے۔ او دوارو داسے عمل ښودلی وی۔ چه هغه بار بار نه وی صرف یو ځل وی۔ (مثلاً هر یو وائی چه دا تارین نوکے ځما دے۔ ما وُدلے دے) او دوارو نه وی خودلے تاریخ۔ او دغه څیز دَ یو دریم په قبضه کښ وی۔ نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دوارو مدعیانو په شریکه۔ (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو۔ چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړے وی۔ چه دا څاروے ځما دے۔ ځما کورنے پیدا دے۔ او دوارو خودلے وی۔ یو تاریخ دَ پیدائیش۔ او دغه تاریخ موافق وی۔ دَ

---

۱ مثلاً دعوه کوی چه دا څاروے ځما دے ځما دَ څاروی نه پیدا دے۔ ۱۲ مترجم ۲ سبب په دوه قسمه دے۔ یو هغه دے چه صرف یو ځل وی لکه دَ ماوچو وُدیښل او وُدل۔ او بل هغه دے چه زیات کیداے شی۔ دَ یو ځل نه لکه ځانے ودانول۔ او دَ څاروی نه ورے قینچی کول۔ ۱۲ ح

دغه ښاروی دَ عمر سره - او دغه ښاروی دَ یو درهم په قبضه کښې وی - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه سره - (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړے وی - چه دا څیز څما دے - ما پکښ عمل (کار) کړیدے - او دواړو دا سے عمل خودلے وی - چه هغه پکښ بار بار نه کیږی صرف یو ځل وی - او دواړو خودلے وی یو تاریخ - او دغه څیز دریم په قبضه کښې وی - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه - (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړی وی - چه دا ښاروے څما دے - څما کورنے پیدا دے - او دواړو یو تاریخ خودلے وی - او دغه تاریخ مخالف وی - دَ دغه ښاروی دَ عمر نه - او وی دغه ښاروے دَ یو دریم سړی په قبضه کښې - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه - (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړی وی - چه دا ښاروے څما دے څما کورنے پیدا دے - او وی دغه ښاروے دَ یو دریم په قبضه کښې او دے دواړو تاریخ دَ پیدائش یو خودلے وی - خو عمر دَ ښاروی معلومیدل مشکل[1] شوی وی - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو - (میزان)

شاهدان دَ هغو دوؤ تنو چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړے وی - چه دَ فلانی دریم سړی په قبضه کښې چه دا ښاروے دے - دا څما دے څما کورنے پیدا دے - او دواړو تاریخ دَ پیدائش جدا جدا خودلے وی - او تاریخ دَ یو و بروجے وی - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه - (میزان)

شاهدان دَ هغو دوؤ تنو چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړے وی - چه دَ فلانی دریم سړی په لاس کښې چه دغه څیز دے - دا څما دے - ما پکښې عمل (کار) کړے دے - او دواړو تاریخ خودلے وی - خو تاریخ دَ یو و بروجے وی - او دواړو هغه کار خودلے وی - چه کوم بار بار نه کیږی - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغو نه دعوه کړے وی - چه دَ فلانی دریم سړی په لاس کښې چه دغه ښاروے دے - دا څما دے څما کورنے پیدا دے - او دواړو تاریخ دَ پیدائش خودلے وی - خو یو تاریخ و بروجے وی - او عمر دَ دغه ښاروی معلومیدل مشکل شوی وی - دواړو ته نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه (میزان)

---

[1] مراد دا دے چه خاوندانو دَ پوهے نه دَ دغه ښاروی دَ عمر په معلومیدلو کښې تیاره وی - یعنے نه یے شی معلومولے - ۱۲ مترجم

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغوئ دعوه کړی وی - چه دَ فلانی (دریم سړی) په قبضه کښ چه دغه څاروے دے - داځما دے - ځما کورنے پیدا دے - او عمر دَ دغه څاروی معلو میدل کړان شوی دی - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغوئ دعوه کړی وی چه فلانے څیز چه دَ فلانی (دریم سړی) په لاس کښ دے - هغه ځما دے - ما پکښ عمل (کار) کړے دے - او دواړو هغه عمل خوولے وی - چه کوم بار بار نه کیږی - او یو تاریخ خوولے وی - او بل نه وی خوولے نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه - (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغوئ دعوه کړی وی چه دا څاروے ځما دے - ځما کورنے پیدا دے - او دواړو تاریخ دَ پیدا ایښت نه وی خولے - او دغه څاروے دَ دواړو په قبضه کښ وی - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه - (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغوئ دعوه کړی وی چه دا څیز ځما دے - ما پکښ عمل (کار) کړے دے - او دواړو بیان کړے وی - داسے عمل - چه هغه بار باد نه کیږی - او دواړو تاریخ نه وی خوولے - او دغه څیز دَ دواړو په لاس کښ وی - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه - میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغوئ دعوه کړی وی چه دا څاروے ځما دے ځما کورنے پیدا دے - او دواړو خوولے وی داسے تاریخ چه موافق وی دَ دغه څاروی دَ عمر سره - او دغه څاروے دَ دواړو په قبضه کښ وی - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه - (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغوئ دعوه کړی وی چه دا څیز ځما دے - ما پکښ عمل کړے دے - او دواړو بیان کړے وی داسے عمل چه بار بار نه کیږی - او دواړو یو تاریخ خوولے وی - او دغه څیز هم دَ دواړو په قبضه کښ وی - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه - (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغوئ دعوه کړے وی - چه دا څاروے ځما دے ځما کورنے پیدا دے - او دواړو یو تاریخ خوولے وی - او دغه تاریخ مخالف وی دَ دغه څاروی دَ عمر نه - او څاروے دَ دواړو په لاس کښ وی - نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه - (میزان)

شاهدان دَ هغه دوؤ تنو چه هر یو دَ هغوئ دعوه کړے وی چه دا څیز ځما دے -

ما پکښې عمل کړې دې - او دواړو دا سې عمل بیان کړې وی - چه کوم دوه ځله نه کیږی - او دغه ځیز د دواړو په قبضه کښې وی - او تاریخ د یو وړوسے وی - نو حکم به کیږی د پاره د دواړو مدعیانو په شریکه - (میزان)

شاهدان د هغه دوؤ تنو چه هر یو د هغونه دعوه کړې وی - چه دا څاروے ځما دے ځما کورنے پیدا دے - او دغه څاروے د دواړو په قبضه کښې وی - او تاریخ د یو وړوسے وی - او د دغه څاروی عمر معلوموول دواړو ته مشکل وی - نو حکم به کیږی د پاره د دواړو مدعیانو په شریکه (میزان)

شاهدان د هغه دوؤ تنو چه هر یو د هغونه دعوه کړې وی - چه دا څاروے ځما دے ځما کورنے پیدا دے - او دغه څاروے د دواړو په قبضه کښې وی - او تاریخ د یو وړوسے وی او د دغه څاروی عمر معلوموول دواړو ته مشکل وی - نو حکم به کیږی د پاره د دواړو مدعیانو په شریکه (میزان)

شاهدان د هغه دوؤ تنو چه هر یو د هغونه دعوه کړې وی چه دا څاروے ځما دے ما پکښې عمل کړے دے - او دواړو هغه عمل ذکر کړے وی - چه کوم دوه ځله نه کیږی - او هغه ځیز د دواړو په لاس کښې وی - او یو تاریخ خوړلے وی - او بل نه - نو حکم به کیږی د پاره د دواړو په شریکه (میزان)

بیان د هغے چه دوه تنه دعوه د ملکیت د یو شی کوی یو په یو سبب سره او بل په بل سبب سره

شاهدان[1] د دوؤ تنو یعنے د یو سړی او د یو بل شخص چه شاهدان ئے ورکړی په دے خبره چه دا مړئے ماله خاوند د قبضے (یعنے خاوند د غے شئے) په مهر کښې راکړیدے او بل یو سړی شاهدان ورکړی په دے خبره چه دا مړئے ما د خاوند د قبضے نه په بیعه آخستے دے - نو حکم به کیږی د پاره د دواړو مدعیانو په شریکه (یعنے دغه مړئے به د ښځے او د دغه بل سړی په شریکئی نیم نیم) کنز)

شاهدان د دوؤ تنو چه دعوه ئے کړے وی په یو داسے مړئی چه هغه وی په قبضه د بل سړی کښې - نو یو شاهدان ورکړلی وی په دے خبره چه دغه مړئے خاوند د قبضے ځما نه په زور آخستے دے - او هغه بل شاهدان ورکړلی وی په دے خبره چه دغه مړئے ما خاوند د قبضے ته په طور د امانت ایښے دے - او حال دا وی چه دواړو

[1] یو وائی چه دا ځیز ما ته فلانی دا ښځے دے - او بل وائی چه دا ما د فلانی نه په بیعه آخستے دے - ۱۲ مترجم

تاریخ نه وی خولے - نو حکم به کیږی د پاره د دواړو مدعیانو په شریکه (الجامع الصغیر)

شاهدان د دوو تنو چه دعوه ئے کړی وی په یو داسے توکی چه هغه د زید د میراث څورو په قبضه کښی وی - نو یو شاهدان ورکړی په دے خبره چه دغه توکے ما امانت ایښودے وو زید ته چه مړ شوے - او هغه بل شاهدان ورکړی په دے خبره چه دغه توکے ځانه زید په زور اخستے وو - نو حکم به کیږی په دغه توکی سره د پاره د دواړو مدعیانو په شریکه - (الفتاوی)

شاهدان د دریو تنو چه دعوه ئے کړے وی د یو داسے څیزچه ئی په لاس د بل سړی کښی - نو یو شاهدان ورکړی په دے خبره چه دغه څیز ما په بیعه اخستے دے د زید نه او دویم مدعی شاهدان ورکړی په دے خبره چه دغه څیز ما ته په میراث کښی پاتے شوے دے د عمر نه - او دریم مدعی شاهدان ورکړی په دے خبره چه دغه څیز ما ته هبه کړے (بخلے) دے بکر - نو حکم به کیږی په دغه څیز سره د پاره د دریو واړو مدعیانو - نو دغه څیز به درے حصے کړے شی - یوه یوه حصه به د یو یو شی - (قاضیخان)

شاهدان[1] د دوو تنو چه دواړو دعوه کړی وی د ملکیت د یو شی په دوو مختلفو سببونو سره د طرفه د یو سړی نه (مثلاً یو مدعی وائی چه دا څیز ما ته د زید نه میراث پاتے شویدے - او هغه بل وائی چه دا څیز ما ته زید بخلے دے) او دواړو تاریخ نه وی خولے او دغه څیز د دواړو مدعیانو په لاس کښی وی نو حکم به کیږی په دغه څیز سره د پاره د دواړو مدعیانو په شریکه سره - (میزان)

شاهدان د دوو تنو - چه دواړو دعوه کړے وی د ملکیت د یو شی په دوو مختلفو سببونو سره د یو سړی د طرفے نه (مثلاً یو مدعی وائی چه دا څیز ما په بیعه اخستے دے د زید نه - او هغه بل مدعی وائی چه دا ما ته بخلے دے زید) او دغه څیز د دواړو مدعیانو په لاس کښی وی او دواړو یو تاریخ خولے وی - نو حکم به کیږی د پاره د دواړو مدعیانو په شریکه سره - (میزان)

شاهدان د دوو تنو چه دواړو دعوه کړے وی د ملکیت د یو شی په دوو مختلفو سببونو سره د یو سړی د طرفے نه او دغه څیز د دواړو مدعیانو په لاس کښی وی - او یو مدعی تاریخ ذکر کړے ئی - او بل نه وی ذکر کړے - نو حکم به کیږی د پاره د دواړو مدعیانو په شریکه

---

[1] یعنے دواړو نسبت یو تن نه کړے وی - د چانه چه ورته ملکیت حاصل شوے وی - لکه په دے مسئله کښی چه ئے زید نه کړیدے - ۱۲ مترجم -

سره - (میزان)

شاهدان د دوؤ تنو چه دوارو دعوه کړے وی د ملکیت د یوشی په دوؤ مختلفو سببونو سره د دوؤ تنو د ډے نه (مثلاً یو مدعی وائی چه دا شیز ما په بیعه اخستے دے د زید نه - او هغه بل مدعی وائی چه دا ما ته را بخلے دے بکر) او دغه شیز د یو دریم سړی په لاس کښ دی او دوارو مدعیانو تاریخ نه وی خودلے - نو حکم به کیږی د پاره د دوارو مدعیانو په شریکه سره - (میزان)

شاهدان د دوؤ تنو چه دوارو دعوه کړی وی د ملکیت د یوشی په دوؤ مختلفو سببونو سره د دوؤ تنو د ډے نه - او دغه شیز د دریم په لاس کښ وی - او تاریخ د دوارو یو وی - نو حکم به کیږی د پاره د دوارو مدعیانو په شریکه - (میزان)

شاهدان د دوؤ تنو چه دوارو دعوه کړے وی د ملکیت د یوشی په دوؤ مختلفو سببونو سره د دوؤ تنو د ډے نه (د دے مثال وړومبیه بیان شوبیدے) او دغه شیز د یو دریم سړی په لاس کښ وی - او یو مدعی تاریخ ذکر کړے وی - بل نه وی ذکر کړے - نو[1] حکم به کیږی د پاره د دوارو مدعیانو په شریکه (میزان)

شاهدان د دوؤ تنو چه دوارو دعوه کړے وی د ملکیت د یوشی په دوؤ مختلفو سببونو سره د دوؤ تنو د ډے نه - (د دے مثال مخکښ تیر شوبیدے) او دغه شے د دوارو مدعیانو په لاس کښ وی - او دوارو تاریخ نه دی خودلے نو حکم به کیږی د پاره د دوارو مدعیانو په شریکه - (میزان)

شاهدان د دوؤ تنو چه دوارو دعوه کړے وی د ملکیت د یوشی - د دوؤ تنو د ډو نه (د دے مثال مخکښ تیر شوبیدے) او دغه شیز د دوارو مدعیانو په لاس کښ وی - او دوارو یو تاریخ خودلے وی - نو حکم به کیږی د پاره د دوارو مدعیانو په شریکه - (میزان)

شاهدان د دوؤ تنو چه دوارو دعوه کړے ئی د ملکیت د یوشی په دوؤ مختلفو سببونو سره د دوؤ تنو د ډے نه (مثلاً یو مدعی وائی چه دا شے ما په بیعه اخستے دے د زید نه - او بل مدعی وائی چه دا ما ته را بخلے دے بکر) او دغه شے د دوارو په لاس کښ وی - او یو مدعی تاریخ خودلے وی - بل نه دے خودلے - نو حکم[2] به کیږی د پاره د دوارو مدعیانو په شریکه (میزان)

---

[1] دا حکم بنا دے د امام اعظم صاحب رح په قول باندے - او صاحبینو رح ترے خلاف کړیدے - ۱۲ ح -

[2] دا حکم بنا دے د امام اعظم صاحب رح په قول باندے چه مفتی به دے - او صاحبینو رح ترے خلاف کړیدے - ۱۲ ح

مسئلے دَغصب

(یعنے دَچا نه څه شے په زور اخستل)

شاهدان دَ زید او دَ بکر چه دعوه ئے کړے وی دَ یو داسے توکی چه وی په لاس دَ دواړو کښ نو زید شاهدان وُدروی په دے خبره چه دا توکے ځما نه بکر په زور آخستے دے۔ او بکر په دے خبره چه زید دا ته په زور اخستے دے نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه۔ چه نیم دَ یو شی او نیم دَ بل۔ (انقروی)

شاهدان دَ دوؤ تنو چه اختلاف ئے را غلے وی په برید کښ یا په یو داسے دیوال کښ چه وی په مینځ کښ دَ دوؤ برخو۔ نو هر یو دَ دے دواړو نه شاهدان په دے خبره ودروی چه دا ځما حصه ده درغلے ده دَ دے بل لاس له نو حکم به کیږی دَ پاره دَ هر یو تن دَ دے دواړو نه په هغه حصه سره چه دَ هغه بل په لاس کښ ده۔ (غانم)

دَ اجارے مسئله

شاهدان دَ دوو تنو چه هغوی دعوه کړے وی دَ یو داسے کور چه وی په لاس دَ بل سړی کښ او هر یو دَ دے دواړو نه شاهدان وُدرولی ئی په دے خبره چه دا کور ما دے خاوند دَ قبضے له په لس روپئ اجاره ورکړے دے۔ او دا ځما ملک دے۔ او حال دا دی۔ چه خاوند دَ قبضے منکر وی دَ دواړو دَ دعوے نه نو حکم به کیږی په دغه کور سره دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه۔ (هندیه)

تتمه

دَ چا شاهدی چه نه قبلیږی دَ هغوئ بیان

نه قبلیږی شاهدی دَ ړوند هر ځائ چه وی۔ (یعنے برابره خبره ده چه دَ شاهدی کولو په وخت کښ ړوند وی او که پس دَ شاهدئ نه دَ قاضی دَ حکم کولو نه وروستو ړوند شوے وی۔ او برابره خبره ده چه دغه شهادت دَ دے قسمه وی چه صرف په آواز باندے وسره هم کیږی او که نه۔ لکن دَ امام ابو یوسف صاحب رح خلاف پکښ شته۔ او دارنګ نه قبلیږی شاهدی

---

[1] کور به دَ دواړو مدعیانو نیم نیم۔ او که خاوند دَ قبضے په کښ اوسیدلے وی۔ نو لس روپئ کرایه به ترے هم واخلی۔ پنځه به دَ یو شی او پنځه دَ بل۔ لکه چه ویلی دی په قاضیخان کښ۔ ۱۲ مترجم محمد ابراهیم غفرله

دَ چا یا (برابره خبره ده که په اشارے سره وی او که په خط سره.) او نه شاهدی اِنه دَ مرتد (یعنے دَ هغه چا چه مینه مسلمان وی. بیا دَ اسلام نه گرزیدلے ئی) او نه دَ مرتی (او نه دَ نابالغه هلک لکن که مرتی په وخت دَ مرتی توب کښ څه خبره لیدلے وه. بیا آزاد شه. او دَ هغے شاهدی ئے کوله. نو قبوله ده. او دا دنګ که هلک پس دَ لوئیدلو نه دَ ورکوتوالی او دَ پوهے دَ زمانے په څه خبره شاهدی کوله نو دا قبوله ده) او نه دَ هغه چاچه غفلت ئے ډیر زیات وی. او نه دَ هغه مسلمان سړی چه بل ته ئے دَ زنا کنزل کړی وی. تهمت ئے پرے لګولے ئی. او دَ هغے په سزا کښ پرے حد لګیدلے ئی. (چه اتیا دُرے دی. نو دا سے سړے اګر که توبه او باسی بیا ئے هم شاهدی نه قبلیږی) او نه شاهدی دَ قیدی په یوه دا سے واقعه کښ چه شوے وی په قید خانه کښ (مثلاً په جیل خانه کښ د ننه قید یانو څه جګړه وکړه. بیا بعض په بعضو شاهدی کوله نو دا شاهدی[٣] نه قبلیږی. ځکه چه قید نه په دَ څه جرم په سبب اچولے شوے وی نو دَ شهادت قابل به نه وی) او نه شاهدی[١] دَ ښځے دَ پاره دَ خاوند او نه دَ خاوند دَ پاره دَ ښځے. او نه شاهدی[٢] دَ فرع دَ پاره دَ خپل اصل. او نه دَ اصل دَ پاره دَ خپلے فرعے. (یعنے دَ ځوئے شاهدی نه قبلیږی دَ پلار او دَ نیکه دَ پاره دَ بره پورے. که دَ پلار دَ طرفه وی او که دَ مور. او دا دنګ دَ پلار شاهدی نه قبلیږی دَ ځوئ او دَ نوسی او دَ کړوسی دَ پاره دَ لاندے پورے. لکن که نیکه دَ نوسی دَ پاره دَ خپل ځوئ په خلاف شاهدی کوله نو دا شاهدی قبوله ده) او نه شاهدی دَ خپل مرتی دَ پاره. او نه شاهدی دَ یو شریک دَ بل شریک دَ پاره دَ هغه شی په بابت کښ چه هغه دَ دے دواړو دَ شراکت وی. او نه دَ خاص نوکر دَ خپل نائک دَ پاره (دا سے نوکر چه نائک ورلره سالانه یا ماهانه برات یا تنخواه ورکوی) او نه دَ خادمانو او دَ تابعانو دَ خپل متبوع دَ پاره. (مثلاً زید دَ بل خدمت کوی دَ روزئ په خاطر نو دَ زید شاهدی دَ هغه دَ پاره قبوله نه ده. یا زید هسے دَ هغه سره اوسی او هغه ئے خرچه برداشت کوی. نو دَ زید شاهدی

---

[١] که دَ ښځے او دَ خاوند په مینځ کښ دَ نکاح پیوند وشوکیدلو. او لیږ علات تیرید لو نه ښځے دَ خاوند دَ پاره او خاوند دَ ښځے دَ پاره شاهدی کوله. نو دا شاهدی قبوله ده. دا دنګ ذکر دی په شامی کښ. ۱۲ مترجم.

[٢] زده کړه دا خبره چه دَ چا شاهدی دَ چا دَ پاره نه قبلیږی. دَ هغه قضا دَ هغه دَ پاره هم جایزه نه ده. نو قاضی حکم نه شی کولے دَ خپل پلار او دَ نیکه دَ پاره دَ بره پورے. دا دنګ دَ خپل ځوئ او دَ نوسی دَ پاره لاندے پورے. او که دی څوک وکیل نیولے وی نو دَ هغه دَ پاره هم حکم نه شی کولے. یله خبره دا زده کړه. که دَ دوئ تر څه مقدمه وه او یو تن دَ قاضی ځوئ وکیل کړلو یا ئے دا سے سړے وکیل کړلو چه دَ هغه شاهدی دَ قاضی دَ پاره جایزه نه ده نو که قاضی دَ دے وکیل دَ پاره حکم وکړلو نو دا حکم جایز نه دے. او که دَ دهٔ په خلاف ئے فیصله او کړله نو جایزه ده. ۱۲ مترجم.

دَ هغه دَ پاره قبوله نه ده - او نه دَ خاص شاګرد شاهدی خپل استاد دَ پاره (دَ شاګرد نه مراد عام دے که سبق زده کوی او که څه کسب خو داسے شاګرد چه دَ استاد نفعه نقصان خپل نفع نقصان ګڼړی - او استاد ئے په دوړی کښې شریکه وی) او نه شاهدی دَ هغه ښځنانه چه ودکول کوی. او نه شاهدی دَ هغه چاچه په اجرت سره سرود کوی نروی او که ښځه - او نه شاهدی دَ نوحه کرے ښځے دَ بل په مصیبت کښې (یعنے دَ هغه ښځے چه په پردی مړی ویرکوی او داسے جو کسب کړے وی - او نه شاهدی[ملی] دَ هغه دشمن چه دشمنی کوی دَ یو دنیاوی سبب په وجه (لکه زید په بکر باندے دَ زنا تهمت لګولے وو - نو اوس بکر په زید باندے شاهدی کوی - نو دا قبوله نه ده) او نه شاهدی دَ هغه چا چه ډیرے خبرے کوی - او په خبرو کښې دَ دروغو وشتیاؤ خیال نه ساتی او نه شاهدی دَ هغه چا چه په خبرو کښې ډیر قسمونه خوری - او نه شاهدی دَ هغه چاچه کنزل کول ئے عادت کړے وی - اګر که شاروی نه وی - (دَ کنزل مار نه مراد هغه څوک دے - چه ساعت په ساعت کنزل کوی - او که کله ئے کنزل د خولے نه ختلو نو په دے سره دَ عدالت نه نه وزی) او نه شاهدی دَ هغه چاچه منعه کوی زکوة (یعنے نه ورکوی) او نه شاهدی دَ هغه چا چه دَ جماعت مونځ پریږدی - یا دَ جمعے مونځ پریږدی - بے دَ څه عذر نه - او نه شاهدی دَ هغه چا چه دَ مړیو لو نه زیات طعام خوری بے دَ څه عذر نه - (عذر به داسے وی - لکه دَ میلمه په خاطر تکیائی - یا دَ صبا روژے نیولو دَ پاره ځان تکړه کوی - نو خیر دے) او نه شاهدی دَ هغه چاچه امیرونو او یا کلی ته راځی - نو دے ور ته لارے نه وروزی - (او که دَ عبرت دَ پاره وتلو یا امیر صالح او عادل وو - لکه حمومتی بادشاه صاحب او ولیعهد صاحب نو بیا دَ تعظیم دَ پاره په وتلو کښې څه بدی نشته) او نه شاهدی دَ هغه چاچه په لارے کښې متیازے کوی - او نه شاهدی دَ طفیلی (یعنے دَ هغه چاچه په خیراتونو پسے ګرځی - او بے بللو ور ننوزی) او نه شاهدی دَ مسخره (یعنے دَ هغه لوګی چه توقے کول ئے عادت ګرزیدلے وی - او مشهور په دے سره وی) او نه شاهدی دَ هغه بخیل چه مضبوط وی په بخل کښې - او نه قبلیږی شاهدی دَ هغه چاچه تعصب (کینه) ئے وی دَ بل سره - او نه شاهدی دَ هغه چاچه هر وخت منتظر اوسی دَ مړو دَ کفنونو خبر شولو

ملی په قنیه کتاب کښې ئے دا وړی دی - چه دَ دشمنئ په وجه دَ شاهدی نه قبلیدل عام نه دی - او په بحر او په شامی کښې ئے دا هم راوړی دی - چه شاهد که عادل او ثقه وو - نو شاهدی ئے قبوله ده - اګر که دَ دوارو په مینځ کښې دَ څه دنیاوی خبرے په وجه دشمنی هم وی - ۱۲ - مترجم

دپاره۔ ځکه چه دے دَ کفنونو خرخیدلو دَ پاره دَ خلقو دَ مرګ آرزو کوی۔ او که توکی ئے خرڅول او خلقو ترے کفن هم اَخسته نو شاهدی ئے قبوله ده) او نه شاهدی دَ هغه وکیلانو چه راجمع کیږی۔ دَ قاضیانو په دروازه او دَ فیصلما دانو دَ طرف نه په مقدموکښ وکالتونه کوی۔ نو شاهدی ئے نه قبلیږی دَ خساست او دَ سپکوالی په سبب۔ او نه شاهدی دَ جګړه کونکی وکیل۔ مثلاً دَ زید زر روپئ دی بکر ته نو خالد ئے وکیل کړلو چه ته دَ بکر نه دغه روپئ راوا خله۔ او جګړه مقدمه ورسره وکړه۔ نو په دے باب کښ دَ خالد شاهدی قبوله نه ده۔ او که بیا زید ونګیږه۔ خالد ئے دَ وکالت نه وبیستلو۔ نو دَ دے نه پس که دَ قاضی په مخکښ خالد شاهدی کوله۔ چه دَ زید بکر ته زر روپئ پورے دی۔ نو دا شاهدی هم قبوله نه ده) او نه شاهدی دَ هغه چا چه بے وجے دَ نشے څیزونه سکی په طریقه دَ همیشوالی سره۔ او نه شاهدی دَ هغه چا چه دَ خلقو په تولی کښ دَ هلکانو او دَ نورو ځوانانو سره لیے کوی۔ ځکه چه داسے سړے غالباً بے مروته وی۔ او بے پروا او دروغژن) او نه شاهدی دَ کبوتر باز (یعنے دَ هغه چا الوزوی کوترے او دَ پردو کورونو دَ ستر خیال نه ساتی۔ چه خیجی کوټے ته۔ نو دَ داسے سړی شاهدی قبوله نه ده۔ او که کوټے ته نه ختوت۔ مګر کوترے ئے الوزولے دَ پاره دَ دے چه پردے کوترے ورسره راشی۔ او دغه پردے کوترے به ئے بیا خرڅولے۔ یا به ئے خوړلے۔ نو دَ داسے سړی شاهدی قبوله نه ده۔ او که دا خبرے پکښ نه وے صرف ئے کوترے ساتلے۔ او عادتاً ئے نه الوزولے۔ او سړے نه وو۔ نو بیا دَ داسے سړی شاهدی قبوله ده) او نه شاهدی دَ تنبورو وهونکی۔ او نه دَ سورنی وهونکی۔ او نه دَ هغه چا چه ناسته ولاړه دَ ګناهونو په مجلسونو کښ کوی۔ او نه دَ هغه چا چه داسے ګناه کوی چه حد پرے لازمیږی) او نه دَ هغه چا چه دَ خلقو په مخکښ خپل عورت ښکاره کوی۔ (دَ نامه ته دَ زنګانه پورے نه عورت وئیلے شی) او نه دَ هغه چا چه لوبه[1] دَ نرد کوی۔ یا جواری کوی په شطرنج سره۔ او نه دَ سودخور[2] او نه دَ هغه چا چه په لارے لارے دَ مړیبلو خوراک کوی۔ او نه دَ هغه چا چه اسنجا کوی دَ خلقو په مخکښ (په ښکاره) او نه دَ هغه چا چه په ظاهره کنځل کوی سلف ته (یعنے یو تن ته دَ اصحابو کرامو نه یا دَ مجتهدینو اماما نو نه) بلکه یا دروستنو عالمانو ته۔ او منه شاهدی دَ وصی چه دَ دغه مړی دَ پاره په څه حق سره شاهدی کوی۔ اګر که دا وصی

---

[1] دا دَ شطرنج په شان یوه لوبه ده - او دَ شیر ابن بابک ایجاد کړے - او دَ دے وجے نه دے لوبے ته نردشیر وئیلے کیږی - ۱۲ مترجم۔

[2] خو دا ضروری ده چه په سودخوریٔ سره مشهور شوے وی لکه چه دَ دے نورو اکثرو وجوهاتو دَ پاره هم شهرت ضروری دے لکه چه وئیلی دی په تکمله دَ شامی کښ۔ ۱۲۔ مترجم۔

اوس وصی نه وی ۔ بلکه ایستلے شوے وی ۔ دَ وصی توب نه (مثلاً زید دَ مړی وصی دے ۔ نو دَدهٔ شاهدی دَ دغه مړی دَ حق دَ پاره قبوله نه ده ۔ اوکه قاضی په څه وجه دے دَ وصیتوب نه وبیستلو ۔ او بیا دهٔ شاهدی کوله ۔ دَ دغه مړی په څه حق سره نو دا شاهدی هم قبوله نه ده) هرځنګه چه وی (یعنے برابره خبره ده که زید دَ وصینوب په حالت کښې په دے بابت کښې یو ځل جګړه مقدمه کړے وی ۔ اوکه نه ۔ او دارلټ حکم دے دَ وصی دَیتیم) او قبول نه ده شاهدی دَ هرهغه چا چه یو ځل دَ شهادت په دغه واقعه کښې جګړه کونکے کړدیں لے وی ۔

" دا تول بیان چه ذکر شه ۔ راخستے شوبیے ۔ دَ درر کتاب نه او دَ هغے دَ حاشیو نه "

آو نه قبلیږی شاهدی دَ هغه چا چه دَ یتیم مال خوری ۔ آو نه دَ هغه چا موږ دَ جماعت پریږدی ځکه چه څه لویه خبره نه ګڼړی ۔ یا په وجه دَ بے پروایئے یا په وجه دَ فاسق والی ۔ آو نه دَ لولی ۔ او نه دَ شعبده باز (بازیګر) آو نه دَ هغه فاسق چه پروا نه لری ۔ چه څه ږ وکړلو ۔ او نه هغه شاعر چه په خپلو شعرونو کښې دَ بل بد وائی ۔ او نه دَ هغه چا چه په مجموعو کښې دَ نود ځوانانو سره پرندل کوی ۔ او نه شاهدی دَ لښکر دَ پاره دَ خپل امیر که لښکریان لږ وی ۔ اوکه ډیر وی ۔ نو بیا قبوله ده ۔ او دَ ډیر نه مراد دا دے ۔ چه دَ سلوکسانو نه زیات وی " دا دارلټ ذکر دے په هندیه کښې " او نه قبلیږی شاهدی دَ هغه چا چه فیصلماران را حاضر وی قاضی ته (ځکه چه دا سے سړے غالباً رشوت خوروی) آو نه شاهدی دَ دستاویز لیکونکی (لکن که عادل او نیک وو ۔ نو صحیح خبره داده چه قبلیږی) او نه شاهدی دَ دلال (یعنے په کوم واقعه کښې چه دَ دلالی کړے وی ۔ مثلاً دوه دلالان شاهدی کوی ۔ چه دا شے مونږ په فلانی خرڅ کړیدے ۔ نو دا شاهدی ئے قبوله نه ده ۔ او یا ترے عام شاهدی مراد ده ۔ نو صحیح خبره داده ۔ چه دلال که دروغژن او قسمونه خوړونکے نه وو ۔ بلکه نیک سړے وو ۔ نو په نورو خبرو کښې ئے شاهدی قبوله ده) آو نه شاهدی دَ قرضخواه چه شاهدی کوی دَ پاره دَ خپل قرضداری پس دَ مرګه دَ دغه قرضداری ته ۔ آو نه شاهدی دَ هغه چا چه بل ته ئے کنځل دَ زنا کړے وی ۔ او بیا دَ دے تهمت لګولو په سزا کښې پړے اَتیا درے لګیدلی لے ئی) آو نه شاهدی دَ عبیت دَ پاره دَ خپل عامل یا دَ پاره دَ خپل رئیس ۔ (ځکه چه دے دَ خوف په وجه دَ هغه نه مخ نه شی اړولے) او نه شاهدی دَ جاهل په یو شریف عالم باندے ځکه چه جاهل لره تصرف نشته په عالم ۔ او مراد دَ عالم نه هغه څوک دے ۔ چه دَ عبارت نه معنے راایستلے شی ۔ په مناسب طریقه ۔ او نه دَ هغه چا چه دَ شاهدان ودرونکی نه لا طلب دَ شاهدانو

نه وی شوے ۔او دے په مخکښ شاهدی کول شروع کړی۔ او حال داوی چه په کوم څیز شاهدی کوی ۔هغه دَ مال دَ جنسه وی۔ او نه دَ هغه نا سنته سړی چه سنتا ئے پرېښی وی په وجه دَ سپک نظر کولو دین ته۔

« دا قول بیان راغستے شویدے دَ فتاوی تمرتاشی نه »

او قبوله نه ده شاهدی دَ غل۔ او دَ شوک مار۔ او دَ زناکار۔ او دَ هغه چا چه دَ لوط دَ عمل په شان بدفعلی کوی۔ (یعنی لواطة) او دَ هغه چا چه شراب سکی ۔ او وارۀ پودے تو قے مسخرے کوی۔ او دَ هغه چا چه دَ شطرنج لوبے په وجه تیرے پاتے کبیری مونځ۔ او دَ هغه چا چه په دروغه قسمونه خوری ۔ او دَ حرام خور چه دَ دے خبرے پروا نه ساتی۔ چه دا مال م دَ کوم ځائے نه حاصل کړلو۔ او دَ غټ دروغژن چه مشهور وی په دے سره

« دا رنګ ذکر کړیدی۔ خصاف په ادب القضا کښ »

(دَ رور دَ پارۀ شاهدی قبوله ده۔ او دارنګ دَ تره دَ پارۀ۔ او دَ هغه چا دَ پارۀ چه دَ ئی روړلو په وجه ئے ورسره نکاح حرام شوے وی۔ او دَ خسر دَ پارۀ او دَ خواښے دَ پارۀ ۔او دَ زوم دَ پارۀ دَ نګور دَ پارۀ ۔ او قبوله ده شاهدی دَ نا سنته سړی که سنتا ئے پرېښی وی په سبب دَ عذر او دَ خصی سړی او دَ پریکړی شوی سړی او دَ ولدالزنا۔)

خاتمه

په بیان دَ تهاتر او دَ تواتر کښ

تهاتر په لغت دَ عربی کښ څه ته وائی ؟

ذکر دی په مغرب کتاب کښ چه کوم وخت شهادتونه وغورزیګی او بیکاره شی۔ نو په عربی کښ وائی۔چه شهادتونه متهاتر شول۔ او دارنګ " تَهَاتَرَ الْقَوْمُ " و تیلے کیږی کوم وخت چه خلق په یو بل باندے دَ دروغو دعوے وکړی۔

تهاتر:۔ لفظ اخستے شویدے دَ " هتر " نه او هتر په لغت دَ عربی کښ بیکاره خبرے او غلطے او خطا خبرے ته و تیلے شی۔ او کوم شاهدی چه په شریعت کښ حجت نه ده ۔هغه هم ده ۔ دَ تهاتر دَ قبیلے نه۔ ختم شه مضمون دَ مغرب۔ او و تیلی دی فیروز آبادی چه په عربی کښ وائی تَهَاتَرَ کوم وخت چه هر یو په یل په دروغه دعوه وکړی۔ او تهاتر هغه شهادتونه دی چه په کوم سره دَ یو بل دروغ ثابتیږی۔

ختم شه مضمون دَ فیروزآبادی۔ او دارنگه په مصباح کتاب کښې هم ذکر دی ۔ اودَ فقهٔ دعالمانو
په نزد شهادتونه چه دی۔ بعض لګی بعض باطله ئی او بیکاره کیږی۔ دَ وجے دَ یو شو سببونونه۔ یا
خو ځکه چه هغه دَ یو بل سره تکراوُ شی او معارض شی ۔ او یا ځکه چه خبره نا ممکنه وی۔
او یا ځکه چه دَ شریعت نه خلاف وی۔ دَ دلیل دی په محیط کتاب کښې ۔که دَ یو آزاد سړی
په قبضه کښې یو کوړ ۔ او شاهدان ئے په دے خبره وددول چه داکور ځما دے ۔ما په
دے مکاتب[1] باندے په زر روپئی خرځ کړیدے ۔ اودغه مکاتب شاهدان په دے خبره
وُددول چه دا کور ځما دے۔ ما په دے بنجه په زر روپئی خرځ کړیدے اودغه بنځے
شاهدان وُددول په دے خبره چه دا کور ځما دے ما په دغه آزاد سړی چه دغه کور ئے او س
په قبضه کښې دے په زر روپئی خرځ کړیدے ۔ او ټولو تاریخ ونخوو دَ بیعے نو دَ امام اعظم
صاحب رح او دَ امام ابویوسف رح په قول باندے دا ټول شهادتونه باطل او بیکاره دی ۔ او کوړ
په پاتے کړے شی دَ خاوند دَ قبضے په قبضه کښې ۔ نو دا نه ده ۔چه کوند دے ئے او س
مستحق وګرځیده ۔ خو دَ ده وه ۔ او ورسره جو پاتے کړے شه ۔برابره خبره ده که شاهدانو
په بیعه شاهدی کړی وی ۔ او په قبض کولو ئے شاهدی نه وی کړے[2] یعنے په دے خبره ئے
شاهدی نه وی کړی چه دے اخستونکی دَ خرڅونکی نه داکوړ قبض کړے دو) او یائے په بیعه
او په قبضه کولو دواړو باندے شاهدی کړی وی۔ دلته دَ شهادتونو دَ رد کیدو وجه داده
چه شهادت دَ شاهدانو دَ هریو تن دا غواړی چه دے دِ خرڅونکے شی ۔ او شهادت دَ هغه بل
دا غواړی چه دے دِ نیغهٔ اخستونکے شی ۔ اودا دواړه خبرے یوتربله معارضے دی ۔ (نو دَ دے وجے
نه تهاتو واقع) او که څوک په اعتراض کښې او وائی چه بنا نیږدی دا خبره چه دَ شیخینو رح په نزد
په دے مسئله کښې شهادتونه ونه غورزیږی په سبب دَ دے چه دا شهادتونه یوتربله معارض نه
دی ۔ځکه چه مُدعی چه دَ کوم شی دعویٰ په مدعا علیه کړے وه ۔ مدعا علیه هغه شی دعوه په خپل مدعی نه کوی
بلکه مدعا علیه کړے وه ۔ مدعا علیه خو دعوه کوی په بل باندے په خلاف دَ هغه مسئلو نه
چه تیرے شو بیدی ځکښې ۔ نو مونږ به وایو په جواب کښې چه په تیروشوو مسئلو کښې دَ
شهادتونو دَ غورزیدلو وجه دا نه ده ۔ چه هلته مدعا علیه په خپل مدعی باندے دَ هغه

---

[1] مکاتب هغه مریٔ دے په خپل مالک ورسره څه روپئی کړے وی ۔ چه دومره روپئی راکړه نو ته به آزاد
ئے ۔ ۱۲ ۔ مترجم

[2] یعنے ځکښې تیرے شوے دی په محیط کتاب کښې او دلته نه دی نقل کړے شوی ۔ او هغه مسئلے دا دے قسمه
دی ۔لکه چه زید شاهدان وُددرول چه دا عمرو بکر ته په بیعه آخستے ۔ او بکر شاهدان وددرول چه دا ما دَ زید نه
په بیعه اخستے دے اودواړه تاریخ وُنخنی ۔۱۲ ۔ مترجم محمد ابراهیم عفی عنه

شي دعوه کړې ده ـ دکوم چه مدعي په ده کړیده ـ بلکه وجه داده چه هغه شهادتونه یوتربله
معارض دي او نا ممکن ـ او داوجه په دې مسئله کښې هم موجود ده ـ یا مونږ په جواب
کښې داوایو چه ؤ هلته دَ شهادتونو غورزیدلو وجه هم هغه ده ـ چه کوم تا خوولے ده ـ اے
معترضه ! لکن دَدې مطلب دا نه دے چه بل ځائے دې دَ بلے وجې نه شهادتونه ؤ نه
غورزولے شي ـ (کیدے شي چه دَ یو شي دَ پاره ډیر سببونه وي)) او مونږ چه ویلي دي چه
داوجه په دې مسئله کښې هم موجوده ده (یعنې شهادتونه یوتربله معارض دي ـ او
نا ممکن) نو دَ هغې بیان دادے چه هر مدعي په یووخت کښې هم په بیعه اخستونکے
شي او هم خرڅونکے ـ ځکه چه مونږ ته تاریخ دَ بیعې معلوم نه دے ـ نو مونږ په داسې
فرض کړو چه دا دواړه خبرې په یووخت (یوسکنډ) کښې شوې دي (او دا ناممکنه ده)
نو دَ معارض والي وجه دلته موجوده شوه ـ ختم شه دا مضمون دَ محیط ـ بیا ئې ویلي
دي په محیط کتاب کښې چه په دې مسئله کښې دَ امام محمّد صاحب رح چه کوم قول دے
په هغې کښې اضطراب دے (کمے زیاتے دے) تردې پورې چه ابو معین نسفي رح ذکر
کړې دي ـ چه دَ امام محمّد صاحب رح په قول باندې عالمانو تقریبًا دَ اتیاؤ پورې
شبهې او اعتراضونه کړي دي ـ او په دې مسئله کښې دَ امام محمّد صاحب رح په قول کښې
چه اضطراب دے دَ هغې وجه داده چه کوم وخت امام محمّد صاحبؒ دَدې کتاب
په تصنیف کښې (په جوړولو کښې) شروع وکړه ـ نوکوم سړے چه ئې دَ خپل کاروبار او دَ مال
وکیل وو ـ هغه ته ئې هدایت وکړو چه ته ما ته دَ حاجت ضرورت په بابت کښې څه مه
وایه ځما ذړه او فکر مه کډ وډ کوه ـ او هر کله چه ځما څه شي ته ضرورت پیښیږي ـ نو ته
ځما دَ مال نه څه شیز خرڅوه ـ او په ضرورت کښې ئې لګوه ـ تردې پورې چه ځما دَ اوسیدلو
دَ کور دَ خرڅولو که حاجت پیښ شه ـ نو هم ئې خرڅ کړه ـ او چه کور خرڅ کړې نو ما خبر
کړه دَ پاره دَدې چه زه ترې او وځم ـ او کور اخستونکي ته وسپارم ـ نو اتفاق دَ دې خبرې
پیښ شه ـ چه کوم وخت امام محمّد صاحبؒ دَدې باب په مسئلو لیکلو کښې شروع وکړه
چو هغه وکیل راغے ـ او دے وئیل چه ما ستا کور خرڅ کړو ـ نو دَ امام محمّد صاحبؒ په
ذړه کښې تشویش پیدا شه ـ او فکر ئې کډ وډ شه ـ دَدې وجې نه په دې قول کښې ئې
اضطراب راغے ـ ختمه شوه دا خبره دَ محیط ـ او ذکر دي په ذخیره کتاب کښې په وضاحت
سره ـ چه کوم شهادت په شریعت کښې حجت نه وي ـ نو هغه دے دَ تهاتر دَ قبیلې نه ـ او دَ دې
باب نه یو هغه صورت هم دے ـ کوم چه ابن سماعه نقل کړیدے دَ امام ابو یوسف صاحبؒ

نه په بابت دَ دوو شاهدانو کښې چه شاهدی ئے کړے لی په یو سړی باندے دَیو خبرے دَیو کار۔ داسے خبره اوکار چه لازمیږی په هغے سره اجاره یا مکاتب ولے یا بیعه یا قصاص یا څه مال یا طلاق یا آزادیدل دَ مرئی یادَ ینځے او دواړو شاهدانو ځائے او تاریخ نه وی خولے وی۔ (چه په فلانی ځائے کښې په فلانئ ورځ ئے دا خبره کړیده۔ یا دا کار ئے کړے دے) نو په چا چه شاهدی شوے وی۔ بیا هغه شاهدان وددروی په دے خبره چه زهٔ نهٔ وم په دغه ځائے کښې او په دغه ورځ لکه چه دا شاهدان بیانوی۔ نو دا شاهدان دَ من عاعلیه قبول نه دی۔ او دارنګ هم هغه شاهدان چه ودریږی په دے خبره چه فلانی دا خبره نه ده کړے دا کار ئے نه دے کړے۔ دا اقرار ئے نه دے کړے۔ دا نه ول داخل دی په تها تر کښې (یعنے دا قسم شهادت قبول نه دے)

که یو سړی شاهدان ودروی په دے خبره چه دے زید دَ لوئ اختر په ورځ په مکه شریفه کښې زهٔ په دے زخم سره زخمی کړے یم۔ او قاضی حکم وکړلو په دے شهادت سره۔ بیا زید شاهدان ودروی په دے خبره چه دَ دے مدعی دے یو شاهد زهٔ په کوفه ښهر کښې دَ لوئ اختر په ورځ زخمی کړے یم۔ نو زهٔ نه قبلوم شاهدان دَ زید په دے خبره باندے۔ او که داسے صورت وی چه ما مینه دَ مدعی په شاهدانو سره حکم نه وی کړے نو دے پورے چه دَ دواړو جانبو دا شهادتونه او دا دعوے جمع شی۔ نو زهٔ به دواړه شهادتونه ردکړم۔ چه دواړه باطل او هیکاره دی۔ او وینلی دی دَ حدونو په مسئلو کښې۔ که څلور تنو په زید شاهدی کوله چه دے زید په مکه شریفه کښې دَ لوئ اختر په ورځ دَ فلانئ ینځے سره زنا کړے ده۔ او نور دوه تنو شاهدی کوله په دے خبره چه دے زید دَ لوئے اختر په ورځ په کوفه ښهر کښې فلانے سره وچلے دے۔ او یا دا دویم شهادت دَ نکاح یادَ طلاق یادَ مرئی آزادولو یا دَ زخمی کولو په بابت کښې وو۔ او یا یو سړی خپلو دوو مریونو دَ بیلی وَرځې په تاسو دواړو کښې چه چا دا دوډئ او خوړله هغه آزاد دے۔ بیا دوو مریو شاهدانو شاهدی کوله په دے خبره چه دوډئ دے مرئ خوړلے ده۔ او نور دوو تنو په دے خبره شاهدی کوله۔ چه هغه دے بل مرئ خوړلے ده۔ (نو په دے مسئلو کښې) زهٔ نه قبلوم شهادتونه دَ دواړو جانبو۔ او که دَ یو جانب شاهدانو مخکښې شاهدی وکړه۔ او قاضی دَ هغوی په شهادت سره حکم وکړلو۔ پس لا دَ بل جانب شاهدانو شاهدی کوله په هغه خبره چه کومه موږ مخکښې ذکر کړے ده۔ نو قبول نه دے شهادت دَ دے دویم۔ او که قاضی دَ دواړو فریقو شهادتونه

له مثلاً دے دوو تنو دا شاهدی کوله چه دے زید دَ لوئ اختر په ورځ په کوفه ښهر کښې فلانئ ینځه په نکاح اخستے ده۔ وغیره وغیره - ۱۲ - مترجم

رد کړل - بیا یو فریق مړ شه - بیا دویم فریق شاهدی وکړه په هغه خبره چه پرکوم مے تخکښ کړے وه - نو قبوله نه ده شاهدی دَدی - او که تور دوه شاهدان ئے را وستل نو بیا قبوله ده او په دے بنا باندے که دوؤ تنو شاهدی کوله په دے خبره چه دے سړی دَ لوئ اختر په ورځ په کوفه ښهر کښی خپله ښځه چه نوم ئے عمره وه طلاقه کړیده - او نورو دوؤ تنو شاهدی کوله په دے خبره چه دهٔ دَغه ښځه دَ لوئ اختر په ورځ په مکه شریفه کښی طلاقه کړے ده - او یا شاهدانو شاهدی کړی وی په طلاقو دَ جدا جدا ښځے باندے - (مثلاً وړومبنو شاهدانو وئیل چه عمره ئے طلاقه کړے ده - او نورو وئیل چه هنده) نو قبول نه دے شهادت دَ دواړو فریقو او که یو فریق میته شاهدی وکړه - او قاضی پرے حکم وکړلو - پس لا بل فریق شاهدی کوله نو قاضی به حکم نه کوی په شهادت دَ دویم فریق سره - او که دعوه وکړه دوؤ تنو دَ یو سړی دَ میراث او هر یو شاهدان وړړل په دے خبره چه فلانے چه مړ دے هغه ځما مرئے وو ما آزاد کړے وو - بیا مړ شوے دے - او بے ځما نه بل وارث معلوم نه دے - نو مونږ یه میراث دَ دغه مړ سړی دواړو مدعیانو له ورکړو - دواړه به ئے نیمه کړی - او که په دے دواړو کښی یو مدعی وړومبے دعوه وکړه - او قاضی ورله حکم وکړلو په میراث ورلو سره - پس له دغه بل مدعی په خپله دعوه باندے شاهدان وړړل - نو قاضی به نه قبلوی شاهدان دَ دے دویم مدعی - او که څلورو تنو شاهدی وکړه په یو سړی او په یوه ښځه دَ زنا - بیا نورو څلورو تنو شاهدی وکړه په یو سړی او په یوه ښځه دَ زنا - بیا نورو څلورو تنو شاهدی کوله په دے شاهدانو باندے چه دی زناکاران دی - نو دا بیکاره خبره ده - یعنے شهادت دَ دے دویم فریق قبول نه دے دَ امام اعظم صاحب رح په نزد او امام ابویوسف صاحب رح او امام محمّد صاحب رح وائی چه حد دَ زنا به لګی په وړومبی فریق باندے دَ دے دویم فریق په شاهدئ سره او په چا چه وړومبنی شاهدانو دغه شاهدی کړے وه - په هغه به حد دَ زنا لګی -

او کوم وخت چه قاضی فیصله وکړی دَ چا دَ پاره په شهادت دَ هغه شاهدانو چه دهٔ وړړولی وی که مدعا علیه او وئیل چه زه شاهدان ګدړوم په دے خبره چه دَ دعوے دا شے ځما دے نو قبول نه دی شاهدان دَ مدعا علیه دَ دے دلیل نه اشاره کړیده امام محمّد صاحب رح په اصل کښی - نو وئیلی ئے دی چه که زهٔ دَ دهٔ شاهدان قبول کړم - نو بیا به دَ هغه بل شاهدان هم دَ دے په شان قبلوم - نو دَ دے بیا څه حد نشته - په دے دلیل سره دے ته اشاره وکړه چه مدعا علیه له که دَ دے خبرے موقع ورکړے شی - چه دَ قاضی دَ حکم ماتولو دَ پاره

دَ شاهدانو ورنړی په خپل مالکوالی باندې چه داشے حُما دے۔ نو دَمدعی دَپاره به هم جائزه وی چه شاهدان ورډوی په دې خبره چه دا حُما دے۔ یا به مدعا علیه شاهدان ورډوی چه دا حُما دے۔ نو بیا دا سلسله نه ختمیږی نو شی به دَ تهاتر دَ قبیلے نه۔ نو نه به قبلیږی۔ لکن صحیح خبره دا ده۔ چه دَمدعا علیه شاهدان چه دی۔ دی ورډیږی دَ قاضی دَ حکم په ماتولو باندے۔ نه دَ پاره دَ ثابتولو دَ څه شی۔ او کوم شاهدان چه دَ قاضی دَ حکم په ماتولو ورډیږی هغه نه قبلیږی هر څنګه چه وی۔ او څه رنګ په قبول شی۔ او حال دا دے چه په هغے سره دا سے خبره لازمیږی چه دَ کوم اړدو حد نشته۔ لکه چه مونږ مخکښې ذکر کړیدی۔ او وئیلی دی (امام محمد صاحبؒ) دَ وصیتونو په مسئلو کښې۔ که دوؤ تنو شاهدی وکړه په دے خبره چه زید وئیلی وو چه زهٔ که قتل شوم نو حُما دا مرئے آزاد دے۔ او زید وجلے شویدے۔ او نورو دوؤ تنو شاهدی وکړه په دے خبره چه زید مړ شوے دے په خپل مرګ۔ نو حکم به کیږی چه دغه مرئے آزاد دے۔ دَ دریمے[1] حصے دَ میراثے نه۔ او چاچه شاهدی کړے ده چه زید په خپل مرګ مړ دے۔ دَ هغو شاهدی قبوله نه ده۔

او دا رنګه حکم دے۔ که دوؤ تنو شاهدی وکړه په دے خبره چه زید وئیلی وو۔ چه ما ته که په دے سفر کښې څه حادثه پیښه شوه۔ ناجوړه شوم۔ نو حُما دا مرئے آزاد دے۔ او زید په دغه سفر کښې ناجوړه شوے وه۔ او مړ شوے دے۔ او نورو دوؤ تنو شاهدی کوله په دے خبره چه زید دَ دغه سفره کورته راغلے وو۔ او دغه مرض نه جوړ شوے وو۔ بیا وروستو دَ بل مرض نه مړ شوے په خپل کور کښې (نو شاهدان دَ آزادئ غوره دی) یا یو سړی وئیلی وو۔ چه زهٔ که دَ دریمے خور په میاشت کښې مړ شوم۔ نو حُما فلانے مرئے آزاد دے۔ او که په بزکم میاشت کښې مړ شوم۔ نو بل فلانے مرئے م آزاد دے۔ نو اوس دوه تنه شاهدی کوی چه دغه سړے په دریمه خور کښې مړ شوے دے۔ او دوه تنه په دے خبره شاهدی کوی۔ "چه په بزکه کښې مړ شوے دے" نو زهٔ قبلوم خبره دَ هغه چاچه شاهدی کوی په وروستی تاریخ باندے۔ او غوره به نه کړم دَ هغو نورو خبرو ته (یعنی شاهدان دَ دے خبرے غوره دی چه په دریمه خور کښې مړ شوے دے) او که مریض

---

[1] کوم مرئی ته چه مالک وئیلی دی چه ته پس حُما دَ مرګ نه آزاد ئے۔ هغه ته مدبر وئیلے شی۔ حکم ئے دا دے چه مالک ئے مړ شی۔ نو موږ به ګورو که میراث ئے دو مره وه۔ چه دَ دغه مرئی قیمت دَ دغه میراث دَ دریمے حصے نه کم وه یا ورسره برابر وه نو دے به بالکل آزاد شی۔ او که میراث ئے صرف دا مرئے وو نو دَ دے مرئی څه قیمت دے هغه به دَ دریمے حصے شی۔ دوه حصے قیمت کښې به دا مرئے کوشش کوی۔ چه ته به ګوری۔ او دَ مالک میراث خورو له ورکوی۔ نو پوره به آزاد شی۔ او که په دے صورت کښې په مالک قرضه هم وه۔ نو دا مرئے به په خپل ټول قیمت کښې کوشش کوی ۱۲ مترجم

وېلي وو. چه زۀ که دَ دے مرض نه مړ شوم. نو ځما زید مرئے آزاد دے. او که دَ دے مرض
نه جوړ شوم. نو ځما فلانے مرئے مثلاً سالم آزاد دے. نو اوس زید وائي چه هغه
مړ شوے وو. دَ هغه مرض نه. او میراث خواره دَ هغه مریض وائي. چه هغه جوړ شوے
وو. دَ دغه مرض نه. نو خبره دَ میراث خورو معتبره ده. خو دوی به قسمونه هم کوي.
او سالم به آزاد شي. ځکه چه میراث خورو اقرار وکړلو چه دَ هغه دَ آزادئے شرط موجود
شوے دے. یعنے مریض دَ دغه خاص مرض نه جوړ شوے وو. پس که زید شاهدان ودرول
په دے خبره چه هغه مړ شوے دے. دَ دغه خاص مرض نه. نو شاهدان ئے قبول دي. او
حکم به کیږي چه زید آزاد شوے دے. او سالم هم آزاد شه. په سبب دَ اقرار کولو دَ میراث
خورو او که دَ دواړو جانبو شاهدان یو ځائ ودریدل. (یعنے دَ زید شاهدانو شاهدي کوله چه
هغه دَ دغه خاص مرض نه مړ دے. او دَ میراث خورو یا دَ سالم شاهدانو شاهدي کوله.
چه هغه دَ دغه مرض نه جوړ شوے وو) نو شاهدان دَ زید قبول دي. او زۀ نه قبلوم شاهدان
دَ هغه بل. او دا حکم غیر دے دَ هغے صورت نه چه میراث خور شاهدان ودروي په دے
خبره چه ځما پلار (مثلاً) مړ دے په فلاني تاریخ. بیا یو بل شاهدان ودروي په
دے خبره چه دَ دے مدعي دغه پلار (چه دے وائي مړ دے) زۀ ئې نکاح اخستے یم دَ هغه
تاریخ نه وروستو کوم چه دے مدعي خودلے دے. ځکه چه په دے صورت کښې شاهدان
دَ تیښے قبول دي. او منقول دي په یو داسے کتاب کښې چه امام محمّد صاحبؒ ئے په رقه
مقام کښې املا کړے وه چه وېلي دي امام محمد صاحب رح هر هغه مدعي چه دعوه کوي
په یو بل باندے دَ یو داسے شي چه لازمیږي په هغے سره څه حق او ودروي شاهدان په
دے خبره چه دَ ده دا کار په فلانئے ورځے په فلاني ځائے کښې کړیدے. او مدعا علیه
شاهدان ودروي په دے خبره چه زۀ (په دغه ورځ) په فلاني ځائے کښې وم. او حال دا
دي چه په یوه ورځ کښې دَ ده موجود والے دواړو ځایونو نه شي کیدے. او دَ مدعا علیه دا خبره
یوه ښکاره خبره نه وي. نو شاهدان دَ مدعي غوره دي. او دَ مدعا علیه شاهدان نه
قبلیږي. ځکه چه هغه غواړي چه شهادت په داسے ځائے کښې کیدي. چه کوم ځائے
شریعت نه دے ایښے. نو دا هغه له جائزه نه ده. او دَ دے قبیلے نه دا لاندې مسئله دی.
یو مدعي شاهدان ودروي په بل باندے چه دَ ده په وړومبئ خور کښې ځما پلار قصداً
وژلے دے. او مدعا علیه په دے شاهدان ودروي چه ځما دے شاهدانو دَ ده پلار
دَ وړومبئ خور دَ دغه تاریخ نه وروستو ژوندے لیدلے دے. او ما ورله زر روپئ

قرض ورکړیدی - او هغه ورته پوره دی - یا یو مدعی شاهدان ودروی په بل باندے - چه مادَ ده پلار له زر روپئ پرون قرض ورکړی دی - او دغه بل سړے شاهدان ودروی په دے خبره چه ځما پلار مړ شویدے دَ پرون نه وړومبیه - یا یوه ښځه دوه سړی شاهدان ودروی پدے خبره خبره چه ځما خاوند فلانے دَ لوئ اختر په ورځ په دغه کلی کښ زهٔ طلاقه کړے یم - او خاوند ئے شاهدان وُدروی په دے خبره چه زهٔ په دغه وُرځ په مِنیٰ کښ وُم حج م کاوو - نو په دے ټولو مسئلو کښ شاهدان دَ دعوه کونکی غوره دی - او دَ مدعا علیه شاهدانو ته به قاضی غوږ نهٔ کدی - مګرهاں که ډیر کسان را غلل اوشاهدی ئے دَ دغه خبرے وکړه - او دَ هغو دغه خبره بالکل ظاهره وه - نو بیا به دَ هغو شهادت اَخلی - او که ښځے شاهدان وُدرول چه زهٔ خپل خاوند دَ لوئ اختر په ورځ په دغه کلی کښ طلاقه کړے یم - او دَ هغه مړی شاهدان ودرول چه دهٔ زهٔ په دغه ورځ په مکه شریفه کښ آزاد کړے یم - او دَ دوارو شاهدان یو ځائے شو - او حال داوو چه سړی انکار کاوو دَ دے دوارو خبرو نه - نو شهادتونه دَ دوارو باطل او بیکاره دی - او که سړی دَ یو شهادت تصدیق وکړلو او بل تکذیب ئے وکړلو (چه دے دروغ والئ -) نو حکم به وکړے شی په سړی باندے - ختم شه دا مضمون -

او مذکور دی په هدایه کښ په تصریح (وضاحت) سره چه مدعی بے قبضے شاهدان وُدرول په دے خبره چه داکور ما په بیعه اَخستے دے دَ دے خاوند دَ قبضے نه او خاوند دَ قبضے شاهدان وُدرول په دے په دے خبره چه دا ما په بیعه آخستے دے دَ دے مدعی بے قبضے نه - او تاریخ دوارو مذکور نه کړلو - نو ادیه غورزیږی دوارهٔ شهادتونه - او پاتے به کړے شی کور دَ خاوند دَ قبضے په قبضه کښ دَ امام اعظم صاحب رح او دَ امام ابویوسف صاحب رح په نزد - ختم شه مضمون دَ هدائے - او ذکر دی په عالمګیری کښ چه دَ نجم الدین نسفیؒ نه پوښتنه وکړے شه دَ دے مسئلے چه یو سړی دعوه وکړه دَ میراث دَ یو مړی نو وے وئیل چه زهٔ دَ دے مړی نسبی یم - دَ تره ځوئ ئے یم - او دے ودرول شاهدان په نسب باندے - او ذکر ئے کړل نومونه تو نیکه پورے - نو څوک چه دَ دے نسب او دَ میراث نه منکر وو - هغه شاهدان وُدرول په دے خبره چه نیکه دَ مړی چه وو - فلانے وو - هغه غیر دے دَ هغه یو نه کوم چه ثابت کړے دے دے مدعی - نو اے په دے سره دَ مدعی دعوه او شاهدان دفعه کیږی - (ردکیږی) او که نه - نو دَ دے په جواب کښ هغه او وئیل چه قاضی که وړومبیه حکم کړے وی په شاهدانو دَ مدعی سره نو حکم دَ قاضی به ځائ دے

اونه بیکاره کیږي په دے سره شاهدان د مدعی. اونه رد کیږي دعوه د هغه. او که قاضی حکم نه وی کړے. نو بیا د دے دواړو شهادتونو په یو شهادت سره به هم حکم نه کوی. ځکه چه دا شهادتونه یو تر بله معارض شوی دی. ختم شه مضمون د هندیه.

او وئیلی دی په کنز کښ چه دوو تنو که شاهدان وړاندې کړل په نکاح د یوے ښځے (یعنے هر یو شاهدان وړاندې کړل چه دا ښځه ما په نکاح اخستے ده.) نو دواړه[1] شهادتونه به او غورزیږي او وئیلی دی شارح چه دا حکم هاله دے که ښځه ژوندئ[2] وه. وئیلی دی محشی ابوسعود رح چه دواړه شهادتونه په دے وجه رد شول چه عمل ممکن نه دے په دواړو. ځکه چه په شریعت کښ د یوے ښځے دوه خاوندان په یو وخت کښ ممکن نه دی. شراکت نه قبلوی. او قاضی به جدا کړی دغه ښځه د دواړو مدعیانو نه. ځکه چه د یو د غوره والی څه سبب موجود نه دے. ختم شه دا مضمون.

او تهاتر د قبیلے نه دے دا صورت که دوو تنو دعوه کوله او هر یو وئیل چه خاوند د روپو مثلاً زید دغه روپئ ماله راکړیدی په طریقه د نیم سودی خو یو دعوه کوله چه ماله پکښ نیمه منافعه مقرر کړے ده. او هغه بل دعوه کوله چه ماله تے پکښ دریمه حصه د منافعے مقرر کړیده. او دواړو په خپله خپله دعوه شاهدان وړاندې کړل نو وئیلی دی چه د امام صاحب رح د قول په بنا دا شهادتونه قبول نه دی. او وی به د دواړو مدعیانو د پاره د هغو د کار سره مناسبه مزدوری مناسب اُجرت که اقرار وکړلو زید ختم شه دا مضمون.

او مذکور دی د در مختار په باب د دعوے د دوو کسانو کښ. که دوو تنو په یو بل دعوه وکړه چه دا فلانے څیز ما د ده په بیعه آخستے دے (مثلاً زید وئیل چه دا ما د بکر نه په بیعه آخستے دے. او بکر وئیل چه دا ما د زید نه په بیعه آخستے دے.) او حال دا دے چه دا څیز د دواړو په قبضه کښ نه وو. یا د دواړو په قبضه کښ وو. یا د یو په قبضه کښ وو. او دواړو په خپله خپله دعوه شاهدان وړاندې کړل. او دواړو تاریخ د بیعے وونه خوو. نو دواړه شاهدان به وغورزیږی. او په کوم مال چه دعوه ده. هغه چه د چا په قبضه کښ دے. د هغه په قبضه کښ به پریښودے شی. او امام محمد صاحب رح وائی چه حکم به کیږی د پاره د مدعی

---

[1] دا حکم هاله دے چه غوره والے د یو جانب نه راشی په تاریخ یا په قبضے یا په اقرار سره. مثلاً دواړه مدعیان بے قبضے وائی او ښځه د یو د پاره هم اقرار نکوی. او دواړو نه وی خودلے تاریخ. اوګوره مسئلے د نکاح. ۱۲ مترجم

[2] او که مړه وه نو دواړه شهادتونه قبول دی. دواړه مدعیان به شی په شان د یو خاوند. میراث به دواړه په شریکه واخلی خو مهر چه یو خاوند اخلی او په دواړو به مهر د ښځے لازم وی خو یو مهر په شریکه. ۱۱ مترجم رح

بے قبضے - لکن موتږ په دلیل کښې وایو چه قیمت آخستلو ته وړاندے کیدل چه دی - دا اقرار دے په ملکیت دَ خوخونکی باندے ریعنے زید چه دَ بکر ته په بیعه آخلی - گویا زید اقرار کوی چه دا څیز دَ بکر دے - او بکر چه دَ زید نه په بیعه آخلی - نو دا اقرار دے په دے خبره چه دا دَ زید دے - نو گویا دَ زید او دَ بکر شاهدان ورد یدلی دی په اقرار دَ یو بل - او په دے کښې شک نشته - چه په دے صورت کښې تهاتر راځی په اتفاق سره - ځکه چه دوایه اقراره نه شی جمع کیدے - نو او به غورزیدی دواړه) او که دواړو مدعیانو قبض ثابت کړلو ریعنے هر یو شاهدان وُدرول په دے خبره چه ما دَ ده نه په بیعه آخستے - او قبض کړے دے) نو په دے صورت کښې په څمونږ دَ تولو اماما نو په نزد دواړه شها دتونه اوغورزیګی ختم شه مضمون دَ در مختار -

او دَ هند یے کتاب دَ شهادت په مسئلو کښې په نهم باب کښې ذکر دی - چه هر هغه دوه شهادتونه کوم چه جمع شی په یو حالت کښې جو دواړه غورزیګی - ځکه چه په یو کښې دروغ وی - دَ هغے حکم دادے چه قاضی که وړو مبیه حکم وکړلو په یو سړی نو متعین په شی دروغوالے په هغه یل کښې - مثال دادے - چه شاهدانو شاهدی کوله - په دے خبره چه زید په کوفه ښهر کښې دَ لوی اختر په ورځ خپله ښځه عمره طلاق کړیده - او نور دوو تنو شاهدی کوله چه زید په دغه ورځ په مکه شریفه کښې خپله ښځه زینب طلاق کړے ده نو شاهدی دَ دواړو فریقو باطله او بیکاره ده - او که وړومبیه قاضی حکم وکړلو په شهادت دَ یو فریق سره - بیس دَ هغے نه داغلل نور شاهدان نو دا دویم شاهدان قبول نه دی - او که دواړه شهادتونه دَ جدا جدا وُرځو دی - او دَ دغه ورځو په مینځ کښې دومره وُرځے فاصله وی چه سور سړے پر کښې دَ کوفے نه مکے شریفے ته تلے شی - نو بیا جایز دی دواړه شهادتونه - دا ذکر دی په محیط سرخسی کښې - ختم شه مضمون دَ هندیے نو دَ دے بیانونو نه دا خبره ظاهره شوه - چه تهاتر کله دَ دواړو فریقو په شهادت کښې وی - نو او غورزیګی دواړه - او کله دَ یو فریق په شهادت کښې وی - جو هغه او غورزیګی - نه معتبریګی - لکه چه پته نه ده -

توا تو په لغت کښې څه نه وائی ؟

توا تر پے درپے والی ته وائی - لا یعنے دَ یو نه وروستو بل ئی - دَ هغه نه وروستو بل - او دا رنګ وړاندے ورستو) په مغرب کتاب کښې ویلی دی چه وتر دَ شفعے مقابل دے - (وتر نا تکئے ته وائی او شفعه تکئے ته) او په عربئ ژبه کښې ویلے کیږی او تر یعنے دَ ترومونځ یَے ادا کړو - او په حدیث شریف کښې راغلی دی - اِذَا اسْتَجْمَرْتَ فَاَوْتِرْ

ریعنې دَ استنجا[1] دَ پاره چه لوټے آخلے ناتکۍ اخله) او په عربۍ ژبه کښې دا هم وائی - چه فلانی سړی په یوه و تیره دی - یعنې طریقه ئې یوه دکا - او خوئ خصلت ئې یو دے - او دَ دے اصل دَ تواتر نه دے - او تواتر پے درپے والی ته وئیلے کیږی - اودَ دے قبیلے نه دے داقول دَ عربو (جَآءُوْا تَتْرٰی) یعنې هغه راغلل پے درپے - یودَ بل نه ورستو - ختم شه مضمون دَ مغرب کتاب -

اوپه مصباح کتاب کښې ئې وئیلی دی چه عربی کښې وائی چه اسوتر منواتر شول یعنې پے درپے وړاندے وروستو راغلل - ختم شوه خبره دَ مصباح - (دا خو دَ تواتر معنیٰ وه په لغت کښې)

اودَ علم اصول دَ عالمانو په اصطلاح کښې " خبر متواتر " هغې خبرے ته وئیلے شی چه دَ هغې روایت او نقل بے شماره خلقو کړے وی - او دَ چا په خیال او وهم کښې دا نه راځی - چه دے ټولو به په دروغه اتفاق کړے ئی - او دا (حال چه موږ ذکر کړلو) ورلره په هره زمانه کښې ثابت وی - نو آخر ئې په شان دَ اول ئی - او اول ئې په شان دَ آخر او مینځ ئې په شان دَ دواړو طرفونو یعنې په اوله زمانه کښې او په آخره زمانه کښې او په مینځ حصه کښې دَ دغه خبر نقل کونکی بے شماره وی په دے شان سره چه دَ هغو ټولو دَ دروغو ګمان نه شی کیدے) اودَ علم اصول چه کوم زبردست عالمان دی - هغوئ دَ خبرِ متواتر دا تعریف کړیدے - چه متواتر دَ یو جماعت خبرته وئیلے شی - هغه خبر چه دَ کوم نه په خپله رشتیا والے معلومیږی - " دا رنګې ذکر دی په شرح دَ منار کتاب کښې دَ ابن مالک " او علامه (تفتازانی صاحبؒ) دَ خپل کتاب تلویح دَ دویم رکن په شروع کښې وائی (چه صدر الشریعه صاحب رح چه دَ خبر متواتر په شان کښې وئیلی دی) چه دَ هغې دَ روایت کونکو اتفاق ممکن نه وی - مراد دا دے چه دَ هغو جمع کیدل په دروغو ممکن نه وی - دا دَ محققانو عالمانو په نزد تفسیر دے دَ روایت کونکو دَ ډیروالی یعنې دَ خبر ورکونکو په ډیروالی کښې دا خبره معتبره دکا چه هغه دا سے حد ته رسیدلی وی چه عقل دا نه منی چه هغه به جمع شوی وی په دروغ وئیلو باندے - نو که بے شماره خلقو یو خبر ورکړلو او ممکنه وه چه هغوئ یو غرض دَ پاره چه دغه دروغو اتفاق کړے وی نو بیا به دغه خبر ته متواتر نه شی وئیلے کیدے - او (صدر الشریعه صاحبؒ) دَ عدالت او دَ مکانو نو دَ لرے والی ذکر چه کړے دے (چه خبر ورکونکی دِ صالح او نیک وی - او دَ هغوئ او سیدلو ځایونه کلی بنهرونه لرے لرے وی) نو دا تاکید دے دَ دے خبرے

[1] دا معنیٰ مشهوره دکا - ۱۲ - مترجم

چه دَ هغوا تفاق په دروغو ممکن نه دی- نو دَ خبر متواتر دَ پاره داشه شرط نه دے- اے نه نه گورے که دَ یو نیمو بے شماره کافرانو دَ خپل بادشاه دَ مرګ خبر ورکه- نو هم مونږ ته یقین حاصلیږی- حال دا دے- چه په دے صورت کښ عدالت هم نشته- او دَ ځایونو لرے والے هم نشته)

او که څوک شبهه وکړی چه ډیرو یهودیانو دَ عیسیٰ علیه السلام دَ قتل خبر ورکړے ده او موسیٰ علیه السلام دَ دین دَ همیشه باقی والی خبرے ورکړے- نو ښائی چه دَ دے سره هم یقین حاصل شی- نو موږ وایو په جواب کښ چه مونږه نه منو چه دا خبرونه متواتر دی- او نه منو دا خبره چه کوم شرطونه دَ تواتر دَ پاره ضروری دی هغه په دے کښ په هره زمانه کښ موجود وُو-

بیا (دا خبره ایزده کړه چه) دَ متواتر دَ پاره دا ضروری ده چه دغه خبره دے معلومیږی په یو حس سره- حس[1] دَ آوریدو دی- او که بل یو وی (یعنے منوا تر خبر چه کوم شے ثابتوی- دا ضروری ده چه هغه محسوس وی- او صرف عقلی شے نه وی-) نو که دَ یو ے علاقے خلق په یوه عقلی مسئله باندے متفق شول- دَ هغو په خبر سره به موږ ته دَ دغے خبرے یقین نه حاصلیږی- ترکومے پورے چه دَ هغے یو یقینی دلیل مونږ ته نه وی معلوم شوے- ختم شه مضمون دَ تلویح-

او دَ فقه دَ عالمانو په اصطلاح کښ متواتر دَ هغه جماعت خبر ته وئیلے شی- چه دَ کوم جماعت په خبر سره یقین حاصلیږی" دا[2] ذکر کړیدی امام سرخسیؒ په وجیز کتاب کښ او کړدی په وجیز کښ" او یا خبر دَ هغه جماعت دے- چه دَ کوم په دروغو متفق کیدل دَ چا په تصور او خیال کښ نه شی راتلے- صاف وئیلی دی په فتاوی علی آفندی کښ (دَ سوال وجواب په طریقه) چه په دے صورت کښ نو اتر په څو مره مقدار سره راځی جواب ئے دا دے چه دومره خلق خبر ورکړی چه دومره خلق خبر ورکړی چه دَ هغو په دروغو یو ځائے کیدل دَ چا په تصور کښ نه راځی- په دے سره تواتر حاصلیږی ختم شوه خبره دَ آفندی-

او صحیح قول دا دے چه دَ تواتر دَ پاره څه خاص عدد معین نشته- خو دا ضروری ده

---

[1] حواس ظاهره یعنے ظاهری حسونه پنځه دی- یو دَ لیدو دے- دا قوت تعلق لری په سترګو پورے- بل دَ آوریدو دے دا تعلق لری په غوږونو پورے بل دَ بوئیولو دے- دا تعلق لری په پوزه پورے- بل دَ څکلو دے- دا تعلق لری په ژبه پورے- بل دَ سخت او دَ نرم- دَ یخ او دَ ګرم معلومولو دے- دا قوت خور دے په ټول بدن کښ- دا پنځه قوتونه دی- په دے کښ په یو قوت سره چه کوم شے معلومیږی هغه ته محسوس وئیلے کیږی- ۱۲ مترجم

[2] دا بیان او دَ مجلے دا وا تلو نکے بیان په اصل کتاب کښ په توکے ژبه دے- خو دا ئے پښتو ترجمه ده- ۱۲- مترجم

په دومره لویٔ جماعت دے وی - چه عقل دَ هغو جمع کیدل په دروغو باندے جایز نه کنړی
وئیلی دی په مجله کتاب کښ چه دَ تواتر په خبر ورکونکو کښ دومره مقدار عدد ضروری
دے - چه عقل دَ هغو جمع کیدل په دروغو باندے جایز نه کنړی - او په دغه بوه مرتبه
کښ لویٔ جماعت والے ضروری دے - ختم شوه خبره دَ مجلے - او دَ تواتر نه حاصلیږی
یقینی علم - نو دَ تواتر په خلاف جانب باندے شاهدان نه شی وردیدے - ځکه چه
شهادتونه دَ گمان فایده ورکوی - او شک پکښ داخلے شی - او یقین ترے نه حاصلیږی)
او تواتر چه دے هغه یقین فایده کوی - (نو شهادت نے مقابله نه شی کولے) برابره
خبره ده چه څوک تواتر ته پیره وهی (یعنی دلیل کښ تواتر پیش کوی) هغه مدعی وی او که مدعا
علیه - او برابره خبره ده که هغه ثابتونکے دَ یو څیز وی او که نفی (لشت) کونکے دَ یو څیز وی - او برابره خبره
ده که دَ مالونو په بابت کښ وی او که دَ حدودو او دَ قصاص په بابت کښ وی - او برابره خبره
ده که دَ قاضی دَ حکم نه مخکښ وی او که وروستو - ځکه چه تواتر حجت (یقینی دلیل)
دے هم په نفی کښ هم په اثبات کښ (یعنی په نشتوالی کښ وی
او که په شتوالی کښ) وئیلی دی په ذخیره کتاب کښ چه دَ دے فیصله نه ده دا مسئله چه یو سړی
ودرول شاهدان په یل باندے چه ده ځما پلار دَ ور دمبئ خور په میاشت کښ قصداً
وژلے دے او مدعا علیه شاهدان ودرول په دے خبره چه دَ دے مدعی پلار مونږ دَ دغه میاشت
نه وروستو ژوندے لیدلے دے - یا یو سړی شاهدان ودرول په دے خبره چه ما دے
زید پلار له زر روپئ په فلانی تاریخ قرض ورکړے وی - او زید شاهدان ودرول په دے
خبره چه ځما پلار دَ دغه تاریخ مخکښ مړ شوے دے - یا یوے ښځے دوه تنه سړی شاهدان
ودرول په دے خبره چه زه خپل خاوند دَ لویٔ اختر په ورځ په رقه ښهر کښ طلاقه
کړے یم - او خاوند نے شاهدان ودرول په دے خبره چه زه په دغه ورځ کوفے کښ وم.
(په رقه کښ نه وم) نو په دے ټولو مسئلو کښ شاهدان دَ مدعی غوره دی - او قاضی
به غور نه کوی دَ مدعا علیه شاهدانو ته - مګر هاں! که دیر خلق راغی او
مدعا علیه په خبره نے شاهدی وکړه - او ظاهره باهره خبره وه - نو بیا به قاضی
معتبره وی شهادت دَ دئ - ختم شه مضمون دَ ذخیرے -

او وئیلی دی په بزازیه کتاب کښ چه دوو تنو شاهدی وکړه - چه دے زید په فلانے
ورځے په فلانی ښهر کښ دَ بکر نه دومره روپئ قرض آخستے دی - او زید شاهدان ودروی
په دے خبره چه زه په دغه ښهر کښ نه وم - بلکه په فلانی ځائے کښ وم - نو قبول نه دی

شاهدان د زید - ځکه چه دا قول د دوئ چه "په دغه ښهر کښې نه وم" دا نفی ده - (نشت دے) په ظاهراو په معنے دواړو کښې - او دا قول د دوئ چه - "په فلانی ځائ کښې وم" دا د په ظاهر کښې اثبات دے لاکن په معنی کښې نفی ده - او دلیل د دے هغه دے چه مذکور دے په نوادر کښې د امام ابو یوسف صاحب رح نه - چه که دوئ تنو په زید شاهدی ورکړه - د څه خبرې یا د څه کار د اسے خبره او کار چه په کوم سړی لازمیدلو په زید باندے اجاره یا بیعه یا طلاق یا آزاد بدل د مرئی یاد ویئے یا قتل یا قصاص او دواړو شاهدانو د دغه خبرے یاد کار وخت او ځائے اوخود - او زید شاهدان وړاندې په دے خبره چه زه په دغه ورځ په دغه ځائے کښې نه وم - نو د زید دا شاهدان قبول نه دی - لکن په محیط کتاب کښې ویلی دی چه د زید دا خبره که د خلقو په نزد متواتره وه - او ټولو ته معلومه وه چه دے په دغه ورځ په دغه ځائے کښې نه وه - نو د مدعی دعوه په زید باندے مسموع نه ده - (یعنے قاضی به ئے نه آوری) او حکم به کوی چه د زید په ذمه هیڅ نشته ځکه چه موږ که مدعی شاهدان معتبر کړو - نو لازم به شی دروغ ګڼړل د یوے داسے خبرے چه په بداهت او په یقین سره ثابته ده او حال دادے چه په بداهتاً او کښې او په یقینیاتو کښې څمونږ په نزد څه شک شبه نه شی پریوتے - ختم شوه دا خبره د محیط - او علی آفندئ د خپلے فتاوے د شهادت په مسئلو کښې د تواتر په بحث کښې د مبسوط کتاب نه دا بیان نقل کړیدے - چه که شاهدان وړاندې او وئیل چه زه په دغه ورځ په فلانی ځمکه کښې غائب وم نو دا شاهدان ئے قبول نه دی لکن که داسے کار ئے اخوو چه مشهور وه او هر یو خلقو ته معلوم وه - نو بیا به قبول وی د هغوئ - او د قصاص او د مالونو په باب کښې قاضی به حکم کوی په دے سره - ځکه چه په نفی کښې شهرت معتبر دے - (یعنے خبر د نشتوالی د یو شی که مشهور وی نو قبول دے -) لکه چه شهرت په اثبات کښې قبول دے او چه خبره د دے قسمه مشهوره ده - نو قاضی ته معلومه ده - چه دا شاهدان د مدعی دروغژن دی - او هر کله چه قاضی له د هغه شاهدانو په شاهدئ حکم کول جائز نه دی - چه په شاهدانو د دروغو تهمت وینی - نو کوم شاهدان چه ورته په یقینی طور دروغژن معلوم شی - نو د هغوی په شهادت به ورله حکم کول څرنګ جائز شی - " حدود المبسوط " نو کوم روایتونه او نقلونه چه مخکښې ذکر شول د هغے نه معلومه شوه چه تواتر قبول دے د مدعی د جانب نه - او د مدعا علیه د جانب نه او د هغه چا د جانب نه چه د یو شی نشتوالے راولی

سله بدیهیات هغه خبرو ته وائی چه کوم تکرار وی - فکر او دلیل ته پرے ضرورت نه وی لکه ورځ یا لکه اور ګرم دے - ۱۲ مترجم

اودَ هغه چا دَ جانب نه چه دَ یوشی اثبات راولی - او برابره ده په دے کښې دعوه دَ مالونو او دَ حدونو او دَ قصاص - او برابره خبره ده که څوک دَ حکم دَ قاضی نه دی او که ورستو - ځکه چه علامه شرنبلالی رح په خپله رساله " ایضاح الخفیات " کښې صفا وئیلی دی - چه قاضی که حکم وکړلو پس دَ هغے نه مدعا علیه یو لوئی جماعت وړاندې کړلو (یعنے نوا تو ئے پیش کړلو -) نو اے دا خبر قبول دے - او که نه - ما دَ دے حکم چرته صاف نه دے لیدلے - اودَ اشباه والنظائر کتاب دَ دے قول نه معلومیږی چه قبول دے . وئیلی ئے دی چه دَ کوم مدعا علیه په خلاف په یوه واقعه کښې فیصله شوے وی دَ هغه دعوه (چه دوباره دعوه کوی) مسموعه نه ده - قاضی به ئے نه آوری او نه ئے شاهدان قبول دی - مګر که دعوه ئے وکړه چه ما ملکیت حاصل کړیے دَ مدعی نه (مثلاً دَ زید په حق کښې دَ یو څیز فیصله دَ بکر په خلاف وشوه - قاضی حکم وکړلو چه دا زید دے - اوس بکر شاهدان وړاندې په دے خبره چه دا څیز ما دَ زید نه په بیعه اخستے دے یا ئے راته بخښلے دے وغیره) او یا ئے دعوه وکړه چه دا ځما کور نے پیدا دے (مثلاً دَ زید او دَ بکر په یو خاروی مقدمه وه - او خاروے دَ بکر په قبضه کښې وو - او دَ دوا رو نه هر یو دعوه کوله چه دا ځما دے او شاهدان ئے وړاندې نو قاضی حکم وکړلو دَ پاره دَ زید - اوس بکر شاهدان وړاندې چه دا خاروے ځما دے - ځما دَ خپل خاروی نه پیدا (دے) او یا ئے شاهدان وړاندې دَ حکم په باطلوالی باندے چه دَ قاضی دا حکم باطل دے - لکه چه ذکر کړیدی عمادی نو دَ قاضی دَ حکم نه ورستو په دریو طریقو کښې په یوه طریقه سره دَ مدعی دعوے لره دفعه کول صحیح دی - او سات به شی حکم دَ قاضی - لکه څنګه چه قاضی اوری دفعه دَ جانبه دَ مدعا علیه نه څوک دَ حکم نه - دا دلیل په آوری پس دَ حکم نه - خو هله چه په دے دریو طریقو کښې په یوه طریقه سره وی - ختم شه دا مضمون -

پیا ایږده کړه دا خبره ! چه کوم تواتر چه دَ یقیني علم فائده ورکوی دَ هغه دَ پاره - اګر که څه خاص عدد او شمار نشته - لکه چه مخکښې تیر شوی دی - لکن دَ هغه شرط دا دے چه خبر ورکونکے دومره جماعت وی چه دَ هغے متفق کیدل په دروغو باندے دَ عقل نه باهر وی - اودَ فقه عالمان چه دا جماعت ذکر کوی - نو په مختلف لفظونو سره ئے ذکر کوی - کله وائی چه عام خلق (یعنے خبر متواتر هغه دے چه عام خلق تر ے خبردار وی - او خبر ورکوی) او کله وائی چه ټول خلق او کله وائی چه دغه خبر معلوم وی هر وړوکی او لوئی ته - عالم او جاهل ته - او کله وائی چه دغه خبر مستفیض وی - او کله وائی چه یو مشهور کار وی - لکه چه مخکښې دَ مبسوط کتاب په عبارت کښې تیر شوی دی - وئیلی ئے وو " لکن که دا سے

کارئے اخوچه مشهور وو۔ الخ ٤ اوکله وائي چه یو ظاهر شے وي۔ لکه چه مخکښ بیان شوی
دي۔ دَ ذخیرے کتاب په هغه عبارت کښ چه دَ امام محمدؒ صاحب رح دَ املا نه ئے نقل
کړے وو۔ په دے ټولو مختلفو لفظونو سره ۔ دَ عالمانو مراد تواتر دے ۔ هغه تواتر
چه په کوم ښهر یا کلی کښ چه واقعه شوی وي۔ دَ هغه ځائے دومره خلق ترے خبردار وي
چه په هغے کښ دَ تهٔ اودَ طعن کولو څه گنجایش نه وي پاتے شوے۔ داسے نه لکه چه څوټو
دَ زمانے خلقو گمان کړیدے ۔ چه تواتر په لسو تنو سره هم راځي مثلاً نو نتیجه ئے
داشوه چه هر یو تن دَ مدعی اودَ مدعا علیه نه په خپله دعوه کښ یا دَ مقابل دَ دعوه په
ردکښ تکیه کوی۔ تواتر ته (تواتر به پیش کوی) ځکه چه مقابل منعه کوے شي په
داسے لسوکسانو سره چه دَ دغه حادثے خبر به ئے ورکړي۔ او گمان به کوی چه دا چو
تواتر دے۔ اودَ دے نه لاعجیبه خبره دا ده چه بعضے نوابانو هم دَ دے موافقت
کړیدے ۔ اودعوه کوی چه دا خبره څمونږ رائے ته سپارلے شوے ده۔ نو که
څوک پنځه تنه خبر ورکونکی راولی۔ مثلاً دَ دمشق په ښهر کښ۔ نو دا هم (دَ تواتر
دَ پاره) دَ هغو په رائے کښ کافی کیدے شي ۔ او په خپل دلیل کښ دَ فقهاؤ دا قول
راوړی چه په تواتر کښ څه خاص عدد مقرر نشته ۔ دی دَ فقهاؤ دا قول گرزوی ۔
دَ کم والی جانب ته۔ او حال دادے چه دی غافله دی دَ مجله کتاب دَ دے قول نه۔ چه
ضروری دے لوئی جماعت دَ هغو۔ نو چرته لوئے جماعت او چرته لس تنه یا پنځه تنه
په یولوئی ښهر کښ ۔ لے دی ته دا ترد که معلوم چه دَ لوئی جماعت نه مطلب نول
خلق دے۔ په مصباح کښ صاف صاف وئیلی دی چه عرب وائي چه خلق راغے په
یولوئی جماعت سره۔ یا خلق راغے لوئی جماعت۔ یعنے ټول راغلل۔ ختم شه دا مضمون
دَ مصباح اودَ طحطاوی په حاشیه درد کښ صاف وئیلی دی چه صاحب کتاب چه
شهادت دَ نفی متواتر ذکر کړیدے ددے نه مراد دادے چه متواتر وی په نزد دَ خلقو
په دے شان سره چه ټولو ته معلومه وی۔ چه مدعا علیه په دغه ځائے کښ په دغه
ورځ موجود نه وو۔ نو مدعی چه په دغه مدعا علیه باندے دعوه کوی چه ما ورله
په دغه ورځ په دغه ځائے کښ دومره روپئ قرض ورکړي دي مثلاً۔ دا دعوه به قاضی
نه آوری او حکم به کوی چه دَ مدعا علیه ذمه فارغه ده۔ په وجه دَ دے چه لازم نه شي دروغ
گنړل دَ هغه شي چه کوم په بداهت او په یقین سره ثابت دے۔ او په بدیهیاتو او یقینیاتو کښ څه
شک نه شي راتلے۔ او که دا خبر متواتر نه وو۔ نو شاهدان ئے قبول نه دي ۔ ختم شه

له دا عبارت په اصل کښ په ترکئ ژبه دے ۱۲۔ مترجم

مضمون دَ حاشیٔ۔

او ویٔلی دی په مجتبیٰ کتاب کښې چه دوؤ تنو که شاهدی کوله په یو سړی باندے مثلاً په زید باندے چه دے زید په قاهره ښهر کښې په فلانئ ورځ دَ بکر نه دو مره روپئ قرض اخستی دی۔ او زید شاهدان وُدرول په دے خبره چه زه په دغه ورځ په دمیاط کښې وم نو شاهدان دَ زید قبول نه دی۔ لکن صاحب دَ محیط کتاب ویٔلی دی۔ چه دا خبره که متواتره وه۔ او ټولو خلقو ته معلومه او مشهوره وه۔ او ښه ښکاره او ظاهره وه چه زید په دغه وُرځ په قاهره کښې نه وو موجود۔ او دَ دے خبرے نه چا اِنکار نه کاوو۔ نو په زید دا دعوه مسموعه نه ده۔ قاضی به ئے نه آوری۔ او بعضو عالمانو ویٔلی دی چه فتوٰی هم په دے ده۔ ځکه چه که دعوه دَ بکر قبوله شی نو لازم به شی دروغ کول دَ داسے شی چه ثابت دے په بداهت او په یقین سره۔ ختم شه مضمونِ مجتبیٰ۔

نو ادکوره دَ حاشیٔ دے قول ته " په دے شان سره چه ټولو خلقو ته معلومه وی۔ او مجتبیٰ دے قول ته " چه ټولو خلقو ته معلومه وی۔ مشهوره وی۔ او ښه ښکاره او ظاهره وی " نو څه رنګ کفایت کیږے شی په لږ عدد سره په یو لوئ ښهر کښې پس دَ دے نقلونو او روایتونو نه۔

او په بزازیه کتاب کښې ویٔلی دی چه ضروری دے (دَ تواتر دَ پاره) داسے جماعت چه دَ هغې په خبر سره یقینی علم حاصلیږی۔ او امام ابو یوسف صاحب رح دَ هغې اندازه مقرر کړیده چه کم نه کم پنځوس تنه وی۔ او امام محمّد صاحب رح ئے دا اندازه خوښے ده۔ چه دَ هر طرف نه په درپے دیر خبرونه راشی۔ او دَ امام محمد صاحبؒ نه یو روایت دا هم دے چه دَ امام یعنے دَ حاکم رائے له اعتبار دے او دَ خلف نه نقل دی چه په بلخ کښې پنځه سوه کم دی یعنے په بلخ کښې که پنځه سوه تنه دَ څه خبرے خبر ورکوی۔ نو دغه خبر متواتر نه دے) او دَ امام بقالی صاحب رح نه دا خبره نقل ده۔ چه په بخارا کښې زر تنه کم دی۔ ختم شه مضمون دَ بزازیٔ۔

او په قهستانی کتاب کښې تصریح کړیده چه په کرمانی کتاب کښې دَ ابو حفص نه دا خبره نقل ده چه څلور زره په بخارا کښې کم دی۔ او دَ خلف نه دا نقل ده۔ چه پنځه سوه په بلخ کښې کم دی۔ ختم شه مضمون دَ قهستانی

او ویٔلی دی په وجیز سرخسی کښې تر دے پورے چه خبر ورکړی یو داسے جماعت چه دَ هغوی په خبر سره یقین حاصلیږی۔ بیا بعضو ویٔلی دی چه قبوله ده شاهدی

دَ وسیدونکو دَ یو بے محلے او امام ابویوسف صاحب رح دَ هغے اندازه دَ قسامت[1] په مطابق
مقرر کړیده - چه پنځوس تنه سړی وی - ختم شه مضمون دَ وجیز -
بیا مدعی او مدعا علیه که دواړو په تواتر تکیه کوله (یعنے هر یو تواتر پیش کاوو -) او
هر یو دَ دے دواړو نه داسے یو یو جماعت راوسته چه دَ هغه مدعا سره ئے مطابق خبر
ورکاوو - نو په قاضی لازم دی چه په باریک نظر سره اوګوری - پس که رائے لړ ئے دا
راغله چه دا دواړه جماعتونه چه دی - په دے کښې یو ته هم جم غفیر (لوئی جماعت)
نه شی وئیلے کیدے - نو دَ دے حکم به هغه وی کوم چه دَ نورو شاهدانو دَ شاهدئ وی
که دواړه خبرونه یو تر بله معارض وو - نو دواړه به او غورزیګی - نو طلب دَ شهادت
به کوی - او دَ شاهدانو دَ حال تحقیق به کوی - او مناسب حکم به جاری کړی - او که رائے
لړ ئے دا راغله چه په دے دواړو جماعتونو کښې یو جماعت دَ تواتر دے - نو دَ هغے خبر
به قبول کړی او بل به رد کړی - ځکه چه دَ هغه بل خبر په منزله دَ شاهدانو دَ شهادت
شه - او دَ تواتر په خلاف کښې دَ شاهدانو خبره ماتے دی - نه شی ودریدے - او که رائے
لړ ئے دا ورغله چه په دے دواړو جماعتونو کښې هر یو جماعت په ظاهر کښې جماعت دَ
تواتر دے - او خبره پرے ګرانه شوه - نو ځائیږی چه دَ دواړو جماعتونو په بابت کښې
یو رښتینے فکر وکړی - داسے فکر چه دَ غرض او دَ مرض نه خالی وی - نو دَ کوم جماعت خبر
چه مطابق وی دَ تواتر دَ هغه شرطونو سره چه هغه کښې دَ تلویح کتاب په عبارت کښې تیر
شوی دی - او دَ قاضی زړه واخستله چه په دے خبر کښې دَ تواتر پوره پوره شرطونه
موجود دی - نو حکم دِ وکړی په هغے سره - او رد دِ کړی هغه بل تولے - ځکه چه تواتر
یو یقینی دلیل دے - او دَ یقینی دلیل معارض څه شے نه شی کیدے - (نو دا نه شی
کیدے چه دواړه متواتر دی) صاف صاف وئیلی دی علامه تفتازانی صاحب رح دَ خپل
کتاب تلویح په باب دَ معارضے کښې چه دَ دوؤ یقینی دلیلونو په مینځکښې معارضه نه
شی راتلے ځکه چه (دَ دواړو معارضه که موتیږ او منو نو دَ کوم دوؤ خبرو چه دا دوه دلیلونه
دی هغه دواړه خبرے به واقع او یقینی وی - او حال دا دے چه) کومے دوه خبرے چه
دَ یو بل منافی او مقابل وی - ممتنع ده چه هغه دواړه واقع شی - او (موتیږ به دا
هم نه شو کولے - چه په دغه دواړو یقینی دلیلونو کښې یو غوره کړو - بل پریږدو ځکه

[1] قسامت دے ته وئیلے کیږی چه په یوه محله کښې مړے او موندے شی - دَ زخم یا دَ وهلو وغیره اثر پرے وی - او قاتل ئے معلوم نه وی - نو دَ هغه ځائے پنځوس تنو له قسم ورکیږی - پس دَ هغے نه دَ دیت حکم کیږی - ۱۲ - مترجم

چه) غوره والے خوشحاله کیدے شی چه په دوایړو کښې فرق وی۔ په یو کښې دَ مخالف جانب احتمال وی۔ په بل کښې نه وی۔ (نوکه داسے وے۔ په کوم کښې چه احتمال نشته۔ مونږ به هغه غوره کړے وو۔ لکن دا خو دوایړه یقینی دی) نو معلومه شوه چه معارضه ومقابله نه شی راتلے۔ مګر په هغه دوو دلیلونو کښې چه مفید دَ ګمان وی۔ نه مفید دَ یقین۔ ختم شه مضمون دَ تلویح۔ نو دا خبره ضروری شوه۔ چه په دغه دوو خبرو نو کښې (کوم چه قاضی ته وړاندے کړے شوی دی) یو به دروغ وی۔ که نه وی نو لازم به شی جمع کیدل دَ دوو نقیضینو۔ او دَدے وجے نه دَ علم اصول عالمانو ویلی دی۔ چه په یقینی دلیلونو کښې معارضه نه شی کیدے۔ او دا ئے هم ویلی دی چه دَ دوو نقیضینو (چه یو تر بله نقیض وی) متواتر ولے ممکن نه دے۔

علامه تفتازانی صاحب رح دَ تلویح کتاب دَ تواتر په بحث کښې ښکاره ویلی دی۔ چه دَ متواتر خبر نه یقین حاصلیدل ضروری (بدیهی) دی۔ محتاج نه دی دَ حجت او دلیل رغولو ته۔ تردے پورے چه دَ تواتر خبر نه یقین حاصلیږی۔ هغه چا ته چه حجت رغول (او مقدمو له ترتیب ورکول) هیڅ پیژنی نه۔ لکه واړه شو۔ او مقدمو له دَ ترتیب ورکولو جائز دلے دَدے سره منافی (یعنے ضد) نه دے لکه چه بدیهیاتو کښې نه دے۔ ومثلاً که مونږ دا ثابتول غواړو۔ چه عالم نوے پیدا دے دو مره قدیم نه دے چه سر در له نشته۔ جو به دلیل کښې وایو چه عالم متغیر دے۔ یعنے په یو حال نه دے دا یوه مقدمه شوه۔ او کوم شے چه متغیر دے۔ هغه نوے پیدا دے۔ دا دویمه مقدمه شوه۔ دیرو میئ مقدمه صغریٰ ده۔ او دا دویمه کبریٰ ده۔ دا دواړه چه مونږ په دے طریقه راوړے نو دا ورله ترتیب ورکول شو۔ جو قیاس او دلیل جوړ شه۔ نتیجه ترے دا حاصله شوه چه عالم نوے پیدا دے۔ نو دا یوه نظری یعنے پټه خبره وه۔ مونږ ته په دے قیاس سره معلومه شوه۔ نو دلته چا دا شبه کوله۔ چه په تواتر کښې هم دا رنګه مقدمو له ترتیب ورکیدے شی۔ مثلاً مونږ ویلے شو۔ چه دا دَ ډیرو خلقو خبر دے۔ او دَ ډیرو خلقو خبر یقینی وی۔ نو نتیجه دا حاصله شوه۔ چه دا یقینی دے نو دَدے نه معلومیږی چه په تواتر سره کوم علم حاصلیږی هغه بدیهی نه دے۔ نظری دے۔ نو دَدے شبهے جواب ئے دا ورکړلو

له نقیض دَ هر شی چه وی۔ هغه نشتوالے دَ دغه شی دے۔ مثلاً دَ زید نقیض نه زید دے۔ او دا خبره داسے ده دَدے نقیض دا دے چه دا خبره داسے نه ده۔ یا لکه په یو خاص وخت کښې په یو خاص ځائے کښې دَ زید موجود والے داخله۔ دَدے نقیض دا دے۔ چه نه موجود والے دَ زید په دغه خاص ځائے کښې په دغه خاص وخت کښې۔ او دا عامه قاعده ده۔ چه کوم کوم دَ یو بل نقیض دی۔ هغه نه جمع کیدے شی۔ او نه پورته کیدے شی۔ ۱۲۔ مترجم عفی

چه مقدمو له دَ ترتیب ورکولو جائزوالے چه دلته دے۔ دَدے نه نه معلومیږی۔ چه دا نظری دے۔ ځکه چه په بدیهی کښې هم ترتیب راتلے شی۔ لکه سړے اووائی چه دا اود دے۔ او هر اور سیزونکے دے۔ نو نتیجه دا شوه چه دا سیزونکے دے۔ نو مطلب دا شه۔ چه دلته ورکولو ته حاجت او ضرورت نشته۔ که هسے راشی نو خیر دے۔ او په نظری کښې ضرورت دی۔ اوس مخکښې په دے خبره باندے چه تواتر دَ علم یقینی بدیهی فایده ورکوی۔ څلور شبهے کړے شوی دی۔ صاحب دَ تلویح کتاب هغه ذکر کوی۔ نو وائی چه) که څوک شبهه وکړی چه دَ یوتن په خبر کښې دَ دروغو احتمال شته۔ نو جوکیدے شی۔ چه دَ هغه نورو خبر دے هم دروغ وی۔ ځکه چه په دے کښې څه منافات او ضد نشته۔ سره دَ دے نه چه دَ ټولو مجموعه خو هم دَ دغه یوتن نه جوړه شوی ده۔ نو چه دَ یو یو په خبر کښې دَ دروغو احتمال شته دے۔ جو دَ دے مجموعے په خبر کښې هم دَ دروغو احتمال شته دے۔ او (دویمه شبهه دا ده۔ چه متواتر خبر که دَ یقین فائده ورکړی نو) لازمه به شی یقین په دوو نقیضینو کوم وخت چه دواړه متواتر شی۔ (مثلاً دا خبره داسے ده۔ او داسے نه ده۔ دا دواړه په کوم کښې دَ یو بل نقیض دی۔ نو چه دواړه په تواتر سره ثابت شی۔ او مونږ وایو چه دَ تواتر نه یقین حاصلیږی۔ نو لازمه به شی چه مونږ هم یقین وکړو په دے چه دا خبره داسے ده۔ او هم په دے چه داسے نه ده۔ او حال دا دے چه داسے نه شی کیدے) او (دریمه شبهه دا ده) چه کوم وخت مونږ خپلے مخے ته دا دواړه خبرے راولو چه سکندر موجود وو۔ او یو دَ دوَ نیمه حصه ده۔ نو ظاهره خبره ده چه مونږ دا دویمه خبره ښه مضبوطه او یقینی مومو دَ دے اولے خبرے نه۔ نو که چرے دا دواړه خبرے بدیهی (ښکاره) وے۔ په دے دواړو کښې به فرق نه وو راغلے۔ او (څلورمه شبهه دا ده) چه کوم شے بدیهی وی (یعنے دلیل او فکر ته محتاج نه وی۔) لازم دے دَ خلقو اتفاق په هغه باندے (یعنے ضروری ده چه چا پکښې اختلاف نه وی کړے) او حال دا دے چه دا په متواتر کښې نشته۔ ځکه چه سمنیه فرقے او براهمه فرقے ترینه مخالفت کړیدے (اوس واوره جوابونه) :-

دَ دے ټولو شبهو مختصر اجمالی جواب دا دے۔ چه دا خو هسے شک غورزول دی په یو داسے شی کښې چه بدیهی او ظاهر باهر دے (یعنے ورڅے ته شپه وئیل دی۔) نو دَ دے هیڅ جواب ورکول پکار نه دی۔ دا شبهے داسے دی۔ لکه شبهے دَ سوفسطائیه فرقے شوے۔ او تفصیلی جواب (دَ اولے شبهے دا دے) چه کله کله دَ مجموعے (یعنے دَ هیر) حکم جدا وی دَ یو دَ حکم نه۔ لکه لښکر شه۔ چه ملکونه فتح کوی۔ دا دځان ځان له یوتن چه واخلے نو نشی

کوے۔ یالکه سیلئ چه شه پرے مضبوط تړلے کیږے شی۔ اوکه یوازے یو دویښته واخلے۔ نو په
هغې سره دا کار نه شی کیږے۔ نو دا رنګه د تواتر خبرورکونکی چه دی د یو یوتن په خبر
کښې د دروغو ګنجایش شته ۔ لکن چه په جمع خبر ورکی۔ نو بیا پکښې نشته دے۔
او مضبوط وګرزی) او (د دویمے شبهے جواب دا دے چه) د دوو نقیضینو متواترکیدل
په عرف او په عادت کښې نا ممکن دی۔ که متواتر وی۔ نو یوازے یو به وی۔ او (د دریمے
جواب دا دے چه) نشته منع والے د بدیهی د قسمونو په مختلف کیدلو کښې په اعتبار
د زر معلومیدو او د وضاحت سره په ذریعه د الفت او د عادت او ډیر تعلق او د ډیر
تیریدلو په ذهن کښې یا د بل څه وجے نه۔ سره د دے نه چه ټول په دے کښې شریک
دی۔ چه د نقیض احتمال ورپکښې نشته ۔ (مثلاً اور ګرم دے۔ دا بدیهی[1] خبره ده
د نقیض احتمال پکښې۔ یعنے د نه ګرم والی ګنجایش نه لری۔ نو کوم کوم چه بدیهی او ظاهر
باهر دی۔ په هغې ټولو کښې دا خبره ده۔ چه د نقیض احتمال نه لری۔ خو کیدے شی
چه یو بدیهی د بل بدیهی نه په ظاهر والی کښې زیات وی۔ او زر معلومیږی۔ په وجه
د دے چه د سړی ورسره الفت زیات وی۔ یا په عادت کښې داسے وی۔ یا مخے ته ئے
ډیر راځی۔ یا تصوّر ئے ډیر کوی۔ یا څه بل څه وجه وی۔ نو وجود د سکندر بدیهی دے۔ خو په
بداهت یعنے ښکاره والی کښې ترے دا خبره قوی ده۔ چه یو نیمه د دوو) او (د خلورمے
جواب دا دے) چه کوم شے بدیهی او ظاهر وی۔ دا ضروری نه ده۔ چه په هغې دے ټول
متفق وی کیږے شی۔ پکښې مکابره او عناد لکه چه سو فسطائیه[2] فرقه کوی۔ او ویلی دی
فصول البدائع کتاب په بحث د تواتر کښې کوم ځائے چه ئے جواب ورکړیږے ۔ د مقابل
د شبهے ۔ او مقابل شبهے په دے خبره کړے دی۔ چه متواتر یقین فائده کوی۔ نو ویلی
دی صاحب د کتاب چه دا رنګ پنځمه شبهه دا ده۔ چه لازمیږی موجودیدل د دوو
نقیضینو کوم وخت چه یو جماعت د یو شی خبر ورکړی۔ او بل جماعت خبر ورکړی۔ د
دغه شی د نقیض او جواب ئے دا دے۔ چه دوه نقیضه نه شی متواتر کیدے۔ نو تواتر
د نقیضینو محال دے ۔ ختم دا مضمون د بدائع۔

او ویلی دی په دریم قسم کښې په کوم کښې چه بیان د استفتاء دے۔ دا نه لکه چه
منع دے تواتر د یو نقیض په وجه د تواتر د بل نقیض ختم شه۔ نو د دے ټولو نه معلومه

---

[1] بدیهی هغے ته ویلے شی چه ظاهر وی دلیل او فکر ته پکښې ضرورت نه وی۔ لکه ګرمی یخنی۔ یا لکه اُور سیزونکے دے او یو نیمه د دوو۔ ۱۲ مترجم۔ [2] دا یوه فرقه ده چه بدیهیاتو نه هم انکار کوی۔ مثلاً وائی کیدے شی۔ چه دا زمکه زمکه نه وی۔ بلکه حُو زمونږ نظر د غلطی کوی۔ دا اور دے وکړ نه دی خو مونږ ته ورښکاری۔ دا رنګ نورے خبرے۔ ۱۲ مترجم

شوه - چه تواتر نه شي راتلے - مګر په یو نقیض کښې (او دواړه نقیضین نه شي کیدے متواتر) او مدعي او مدعا علیه چه دواړه په خپل خپل دلیل کښې تواتر راوړي - په دے بابت کښې ما دَ نواب دَ عالمانو دَ یو ټولګي سره معارضه کړے وه - چه دَ دے څه حکم دے نو دیرو خو پکښې څه وُنه وئیل - او بعضو او دئیل چه دواړه خبرونه یو تر بله معارض شوي دي دَ دے وجے نه به دواړه وغورزیګي - نو ما ورته اووئیل چه دَ دے څه عقلي دلیل دے او که نه په کتابو نو کښې نقل دے ؟ نو هغه جواب راکړلو - چه دا حکم موتږ راوُباسو دَ فقه دَ عالمانو دَ دے قول نه ۔ چه دوه شهادتونه چه یو تر بله وجنګیږي نو او غورزیږي دواړه - نو ما ورته په رد کښې اووئیل - چه دغه حکم په هغو دلیلونو کښې دے - چه کوم دَ غالب ګمان فایده ورکوي - او دَ یو بل سره معارضه کولے شي - (لکه شهادتونه) نه په هغه دلیلونو کښې کوم چه یقیني دي - او دَ یو بل سره جنګیدل ئے نا ممکن دي - (لکه متواتر خبرونه او نور بدیهیات) نو په دے سره هغه چپ شو ۔

تمام شد عبدالمطلب تعلم خود 25/9/66

پیژندل دَ مدعی او دَ مدعا علیه

ذکر (کړي) دي (امام محمد صاحبؒ) په اصل کښې چه کتے به شي دے ته چه مګر په دے دواړو کښې کوم یو دے - کوم چه منکر وي - هغه مدعا علیه دے - او هغه بل مدعي او دا صحیح خبره ده - ځکه چه نبي علیه الصلوٰة والسّلام مدعا علیه هغه سړے ګرځولے دے - کوم چه منکر دے - په دے قول دَ نبي علیه السّلام کښې چه (قسم په هغه چا دي چه مُنکروي) لکن پوره تعریف او بیان په دے قدر سره نه راځي - ځکه چه کله په ظاهر کښې یو تن مدعي هم وي - او قسم ورلره هم ورکیدے شي - لکه هغه سړے چه امانت ورسره ایښودلے شوے وي - دعوه کوي چه هغه امانت ما واپس کړے دے امانت ایښودونکي ته او یا دعوه کوي چه هغه ځما سره ضائع شوے دے - (نو خبره ئے معتبره ده سره دَ قسم نه) او خاوند دَ قبضے چه او وائي چه دا شیز ځما دے - نو په ظاهر کښې دے مدعي شه لکن نه وُوزي دَ مدعا علیه کیدلو نه (نو په محکمي بیان سره پوره سړے نه راځي په منځ دَ مدعي او دَ مدعا علیه کښې) لکن فرق لکه چه ځمونږ بعض عالمانو وئیلي دي - دا دے چه مدعي هغه دے چه جبر کوي په بل باندے په قول سره چه دے جګړه کول پریږدي - نو دے پریښودلے کیږي - او مدعا علیه هغه دے چه په چا باندے جبر

کیږي ډیل په قول سره اودے جګړه پریږدي . نو نه شي پریښودلے کیدلے . (یعنے مدعی که جګړه پریږدي . نو نه شي مجبوره کیدلے . او مدعا علیه چه پریږدي . نو قاضي به ئے مجبوره کوي . یا به د مدعي حق ورکوي . یا به څه معتبر حجت پیش کوي) او بعض عالمانو ویلي دي چه مدعي هغه یو دے . چه په کلام کښې ئے شته والے وي . او د نشتوالي خبره چه وکړي . نو دے په دے سره خصم (یعنے جګړه کونکے) نه شي ګرځیدلے . لکه زید که خاوند د قبضے ته او ویل چه دا شے ستا نه دے . نو په دے (نفي) سره زید مدعي او خصم نه ګرځي ترڅو پورے چه ئے نه وي ویلي چه دا شے زما دے . او مدعا علیه هغه دے چه په کلام کښې ئے نفي (نشتوالے) وي . نو په دغه نفي باندے د هغه د جانب نه صبر کیدے شي . لکه خاوند د قبضے چه زید ته او وائي چه دا شے ستا نه دے . نو خاوند د قبضے په دے قدر سره خصم ګرځي . او بیا دا چه وائي . چه دا زما دے . دا یوه زائده خبره وه . دے ته ضرورت نشته (په خصم کیدلو کښې) او بعضو ویلي دي . چه مدعي هغه دے چه مستحق نه ګرځي د دعوے د شي مګر په حجت سره . لکه مدعي بے قبضے (چه شاهدان به ورډوي) او مدعا علیه هغه دے چه مستحق وي بے د حجت نه لکه خاوند د قبضے . ځکه چه دهٔ که او ویل چه دا زما دے نو دے مستحق دے ترکومے پورے چه هغه بل خپل مستحق والے ثابت نه کړي . او هر چه دے هغه سړے چه امانت ورځنه ایښودلے شوے وي . که دا سړے دعوه وکړي . چه ما هغه امانت امانت ایښودونکي ته واپس کړیدے . یا دا دعوه وکړي چه هغه زما نه ضائع شوے دے . نو دهٔ قول قبلیږي . ځکه چه دهٔ خصم (کوم چه امانت ایښودونکے دے هغه) دے په دے باندے مسلّط کړیدے . نو ادس صرف دهٔ په وینا سره به وجود ثابتیږي (نو ګویا دے د په معنے کښې) مدعا علیه شه . او یا دغے وجه نه چه دے د ضمان نه انکار کوي . په واقع کښې (یعنے وائي چه په ما باندے ضمان نشته) نو جو یه معنے کښې دے مدعا علیه شه . پس په اوله وجه کښې دهٔ له قسم د دے وجے نه ورکیږي . چه تهمت د دروغو ترے پورته شي . او په دویمه کښې د دے وجے نه چه دے منکر دے . (او منکر له قسم وي) او بعض وائي چه مدعي هغه څوک دے چه دعوه کوي د باطن (یعنے د خلاف ظاهر) د پاره د دے چه لرے کړي ظاهر لره (کوم چه مدعا علیه له ثابت دے په ظاهر کښې) او مدعا علیه هغه څوک دے چه دعوه کوي د ظاهر (مثلاً د بکر په قبضه کښې څه شے دے . زید پرے دعوه کوي چه دا زما دے . نو په ظاهر کښې خودا ښکاري چه د بکر دے . او بکر د دے ظاهر دعوه کوي او زید د خپل ملکیت دعوه کوي . او دا ظاهر لرے کول غواړي) نو زید مدعي شه او بکر مدعا

علیه" دا رنګ وئیلی دی په محیط کښې د خیار بیع په مسئلو د اختلاف کښې".

فائده

په چا باندې چه په اقرار سره الزام راځي - په هغه شاهدان قبول دي - او په چا چه نه راځي په هغه قبول نه دي - یعنې که چا په بل باندې د څه شي دعوه کوله - او په خپله دعوه ئې شاهدان وړاندې نو مونږ به ګورو چه دې مدعا علیه که بالفرض د دې مدعي په دعوه اقرار وکړه - چه دې دېښنیا والي - نو دا به پرې ثابته شي - او که نه - که ثابتیده - نو مدعي چه پرې شاهدان وړاندې - نو دا قبول دي - او که نه ثابتیده نو بیا قبول نه دي)" دا رنګ وئیلی دی په محیط کتاب کښې په شروع د هغه مسئلو کښې - چه سړې بل تاوانې چه تا په فلانې باندې که څه ورخوځ که - یا د ورله څه قرض ورکه - هغه په ما دی " او دا رنګ هغه بیان دې کوم چه د مجلے[1] کتاب په مسئلو د دعوے کښې په دریم فصل کښې را وړې دے - (وئیلی ئې دي - چه) که سړے په بل دعوه وکړي - او حال دا وو - چه د مدعا علیه په اقرار سره په هغه باندے څه حکم لازمیدلو - نو د انکار په صورت کښې چه مدعي پرې شاهدان وړاندې نو وړاندې شي - او دا دعوه په هغه باندې صحیح ده - او که حال دا وو چه د مدعا علیه په اقرار سره په مدعا علیه څه حکم نه لازمیدلو - نو مدعي پرے شاهدان نه شي وړاندې - او دغه سړے خصم نه شي ګرځیدلې - ختم شه مضمون د مجلے.

بیا ئې په محیط کښې وئیلي دي چه ولي او وصي او متولي دا د دې دائره د دې قاعدے نه مستثنیٰ دي - (یعنې باهر دي) ځکه چه په دوئ باندې که دعوه د بل د اسې معاملے کیږي چه کوم دي په خپله نه وه کړے نو (په دے کښې) د دې اقرار معتبر نه دے - او که مدعي پرے شاهدان[2] وړاندې نو وړاندې شي - او دے خصم ګرځي.

فصل د یه بیان د هغو خبرو کښې چه پکار دي مفتي له

دا بیان مونږ په دے وجه راوړو - چه کومې مسئلې مخکښې تیرې شوي دي - په هغې کښې بعضې

---

[1] د مجلے دا عبارت په (اصل کتاب کښې) په ترکئ ژبه دے - ۱۲ مترجم - [2] او په دے صورت کښې که د مدعي شاهدان نه وُو - نو دے د دې وارد له په قسم نه ورکیږي - ځکه چه د دې اقرار لازمیږي نه دے - دا رنګ وئیلي دي په شامي کښې - ۱۲ - مترجم

موقوفه دی په دا تلونکی بیان باندے۔ (یعنے بے له دے نه حکم نه شی معلومیدے) ویلی دی امام
جلیل قاضی خان صاحبؒ دَ خپلے فتاوے په شروع کښ چه په دے زمانه کښ څوښ
په عالمانو کښ چه دَ مفتی نه څه فتوے طلب کړے شی۔ اودَ یوے واقعے په بابت کښ تر
دَ حکم تپوس اوشی (نو دے دِ اوګوری) که دَ دغه مسئلے حکم څوتړو دَ امامانو صاحبانو نه په ظاهر
الروایت کښ نقل وه۔ او هغو پکښ څه اختلاف نه وو کړے۔ نو مفتی دے هغوئ نه میلان
وکړی۔ اودَ هغو په خبره دے فتوے ورکړی۔ اودَ هغو نه خلاف دے څه رائے نه قایمه وی
اګرکه دا مفتی لوئ عالم او مجتهد وی۔ ځکه چه ظاهره خبره داده چه څوتړو امامانو صاحبانو
چه کوم حکم کړیدے هغه حق دے۔ اودَ حق نه جدا نه دے۔ او مفتی که لوئ مجتهد شی۔ تو
بیا هم نه شی رسیدے دَ هغو اجتهاد ته۔ او مفتی دے نه ګوری دَ هغه چا خبرے ته چه
څوتړو دَ امامانو دَ قول نه ئے خلاف کړیدے۔ او نه دے دَ هغه حجت او دلیل قبلوی۔ ځکه چه څوتړو
امامانو صاحبانوؒ ته دلائل ښه معلوم وُو۔ او هغو پوره پوره امتیاز کړے دے په صحیح او په
غلط (او په مضبوط او کمزوری) دلیلونو کښ۔ او څونږ امامان صاحبانؒ دا درے دی۔
امام اعظم ابوحنیفهؒ۔ امام ابویوسفؒ۔ امام محمدؒ دَ خدائے پاک رحمت دے وی
په دے ټولو باندے۔ (دا دروا نرے ... امامان دے د مذهب)
اوکه حکم دَ دغه مسئلے اتفاقی نه وو۔ بلکه څونږ دَ دے امامانو صاحبانو پکښ اختلاف وو
نو مفتی دے وړومبیه دَ امام اعظم صاحب قول غوره کړی۔ بیا دے دَ امام ابویوسف صاحبؒ
بیا دے دَ امام محمد صاحبؒ۔ بیا دے نه سوا دَ امام صاحبؒ دَ نورو صاحبانوؒ بیا
دَ دوئ نه وروستنو دَ نورو عالمانو۔ او که په یو جانب کښ امام صاحبؒ وو۔ او په بل
جانب کښ صاحبینؒ وو۔ نو که دَ دوئ دا اختلاف په سبب دَ اختلاف دَ زمانے وو۔ لکه
امام صاحبؒ دَ شاهدانو ظاهر حالت ته کتلی دی چه نیکؒ او عادل به وی۔ نو ویلی ئے
دی چه قاضی به دَ هغو شهادت آوری۔ او ضرورت دَ دے خبرے نشته چه دَ هغو په
بابت کښ په پټه یا په ښکاره تحقیق اوکړی۔ او صاحبینؒ وائی چه مینه به تحقیق کوی
هاله به شاهدی دَ هغو قبلوی۔ نو مفتی به په دا سے صورت کښ دَ صاحبینوؒ قول
اخلی ځکه چه دَ خلقو حالتونه بدل شوی دی۔ (په ظاهری حالت اطمینان نه دے پکار)
اودَ مزارعت اودَ معاملے اودَ دے په مثل نورځه چه وی په دے تو لو کښ به دَ صاحبینو
قول غوره کوی۔ ځکه چه وروستنی عالمانو ټولو په دے اجماع کړے ده۔ اتفاق ئے کړے
دے اودَ دے ته سوا دَ نورو مسئلو په بابت کښ بعضو ویلی دی۔ چه دَ مجتهد اختیار دے۔

کومه خبره چه دَ هغه ذړه ته پریوزی - په هغې دِ فتوی اوکړی - او عبدالله بن مبارک صاحب وئیلی دی - چه خاص دَ امام اعظم صاحبؒ خبره به غوره کوی نه دَ بل - او طحطاوی کتاب په شرح کښی مذکوردی - که عالم دَ فقهه مجتهد نه وو - نو نه به غوره کوی مګر قول دَ امام اعظم صاحبؒ - او جائزه نه ده چه غوره کړی قول دَ صاحبینوؒ مګر دَ مزارعت او دَ معاملو په مسئلو کښی -

او عالمان دی مختلف دَ مجتهد په بیان چه مجتهد چا ته وئیلے شی - نو بعض وائی چه دَ چا نه دَ لسو مسئلو تپوس وکړے شی - نو که ازکم دَ اتو جواب صحیح وړکړی - او دَ باقی غلط نو هغه مجتهد دے - او بعض وائی چه دَ مجتهد دالی دَ پاره ضروری دی چه مبسوط کتاب ورته په یاد و یاد وی - او ناسخ او منسوخ او محکم او ماوّل پیژنی - او دَ خلقو دَ عادت او دَ عرف نه خبر دی او واقف -

او که حکم دَ مسئلے په ظاهر الروایت کښی موجود نه وو - نو که خمونږ دَ اماما نو دَ اصولو او دَ قواعد سره برابر وو - په هغې به عمل کوی - او که خمونږ دَ امامانو صاحبانو نه په هغې کښی هیڅ قسم روایت نه وی موندے شوے - او ورو ستنی عالمانو په دے باب کښی پرڅه شی اتفاق کړے دی - نو په هغې به عمل کوی - او که عالمان پکښی مختلف شوی وو - نو بیا به اجتهاد او فکر کوی - چو کومه خبره چه ئے ذړه ته پریوزی په هغې به فتوی ورکړی - او که مفتی صرف مقلِّد وو - مجتهد نه وو - نو اخلی به قول دَ هغه چا چه دَده په نزد دَ نورو نه په فقه کښی ښه وی - او جواب به دَ هغې سره لکوی - او که هغه سړے چه دَ نورو نه په فقه کښی ښه عالم وه - په بل ښهر کښی وو - نو دَ هغه سړی دے خط کتابت وکړی - او بیا جواب کښی دے ښه تحقیق وکړی - او اټکلی جواب دِ نه ورکوی - ځکه چه یره ده چه دروغ جوړ نه شی په خداوند پاک باندے په دے شان سره چه حرام ته حلال او وائی - یا حلال ته حرام - (خدائی پاک دِ موږ دَ دے نه اوساتی!) ختم شه مضمون دَ قاضیخان -

اېږده کړه دا خبره چه خمونږ دَ حنفیانو اماما نو دَ مسئلو درے طبقے دی - وړومبئ طبقه دَ مسئلو دَ اصولو ده - او دے ته ظاهر الروایت وئیلے شی - او دا هغه مسائل دی چه نقل شوی دی خمونږ دَ مذهب دَ اماما نو نه - یعنے دَ امام اعظم صاحبؒ او امام ابو یوسف صاحبؒ او امام محمدؒ صاحبؒ نه - او دے درے واړه اماما نو صاحبانو ته علماءِ ثلثه وئیلے شی - او کله کله دَ دی سره امام زفر صاحبؒ او حسن صاحبؒ او نور هغه عالمان چه دَ امام اعظم صاحبؒ نه ئے دَ فقهه علم حاصل کړیدے - هم ملګرے کیږی

لکن غالبه او اکثره په ظاهرالروایت کښ داده چه دَدے دریو واړو قول وی - یا په دے کښ دَ یو تن دوؤ - بیا دا مسایل چه ظاهرالروایت او اصول ورته وئیلے شی - هغه مسائل دی چه دَ امام محمد صاحبؒ په دے کتابونوکښ موجود دی :- جامع کبیر - جامع صغیر سیرِکبیر - سیرِصغیر - زیادات مبسوط - دے ته دَ ظاهرالروایت وئیلو وجه داده چه دَ امام محمدؒ صاحب رح نه دَ معتبرو خلقو په ذریعه دَدے روایت او نقل شوے - نو دا دَ امام محمدؒ صاحب رح نه ثابت دی په طریقه دَ تواتر یا په طریقه دَ شهرت سره - دویمه طبقه دَ مسایلو دَ نوادرو ده - دا هغه مسئلے دی - چه ځمونږ دَ اماما نو صاحبا نو رح نه خو نقل دی - لکن نه په هغے کتابونوکښ چه مخکښ ذکر شو - بلکه یا خو نقل دی دَ امام محمد صاحبؒ په نورو کتابونو کښ لکه په کیسانیات - هارونیات - جرجانیات - رقیات کښ - او دے ته غیرظاهر الروایت دَدے وجه نه وئیلی کیږی - چه دا دَ امام محمدؒ صاحبؒ نه نه دی نقل شوی - په دا سے روایتو سره چه ظاهر وی - ثابت وی صحیح وی - لکه په مخکښ ذکر شوؤ کتابونو کښ چه وو - او یا نقل وی دَ امام محمدؒ صاحب رح نه علاوه دَبل چا په کتابونوکښ لکه کتاب المجرد شه دَ حسن بن زیاد یا نور کتابونه - او بعضے دَدے کتابونو ته دَ امام ابویوسف صاحب رح دَ امالئی کتابونه دی - او امالی جمع دَ املاده - إملا دے ته وائی چه عالم یو ځائی کینی چا پیره ترے شاګردان وی - قلم مشوا نری کاغذونه ورسره وی - عالم تقریر کوی - او دی ئے لیکی - بیا ځیل لیکلی کاغذونه جمع کړی - دَ هغے نه یو کتاب جوړ کړی - دَ هغے نوم کیږی املا یا امالی - په پخوا زمانه کښ دَ نقل دَ حدیث دَ عربیت وغیره دَ عالمانو دا طریقه وه - او عادت ئے وو چه دا سے به ئے کول - لکن او س هغه طریقه ورانه شوے ده - ورکه شوے ده - ځکه چه پوهنه شه علم او لاړل عالمان - او خدای پاک ته ده رجوع دَ هر شی " دا ټول ذکر دی په شرح دَ منظومے دَ رسم المفتی کښ " او وئیلی دی خیرد ملی دَ ځیلے فتاوٰی په مسئلو دَ شهادت کښ چه کوم وخت معلومه شی چه دا قول دا ړے دے تو لو متنونو نو هغه معتبر دے - او په هغے به عمل کیږی ځکه چه عالمانو صاف وئیلی دی - چه دَ متن او دَ فتاوٰی که معارضه راغله (یعنے دَ یوے مسئلے حکم په متن کښ یو شان وو - او دَ فتاوے په کتاب کښ بل شان) نو معتبر قول دَ متن دے - دا ټول که دَ شرح او فتاوے معارضه راغله نو حکم کوم چه په شراح کښ دے هغه ورد بے دے - او ځمونږ په نزد دا خبره مقرره ثابته ده - چه مفتی به فتوٰے نه ورکوی - او عمل به نه کوی - مګر دَ امام اعظم صاحبؒ په قول باندے دَ امام صاحب رح دَ قول نه به دَ صاحبینو رح قول ته یا په دے دواړو کښ به دَ یو قول ته یا دَ بل چا قول ته ترجیح نه ورکوی - مګر که ضرورت پیښ شه - نو بیا کولے شی

لکه مسئلے دَ مزارعت شوے۔ (په دے کښې فتویٰ دَ صاحبینو رح په قول ده۔ د وجه دَ ضرورت نه) او خاص دَ امام صاحب رح په قول به فتویٰ ورکوی۔ اګرکه عالمانو تصریح کړی وی۔ ښکاره ښکاره ئے وئیلی وی۔ چه فتوے دَ صاحبینو رح په قول ده۔ ځکه چه امام اعظم صاحبؒ دَ دے مذهب خاوند دے۔ پیشوا او زبردست امام دے۔ ؎

تصدیق وکړه دَ امامؒ دَهر کلام
قول هم هغه دَے چه کوم کړے وی امام رح

ختم شه مضمون دَ خیر رملی۔ او متنونه څلور په نزد څلور دی۔ ما راوړی دی په یو شعر کښې چه دا دے۔ ؎

څلور هغه متنونه چه څمونږ پرے اعتبار دے
وقایه ده او مجمع دے بل کنز دُرِّ مختار دے

پائے شوه قدوری نو دَ دے درجه دَ تولو متنونو نه فوق او اوچته ده۔ ځکه چه دَ دوستنو عالمانو په نزد نو کتاب هم دا دے۔ او شرحے هغه معتبرے دی کومے چه دَ دے متنونو شرحے دی۔ لکه چه دَ فتاوٰی خیریه په مسئلو دَ شهادت کښې مذکور دی۔

او سلف هغه عالمان دی چه دَ امام اعظم صاحبؒ نه دَ امام محمد صاحبؒ پورے دی۔ او خلف هغه دی چه دَ امام محمد صاحبؒ نه دَ شمس الائمه حلوانی رح پورے دی او متأخرین هغه دی چه دَ شمس الائمه حلوانی رح نه دَ حافظ الدین رح بخاری پورے دی۔ (دا دَ ملک ذکر دی په واقعات کښې)

ختم شو هغه بیانونه او دَ شهادتونو مسئلے چه دَ کومو دَ راوړلو ما اراده کړے وه۔ په دے پائے روکیښ۔ دا دا سے کتاب دے چه ځما په خیال کښې ځما نه په مخکښې چا داسے ترتیب نه دی قائم کړے۔ او نه به ئے دومره مسئلے راوړے دی۔ څومره چه ما په دے کتاب کښې راوړی دی۔ سره دَ دے نه چه زۀ وزګار هم نۀ وم۔ حوادث او عوارض م په یرو و۔

علاوه دَ دے نه دا هم وایم۔ چه هغه آخری عالم چه دَ شهادتو دَ غوره کولو مسئلے ئے لیکلے دی۔ هغه صاحب دَ تنقیح کتاب دے۔ او هغه په خپل کتاب کښې وئیلی دی۔ چه دا ټولے مسئلے هغه دی چه ما په مختصره طریقه راغونډے دی دَ تعارض البینات کتاب نه او دا او یا دَ بره یوسل مسئلو نه رسی۔ ختم شوه خبره دَ صاحب دَ تنقیح

او کومے مسئلے چه ما په دے کتاب کښې جمع کړے دی۔ هغه په ظاهر کښې تقریباً دوه زره دی۔ (لیکن په اصل کښې) خلور وزرو ته رسی۔ (په تفصیلی نظر سره) او زۀ دَ دے

ملک په اصل کتاب کښې چه صاحب کتاب دَ عربی کوم شعر دَ مثل په طور راوړے دے په هغے کښې دَ حنام نوم ذکر دے۔ خو ما دَ حذام په ځائے دَ امام نوم راوړے دے۔ ۱۲ مترجم محمد ابراهیم عفی عنه

مستلو دَ جمع کولو په سبب دَ خپل فضیلت او دَ لوئ علمیت دعوه نه کوم - دا خو صرف دَ خدائے پاک مهربانی ده، توفیق دے - حکم ئے کړیں ے چه دَ دے پاک شریعت په فروع عمل کوئ او حفاظت ئے کوئ - او دَ خدائے پاک رحمتونه دے نازل شی ! او سلام دے وی! خمونږ په سردار باندے چه نوم مبارک ئے محمّد (صلی الله علیه وسلم) دے - او دَ هغه په آل او په اصحابو (رضی الله عنهم) او توله ثنا خاص خدائے پاک لره ده - چه پا لونکے دَ عالمونو دے (او لرے کونکے دَ غمونو دے) دَ دے کتاب دَ مسودے دَ لیکلو نه زهٔ دَ بزرګ میاشتے په نیمه کښې په یو کم دوے سوه دَ بره یو زر سن (۱۲۹۹ھ) هجری کښې وزګار شوم۔

فضل عبدالمطلب
تعلم خود
خطیب
سنٹرل جیل پشاور
قیدی ۲۰ ساله
ریاست سوات
تحصیل بریکوٹ سکنه مانیار

۲۵/۹/۱۱
فضل تعلم خود

تحریر شد ۲۵ ۹/۱۱ الراقم فضل عبدالمطلب تعلم خود

درس دیتے / ضلع مردان تحصیل ملاکنڈ سکنه پیر دشاه
فضل عبدالمطلب قیدی ۲۰ ساله

کتاب ۳

د پښتو

بیّنة من له الرُّجحان

(د غوره جانب شاهدان)

ترجمه

فقیر محمّد ابراهیم بازارګوی عفی عنه

بخدمت القضاۃ دیر سوات چترال ملاکنڈ
آف بیرو شاہ ضلع مردان

تصدیق ۔ جو سالہ قاضی عبدالمطلب ولد قاضی شمس الاحد
مرحوم اولاد آید حمزہ صاحب از سند محمود
محمد نوری صاحب ریاست سوات
تحصیل بریکوٹ خاص کنجام مانیار
حال خطیب سنٹرل جیل پشاور
الراقم قاضی عبدالمطلب قلم خود
کیدر

26/9/66

در حقیقت مالک ہر شئے خدا است
این امانت چند روز ہے پیش ماست

26/9/66

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

ثنا ثابته ده۔ خاص هغه خدای پاک لره چه یقیني دلائل ئے زبردست دي۔ او احسان
او فضل ئے عام دے۔ او درود او سلام دِ وي دَ هغه په رسول) او په محبوب بانده
چه نوم مبارک ئے محمدؐ دے۔ سردار دے دَ انسانانو دِ بلکه دَ ټولو عالمیانو) او دَ هغه
په آل او په اصحابو دِ وي۔ داسے آل و اصحاب چه دَ ټولو دینداراتو نه په شرافت او
په تبه والی کښې زیات دي۔ (پس دَ نبیانو۴ نه)
دَ دے نه بعد وایم زهٔ چه دَ خدائے پاک په ټولو بندګانو کښې یو عاجز بندهٔ یمه۔ او
نوم مې سیّد عبد الرحمان بن سلیمان دے۔ او دَ دوستانو او دَ خپلوانو په ټولی کښې په
"خصالی" نوم سره مشهور یمه۔ ما دا رساله جوړه کړیده۔ او دَ دے مسئلے مې دَ خپل طاقت
سره مناسب دَ معتبرو کتابونو نه راخستي دي۔ او دَ دے نوم مې بَیِّنَةُ مَنْ لَهُ الرجحان
عند تعارض البرهان" دے۔ او خاص دَ خدائے پاک نه مدد غواړم۔ او په هغه مې
توکّل دے۔ اوس مقصود (یعنے مسئلے) شروع کیږی۔

دَ نکاح مسئلے

مسئله:۔ شاهدان دَ وړومبي تاریخ واله غوره دي۔ که دوه وُ تنو شاهدان
وُدرول په نکاح دَ یوے داسے ښځے چه هغه منکره وی دَ نکاح نه۔ او دواړو تاریخ دَ نکاح
خولو (یعنے په دے دواړو کښې هر یو شاهدان وُدرول په دے خبره چه دَ دے ښځے سره
ما په فلانی تاریخ نکاح کړیده۔ نو دَ کوم یو تاریخ چه وړومبے وی۔ دَ هغه شاهدان غوره
دي)" قاضیخان په دعوه دَ نکاح کښې"
مسئله:۔ یو سړی شاهدان وُدرول چه دَ دے ښځے سره ما نکاح کړیده۔ او ښځے
وئیل چه دے دروغ وائی۔ او قاضی ورله حکم وُکه چه دا ستا ښځه شوه۔ دَ هغے نه ورستو
په دغے ښځه یو بل سړی دعوه دَ نکاح کوله۔ او دا دلیل شاهدان ئے وُدرول نو قاضی به دَ
دَ دویم مدعی دَ پاره حکم نه کوی۔ لکن که دَ نکاح تاریخ ئے داسے ثابت که چه وړومبے وو

دَ ورو مبی مدعی دَ تاریخ نه نو بیا ورومبی تاریخ واله غوره دے (یعنی دا دویم مدعی غوره دے) " تیره شوے حواله "

مسئله :- که دووَ تنو بے قبضے مدعیانو دَ یوے ښځے دَ نکاح دعوه کوله او یو تاریخ دَ نکاح وخوده او بل نه - نو شاهدان دَ تاریخ واله غوره دی دَ شاهدانو دَ هغے بل نه " تیره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ هغے مدعی نه چه تاریخ ذکر کړے وی - که دواړو شاهدانو وُدرول په نکاح دَ یوے ښځے (یعنی هر یو دا دعوه کوله چه دا ښځه ما په نکاح اخستے ده - او حال دا دے چه دغه ښځه دَ یو په قبضه کښې وه - خو هغه دَ نکاح تاریخ نه وو ذکر کړے - او دَ هغه بل په قبضه کښې نه وه - او تاریخ دَ نکاح ئے ذکر کړے وو - نو شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی - " تیره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه - که دواړو شاهدانو ودرول په نکاح دَ یوے ښځے بے دَ ذکره دَ تاریخ دَ نکاح نه (یعنی مدعی بے قبضے شاهدان وُدرول چه دا ښځه ما په نکاح آخستے ده - او دَ چا په قبضه کښې چه ده هغه په دے خبره چه دا ما په نکاح آخستے ده - او دواړو تاریخ دَ نکاح ذکر نه که - نو شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی -) " جامع الفصولین په شلم فصل کښې "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند په دے خبره چه دا ښځه راضی شوے وه - یا په دے خبره چه دے اجازه کړے وه - کوم وخت چه ورته علم وشه دَ دے نکاح - غوره دی شاهدانو دَ دغه ښځے نه په دے خبره بانDے چه ما رد کړے وه - او بعض عالمان وائی چه شاهدان دَ ښځے غوره دی " ترجیح البینات دَ غانم بغدادی په مسئلو دَ نکاح کښې "

مسئله :- دووَ تنو سړو شاهدان ودرول په نکاح دَ یوے ښځے پس دَ هغے دَ مرګ نه یعنی یو وئیل چه هغه خما دَ نکاح ښځه وه - او بل وئیل چه خما) نو حکم به کیږی چه دواړه دے واخلی دَ هغے دَ میراث نه میراث دَ یو خاوند په شریکه سره - او په دے دواړو کښې په هر یو باندے دَ دغه ښځے نیم مهر لازم دے " تیره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دَ دے ښځے سره ما نکاح کړیے وه ورومبیه دَ نکاح دَ خاوند دَ قبضے نه - غوره دی - " تیره شوے حواله "

مسئله :- که دَ ښځے دَ مرګ نه ورو ستو (دووَ تنو دَ هغے دَ نکاح دعوه کوله - یعنی یو وئیل چه خما ښځه وه - او بل وئیل چه خما نو) شاهدان دَ ورومبی تاریخ واله غوره دی -

او معتبر نه دے په دے کښې اقرار او قبضه. او میراث به د دوړو مبی تاریخ واله شی. (د څومره چه یو خاوند حقدار دے) "تیره شوے حواله"

مسئله:- شاهدان د یوے ښځے په دے خبره بانده چه زه کوم وخت پلار په نکاح ورکولم. زه په هغه وخت کښې د شلو کالو وومه. غوره دی د شاهدانو د خاوند د دغه ښځے نه په دے خبره چه ته په دغه وخت کښې د اتو کالو وے. دا په هغه وخت کښې چه ښځه دعوه کړی چه زه په دے نکاح راضی نه یمه "قاضیخان په شرائط نکاح کښې"

مسئله:- شاهدان د ښځے په دے خبره بانده چه زه ځوانئ ته رسیدلے ومه پس د هغے نه خپل ولی واکدار (پلار یا نیکه) په نکاح ورکړے یمه بے ځما د رضا نه. غوره دی د دغے ښځے د خاوند د شاهدانو نه په دے خبره بانده چه ستا ولی ته ماله په نکاح داکړے وے په داسے حال کښې چه ته ځوانئ ته نه وے رسیدلے. "خلاصه په څوارلسم فصل په مسئلو د دعوے د نکاح کښې"

مسئله:- شاهدان د باکره[1] جینئ په دے خبره بانده چه ځما ولی واکدار چه زه په نکاح ورکولم نو ما د دے نکاح رد کړے وو. غوره دی د شاهدانو د خاوند د دغے ښځے نه په دے خبره چه ته په هغه وخت کښې چپ شوے وے. "ترجیح البیّنات په مسئلو د نکاح کښې"

مسئله:- فیرنګیان شاهدان چه د یو مسلمان سړی د پاره شاهدی کئی د یوے فیرنګے ښځے په نکاح بانده غوره دی د هغے فیرنګیا نو شاهدانو نه چه شاهدی کئی د پاره د یو کافر په نکاح د دغه ښځے بانده) دا حکم په نزد د امام صاحب[رح] او د امام محمّد صاحب رح دے. او امام ابو یوسف صاحب رح وائی چه شاهدان د کافر غوره دی. "تیره شوے حواله"

مسئله:- شاهدان د هغه چا چه ښځه د هغه په کور کښې ئی. غوره دی د بل مدعی د شاهدانو نه که دواړو دعوه کوله د نکاح د دغه ښځے "جامع الفصولین په شلم فصل کښې"

مسئله:- شاهدان د هغه چا چه ثابته ئی نکاح او دخول[2] دواړه غوره دی د شاهدانو د هغه مدعی نه چه دعوه د نکاح کئی سره د ذکره د تاریخ د نکاح نه. "قاضیخان په دعوه د نکاح کښې"

---

[1] باکره هغه جینئ ده چه پرده د رحم ئے په حال وی.
[2] یعنے صحبت د دغے ښځے سره.

مسئله:۔ کوم مدعی چه دخول کړے وی د هغه شاهدان غوره دی د هغه مدعی نه چه دخول ئے نه دی کړے۔ که دواړو شاهدان ورکړل په نکاح د یوے ښځے " تیره شوے حواله "

مسئله:۔ شاهدان د هغه یو تن د ښځے او د خاوند نه چه دعوه کئی د فاسد والی د نکاح پس د بچی پیدا کیدو نه۔ غوره دی د شاهدانو د هغه بل نه چه دعوه کئی د صحیح والی د نکاح (تو نکاح په فاسد ئی) او نسب د بچی به ثابت ئی " تیره شوے حواله "

مسئله:۔ شاهدان د هغه چا چه دعوه کئی چه ما د دے مدعی نه وړو مبید د دے ښځے سره نکاح کړیدے غوره دی " قاضیخان په دعوه د نکاح کښ "

مسئله:۔ شاهدان د نکاح غوره دی د شاهدانو د هبے یا د صدقے یا د گانړے نه۔ " او گوره ترجیح مسئلے د هبے "

مسئله:۔ شاهدان د هغه چا چه ښځه ئے په قبضه کښ ئی۔ او شاهدان ورکړی په دے خبره چه دا ښځه زما د نکاح ښځه ده۔ غوره دی د شاهدانو د مدعی بے قبضه نه په دے خبره چه دا زما د نکاح ښځه ده " قاضیخان په مستلو نکاح کښ "

مسئله:۔ شاهدان د یو سړی په دے خبره چه دا ښځه زما د نکاح ښځه ده۔ غوره دی د دغه ښځے د شاهدانو نه په دے خبره چه زه د بل سړی د نکاح ښځه یم۔ او حال دا ئی چه دغه بل سړے انکار کئی د دے ښځے د ښځوالئ نه۔ " جامع الفصولین په شلم فصل کښ "

مسئله:۔ شاهدان د زید په نکاح د یوے ښځے باندے غوره دی د دغه ښځے د خود د شاهدانو نه په دے خبره باندے چه زه د زید د نکاح ښځه یمه۔ په هغه صورت کښ چه دواړه تاریخ د نکاح ونه ښئ۔ یا دواړه یو تاریخ وښئی " خلاصه په بیان د نکاح کښ "

مسئله:۔ شاهدان د وړومبئ تاریخ والا غوره دی۔ که زید شاهدان ورکړل چه صغرا ما په نکاح اخستے ده۔ (په فلانی تاریخ) او د صغرا خور کبرئ شاهدان ورکړل چه زید زه په نکاح اخستے یمه (په فلانی تاریخ) " تیره شوے حواله "

مسئله:۔ شاهدان د هغه مدعی چه ښځه اقرار کوی د هغه په نکاح سره غوره دی د شاهدانو د هغه بل مدعی نه۔ که دواړو مدعیانو دعوه کوله د نکاح د دغه ښځے او دواړو نه وو ذکر کړے تاریخ د نکاح " قاضیخان په دعوه د نکاح کښ "

مسئله:۔ شاهدان د هغه مدعی چه ښځه اقرار کئی د هغه په حق کښ او والئ چه

دَهٔ داسره دَدے بل نه دړومبيه کودوالے کړيے غوره دي. که دواړو مد عيانو دعوه کوله دَ دغه ښځے دَ نکاح او دَ دخول. "ترجيح البيّنات په مسئلو دَ نکاح کښ"

مسئله :- که زيد دعوه وکړه چه ځما پلار په فلانئ وُرځے مړ شوے دے. او حکم ورله وکړے شه (دَ هغه په ميراث سره) پس دَ هغه نه يوے ښځے شاهدان وُدرول چه دَ زيد هغه پلار چه مړ شويے هغه زَهٔ دَ دغه تاريخ نه (چه زيد ئے دَ مرګ خودليے دے) يو وُرځے وروستو په نکاح اَخستے وُمه نودا شاهدان قبول دي. او حکم به کيږي چه دا نکاح شويے ځکه چه دَ مرګ وُرځ دَ قاضي دَ حکم لاندے نه راځي. "تيره شوے حواله"

مسئله :- زيد په بکر باندے دعوه وکړه چه دَهٔ ځما پلار په فلانئ ورځے باندے قصدًا وژلے دے. او قاضي حکم وکړه په قصاص سره. پس دَ دے نه يوے ښځے شاهدان وُدرول په دے خبره چه دَ زيد پلار زَهٔ دَ دغه تاريخ نه يوه وُرځے وروستو په نکاح اَخستے وُمه نودا شاهدان قبول نه دي. "تيره شوے حواله"

دَ مهر مسئلے

مسئله :- شاهدان دَ ښځے غوره دي دَ شاهدانو دَ خاوند نه په هغه صورت کښ چه دواړه شاهدان ودروي په اندازه دَ مهر باندے (ښځه وائي چه مهر دومره وو. او خاوند وائي چه دومره وو.) خو هاله که مهر مثل دَ هغے هومره وو دَ څومره چه خاوند دعوه کوله يا دَ هغے نه کم وو. "دُرر په باب دَ تخالف کښ"

مسئله :- شاهدان دَ خاوند غوره دي دَ شاهدانو دَ ښځے نه په هغه صورت کښ چه دواړه شاهدان وُدروي په اندازه دَ مهر باندے خو هاله که مهر مثل دَ هغے دومره وو دَ څومره چه ښځے دعوه کوله يا دَ هغے نه زيات وو. "تيره شوے حواله"

مسئله :- که ښځه او خاوند مختلف شو په اندازه دَ مهر کښ (او يو شاهدان وُدرول او بل ونه وُدرول) نو کوم يو چه شاهدان وُدرولي دي. حکم به دَ هغه دَ پاره کيږي. "تيره شوے حواله"

مسئله :- شاهدان[1] دَ خاوند په اصل مهر کښ او په اندازه دَ مهر کښ غوره

[1] دا مسئله دَ حوالے نه هم مخالف ده او دَ واقعے نه هم ځکه چه اختلاف دَ ښځے او دَ خاوند که په اصل مهر کښ وو. يعنے يو وئيل چه مهر مقرر شوے وو او بل وئيل چه نه نو حکم دا دے چه کوم يو دَ مهر دَ مقرروالي دعوه کړيده که هغه شاهدان وُدرول نو قبول دي. دا درکړ وئيلي دي په شرح وقايه کښ او دَ شرح وقائے نه نقل دے په شرح دَ ملتقي الابحر کښ. او که اختلاف په اندازه دَ مهر کښ وو نو بيا هغه تفصيل دے کوم چه دَ دے کتاب دَ دے باب مسئلو کښ ذکر شو يلے. او همه په ذکر شي. او په ملتقي الابحر کښ هم دا رنګ تفصيل مذکور دے. ۱۲ مترجم

دی دَ شاهدانو دَ ښځې نه "ملتقی الابحر په باب دَ مهر کښې"

مسئله: ښځې او خاوند شاهدان ورول په اندازه دَ مهر باندې (ښځې وئیل چه دومره دې - او خاوند وئیل چه دومره دې -) او مهر مثل دَ یوې پاره هم شاهد نه وو - (یعنې مهر مثل نه دَ ښځې دَ مقدار همره وو او نه دَ خاوند) په دې شان سره چه کم وو دَ هغې مقدار نه چه ښځې ئې دعوه کوله - او زیات وو دَ هغې مقدار نه چه خاوند ئې دعوه کوله - نو دَ دواړو شاهدان به وغورزیږي - ځکه چه دواړه په ثابتولو کښې برابر دي - (او لازم به شي مهر مثل) "دُرر په تخالف کښې"

مسئله: شاهدات دَ ښځې په زیاتوالي دَ خپل مهر باندې غوره دي دَ شاهدانو دَ خاوند نه په کموالي دَ مهر باندې "ترجیح البیّنات په مسئلو دَ نکاح کښې"

مسئله: شاهدان دَ خاوند دَ یوې ښځې چه مړه ئې - په دې خبره باندې چه هغې ابراء کړې وه دَ مهر نه (یعنې ما ته ئې خپل مهر پرېښې وو) په حالت دَ صحت کښې غوره دي دَ هغه ښځې دَ میراث خورو دَ شاهدانو نه په دې خبره چه هغې ورته مهر پرېښې وو - په حالت دَ مرض موت کښې - او بعض عالمان وائي چه شاهدان دَ میراث خورو غوره دي "قنیه په شهادت کښې"

مسئله: شاهدان دَ میراث خورو دَ یوې ښځې په دې خبره چه هغې خپل مهر دې خاوند ته هبه کړې وو - (بخلې وو) په دا سې حال کښې چه هغه دَ مرګ ناجوړه وه - غوره دي دَ شاهدانو دَ خاوند نه په دې خبره چه هغې ما ته خپل مهر را بخلې وو - په دا سې حال کښې چه هغه ښه جوړه وه - "فصول العمادی په څوارلسم فصل کښې"

مسئله: شاهدان دَ ښځې په دې خبره باندې چه ځما مهر مړئې دې - غوره دي دَ شاهدانو دَ خاوند نه په دې خبره چه ستا مهر وینزه وه - او حال دا ئې چه دا وینزه دَ دغې ښځې مور ئې "ترجیح البیّنات مسئلې دَ نکاح"

مسئله[1]: شاهدان دَ خاوند دَ یوې ښځې په دې خبره باندې چه ځما دې ښځې ما ته خپل مهر پرېښودې دې - غوره دي دَ شاهدانو دَ دغه ښځې نه په دې خبره چه ځما خاوند تر او سه پورې داده وو - ځما په مهر - او دارنګ حکم دَ قرضې دې - (مثلاً دَ زید بل ته روپئ وي - نو هغه شاهدان وړاندې چه دې زید ما ته ابراء کړې وه - هغه روپئ ئې را ته پرېښودي دي - او زید شاهدان وړاندې چه تر دَ نن پورې داده وې په دغه روپو - نو شاهدان دَ ابراء غوره دي -) "جامع الفتاوی په آخر دَ شهادت کښې"

---

[1] په دې مسئله کښې تفصیل دې وګوره ترجیح ۱۲ - مترجم

مسئله :- شاهدان دَ ښځے غوره دی ۔دَ شاهدانو دَ خاوند نه په هغه صورت کښ چه دا دعوه کئ چه ما خو خپل مهر دے خاوند ته پریخودے وو۔په یوشرط سره ۔او خاوند ئے دعوه کئ چه تا بے دَ څه شرط نه پریخودے وو۔ او بعض عالمان وائی چه شاهدان دَ خاوند غوره دی ۔"ترجیح البینات په مسئلو دَ نکاح کښ"

مسئله :-یو سړی شاهدان وددوی چه دَ ذیں مرینے چه دے هغه ما ته ذیں په څه عوض سره را بخلے دے ۔یا ئے ماله خیراتی داکړے دے ۔او دَ ذیں ښځه شاهدان وددوی په دے خبره چه دغه مرئے ماله خپل خاوند ذیں په مهر کښ داکړے دے ۔نو دَ امام ابو یوسف صاحب رح په نزد دغه مرئے به دَ مدعی او دَ ذیں او دَ ذیں دَ ښځے په منځکښ نیم کړے شی ۔یعنے دغه مرئے به دَ دواړو شی په شریکه ۔او دَ دغه ښځے دَ پاره په نیم قیمت دَ دغه مرئی وی په ذیں باندے دَ پاره دَ دے چه مهر ئے پوره شی ۔او دَ امام محمد صاحب رح په نزد به دغه مرینے دَ مدعی شی ۔ او دَ ښځے دَ پاره به پوره قیمت وی په خاوند باندے۔
" تیره شوے حواله "

مسئله :-یوے ښځے دعوه وکړه چه ذیں کوم چه مړ دے ۔څما سره دَ فلانی کال په بزرګه میاشت کښ نکاح کړے وو۔نو زهٔ دَ هغه په میراث کښ خپل مهر غواړم ۔نو دَ ذیں میراث خوارهٔ شاهدان وددوی په دے خبره چه ذیں دَ دغه کال په میاشت دَ صفرهٔ کښ مړ شوے دے ۔نو دا شاهدان قبول نه دی ۔او ثابتیږی نکاح او مهر دَ دغه ښځے دَ ذیں په میراث کښ (که ښځے شاهدان تیر کړه)" تیره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند غوره دی دَ شاهدانو دَ ښځے نه ۔که دواړه سره مختلف شو۔په دا سے قسم سامان کښ چه لایق وو دَ ښځو سره (خاوند وئیل چه دا څما دے او ښځے وئیل چه څما۔) " تیره شوے حواله "

مسئله :-شاهدان دَ خاوند په دے خبره چه کوم توکے چه ما خپلے ښځے له لیږلے وو۔ هغه جوړکړه وه یا په مهر کښ حساب وو۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ ښځے نه په دَ خبره چه هغه دَ تعلق په طور وه یا منځوره وه ۔ " قاضیخان په مسئلو دَ نفقے کښ" او په خلاصه کښ ذکر دی چه شاهدان دَ ښځے غوره دی ۔

دَ طلاق مسئلے

مسئله :- شاهدان دَ میراث خورو دَ ذیں په دے خبره چه ذیں خپله ښځه فلانئے

له په شاتی او په بحر کښ وئیلی دی چه شاهدان دَ مهر غوره دی دَ [illegible] دَ شاهدانو نه ۔ ۱۲ ۔ مترجم رح

په داسے حالت کښی طلاقه کړے ده. چه هغه ښه جوړ وُ. غوره دی د شاهدانو د ښځے د
زید نه په دے خبره چه هغه زۀ په داسے حال کښی طلاقه کړے یمه. چه هغه د مرګ په مرض
بانسے ناجوړه وو. او هغه ځما په عدت کښی مړشویے (نو په میراثه کښی ئے ځما حق
شته دے) ولے هاله چه تاریخ د دواړو برابر وو. (یعنے د طلاقو کوم تاریخ چه میراث خوړو
خوٹے وو. او کوم چه ښځے خوٹے دواړه برابر وو.) بزازیه "

مسئله :- کوم[1] شاهدان چه شاهدی کوی چه زید دا ښځه خلعه کړیده دا شاهدان غوره
دی. د هغه شاهدانو نه چه شاهدی کوی چه زید دا ښځه په نکاح آخستے ده. اګر که ښځه دعوه
کوی د خالی نکاح. د نوهم شاهدان د خلع غوره دی. ځکه چه خلعه نه وی مګر پس د
نکاح نه.) " جامع الفصولین په لسم فصل کښی "

مسئله :- شاهدان د طلاقو غوره دی د نکاح د شاهدانو نه. او بعض عالمان
وائی چه شاهدان د نکاح غوره دی. " ترجیح البیّنات په مسئلو د شهادت کښی "

مسئله :- شاهدان د ښځے په دے خبره باندے چه زۀ کوم وخت خپل خاوند
زید خلعه کوله په هغه وخت کښی زید هوښیار او عاقل وو. غوره دی. د زید د وارثانو د
شاهدانو نه په دے خبره چه زید په هغه وخت کښی لیونے وو. په هغه صورت کښی چه زید
د دے مقدمے په وخت کښی لیونے نۀ دے " دررغرر "

مسئله :- شاهدان د خوئ د زید چه د رومبیه ئے وئیلی ئی چه دا ښځه ځما میلار
چه مړ دے د هغه د نکاح ښځه نه ده. او س شاهدان وړنئی په دے خبره چه دا ښځه
هغه طلاقه کړے وه. او د دے عدت د هغه د مرګ نه وړومبیه ختم شوے وو. نو دا
شاهدان غوره دی د شاهدانو د دغه ښځے نه په دے خبره باندے چه زۀ د زید منکوحه
ژمه په وخت د مرګ کښی (یعنے هغه نکاح د زید د مرګه پورے باقی وو) ترجیح البیّنات
په مسئلو د طلاقو کښی "

مسئله :- شاهدان د ښځے په موجود والی د شرط باندے غوره دی د شاهدانو
د خاوند نه په دے خبره چه ما شراب څښلی وو. د دے ښځے په اذن سره په هغه صورت
کښی چه خاوند شرط کړے ئی. که ما شراب وڅښل بے ستا د اذن نه نو ستا
اختیاد ستا په لاس کښ دے. (که غواړے نو ځان طلاقه ولے شی) " قنیه "

مسئله :- شاهدان د ښځے په دے خبره باندے چه زید چه مړدے زۀ د هغه

[1] دا مسئله جامع الفصولین په دے بیان کښی راوړیده. چه زید مړ شوے وی. او د هغه د ښځے
او د میراث خوړو جګړه وی په میراث د زید کښی. ۱۲ مترجم رح

نبحه وومه دَ هغه دَ مرګه پورے غوره دی. دَ شاهدانو دَ میراث خورو دَ زید نه په دے خبره باندے، چه ته دَ هغه دَ مرګ نه شپږ میاشتے وړومبیه په هغه حرامه شوے دے ۔ ترجیح البینات په مسئلو دَ طلاقو کښ ۔

دَ نفقے مسئلے

مسئله: شاهدان دَ ښځے په اندازه دَ هغه نفقے باندے چه مقرر کړے شوے وه ذیاده دَ دے یا په اندازه دَ ښځے دے چه کومه تیره شوے ده. پس دَ مقرر کولو دَ قاضی نه نفقے لره غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند نه. اوکه شاهدان نه وو. نو خبره دَ خاوند معتبره ده. (اوګوره ترجیح) "قاضیخان په نفقے کښ"

مسئله: شاهدان دَ ښځے دَ خپل خاوند نه نفقه طلب کوی. او شاهدان ګُدروی چه دے مالدار دے. نو دا شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند نه په دے خبره چه زهٔ خوار عاجز غریب یمه ۔ تیره شوے حواله

مسئله: شاهدان دَ ځوئ چه دَده دَ غائب والی په وخت کښ دَده مال پلار په ځان خرچ کړے لګولے دی. نو دے شاهدان ګُدروی په دے خبره چه ځما داپلار په دغه وخت کښ مالدار وو. نو دا شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ پلار نه په دے خبره باندے چه زهٔ په دغه وخت کښ غریب نادار ومه. (اوګوره ترجیح) "قاضیخان په نفقه دَ والدین کښ"

مسئله: یو شل کس سړے دے دَ زید نه نفقه غواړی او شاهدان ګُدروی په دے خبره چه دا زید ځما پلار دے. او زید شاهدان وړ دی په بکر باندے چه دَده پلار بکر دے. (زهٔ نه یمه) او حال دا دے چه بکر انکار کوی نو شاهدان دَ شل کس غوره دی. قاضی به وړله په زید نفقه مقرره کی. او نسب به ئے هم دَ زید نه ثابت شی. "قاضی خان په ما یبطل الدعویٰ کښ"

دَ ټی ورکولو مسئله

مسئله: شاهدان دَ داټی په دے خبره باندے چه دغه واده لره ماچل ټے ورکړے

دے - دا غوره دی - دَ شاهدانو دُ خپلوانو دَ دغه وینوکی نه په دے خبره باندے چه ناورله دَ بیزے پئی ورکړیدی په هغه صورت کښې چه دواړه ووره مبینه طے کړے وی چه دائی بے ورله خپل تے ورکړی دے جامع الفصولین په لسم اودولسم فصل کښې دَ کتاب الرضاع کښې۔

دَ مریٔ آزاده وُلو مسئلے

مسئله :- دَ یو مرِی میراث خورو شاهدان وُدرلّی په دے خبره چه دا مریٔ دَ هغه مری ملکیت وو - دَ وخته دَ مرګه پورے - لبیا ماته په میراث کښې پاتے شوے دے) دا شاهدان غوره دی - دَ دغه مرِیٔ دَ شاهدانو نه په دے خبره چه زهٔ دَ بل سړی ملکیت ووم - او هغه زهٔ آزاد کړے یم " ترجیح البینات دَ مریٔ دَ آزاده ولو په مسئلو کښې "

مسئله :- دَ مکاتب دَ شاهدانو نه - شاهدان دَ مولیٰ غوره دی - که دواړه سره مختلف شو په اندازه دَ بدل دَ کتابت کښې (یعنے یو سړی خپل مریٔ مکاتب کړے وو - یعنے څه روپئی ئے ورسره کړے دی - چه دومره روپئی راکه نو ته آزاد ئے - بیا دی دواړه سره مختلف شو - په اندازه دَ دغه روپو کښې مکاتب وئیل چه تا دومره روپئی وئیلی دی - او هغه وئیل چه نه دومره) " دُرر په تخالف کښې "

مسئله :- چا دعوه وکړه چه زهٔ دَ فلانی مریٔ وُمه - هغه آزاد کړے یم - او قاضی حکم وُکه په آزادوالی سره - پس دَ دے نه بل سړی شاهدان وُدرول چه ته خما مریٔ نو دا شاهدان قبول نه دی " ترجیح البیّنات دَ مریٔ دَ آزاده ولو په مسئلو کښې "

مسئله :- که دوه تنو دَ یو مری دَ میراث دعوه کوله - او هریو شاهدان ودرول چه دغه مړے خما مریٔ وو - ما آزاد کړے وو - نو حکم به کیږی په وِلااو میراث سره دَ پاره دَ دواړو مدعیانو " دُرر په مسئلو دَ ولا کښې "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه که دواړو دعوه دَ ملکیت کوله سره دَ یو فعله لکه دواړو وئیل چه دا مریٔ خما دے ما آزاد کړیدے - یا ما مدبّر کړے دے - (یعنے ما ورته وئیلی دی چه ته آزاد ئے پس خما دَ مرګه) " ترجیح البیّنات "

مسئله :- شاهدان دَ مدعی بے قبضے او خاوند دَ قبضے برابر دی که دواړو دَ مریٔ دَ مکاتب کولو دعوه کوله - (یعنے هریو وئیل چه دا مریٔ خما دے - ما ورسره کړیدی چه دومره

مال داکړه نو ته آزاد ئے.) ځکه چه (په معنٰی کښې) دواړه بے قبضے دی. په سبب دَ دے چه په مکاتب باندے قبضه نشته." تیره شوے حواله"

مسئله:. شاهدان دَ هغه چاچه دَ مرئی دَ آزادولو یا دَ مدبّرکولو دعوٰی کوی (یعنے وائی چه دا مرئی ځما وو. ما آزاد کړے دے یا دا چه ما ورته وئیلی دی چه ته آزاد ئے پس ځما دَ مرګه غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه دعوه کئی دَ کتابت (یعنے وائی چه دا مرئے ځما دے ما ورسره کړیدی چه دومره روپئی داکړه نو ته آزاد ئے.) برابره خبره ده چه مدعی بے قبضے وی. اوکه خاوند دَ قبضے ." ترجیح البیّنات په مسئلودَ دعوے کښې"

مسئله:. شاهدان دَیو مرئی په دے خبره چه زهٔ حرّالاصل یم. (یعنے په اصل کښې آزاد یم مرئے نه یم) غوره دی دَ شاهدانو دَ مولانا نه په دے خبره چه ته ځما مرئے ئے." تیره شوے حواله"

مسئله:. شاهدان دَ آزادولودَ مرئی یا دَ مدبّرکولو یا دَ استیلاد سره دَ کورنی پیدایښ نه غوره دی دَ هغه شاهدانو چه شاهدی کئی یوازے په کورنی پیدایښ باندے (یعنے بو مدعی خویوازے په دے خبره شاهدان وړی چه دا مرئے یادا وینځه ځما ده. ځما کورنئے پیدا ده. اوبل مدعی شاهدان وړ دوی په دے خبره چه داوینزه یادا مرئے ځما کورنے پیدا دے. او ما آزاد کړے دے. یا ما ورته وئیلی دی. چه ته آزاد ئے پس ځما دَ مرګه. یا په دے خبره چه داوینزه ځما کورنئ پیدا ده او ځما نه ئے بچے شوی. نو دَ دهٔ شاهدان غوره دی." وجیز په مسئلودَ نتاج کښې"

مسئله:. شاهدان دَ آزادولودَ مرئی یا دَ وینځے سره دَ کورنی پیدایښ نه غوره دی دَ هغه شاهدانو نه چه شاهدی کئی دَ دغه مرئی یا دَ وینځے په مدبرکولو باندے یا دَ دغه وینځے په استیلاد باندے سره دَ کورنی پیدایښ نه." اوګوره ترجیح مسئلے دَ دعوے"

مسئله:. شاهدان دَ هغه چاچه دعوه کئی چه دا مرئے ما مدبر کړیدے (یعنے ما ورته وئیلی دی چه ته آزاد ئے پس ځما دَ مرګه) یا ما آزاد کړیدے غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه دعوه کئی چه دا مرئے ما مکاتب کړیدے. (یعنے چه دومره روپئی راکړی نو آزاد به شی)" وجیز په دعوه دَ نکاح کښې"

مسئله:. دَیو سړی په قبضه کښې یوه وینځه ده. دے شاهدان وړی په دے خبره چه داوینځه ما مدبّره کړیده. په داسے حال کښې چه زهٔ ئے مالک یم. (یعنے ما ورته وئیلی دی. ته آزاده ئے پس ځما دَ مرګه) اوبل مدعی شاهدان وړی په دے خبره چه دَ دے وینځے ځما نه بچے شوے دے. په داسے حال کښې چه زهٔ ئے مالک یم. اوبل مدعی هم دا رنګ

شاهدان ودرول - نو ونیجه دَ خاوند دَ قبضے ده - " قاضی خان په دعوه د منقول کښ "

مسئله :- شاهدان دَ هغه وینځے چه آزاده کړے شوے وی - او شاهدان په دے خبره ودروی چه ځما دا بچے آزاد دے - دے پیدا شویدے ورستو ځما دَ آزادئ نه - غوره دی دَ دغه وینځے دَ مولادَ شاهدانو نه په دے خبره چه دا بچے مرئے دے پیدا شوے دے ورومبه ستا دَ آزادئ نه - او دارنګ حکم دے په مکاتب والی کښ - (او ګوره ترجیح دَ مرئی آزادولو مسئلے) " قاضی خان "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا مرئے ځما ملکیت وو - او ما آزاد کړیدے غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه په دے خبره چه دا مرئے ځما ملکیت دے - " ترجیح دَ مرئی آزادولو په مسئلو کښ "

مسئله :- یو مرئے شاهدان ودرئی په دے خبره چه زهٔ دَ فلانی سړی مرئے وُمه هغه آزاد کړے یمه - او دغه مرئے چه دَ چا په قبضه کښ دے - هغه شاهدان وُدروی په دے خبره چه دا مرئے دَ فلانی غائب سړی ملکیت دے - ځما سره په طور دَ امانت پریخودے دے - نو شاهدان دَ مرئی غوره دی - پس که هغه فلانے غائب راغے او شاهدان ئے ودرول چه دا مرئے ما ده ښخه امانت پریخودے وو - نو دا شاهدان نه قبلیږی " تیره شوے حوالهٔ "

مسئله :- یو سړے مړ شوے دے دَ هغه لور شاهدان ودره وی چه ځما پلار حرالاصل وو - (په اصل کښ آزاد وو مرئے نه وو) او یو مدعی شاهدان وُدرئی چه هغه ځما مرئے وو ما آزاد کړے وو - نو میراث ئے ځما ده - نو شاهدان د لُور غوره دی - " قاضی خان په ما یبطل الدعوی کښ "

مسئله :- شاهدان دَ یوے وینځے په دے خبره چه زهٔ خپل مالک په مرض موت کښ مدبره کولم (یعنے ما ته ئے ویل چه ته ځما دَ مرګه پس آزاده ئے) نو په دغه وخت کښی دَ هغه عقل ښه په ځائی وو - هوښیار وو - غوره دی دَ شاهدانو دَ میراث خورو دَ دغه مالک نه په دے خبره چه دَ هغه عقل په دغه وخت کښ کډ وډ شوے وو - په ځائے نه وو - " ترجیح البینات په مسئلو دَ دعوے کښ -

دوو تنو دعوه وکړه - او هر یو شاهدان وُدرول چه زید ځما مرئے وو - او ما آزاد کړے دے - نو حکم به کیږی دَ زید په ولا او میراث سره دَ پاره دَ دواړو مدعیانو - " ترجیح البینات په مسئلو دَ دعوے کښ "

له بلکه دَ مرئی دَ آزادولو په مسئلو کښ ئے دا دیره - او دارنګ تیره شوے مسئله ۱۲ مترجم

مسئله :- شاهدان دَ یو سړی په دے خبره چه دا مرئے ځما مرئے دے - ځما په ملکیت کښې پیدا شویدے - غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه په دے خبره چه دا ځما مرئے وو- او ما آزاد کړے دے په دا سے حال کښې چه زهٔ ئے مالک وومه " قاضی خان په دعوے کښې "

مسئله :- شاهدان دَ ویښځے په دے خبره چه زهٔ فلانی سړی آزاده کړے یمه - غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه په دے خبره چه داویښځه ما دَ دغه فلانی نه په بیعه آخستے ده - لکن که دَ دهٔ قبضه (کومه چه ئے دَ فلانی نه حاصله کړیده) بوه ښکاره او خلقوته معلومه قبضه وه - نوبیا دَ دهٔ شاهدان غوره دی " خلاصه په عتق کښې "

مسئله :- که ویښځه په دے خبره شاهدان وړاندې کړی چه زهٔ دَ فلانی سړی ملکیت وُمه هغه آزاده کړے یمه - او بل مدعی شاهدان وړاندې کړی چه داویښځه ځما ده - خاوند دَ قبضے ځمانه په زور آخستے ده - نو شاهدان دَ آزادوالی غوره دی " قاضی خان "

مسئله :- شاهدان دَ هغه چاچه مرئے تصدیق کړی غوره دی دَ هغه بل دَ شاهدانو نه په هغه صورت کښې چه خاوند دَ قبضے شاهدان وړاندې کړی په دے خبره چه دا ځما مرئے وو- ما آزاد کړے دے - او بل مدعی هم دا دنګه شاهدان وړاندې کړی - او که مرئی دَ دواړو تکذیب کاوو- (چه تاسو دواړه دروغ وایئے) نو حکم به کیږی چه دَ دے مرئی میراث به دَ دواړو په شریکه سره - نیم دَ یو نیم دَ بل " قاضی خان "

مسئله :- شاهدان دَ هغه چاچه دعوه کوی دَ فساد والی غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه دعوه کړی دَ صحیح والی - او که دَ فاسد والی دَ مدعی شاهدان نه وُو- نو خبره دَ مدعی دَ صحت غوره دی په هغه صورت کښې چه مکاتب مرئے او مولی سره مختلف شی دَ مکاتب والی په صحت او په فساد کښې (او کوره ترجیح دَ مرئی دَ آزادولو مسئلے) " تتمه الفتاوی په بیوع کښې "

مسئله :- دوو دعوه وکړه چه دا مرئے ما آزاد کړیدے په بدل دَ زرو دوپو کښې او هر یو شاهدان وړاندې کړل نو دَ مرئی تصدیق ته حاجت نشته په دے کښې - او دَ هغه ولا به دواړو ته ملاویږی " بزازیه په دعوی کښې "

مسئله :- شاهدان دَ مرئی په دے خبره چه زهٔ دے مالک آزاد کړے یمه غوره دی دَ شاهدانو دَ دغه مالک نه په دے خبره بانده چه ته ځما مرئے یئے -

" فتاوی ابو سعود "

مسئله :- شاهدان دَ مولیٰ په دے خبره چه دا مال دے مرئ دَ آزادیدلو نه پخوا حاصل کړیدے (نو دا مال څما دے) غوره دی دَ شاهدانو دَ مرئ نه په دے خبره چه دا مال ما حاصل کړے دے په حال دَ آزادئ کښں (نو څما دے) " تیره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان دَ هغه چا چه دعوه کئ دَ ولاء موالات غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه دعویٰ کئ دَ ولاء دَ آزادولو. مثلاً یو وائ چه فلانے سړے چه مړ دے او بل وارث ئے نشته. ما ورسره دَ موالات تړه نه تړلیوه خاصه دوستی م ورسره کړے وه. کوم نه چه په شریعت کښں موالات وئیلے شی. نو میراث ئے څما دے. او بل وائ چه هغه مرئے وو ما آزاد کړے دے. نو میراث ئے څما دے. نو شاهدان دَ موالات غوره دی.

مسئله :- شاهدان دا صلي آزادئ غوره دی دَ شاهدانو دَ دے خبرے نه چه دے مرئے دے. " ترجیح په مسئلو دَ عوے کښں "

مسئله :- شاهدان دَ یو ځوانئ نه رسیدلی هلک. او دا دنلږ شاهدان دَ یو دا سے وړوکی هلک چه خبرے ئے کولے شی. او شاهدان په دے خبره وُدرئ چه زه آزاد یم. غوره دی. دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه په دے خبره چه دے څما مرئے دے. " خلاصة الفتاوی په عتق کښں "

دَ وقف مسئلے

مسئله : شاهدان دَ هغه چا چه دعوه کئ دَ یو کور او شاهدان ودرئ په دے خبره چه دا کور ما نه زید وقف کړیدے په وقف مطلق سره. غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه په دے خبره چه دا کور چه په ما چا دا خرڅ کړیدے هغه په بیعه آخستے وو. دَ وقف کونکی نه (چه زید دے) او که خاوند دَ قبضے تاریخ وخود دَ بیعے او دا تاریخ دَ بیعے وړومبے وو. دَ تاریخه دَ وقف نه. نو بیا شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی (او کوره ترجیح مسئلے دَ وقف) " قنیه په مسئلو دَ وقف کښں "

مسئله :- شاهدان دَ دعویٰ کونکی دَ دے خبرے چه دا وقف بطناً بعد بطنٍ دے. (یعنے یو دے درجے والو ته دے پس دَ بلے درجے ته. مثلاً یو سړی څه شئے وقف که خپلو ځامنو ته درجه بدرجه نو مطلب ئے دا شه. چه هغه شے به ئے دَ ځامنوئ. که ځامن ئے ختم شو نو بیا به ئے دَ ځامنو دَ ځامنوئ. که هغه ختم شو نو بیا به ئے دَ ځامنو دَ ځامنو دَ ځامنو

ـــــــ
له وګوره ... حاشیه دَ مخکنی کتاب په ... آزادولو کښں ۱۲ مترجم

ئی - یعنے ذکرسو - په دے طریقه سره دآخره پورے -) غوره دی دَ شاهدانو دَ دے خبرے نه چه دا وقف مطلق دے -(یعنے دَ درجے بدرجے خاص والے پکښ نشته -) قنیه په دعوے دَ وقف کښ۔"

مسئله :- شاهدان دَ وړومبی تاریخ واله په دے خبره چه دا کور وقف دے مانه غوره دی - دَ شاهدانو دَ متوتی دَ وقف نه په دے خبره چه دا کور وقف دے جمات نه او که دواړو تاریخ وُنه خوو- (نو او کوره ترجیح مسئلے دَ وقف -" ترجیح"

مسئله :- دَ وقف په بابت کښ چه یو ځل قاضی فیصله وُکی - نو بعضو عالمانو ویلی دی چه دا حکم دے په ټولو خلقو باندے - نو که دَ یو سړی په قبضه کښ زمکه وه وئیل ئے چه دا ځما ده - او دَ وقف متولی پرے شاهدان وُدرول چه دا زمکه دَ وقف ده - او قاضی خاوند دَ قبضے په خلاف حکم وکه - نو که پس دَ دے نه یو بل سړی دعوه کئ چه دا زمکه ځما ده - دا دعوه به نه آوریدے کیږی -" ترجیح په دعوے کښ " بلکه په وقف کښ)

مسئله :- شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دا ځما ملکیت دے - غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه خاوند دَ قبضے ئی او متولی ئی دَ وقف - نو که دَ مدعی بے قبضه دَ پاره قاضی حکم وکه پس دَ هغے نه متولی شاهدان ودرول په وقف والی باندے نو دا شاهدان ئے قبول نه دی - او دَ امام ابو یوسف صاحب رح په نزد دا شاهدان قبول دی خو فتوی دَ امام صاحب رح او دَ امام محمد صاحب رح په قول باندے ده (کوم چه مخکښ ذکر شو) " ترجیح البینات په وقف کښ"

مسئله :- شاهدان دَ دے خبرے چه دا وقف فلانی اولاد ته کړے دے - (نارینه لی او که زنانه) غوره دی دَ شاهدانو دَ دے خبرے نه چه دا وقف ئے (خاص) ځامنو ته کړے دے۔" فتاوٰی مرحوم ابوسعود -

دَ بیع مسئلے

مسئله :- شاهدان دَ هغه یو تن دَ اخستونکی او خرڅونه چه دعوه کئ دَ فساد والی دَ بیع په سبب دَ شرط فاسد یا په سبب دَ بیّے فاسد ے - غوره دی دَ شاهدانو دَ هغے بل نه چه دعوی کئ دَ صحیح والی دَ بیعے -" ترجیح البیّنات په مسئلو دَ بیعے کښ۔"

په اصل کتاب کښ کاتب دا ځائے عبادت پوځے دے - ۱۷ - مترجم

مسئله :- شاهدان دَ فاسد والی دَ بیعې غوره دی۔ که په اخستونکی او خرڅونکی کښې یو تن شاهدان وُړاندې کول په فاسد والی او بل په صحیح والی باندې۔ " ترجیح په مسئلو دَ بیع کښې "

مسئله : شاهدان دَ دې خبرې چې دا بیعه فاسده شوې ده۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ دې خبرې نه چې دا بیعه صحیح ده " خزانة الفتاوٰی په بیعه فاسده کښې "

مسئله :- شاهدان دَ دې خبرې چې دا بیعه یا دا اجاره یا دا صلحه په زور او په جبر شوې ده۔ یا دا اقرار په جبر شوې دې۔ غوره دی دَ هغه شاهدانو نه چې شاهدی کړی په دې خبره چې دا کار په رضا او په خوښئ شوې دې " اشباه دَ قضاء دَ مسئلو په مینځ کښې "

مسئله :- شاهدان دَ بیعې وفا غوره دی دَ شاهدانو دَ بیعې قطعی نه (اوګوره ترجیح) " قاضی خان په احکامو دَ بیعې فاسدې کښې "

مسئله:شاهدان دَ بیعې غوره دی دَ شاهدانو دَ ګانړې نه (مثلاً زید شاهدان وړاندې کړی چې دا څیز په ما بکر دا خرڅ کړې دې۔ او بکر شاهدان وړاندې کړی چې دا ما زید ته ګانړه کړیدې۔ او یا بکر دَ بیعې دعوه کړی او زید دَ ګانړې) نو شاهدان دَ بیعې غوره دی " تیره شوې حواله "

مسئله :- شاهدان دَ هغه چا چې مثلاً دَ زید نه ئې څه شئ آخستې ئې په بیعه او شاهدان وړاندې کړی چې دې زید دا شئ په رضا دا خرڅ کړیدې۔ نو دا شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ زید نه په دې خبره چې په دې بیعه کښې په ما جبر او زور کړې شوې وو او بعض عالمان وائی چې شاهدان دَ جبر غوره دی " جامع الفتاوٰی په شهادت کښې "

مسئله :- شاهدان دَ خرڅونکی په بابت دَ قیمت کښې غوره دی۔ او شاهدان دَ اخستونکی په بابت دَ هغه څیز کښې چې په بیعه ئې اخستې دې۔ غوره دی۔ که دواړه سره مختلف شو نو خرڅونکی وئیل چې ما یو مرئې ور خرڅ کړیدې په دوه زره روپئ او اخستونکی وئیل چې نه بلکه تا دوه مرئی دا خرڅ کړیدی په زر روپئ۔ (نو حکم به کیږی چې دوه دی په دوه زره) " درر په تخالف کښې "

مسئله :- شاهدان دَ دې خبرې چې په دې بیعه کښې په قیمت کښې غبن شوې دې غوره دی دَ شاهدانو دَ دې خبرې نه چې دا قیمت په مثل دَ مناسب قیمت دې " درر غرر په آخر دَ قبول شهادت کښې "

مسئله :- شاهدان دَهغه چاچه په بیعه ئے یو شے اخستے ئی دَغیر مالک نه او شاهدان ورده ئی په دے خبره چه اجنبی سړی چه په ما دا شئے دا خرخ کړیدے - نو کوم وخت چه د دے شی دا مالک دَدے بیع نه خبر شه نو دَهٔ اجازه وکړه - دا شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَمالک نه په دے خبره چه ما کوم وخت وا وریدله نو ما دَ دے بیع رد وکړه - "جامع الفتاوی په شهادت کښ ۔"

مسئله :- شاهدان دَ هغه چاچه په بیعه ئے اخستے دے غوره دی دَ شاهدانو دَ خرڅونکی نه - که دواړه مختلف شو نو آخستونکی وئیل چه ما ستا نه دا مرئے اودا موئے پیه زر روپئ آخستے دے - او خرڅونکی وئیل چه نه بلکه ما په تا دا مرئے په زر روپئ درخرڅ کړیدے ۔" قاضی خان"

مسئله :- شاهدان دَ هغه چاچه دَ چا دَ وصی نه ئے څه شئے په بیعه باندے آخستے ئی او شاهدان ورده ئی په دے خبره چه دا شئے ما دَ وصی نه په حال دَ وصیتوب کښ آخستے دے نو دا شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ میراث خورو دَ مړی نه چه شاهدان ورده ئی په دے خبره چه دا شئے تا په داسے حال کښ په بیعه آخستے دے چه هغه ایستلے شوے وو دَ وصیتوب نه - او بعض عالمان وائی چه شاهدان دَ میراث خورو غوره دی - او دا رنګ حکم دے دَ طلاق او دَ مرئی آزادولو په ذریعه دَ وکیل سره - (مثلاً یو سړی زید وکیل کړے وو چه ښځه طلاقه که نو هغه طلاق کړه - او س دغه سړے شاهدان ورده وی چه زید ښځه دا په داسے حال کښ طلاقه کړیده چه هغه ما ایستلے وو دَ وکیل توب نه - او ښځه ئے شاهدان وده وئی چه تالا نه وو ایستلے - نو شاهدان دَ ښځو غوره دی - دا رنګ مسئله دَ مرئی آزاده ولو ده - (اوګوره کتاب مسئلے دَ وکالت) " قنیه"

مسئله :- شاهدان دَ هغه چاچه په بیعه ئے آخستے ئی دَ یو هلک نه څه شے - او شاهدان ورده ئی په دے خبره چه دے هلک خوانئ ته دَ رسیدلی و نه ورستو دغه شئے په ما دا خرخ کړیدے نو دا شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ دغه هلک نه په دے خبره چه ما درسره دغه بیعه په داسے حال کښ کړے وه چه زهٔ ورو کے وُمه ۔" جامع الفتاوی په آخر دَ مسئلو دَ شهادت کښ ۔"

مسئله :- شاهدان دَ هغه چاچه په بیعه ئے آخستے وو څه شئے - او شاهدان ورده ئی په دے خبره چه موږ بیا اقاله کړیده - (یعنے دغه بیعه مونږ له سره وا نه کړیده) نو دا شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه دغه شئے ئے په دهٔ ورخرخ کړے وو - او شاهدان په دے

خبره وده ئی چه مونږ بیعه کړیده ــ" ترجیح په مسئلو د بیع کښی "

مسئله:- شاهدان د هغه چا چه خرڅ کړے وه خپله زمکه اوس شاهدان وده ئی په دے خبره چه زه د دغه زمکے د خرڅولو په وخت کښی ووکے وُمه (نو بیعه نه ده شوے) دا شاهدان غوره دی د شاهدانو د هغه چا نه چه دغه زمکه ئے په بیعه آخستے وه او شاهدان ودره ئی په دے خبره چه ته په دغه وخت کښی ځوان جان وے ــ" تیره شوے حواله "

مسئله:- شاهدان د هغه چا چه په بیعه ئے اخستے وی څه شئے او اوس د مدعیٰ علیه په قبضه کښی ئی ــ او مدعی شاهدان وده ئی په دے خبره چه دغه شئے ما د دے خاوند د قبضے د پلارنه په بیعه آخستے دے ــ دا شاهدان غوره دی د شاهدانو د خاوند د قبضے نه په دے خبره چه دا ځما د پلار وو د وخته د مرګه پورے ــ" جامع الفصولین "

مسئله:- شاهدان د دے خبرے چه دے د بیعے په وخت کښی په خود کښی وو لیونے نه وو ــ غوره دی د شاهدانو د دے خبرے نه چه دے په دغه وخت کښی لیونے وو ــ په هغه صورت کښی چه یو سرے اوس په هوش کښی ئی او وائی چه زه د دغه بیعے په وخت کښی په هوش کښی نه ومه ــ لیونے وو مه " قنیه "

مسئله:- شاهدان[1] د هغه چا چه دعوه کئی د ماتولو د بیعے غوره دی د شاهدانو د هغه چا نه چه دعوه کئی د اجازے د بیعے ــ په هغه صورت کښی چه آخستونکے او خرڅونکے دواړه مختلف شوی ئی پس د تیریدلو د مُدے د خیار نه او حال دا وو چه په دغه بیعه کښی وو بولره خیار " ترجیح په مسئلو د بیع کښی "

مسئله:- شاهدان د هغه چا چه دعوے کئی د اجازے غوره دی د شاهدانو د هغه چا نه چه دعوه کئی د ماتولو د بیعے په هغه صورت کښی چه آخستونکے خرڅونکے دواړه مختلف شوے ئی په مده د خیار کښی د ننه ــ او وی دواړو لره خیار " تیره شوے حواله "

مسئله:- شاهدان د هغه چا چه نه وی ورله خیار غوره دی د شاهدانو د خاوند د خیار نه په هغه صورت کښی چه دواړه مختلف شوی وی په اجازے او په ماتولو د بیعے کښی په مده د خیار کښی د ننه ــ" تیره شوے حواله "

مسئله:- شاهدان د زید په دے خبره چه دا شئے ما قیمتاً آخستے دے د بکر نه غوره دی د شاهدانو د خالد په دے خبره چه دا ما نه بکر هبه کړیدے (یعنی رابخلے ئے دے) که دواړو ذکر نه کړه تاریخ ــ او دا ئے حکم دے که دواړو وخوو یو تاریخ ــ او که یو تاریخ ذکر کړه او بل ئے نو

---

[1] د خیار د مدے دا دواړو مسئلو د پاره وګوره ترجیح مسئلے د بیعے ــ یا مینځنی کتاب ــ مسئلے د خیار ۱۲ مترجم

خاوند دَ تاریخ غوره دے۔ اوکه دواړو مختلف تاریخ وخود نو خاوند دَ وړومبی تاریخ غوره دے اوکړ په دے مسئلے کښ دَ هغے په ځائے دعوه دَ صدقے وه۔[۱] مثلاً خالد شاهدان وُدرول په دے خبره چه دا مال بکر خیراتی راکړے دے۔ نو دَ دے حکم دا سے دے۔ لکه چه یو دعوه دَ هبے کئی او بل دَ قیمۃً اخستلو لکه چه تیر شه۔ اوکه دوه هبے جمع شوے (یعنے دواړو دَ هبے دعوه کوله) نو دَ دے حکم دا سے دے لکه چه دواړه دَ قیمۃً اخستلو دعوه کئی (اوګوره ترجیح مسئلے دَ هبے) "ترجیح البینات"

مسئله:- شاهدان دَ هغه چا چه څه شئے ئے په بل خرڅ کړے ئی او شاهدان وُدرئی په دے خبره چه هغه هلاک شوی دے دَ دے اخستونکی په قبضه کښ۔ نو دا شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ دغه اخستونکی نه په دے خبره چه هغه هلاک شوی دے دَ دے خرڅونکی په قبضه کښ۔ او دا دَ دغه حکم دے که یو وئیل چه هغه شئے دَه هلاک کړے دے او بل وئیل چه دَه۔ "ترجیح البینات مسئلے دَ بیعے"

مسئله:- شاهدان دَ خرڅونکی په صورت دَ تقسیم دَ قیمت کښ په دے خبره باندے چه کوم هلاک شوی دے دَ هغے قیمت دَ قبض کولو په وُرز دومره وو۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ اخستونکی نه "ملتقی الابحر په مخالف کښ"

مسئله:- شاهدان دَ دے خبرے چه خرڅونکی په وخت د بیع کښ معتوه وو غوره دی دَ شاهدانو دَ دے خبرے نه چه خرڅونکے په دغه وخت کښ به هوښیار وو "جامع الفتاوٰی په دعوه کښ"

مسئله:- شاهدان دَ یو هلک پس دَ رسیدلو نه ځوانئ ته په دے خبره چه ځما دَ انګورو باغ چه ځما وصی په دے سړی خرڅ کړیدے دا بیعه په غبن سره شوے ده (یعنے قیمت ئے ډیر لږ لګولیدے) غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه دا باغ ئے په بیعه

---

[۱] مثلاً زید دَ بکر نه دوه مرئی په بیعه آخستی وو۔ روپئی ئے لا نه وے ورکړے۔ او دواړه ئے قبض کړه۔ بیا یو مرئے دَ زید ځنې هلاک شه۔ او س زید او بکر مختلف شو۔ بکر وئیل چه ما دواړه په دومره روپئی در خرڅ کړے وو۔ او زید وئیل چه په دومره۔ نو دَ امام محمد صاحب رح دا قول دے چه دواړه به قسم وُکی۔ نو پس دَ قسم نه دَ دواړو مریو نو دغه بیعه چه شوی وه نه به شی نو زید به بکر ته موجوده مرئے واپس کی او دَ هلاک شوی مرئی قیمت به هم بکر له ورکی خو کتے به شی دَ دواړو قیمت نه چه کوم وخت زید دغه مریونه قبض کول دَ دی څومره قیمت وو۔ نو که دَ دواړو په قیمت کښ اختلاف وو۔ نو دَ موجوده مرئی چه کومه حصه قیمت دے هغه خولا ئے۔ باقی دَ هلاک شوی حصے قیمت به په زید لازم شی۔ او که زید وئیل چه دَ هلاک شوی مرئی قیمت دَ قبض کولو په ورز پنځه سوه روپئی وو او دَ دے موجوده ۔ او بکر وئیل چه دا سے نه ده۔ بلکه دَ دے نه په عکس ده۔ نو خبره دَ بکر معتبره ده سره دَ قسم نه۔ او که شاهدان دَ دواړو شاهدان هم دَ بکر غوره دی۔ دا زنلی ذکر دی په ملتقیٰ او په شرحه کښ ۱۲ مترجم

بانده اخستے دے۔ او شاهدان وُدرنی چه دَ دغه باغ قیمت په هغه وخت کښ هم دومره وو په شومره چه دَ ده وصی داخرځ کړیدے۔ "ترجیح البینات په مسئلو دَ بیع کښ"

مسئله:۔ شاهدان دَ هغه چاچه په بیعه ئے آخستے ئی یو کړ او شاهدان وړدرنی په دے خبره په داخرځونکے دَ دے کوه په هغه وخت دَ بیعے کښی هوښیار او خاوند دَ عقل وو۔ نو دا شاهدان غوره دی په نزد دَ امام ابویوسف صاحب رح دَ شاهدانو دَ خرځونکی نه په دے خبره چه زړه په هغه وخت کښی لیونے وُمه۔ "ترجیح البینات په مسئلو دَ بیع کښ"

مسئله:۔ شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا ما دَ دے مدعی بے قبضے نه په بیعه آخستے دے غوره دی دَ شاهدانو دَ غه مدعی بے قبضے نه په دے خبره چه دا حَما ملکیت دے "هدایه په باب دَ دعوے دَ دوو کسانو کښ"

مسئله:۔ شاهدان دَ هغه چاچه دعوه کئ چه دا شئے ما دَ زید نه په بیعه آخستے دے غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه دعوه کئ چه دا ما دَ زید نه گانړه کړیدے۔ "قاضیخان په دعویٰ کښ"

مسئله:۔ شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا کور ما په زرروپئ دَ وړو ځیځ خور په میاشتے کښ په فلانی باندے خرځ کړیدے۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ دغه فلانی نه په دے خبره چه دا کور ما په دوځه خور کښ دَ خاوند دَ قبضے نه گانړه کړیدے۔ په پنځه سوه روپئ کښ۔ داحکم په نزد دَ شیخینو رح دے۔ او دَ امام محمّد صاحب رح په نزد شاهدان دَ گانړے غوره دی۔ "ترجیح په مسئلو دَ گانړے کښ"

مسئله:۔ یو مدعی شاهدان وُدرول۔ او دَ خاوند دَ قبضے نه غیر ئے بل سړے خوځ چه دا کور ما دَ هغه نه قیمةً آخستے دے۔ او دویم مدعی یو بل سړے خو چه دا ماته هغه هبه کړیدے روا پخلے دے۔ او شاهدان ئے وُدرول۔ او دریم مدعی لا بل سړے خور۔ او شاهدان ئے ودرول چه دا ماله هغه میراتی دا کړیدے۔ او ما ترے قبض کړیدے۔ او څلورم مدعی وئیل چه دا ماته دَ پلی والد مرحوم نه میراث پاتے شوے دے۔ نو حکم به کیږی چه دغه کور دِ څلور حصے کړے شی۔ هر یو به یوه یوه حصه واخلی۔ او که دے څلور وارو یو سړے خولے وو۔ نو بیا به حکم کیږی دَ پاره دَ قیمةً اخستونکی۔ "قاضی خان په دعوه دَ ملک کښ"

مسئله:۔ شاهدان دَ هغه چاچه روپئ ئے پورئ ئی بل ته او قرضدار ئے مړ شوے ئی نو دے شاهدان ودرنی په دے خبره چه دے میراث خورو دَ غه قرضدار دَ میراث نه پوشئے خرځ کړے دے۔ او حال دا دے چه دغه میراث وز کاره نه ده دَ قرضے نه (یعنے دومره ده

چې قرضه به یې خلاص شي. یا دَ هغې نه کمه ده) نو دا شاهدان غوره دي دَ شاهدانو دَ میراث خورو نه په دې خبره چې ځمونږ مورث (دغه قرضدار دې چې مړ دې) هغه شے په خپل ژوند انه کښې خرڅ کړے وو۔ په حال دَ صحت کښې" بزازیه په دعوے دَ دین کښې دَ ترکے نه"

مسئله:- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چې دا خاوړے ما دَ زید نه په بیعه آخستے دے۔ او دا دَ هغه په ملکیت کښې پیدا شوے دے۔ غوره دي دَ شاهدانو دَ مدعي بے قبضے نه په دے خبره چې دا خاوړے ما دَ بکر نه په بیعه آخستے دے۔ او دا پیدا شوے وو دَ هغه په ملکیت کښې۔" تیره شوے حواله"

مسئله:- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دي دَ شاهدانو دَ مدعي بے قبضے نه که دواړو شاهدان وُړاندې په قیمتهٔ اختلاف دَ یوشي بیان دے دَ یو شي نه او حال داوي چې دغه شے په دوئ کښې دَ یوتن په قبضه کښې وي۔" قاضي خان"

مسئله:- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چې دا مرئے ما په دوه دَ تنو خرڅ کړے دے په دوه زره روپئ غوره دي دَ شاهدانو دَ یوتن دَ دغه دوؤ تنو نه په دے خبره چې دا مرئے ما دَ دے خاوند دَ قبضے نه آخستے دے په زر روپئ" قاضیخان په دعوه دَ دوؤ کسانو کښې"

مسئله:- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چې دَ دے هلک کور چې ولي خرڅ او نو دے په هغه وخت کښې نابالغه وو۔ دا غوره دي دَ شاهدانو دَ مدعي بے قبضے نه په دے خبره چې کوم وخت ځما ولي دا کور خرڅا وو نو زهٔ بالغ وم۔ (مثلاً زید مدعي بے قبضه دے شاهدان ودروئ په خاوند دَ قبضے بیان دے چې فلانے کور چې ستا په قبضه کښې دے۔ ځما دے۔ ځما پلار په تا درخرڅ کړیدے په داسے حال کښې چې زهٔ لوئ وم او په دغه بیعه راضي شوے نه یم۔ او خاوند دَ قبضے شاهدان ودروئ چې ته په دغه وخت کښې وړوکے وے۔ اختیار دے دَ پلار وو۔ نو خبره دَ زید معتبره ده۔ او که شاهدان وُو نو شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دي۔)" جامع الفصولین په لسم فصل کښې"

مسئله:- یو مدعي بے قبضے دعوه کوله۔ او شاهدان ئے ودرول په دے خبره چې دا ما دفلانی نه په بیعه آخستے دے۔ او ما ترے قبض کړیدے۔ او بل مدعي بے قبضے شاهدان وُدرول په دے خبره چې دا ځما دے۔ نو دَ دواړو به شي۔ نیم دَ یو نیم دَ بل۔ جامع الفتاوے په شهادت کښې"

مسئله:- شاهدان دَ هغه چا چې خرڅ کړے ئے وي په بل باندے څه شے۔ او

شاهدان ودرهٔ ئی په دے خبره چه دَ هغے قیمت زیه کوم قیمت چه ماورخرڅ کړیدے ـ زیات دے دَ هغے نه چه دعوه ئے کړی دا اخستونکے ـ غوره دی دَ شاهدانو دَ دغه آخستونکی نه په دے خبره چه قیمت هم دومره دے ـ دَ کوم چه زهٔ دعوه کوم ـ " ترجیح البینات په مسئلو دَ بیع کښ"

مسئله :- شاهدان دَ هغه چا چه په بل ئے څه خرڅ کړی ئی ـ اوشاهدان ودرهٔ ئی په دے خبره چه موږ په قیمت کښ رواجی روپئ کړے دے ـ دا شاهدان غوره دی دَشاهدانو دَ هغه چا نه چه په بیعه ئے آخستے وی دغه شے او شاهدان ودروی په دے خبره چه موږ کوته روپئ کړے دے ـ " ترجیح البینات په مسئلو دَ بیعه کښ او هم درد په تحالف کښ"

مسئله :- شاهدان دَ خرڅونکی په دے خبره چه په قیمت کښ موږ اشرفئ یا دے کړے وے ـ غوره دی دَ شاهدانو دَ آخستونکی نه په دے خبره چه روپئ وے ـ " تیرے شوے حوالے دواړه "

مسئله :- شاهدان دَ قیمتًا اخستونکی په دے خبره چه په ما دے خرڅونکی چه څه دا خرڅ کړیدی هغه زیات دی دَ هغے نه چه دے ئے دعوه کړی ـ غوره دی دَ شاهدانو دَ خرڅونکی نه په دے خبره چه ما دومره شئ درخرڅ کړیدے ـ " تیرے شوے دواړه حوالے "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا کور ما په بیعه آخستے دے دَ خپل پلار نه په دا سے حال کښ چه هغه ژوندے وو ـ او تندرست وو ـ غوره دی دَ شاهدانو دَ دروړ دَ خاوند دَ قبضے نه په دے خبره چه دغه کور څمونږ دَ پلار وو ـ څمونږ دَ دواړو میراث دے او حال دا وی چه دا دروړ بے قبضے ئی ـ " ترجیح البینات په مسئلو دَ بیعے کښ "

مسئله :- شاهدان دَ زیں دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه څمونږ پلار چه مړ دے هغه اقرار کړے وو په حالت دَ صحت کښ چه دا کور ما په زیں خرڅ کړیدے ـ دا غوره دی دَ شاهدانو دَ دروړ دَ زیں نه په دے خبره چه دغه کور څمونږ دَ پلار وو ـ او څمونږ دَ دواړو میراث دے ـ او حال دا ئی چه دَ زیں دروړ بے قبضے ئی ـ " تیرے شوے حواله "

مسئله :- شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه فلانے کور څمونږ دَ پلار وو او موږ دواړو ته میراث پاتے شوے دے ـ غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه (چه دروړ ئی دَ مدعی بے قبضے او شاهدان ودرړئی) په دے خبره چه دا کور ما دَ پلار نه په بیعه آخستے دے ـ په حال دَ صحت کښ ـ خو دا حکم هاله دے چه خاوند دَ قبضے دَ شاهدانو ودرړلو نه وړومبیه ونیلی وی چه په دغه کور کښ څما دَ پلار هیڅ چرے څه حق نه وو "

"ترجیح البینات په مسئلو دَ بیع کښ"

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره بانده چه دے مدعی بے قبضے دغه کود په فلانی غائب سړی بانده خرڅ کړے په دومره قیمت۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه په دے خبره چه دغه کود خما دے۔ او دَ دغه فلانی غائب په حق کښ په دے شهادت سره بیعه نه ثابتیږی۔ مګرکه شاهدانو دا سے شاهدی کړی وی چه دے مدعی بے قبضے دغه کود په فلانی غائب سړی خرڅ کړے او هغه غائب ترے قبض کړے دے۔ (نو بیا به ثابته شی۔) "تیره شوے حواله"

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے چه ورومبیه ئے ویلی ئی چه دا کور ما په دَ مدعی بے قبضے نه دے خرڅ کړے۔ او اوس شاهدان ودرولی په دے خبره چه دغه کور دے مدعی ما نه بیا واپس کړے دے۔ نو دا شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه په دے خبره چه دغه کور ما دَ دے خاوند دَ قبضے نه په زر روپئ اخستے دے۔ نو بیعه دَ دواړو به ماته شی۔" تیره شوے حواله۔

مسئله :- په دے تیره شوے مسئله کښ که خاوند دَ قبضے ورومبیه دا سے ویلی ئی چه خموږ په مینځکښ بیعه نه ده جاری شوے۔ او نوره مسئله تول په خپل حال وه نو هم دغه حکم دے۔ یعنے شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی۔ "تیره شوے حواله"

مسئله :- دوؤ تنو دعوه کوله په زیں بانده دَ یو څیز۔ نو یو مدعی دا سے شاهدان ؤدرول چه دا ما دَ زید نه په صحیح بیعه سره آخستے دے۔ او بل دټیل چه دا ما دَ زید نه په فاسده بیعه سره آخستے دے۔ نو شاهدان دَ صحت غوره دی" تیره شوے حواله"

مسئله :- یو مدعی بے قبضے شاهدان تیر کړه چه دا وینځه ما دَ دے خاوند دَ قبضے نه په زر روپئ آخستے ده۔ او حال دا دی چه خاوند دَ قبضے ورومبیه ویلی وو۔ چه دا وینځه ما په ده نه ده خرڅه کړے۔ نو قاضی حکم وکه دَ پاره دَ مدعی بے قبضے چه وینځه ستا شوه۔ بیا دے مدعی بے قبضے په وینځه کښ څه عیب ولیدلو۔ نو اراده ئے وکړه چه زه ئے واپس کوم خپل خرڅونکی ته چه کوم خاوند دَ قبضے وو۔ نو اوس هغه خرڅونکے شاهدان ؤدرئی چه ما خوتاته په وخت دَ بیعه کښ ویلی وو۔ چه زه ئے دَ هر عیب نه بری یمه۔ او تا منلی وُو۔ نو دا شاهدان قبول نه دی۔ او دَ امام ابو یوسف رح په نزد قبول دی۔" ترجیح البینات په مسئلو دَ بیع کښ"

مسئله :- شاهدان دَ مدعیٰ علیه په دے خبره چه دے مدعی داکور په خپله بی بی صاحبه خرڅ کړے وه - او هغے په ما راخرڅ کړیدے غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی نه په دے خبره چه داکور څما دے -" تیره شوے حواله"

مسئله :- زید وئکیل خپله زمکه تے په بکر خرڅه کړه - بیائے په خالد خرڅه کړه - او س خالد شاهدان وړاندے کړی په بکر باندے چه دغه زمکه کوم وخت چه تا په بیعه آخسته - ما څخه کانړه وه - نو ستا آخستل ناروا وو - نو بکر شاهدان وړاندے کړی په دے خبره چه کوم وخت دغه زمکه ما آخسته نو ستا قرضه څټلے وه پوره شوے وه - (نو زمکه دَ کانړے نه راخلاصه شوے وه) نو دَ بکر شاهدان قبول دی - تیره شوے حواله"

مسئله :- شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دا څما دے غوره دی - دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه په دے خبره باندے چه اے مدعی دا تا څما نه په بیعه آخستے وو خو دغه بیعه موږ بیا ورانه کړے وه -" تیره شوے حواله"

مسئله :- مدعی بے قبضے شاهدان وړاندے کړی په دے خبره چه فلانے کور څما دے - او او خاوند دَ قبضے شاهدان وړاندے کړی په دے خبره چه فلانی غائب سړی دغه کور دَ دے مدعی بے قبضے نه په بیعه اخستے دے - او زهٔ ئے په دے سره وکیل کړے یم - نو دا شاهدان قبول دی - او په دے سره خاوند دَ قبضے خلاصیږی دَ دغه مدعی دَ جګړے نه -" تیره شوے حواله"

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره باندے چه دا څما مرئے دے - ما په بیعه آخستے دے - دَ فلانی نه - او دا مرئے دَ هغه په ملکیت کښې پیدا شوے وو - غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه په دے خبره باندے چه دا څما مرئے دے - ما په بیعه آخستے دے دَ هغه فلانی نه چه دا مرئے ئے په ملکیت کښې پیدا شوے دے -" بزازیه په ترجیح کښې"

مسئله :- دوه تنه مدعیان دی بے قبضے - هر یو شاهدان وړاندې په دے خبره چه دا کور ما په بیعه آخستے دے دَ خاوند دَ قبضے نه او روپئی م ورله ورکړی دی - او حال دا ئے چه خاوند دَ قبضے انکار کړئ دَ دواړو دَ دعوے نه - نو حکم به کیږی چه کور دَ دواړو مدعیانو نیم نیم شه - ولے هاله که دواړو دَ بیعے تاریخ نه ئی خوولے یا دواړو خوولے ئی خو تاریخ ئے یو ئی - او که دواړو تاریخ خوولے وو - او تاریخ دَ یو وړاندے وو - نو خاوند دَ وړومبی تاریخ غوره دے - او که دواړو تاریخ نه وو خوولے او کور دَ یو په قبضه کښې وو - نو خاوند دَ قبضے غوره دے - او که یو تاریخ ذکر کړے وو - او دَ دغه بل په قبضه کښې کور وو - نو خاوند دَ قبضے غوره دے -" ترجیح"

سله وکوره کتاب سلـ -۱۲- مترجم :

مسئله :- شاهدان دَ هغه چا چه خرڅه کړے ئې وينځه او شاهدان وددرۀ ئې په دے خبره چه دغه وينځه ما خرڅه کړيده په عوض دَ مرئې کښې۔ (يعنے دَ وينځے په بدل کښې به مرئے راکوئ) نو دا شاهدان غوره دی۔ دَ شاهدانو دَ هغه چانه چه دغه وينځه ئے په بيعه آخستے ده۔ او شاهدان وُددرۀ ئې په دے خبره چه دا وينځه ما آخستے ده په زر روپئې (يعنے دَ وينځے په عوض کښې به زر روپئې ورکوم۔ تيره شوے حواله"

مسئله :- دوه دَ تنو دعوه وکړه هر يو وئيل چه دا ما دَ زيد نه په بيعه آخستے دے او دواړو تاريخ دَ بيع ذکر نه که۔ نو دَ دواړو مدعيانو په مينځکښې به دغه شئے نيميګی۔" ترجيح البينات په مسئلو دَ دعوے کښې"

مسئله :- که دوه دَ تنو دعوه وکړه هر يو وئيل چه دا ما په بيعه آخستے دے۔ خو يو وئيل چه ما دَ زيد نه او بل وئيل چه ما دَ بکر نه او يو مدعی دَ بيع تاريخ وخوا او بل نه۔ نو دغه شئے به نيميګی دَ دواړو مدعيانو په مينځکښې " تيره شوے حواله"

مسئله :- چا چه خرڅ کړے ئې دَ هغه شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه په بيعه ئے آخستے ئې۔ که دواړه مختلف شو په ضايعه کولو دَ هغه شي خرڅ کړي شوي کښې (نو خرڅونکي وئيل چه هغه تا ضايعه کړيدے۔ او آخستونکي وئيل چه تا۔) ترجيح په مسئلو دَ بيع کښې"

مسئله :- شاهدان دَ وروميی واله غوره دی که دوو مدعيانو دعوه کوله دَ قيمة اخستلو دَ يو سړی نه۔ په خلاف دَ هغه صورت نه چه يو مدعی وائي مادَ فلانی نه په بيعه آخستے دے۔ او بل وائي چه ما دَ فلانی نه په بيعه آخستے دے۔ (په دے صورت کښې حکم کيږی دَ پاره دَ دواړو مدعيانو) " تيره شوے حواله"

دَ سلم مسئلے

مسئله :- شاهدان دَ خاوند[1] دَ سلم غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چانه چه دا معامله ورسره کړے شوے ده۔ که دواړه مختلف شو په اندازه دَ هغه څيز کښې۔ چه دا معامله ئے پکښې کړيده۔ يا دَ هغے په جنس کښې۔ يا په صفت کښې۔ يا په کزو توکښې " تيره شوے حواله"

مسئله :- شاهدان دَ هغه چا چه معامله دَ سلم ورسره کړے شوے وی۔ غوره دی

---

[1] چا چه مثلاً روپئې په سلم ورکړيدی هغه خاوند دَ سلم دے۔ او هغه چا چه آخستے دی دَ هغه سره معامله دَ سلم کړے شوے ده۔ ۱۲ مترجم

دَ شاهدانو دَ خاوند دَ سلم به - که د واړه سره مختلف شو - په اندازه دَ راس المال کښې ریعټه په اصل دَ تحو کیږي" تیره شوے حواله"

دَ شفعې مسئلې

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ شفعې په دے خبره چه دا آبادي یا داوُنې یا دا فصل چه په دے خوځه کړے شوے ځمکه کښې دي - دا پخواني دي - غوره دي دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه دغه ځمکه ئې په بیعه آخستې ده - او شاهدان وُدره وي په دے خبره بانډے چه دا پخواني نه دي - بلکه آبادي پکښې ماکړیده - یا وُنې پکښې ما نالے کړیدي - یا فصل پکښې ما کرلے دے -
" ترجیح البینات په مسئلو دَ شفعې کښې "

مسئله :- شاهدان دَ هغه چا چه په بیعه ئې یو کور آخستې دے - او شاهدان ودرو ئې په دے خبره چه ما دا آبادي په بیعه آخستې ده - وروستو بیا پس دَ هغې نه صحن چه آبادي پکښې واقع ده - په بیعه آخستې - نو دا شاهدان غوره دي دَ شاهدانو دَ خاوند دَ شفعې نه په نزد دَ امام ابو یوسف صاحب رح او امام محمد صاحبؒ وائي چه شاهدان دَ خاوند دَ شفعې غوره دي -
" تیره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ شفعې دَ یو کور په دے خبره چه دا کور خاوند دَ قبضے په بیعه آخستې دے دَ بل نه په زر روپئ غوره دي دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه په دے خبره چه دا کور ما ته فلاني سړي په طور دَ امانت پریخودے دے " تیره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ شفعې غوره دي دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه په بیعه ئې آخستې ئې - که دواړه سره مختلف شو - په اندازه دَ قیمت کښې په کوم چه بیعه شوې یاده - دا حکم په نزد دَ امام صاحب رح او دَ امام محمد صاحب رح دے - او امام ابو یوسف صاحبؒ په نزد شاهدان دَ قیمتؒ اخستونکي غوره دي " تیره شوے حواله "

دَ اجارے مسئلې

مسئله :- چا چه په اجاره ورکړے دے دَ هغه شاهدان غوره دي دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه په اجاره ئې آخستې دے - که دواړه سره مختلف شو په اجاره کښې[1] دَ دروغرد

---

[1] په اصل کتاب کښې دا ځا ئې لفظ دَ اجاره لیکلے لیکن لفظ دَ اجرت پکار دو نو مطلب دا شه چه دَ دواړو اختلاف که په اجرت کښې وو مثلاً اجاره کره ئیل چه دا اجاره په لس روپئ ده - او دوئم وئیل چه په پنځلس نو دَ دوئم شاهدان غوره دي - ۱۲ مترجم

پہ باب دَ تحالُف کښې ئے۔"

مسئله :- چاچه په اجاره آخستے دے۔ دَ هغه شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چانه چه په اجاره ئے ورکړیدے۔ که دواړه سره مختلف شو په اندازه دَ فایدے کښې۔ مثلاً دَه ویل چه دَ یوے میاشتے دَ پاره دے۔ او هغه ویل چه دَ دوؤ میاشتو دَ پاره۔ "تیره شوے حواله"

مسئله :- چاچه په اجاره ورکړے دے۔ یائے آخستے دے او دَ زیاتوالی دعوه کئی دَ هغه شاهدان غوره دی۔ که دواړه سره مختلف شو۔ په فائده او اُجرت دواړو کښې په دے شان سره چه چا په اجاره ورکړے وه۔ هغه دعوه کوله چه دَ یوے میاشتے دَ پاره په لس روپئے دے۔ او چاچه په اجاره آخستے هغه دعوه کوله چه دَ دوؤ میاشتو دَ پاره په پنځه روپئے دے۔ ر نو حکم به کیږی چه دَ دوؤ میاشتو دَ پاره دے په لس روپئ۔ " تیره شوے حواله"

مسئله :- شاهدان دَ هغه چاچه په اجاره ئے اخستے دے غوره دی که دواړه سره مختلف شو په اندازه دَ مدے کښې په دے شان سره چه چاپه اجاره آخستے دے هغه ویل چه تا دَ دوؤ میاشتو دَ پاره په لس روپئ راکړے دے۔ او چاچه په اجاره ورکړیدے هغه ویل چه نه بلکه دَ یوے میاشتے دَ پاره په لس روپئ۔ "قاضی خان په اختلاف دَ آجر او مستاجر کښې"

مسئله :- چاچه په اجاره آخستے دے دَ هغه شاهدان غوره دی۔ که دواړه سره مختلف شو په اندازه دَ منزل کښې په دے شان سره چه دَه ویل چه دَ غه څاروے تا په پنځه روپئ اجاره راکړیدے۔ (دَ بغداد نه تر کوفے پورے۔ او خاوند دَ څاروی ویل چه نه بلکه په پنځه روپئ تر بصرے ښهره پورے۔" تیره شوے حواله"

مسئله :- که دواړه سره مختلف شو په اُجرت او مُدے دواړو کښې یا په اجرت او په منزل دواړو کښې نو چاچه په اجاره ورکړے هغه ویل چه ما تاله څاروے په لس روپئ کرایه درکړے تر بصرے ښهره پورے او چاچه په اجاره آخستے هغه ویل چه نه بلکه په پنځه روپئ تر کوفے ښهره پورے، نو حکم به کیږی دَ کرائے په زیاتوالی سره په سبب دَ شاهدانو دَ هغه چاچه په اجاره ئے ورکړے دے۔ او حکم به کیږی په زیاتوالی دَ مُدے او دَ منزل سره په سبب دَ شاهدانو دَ هغه چاچه په اجاره ئے آخستے دے۔ "تیره شوے حواله"

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ څاروی په دے خبره چه مقرره کرایه دَ څاروی لس

روپئ ده ترفلانی ځایه پورے۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه ځای نه چه دغه څاروے ئے په کرایه آخستے دے او شاهدان وائی چه مقرره کرایه پنځه روپئ ده[1] ترجیح البینات په اجاره کښں۔"

۲ **مسئله** :- شاهدان دَ هغه ځای چه کور یا مرئے یا څاروے ئے په اجاره ورکړے وے او شاهدان په دے خبره وائی چه دَ دے اجرت لس روپئ دے۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه ځای نه چه په اجاره ئے آخستے دے او شاهدان وائی په دے خبره چه اجرت ئے پنځه روپئ دے۔" قاضی خان"

مسئله :- شاهدان دَ ذیب چه سور شوے وو په پرد ئے کشتئ کښں او شاهدان وائی په دے خبره چه ما دَ کشتئ دُنبا له تهینګه ساتلے وه۔ دَ ترمذ ښهر نه دَ آمل مقام پورے په لس روپئ مزدوری باندے۔ نو دا شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ کشتئ نه په دے خبره چه دا ذیب سور شوید ے۔ دَ ترمذ نه دَ آملاه پورے ځما په کشتئ کښں په پنځه روپئ کرایه باندے۔" ترجیح البینات په مسئلو دَ اجارے کښں"

مسئله :- شاهدان دَ رنګونکی چه رنګ کړے ئے وی دَ جا نوکے په اجرت سره او شاهدان وائی په دے خبره چه دَ دے مقرره اجرت دومره وو۔ نو دا شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ توکی نه په دے خبره چه اجرت ئے دومره وو۔ او که په دے دواړو کښں یو تن شاهدان ودرول او هغه بل ونه درول نو دَ هغه شاهدان قبول دی " نیره شوے حواله"

مسئله :- شاهدان دَ شپونکی غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ بیزے نه که د بیزه هلاکه شوی ئی او دواړه سره مختلف شو په شرط کولو دَ ځائے دَ څرولو کښں۔ (او ګوره ترجیح مسئلے دَ اجارے)" تتمة الفتاوی"

مسئله :- شاهدان دَ هغه ځای چه په اجاره ئے آخستے ئی یو کور او شاهدان وائی دَ دغه کور دَ وڈه[1] دَ دواړو تنبو په غورزیدلو باندے۔ نو دا شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ مالک دَ کور نه" وجیز په مسئلو دَ دعوے دَ اجاره کښں"

مسئله :- شاهدان دَ هغه ځای چه بل له ئے په کرایه ورکړے ئی دوکان او شاهدان وائی په دے خبره چه دغه دوکان په خوښه سره ځما نه په کرایه آخستے دے۔ نو دا شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه ځای نه چه دغه دوکان ئے په کرایه آخستے دے او

[1] دا دَ اصل کتاب ترجمه ده۔ باقی او ګوره ترجیح البینات۔ ۱۲ مترجم

شاهدان ورد ولی په دے خبره چه دا ما په زور او په جبر اخستے دے ۔ (یعنی په ما جبر شوے وو ۔ اوګوره ترجیح) " مشتمل الاحکام په مسئلو دَ اکراه کښې "

مسئله :- چا چه څه شئ په اجاره ورکړے دے ۔ دَ هغه شاهدان په دے خبره چه دغه شئ ورته ما سپارلے وو ۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه دغه شئ ئے په اجاره اخستے دے ۔ او شاهدان وردولی په دے خبره چه دغه شئ په مُده دَ اجاره کښې دَ دهٔ په قبضه کښې وو ۔ (ما ته ئے نه وو سپارلے ۔ اوګوره ترجیح) " خلاصه "

مسئلے دَ هبے

(یعنی چا ته څه شئ بخښل)

مسئله :- مدعی بے قبضے شاهدان ودرول چه دا مرئے ما ته هغه فلانی سړی چه دا مرئے ئے په ملکیت کښې پیدا شویدے بخلے دے ۔ او ما ترے قبض کړے دے ۔ او خاوند دَ قبضے شاهدان ودرول په دے خبره چه دا مرئے ما ته هغه فلانی سړی چه دا مرئے ئے په ملکیت کښې پیدا شوے دے بخلے دے او ما ترے قبض کړیدے نو حکم به کیږی دَ پاره دَ خاوند دَ قبضے ۔ " بزازیه ترجیح البیّنات "

مسئله :- شاهدان دَ یو میراث خور دَ مړی په دے خبره چه هغه مړی چه ما ته هبه کړے وه (فلانے شئ ئے را بخلے وو ۔) نو په حالت دَ جوړوالی کښې ئے کړے وه ۔ او ما ترے هغه شئ قبض کړے دے ۔ نو دا شاهدان غوره دی دَ دغه مړی دَ نورو میراث خورو دَ شاهدانو نه په دے خبره باندے چه دغه هبه ئے په حالت دَ مرض موت کښې کړے وه ۔ " ترجیح البینات په مسئلو دَ هبے کښې "

مسئله :- کوم شاهدان چه شاهدی کئ په قیمةً اخستلو باندے هغه غوره دی ۔ دَ هغه شاهدانو نه کوم چه شاهدی کئ په هبے باندے ۔ که دواړو جانبو تاریخ وو نه خوو ۔ یا دواړو یو تاریخ وو خوو ۔ او کوم شاهدان چه شاهدی کئ په هبے باندے هغه غوره دی دَ هغه شاهدانو نه چه شاهدی کوی په عاریت والی باندے (اوګوره ترجیح) " تیره شوے حواله "

مسئله :- که جمع شوے دوه هبے مقبوضے (یو وئیل چه دا شئ ما ته هبه شوے او ما قبض کړے دے ۔ او بل هم دا رنګ وئیل) نو دا دا سے دهٔ لکه چه دواړه قد عیان دعوی

کئ - دَ قیمة اخستلو - اوکہ جمع شہ نکاح سرہ دَ ھیے نہ - یا مرہ دَکا نړے نہ - یاسرہ دَ صدقے نہ یا سرہ دَ عاریت نہ - نو نکاح غورہ دے - (اوګورہ ترجیح) " تیرہ شوے حوالہ "

مسئلہ :- یو سری شاھدان وُدرول چہ دا شئ ما دَ زید نہ پہ بیعہ آخستے دے - او بل سری شاھدان وُدرول چہ دا ما تہ بکر ھبہ کړے دے (دا بخلے دے) نو حکم بہ کیږی چہ دغہ شئ نیم دَ یو شہ او نیم دَ بل - " تیرہ شوے حوالہ "

مسئلہ :- شاھدان دَ ھغہ چا چہ دعوہ کئ چہ دا شئ ما دَ زید نہ پہ بیعہ آخستے دے غورہ دی دَ شاھدانو دَ ھغہ چا نہ چہ وائی داما تہ زید ھبہ کړیدے (یعنی دا بخلے دے) " تیرہ شوے حوالہ "

مسئلے دَ عاریت

(پہ سوال لوپہ عاریت دَ چا نہ څہ اخستل)

مسئلہ :- شاھدان دَ ھغہ چا چہ بل لہ ئے یو څاروے (دَ یو خاص ځای پورے دَ بوولو دَ پارہ) پہ طریقہ دَ عاریت ورکړے ئی - او بیا دغہ څاروے ھلاک شوے ئی - نو دے شاھدان پہ دے خبرہ وړدرہ ئی چہ ھغہ څاروے ھلاک شوے دے وروستو دَ ھغے نہ چہ دہ تیر کړے وو دَ ھغہ خاص ځائے نہ (یعنی دَ ھغے نہ ئے اړولے وو) نو دا شاھدان غورہ دی دَ شاھدانو دَ ھغہ چا نہ چہ دغہ څاروے ئے پہ سوال یووُلے وو - او شاھدان پہ دے خبرہ وړدرہ ئی چہ ھغہ ما بیرتہ را وستے وہ - (ھغہ ځائ تہ) خلاصہ پہ مسئلو دَ عاریت کښ "

دَ امانت مسئلے

مسئلہ :- شاھدان دَ ھغہ چا چہ امانت ورځنہ ایخودلے شوے وی - او شاھدان وړدرئی پہ دے خبرہ چہ امانت ایخودونکی دا زید دَ خپل وکالت نہ ایستلے دے - نو دا شاھدان غورہ دی دَ شاھدانو دَ زید نہ پہ وکیل والی باندے (یعنی پہ دے خبرہ چہ زہ امانت ایخودونکی وکیل کړے یم - ما تہ ئے ویلی دی - چہ ځما امانت تہ دا واخلہ) " قاضی خان پہ ما یضمن المودع کښ "

مسئلہ :- شاھدان دَ امانت غورہ دی دَ شاھدانو دَ ملک مطلق نہ (مثلاً زید پہ خاوند دَ قبضے باندے دعوہ کئ دَ یو شئ چہ دا ځما دے - او خاوند دَ قبضے ورتہ وائی چہ دا ما تہ

فلانی سړی په طورد امانت ایښے دے۔ نو شاهدان د امانت والی غوره دی۔ " صدر الشریعة "

مسئله :- شاهدان د هغه چا چه څه شئے ورځنه په طور د امانت ایښے شوے وی او شاهدان ورکړی په دے خبره چه هغه امانت ما امانت ایښودونکی ته واپس کړیدے نو دا شاهدان غوره دی۔ د شاهدانو د امانت ایښودونکی نه په دے خبره چه تا نه دے واپس کړے۔ بلکه تا ضایعه کړیدے۔ " ترجیح البینات په مسئلو د امانت کښ "

مسئله :- شاهدان د هغه چا چه څه شئے ورځنه ایښے شوے نی په طور د امانت او شاهدان ورکړه نی په دے خبره چه هغه ما امانت ایښودونکی ته واپس کړیدے۔ یا ځما ځنه ضایعه شوے دے۔ غوره دی د شاهدانو د خاوند د امانت نه۔ په دے خبره چه هغه تا ضایعه کړیدے۔ او بعض عالمان وائی چه شاهدان د خاوند د امانت غوره دی " جامع الفصولین په درې ۳۳ دیرشم فصل کښ "

مسئله :- شاهدان د خاوند د قبضے په دے خبره چه کور نیم ځما دے او نیم دا ځنه د فلانی سړی امانت دے۔ غوره دی د شاهدانو د مدعی بے قبضے نه په دے خبره چه دغه کور ټول ځما دے۔ " ترجیح البینات په مسئلو د امانت کښ "

مسئله :- که یو سړی دعوه وکړه په یو داسے کور باندے چه د دوهم بل په قبضه کښ چه دا ځما دے۔ نو مدعیٰ علیه شاهدان ودرول په دے خبره چه دا کور ما ته فلانی سړی په طور د امانت پریښے دے۔ نو دفعه به شی د خاوند د قبضے نه دعوه د دغه مدعی۔ " قاضی خان په ما یبطل الدعویٰ کښ "

مسئله :- شاهدان د مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دا ځما دے۔ غوره دی د شاهدانو د خاوند د قبضے نه په دے خبره چه دا د فلانی امانت دے۔ که ورومبیه صرف دا وئیلی نی چه دا ځما په قبضه کښ دے۔ د دے نه نے زیات نور څه نه نی وئیلی۔ او که دا وئیلی وو چه دا ځما په قبضه کښ امانت دے۔ نو بیا د دهٔ شاهدان غوره دی۔ " ترجیح البینات په مسئلو د امانت کښ "

مسئله :- دوؤ تنو بے قبضے د یو شی دعوه وکړه په خاوند د قبضے باندِ یو خو شاهدان ودرول چه دا شئے ځما دے۔ خاوند د قبضه دا نه په زور اخستے دے۔ او بل په دے خبره چه دا ځما دے ما ورځنه په طور د امانت ایښے دے۔ نو حکم به کیږی چه دغه شئے نیم د یو مدعی او نیم د بل۔ ځکه چه دواړه برابر دی " صدر الشریعه "

مسئله :- شاهدان دَ هغه یو تن دَ دوؤ تنو بے قبضے مد عیانو نه چه شاهدان ودره ئی په دے خبره چه دا ما په طور دَ امانت ورکړیدے غوره دی دَ شاهدانو دَ دغه بل مدعی نه په دے خبره چه دا څما دے۔" ترجیح البیّنات په مسئلو دَ امانت کښں"

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا کور څما څخه دَ فلانی غائب سړی امانت دے غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه په دے خبره چه دا ما دَ خاوند دَ قبضے نه په بیعه آخستے دے۔" قاضی خان"

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا مرئے دَ فلانی سړی دے۔ ماته ئے په طور دَ امانت پریخودے دے۔ یائے په اجاره راکړے دے۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ دغه مرئی نه په دے خبره چه زهٔ آزاد یم۔" ترجیح په مسئلو دَ دعوے کښں"

دَ غصب مسئلے

(دَ چا نه څه آخستل په زور سره)

مسئله :- زید دَ چا نه څه شئے په زور آخستے وو۔ او س شاهدان ودره ئی په دے خبره چه هغه دَ مالک څخه ضایعه شویدے۔ (پس دَ هغے نه چه ما ورته واپس کړیدے) او مالک شاهدان ودره ئی په دے خبره چه هغه دَ زید څخه ضایعه شوے دے۔ نو شاهدان دَ زید غوره دی۔ دا حکم دَ امام صاحب رح او دَ امام محمّد صاحب رح په نزد دے۔ او امام ابو یوسف صاحب رح وائی چه شاهدان دَ مالک غوره دی۔" ملتقی الابحر فی الغصب"

مسئله :- شاهدان دَ مالک په دے خبره باندے چه زید څما نه فلانے شے په زور آخستے وو۔ هغه شئے هلاک کړیدے۔ غوره دی۔ دَ شاهدانو دَ زید نه په دے خبره باندے چه هغه ما مالک ته واپس کړے دے۔" ترجیح البیّنات"

مسئله :- زید دَ چا نه څاروے یا مرئے په زور آخستے وو۔ (او س هغه مړ دے) نو زید شاهدان ودره ئی په دے خبره چه هغه دَ مالک څخه مړ شوے دے (پس دَ هغے چه ما ورته واپس کړے وو) او مالک شاهدان ودره ئی چه هغه دَ زید څخه مړ شوے دے۔ نو شاهدان دَ زید غوره دی۔" وجیز"

مسئله :- دوه تنه بے قبضے دعوه کئی په خاوند دَ قبضے باندے نو یو مدعی په دے خبره شاهدان ودره ئی چه دا شئے چه دَ دے زید په قبضه کښں دے۔ زید څما نه په زور آخستے دے۔ او دغه بل مدعی په دے خبره شاهدان ودره ئی چه دا څما دے نو شاهدان

دَهغه یوغوره دی۔ چه مدعی دَزور دے۔" قاضی خان فی الدعوی"

مسئله :- مرئے دے دَ زید په قبضه کښ دوه تنه بے قبضے پرے دعوه کئی ۔ نو یو خو په دے خبره شاهدان وړاندی چه دا مرئے حَماد ے زید حُما نه په زور آخستے دے او هغه بل په دے خبره شاهدان وړاندی چه دا حَماد ے ما زید له دَ امانت په طور ورکړیدے نو مرئے به دَ دواړو مدعیانو شی په شریکه "هدایه فیمایدعیه الرجلان"

مسئله :- یو سړی دَ زید نه یو کور په وچم زور آخستے وو۔ نو زید شاهدان وړاندی په دے خبره چه هغه کور ده نړولے دے۔ او دے شاهدان وړاندی په دے خبره چه هغه کور ما زید ته واپس کړیدے۔ نو شاهدان دَ کور دَ خاوند یعنے دَ زید غوره دی " ترجیح البینات په مسئلو دَ غصب کښ"

مسئله

چا دَ بل نه زمکه په زور نیولے وه۔ هغه په دے خبره شاهدان وړاندی چه ما دا زمکه په زور نیولے وه۔ بے دَ آبادی نه آبادی پکښ بیا ما کړیده۔ او دَ زمکے خاوند په دے خبره شاهدان وړاندی چه دا زمکه تا سره دَ دغه آبادی نه په زور نیولے وه حُما نه نو چا چه زمکه په زور نیولے وه۔ دَ هغه شاهدان غوره دی۔ قاضی خان په مسئلو دَ خصومت کښ"

دَجنایت مسئلے
(جرم کول)

مسئله :- شاهدان دَ دے خبرے فلانے چه زید زخمی کړے وه۔ هغه دَ دغه زخم نه مړ دے۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ دے خبرے نه چه هغه دَ دغه زخم نه جوړ شوے وو۔ پس دَ هغے نه مړ دے" ذرر غور په آخر دَ شهادت کښ"

مسئله :- شاهدان دَ دے خبرے چه فلانے چه زید وهلے وو۔ هغه پس دَ دغه وهلو نه جوړ شوے وو۔ بیا ورستو مړ دے۔ غوره دی دَ هغه شاهدانو نه چه شاهدی کئی په دے خبره چه دغه فلانے مړ دے په سبب دَ دغه وهلو" خلاصه په مسائلو دَ دعوی کښ"

مسئله :- شاهدان دَ دے خبرے چه فلانئی ونیغه جوړه شوے وه۔ پس دَ هغے نه چه زید وهلے وو۔ په کیدړه باندے۔ بیا ورستو مړه شویده۔ غوره دی دَ هغه شاهدانو نه

چه شاهدی کئ په دے خبره چه هغه مړه ده - په سبب د دغه وهلو چه وهلے شوے وه - په کمیدرو " ترجیح په مسئلو د جنایتونو کښ "

مسئله :- شاهدان د قاتل په دے خبره چه دا سړے د مقتول خوئے دے - او ده مانه ددے قتل عفوه کړیده - غوره دی دمقتول د دوو د شاهدانو نه چه هغه شاهدان په دے خبره ودره ئی چه دے قاتل ځما دور وجلے دے " ترجیح په مسئلو د جنایت کښ "

مسئله :- یو سړی دعوه وکړه په بل باندے چه ده یو هلک ته ځما د خره په بابت کښ حکم کړے وو چه ده ئے وهه - او ځما د انګورو د باغ نه ئے وباسه - نو هلک ځما خر داسے وواهه چه تږے مړشه - نو مدعی په خپله دے دعوه شاهدان ودرول او مدعی علیه په دے خبره شاهدان ودرول چه هغه خرجمدے - نو د مدعی علیه شاهدان قبول نه دی " قنیه په شهادت کښ "

د اقرار مسئلے

مسئله :- دوه تنه شاهدی کئ په دے خبره چه دا اقرار په زور او په جبر کړے شوے دے - او دوه تنه په دے خبره شاهدی کئ چه دا اقرار په خوشئ او په رضا شوبیے نو شاهدان د جبر غوره دی " بزازیه په شهادت کښ "

مسئله :- یو سړی دعوه وکړه په زید باندے د زرو روپو او شاهدانے تیر کړه نو قاضی ورله د دغه زرو روپو په بابت کښ حکم وکه - او س زید شاهدان ودره ئی په دے خبره چه دے مدعی خو مخکښ اقرار کړے وو - چه د زید په ذمه ځماهیڅ حق نشته - نو په دے سره بیکاره کیږی شاهدان د مال - (یعنے دغه ورومبے شهادت به باطل شی -) " قاضی خان په دعویٰ د منقول کښ "

مسئله :- دچا عوئے وکړه په بل باندے د یو داسے کور یا د یو داسے شئ چه وو د دغه بل په قبضه کښ نو مدعی شاهدان تیر کړه - او قاضی ورله حکم وکه - نو مدعی لا دغه کور یا دغه شئ نه وو قبض کړے په دے کښ) مدعیٰ علیه شاهدان ودرول په دے خبره چه دے مدعی د قاضی د حکم نه ورومبیه بے د قاضی د حضور نه اقرار کړیئے چه په دے کور یا په دے شی کښ ځماهیڅ حق نشته - نو په دے سره بیکاره کیږی شاهدان د مدعی په دے خبره چه دا ځما دے - (نو قاضی به خپل ورومبے حکم ماته ئی - او که د

دَ خاوند دَ قبضے شاهدانو په دے خبره شاهدی کوله چه مدعی دا اقرار دَ قاضی دَ حکم نه وړاندې کړیدے۔ نو په دے صورت کښې به قاضی نه مانوی ورو هے حکم خپل) "قاضیخان په فصل دَ تکذیب دَ شهودو کښې"

مسئله :۔ چا دعوه کوله په یو داسے شی یا کور چه وودَ بل قبضه کښې اوشاهدانئ وړاندې په دے خبره چه فلانئ کور ځما دے ماته دَ خپل پلار نه میراث پاتے شویدے او خاوند دَ قبضے شاهدان وړاندې په دے خبره چه دَ دے مدعی پلار په حالت دَ صحت کښې اقرار کړے وو۔ چه دا کور ځما نه دے۔ یا ځما نه وو۔ نو په دے سره بیکاره کیږی شاهدان دَ مدعی۔ "قاضی خان په مایبطل الدعویٰ کښې"

مسئله :۔ یو سړی دعوه وکړه په یو داسے څیز چه وودَ بل په قبضه کښې اوشاهدانئ وړاندې په دے خبره چه دا ځما دے۔ او خاوند دَ قبضے اقرار کړیدے ځما دَ پاره دَ دے څیز۔ او خاوند دَ قبضے شاهدان وړاندې په دے خبره چه دے مدعی ځما نه طلب کړیدے دَ دے څیز دَ هبے (یعنے ماته ئے وئیلی دی چه دا ماته راوبخه) نو په دے سره بیکاره کیږی شاهدان دَ مدعی "تیره شوے حواله"

مسئله :۔ که مدعی بے قبضے شاهدان وړاندې په دے خبره چه دا ځما دے۔ او خاوند دَ قبضے ځما دَ پاره دَ دے اقرار کړیدے۔ او هغه شاهدان وړاندې په دے خبره چه دا ځما دے او دے مدعی ځما دَ پاره دَ دے اقرار کړیدے۔ نو په دے صورت کښې به دَ دواړو شاهدان او غورزیږی۔ او حکم به کیږی دَ پاره دَ خاوند دَ قبضے۔ (یعنے دَ دعوے څیز به دَ هغه په قبضه کښې پاتے شی) "جامع الفتاویٰ په دعویٰ کښې"

مسئله :۔ شاهدان دَ میراث خورو دَ زید په دے خبره چه زید چه ځما دَ پاره دَ فلانی شی اقرار کاوو نو په هغه وخت کښې زید نښه جوړ وو۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ میراث خورو دَ زید نه په دے خبره باندے چه دغه اقرار چه زید کړیدے۔ نو په مرض موت کښې ئے کړے دے۔ "جامع الفصولین په مسئلو دَ اقرار کښې"

مسئله دَ صلحے

مسئله :۔ شاهدان دَ دے خبرے چه دا صلحه په زور او په جبر شویده۔ غوره دی دَ هغه شاهدانو نه کوم چه شاهدی کئ چه دا صلحه په رضا شوے ده۔ "جامع الفتاویٰ

په شهادت کښی"

دَ کانړے مسلے

مسئله:- شاهدان دَ کانړه ورکونکی دَ یو شی په قیمت دَ دغه شی باندے پس دَ ضایعه کیدلو نه غوره دی دَ هغه چا دَ شاهدانو نه چه دغه شئے نے دَ ځان ځخه کانړه ابنے وو۔ " ترجیح په مسئلو دَ کانړے کښی "

مسئله:- شاهدان دَ کانړے سره دَ قبض نه غوره دی دَ شاهدانو دَ هبے نه سره دَ قبضه (مثلاً دوه دَ تنو دعوه کوله نو یو مدعی خو په دے خبره شاهدان ودرول چه دا شئے ماته زیدا کانړه کړیدے او ما ترے قبض کړیدے۔ او هغه بل په دے خبره ودرول چه دا ماته زید هبه کړے دے یعنے بخلے دے۔ او ما قبض کړیدے۔ او دواړو تاریخ وُ نه خوُ او شئے دَ زید په قبضه کښی وو۔ نو شاهدان دَ کانړے غوره دی۔ دا حکم هاله دَے که هبه په شرط دَ عوض نه وه۔ (یعنے هبه کونکی ورته دا نه وو دیلی چه دا درته بخم په دَے شرط چه ته به نے عوض راکئی۔ او که هبه په شرط دَ عوض وه۔ نو بیا په دے صورت کښی شاهدانٗ دَ هبے غوره دی)" ملتقی الابحر په باب دَ دعوے دَ دوو کسانو کښی"

مسئله:- شاهدان دَ کانړے نه غوره دی دَ شاهدانو دَ هبے نه که هبه په شرط دَ عوض وه۔ (اوګوره تیره شوے مسئله)" تیره شوے حواله"

مسئله:- شاهدان دَ کانړه اخستونکی په دے خبره چه تا ماته دا دوه نوکی کانړه کړی دی۔ او ما قبض کړی دی۔ غوره دی دَ کانړه ورکونکی دَ شاهدانو نه په دے خبره چه ما تاته صرف دا یو نوکے کانړه کړیدے (دا بل بهٔ دانه نه کړے)" ترجیح په مسئلو دَ کانړے کښی"

مسئله:- شاهدان دَ کانړه ورکونکی په دے خبره چه ما تاته چه دا شئے کانړه کاوو نو چه روغ رم کانړه کړیدے۔ غوره دی دَ کانړه آخستونکی دَ شاهدانو نه په دے خبره چه دا دے ماته عیبناک کانړه کړیدے۔" قنیه په دوو متعارض شهادتونو کښی"

مسئله:- شاهدان دَ کانړے غوره دی دَ شاهدانو دَ اجارے نه۔" واقعات محیط"

مسئله:- دَ کانړه آخستونکی شاهدان غوره دی دَ کانړه ورکونکی دَ شاهدانو نه په کوم صورت کښی چه کانړه ورکونکے وائی۔ چه ما تاته دا شئے کانړه کړے دے۔ او تا دانه قبض کړیدے۔ او حال دا ئی چه دغه شئے دَ کانړه آخستونکی سره موجود ئی او هغه انکار کئی وائی

چه هغه دا نه دے بلکه تا ماته بل شئے کانړه کړیدے " وجیز "

مسئله :- د کانړه ورکونکی شاهدان غوره دی د کانړه آخستونکی د شاهدانو نه په کوم صورت کښې چه کانړه ورکونکے وائی چه ما تاته فلانے څیز کانړه کړے وو - او تا دانه قبض کړے دے - او کانړه آخستونکے انکار کوی - او حال دائی چه د کانړے دغه شئے هلاک شوے ضایعه شوے ئی - خو قیمت ئے د هغے هومره ئی - د خومره چه کانړه ورکونکے دعوه کوی " وجیز "

مسئله :- شاهدان د کانړه ورکونکی غوره دی - په کوم صورت کښې چه کانړه آخستونکے وائی چه د کانړے هغه شئے خما د قبض کولو نه مخکښې د کانړه ورکونکی څخه هلاک شوے دے - (او ګوره ترجیح) " تتمة الفتاوٰی "

مسئله :- شاهدان د قیمت اخستلو غوره دی د کانړے د شاهدانو نه چه تاریخ ذکر نه کی - یا تاریخ د دواړو برابر ئی - (یعنے په هغه صورت کښې چه یو مدعی وائی چه دا ما د زید نه په بیعه آخستے او بل وائی چه دا ما د زید نه کانړه کړے دے -) " جامع الفصولین په اتم فصل کښې "

مسئله :- د بکر په قبضه کښې یو شئے دے - دوؤ تنو پرے دعوه وکړه نو یو مدعی شاهدان وړاندې کړل چه دا ما د زید نه په بیعه آخستے دے - او بل مدعی شاهدان وړاندې کړل چه داما د زید نه کانړه کړیدے - او یو مدعی تاریخ وخودلو او بل ونه خودو - نو خاوند د تاریخ غوره دے - او که دواړو تاریخ ذکر کړے ئی - او تاریخ د یو وړومبے ئی - نو وړومبی تاریخ والا غوره دے " تیره شوے حواله "

مسئله :- یو سړی شاهدان وړاندې کړل چه دا شئے ما د زید نه په بیعه اخستے دے او بل سړی شاهدان وړاندې کړل چه دا ما د زید نه کانړه کړیدے - او حال داؤ چه دغه شئے په دوئ کښې د یو تن په قبضه کښې وو - نو خاوند د قبضے غوره دے - لکن که د مدعی بے قبضے تاریخ وړومبے وو - نو بیا مدعی بے قبضے غوره دے " تیره شوے حواله "

د مزارعت مسئلے [1]

مسئله :- شاهدان د مزارع په دے خبره چه تا ماله د زمکے نیم حاصل مقرر کړے وو

[1] خوک چه په مقرره حصه یا نیمے د بل پټے اړه دی - کروندہ پکښې کوی - هغه ته مزارع ویلے شی - او باقی د پوره تفصیل د پاره وګوره حاشیه د کتاب ۱۴ مسئلے د مزارعت ۱۲ مترجم

غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ زمکے نه په دے خبره چه ما تاله دریمه حصه مقرر کړے وه په کوم صورت کښ چه تخم دَ زمکے دَ خاوند نے او زمکے فصل کړے نی " قاضی خان په مسئلو دَ مزارعت کښ "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ زمکے په دے خبره چه ما تاله مقرر کړے وه دریمه حصه دَ حاصل - غوره دی دَ شاهدانو دَ مزارع نه په دے خبره چه تا ماله نیم حاصل مقرر کړے وو په کوم صورت کښ چه تخم دَ مزارع نی - او زمکے فصل کړے نی " تیره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان دَ مزارع په دے خبره چه څلور پارے مقرر وو نیم حاصل - غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ زمکے نه په دے خبره چه ستا دَ پاره مقرر وو شل ووکی حاصل په هغه صورت کښ چه تخم او غوایان دَ خاوند دَ زمکے نی - او زمکے فصل کړے نی " ترجیح په مسئلو دَ مزارعت کښ "

مسئله :- شاهدان دَ مزارع په دے خبره چه څلور پارے شل پیمانے دَ حاصل نه مقرر شوے وے - غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ زمکے نه په دے خبره چه تاله مقرره کړے شوے وه نیمه حصه دَ حاصل - په هغه صورت کښ چه پس دَ کرلو نه زمکے هیڅ فصل نه ئی کړے " تیره شوے حواله "

مسئله :- که مزارع او خاوند دَ زمکے مختلف شو په جواز دَ هغه مزارعت کښ چه دوئی کړے دے - او په فساد دَ هغے کښ نو شاهدان دَ جواز واله غوره دی " تیره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان نے دُوه ړول په دے خبره چه دغه فلانئ زمکه څما ده - او په هغے کښ فصل ولاړ وو - نو قاضی ورله حکم وُکه چه زمکه او فصل ستا شو - بیا مدعٰی علیه شاهدان وُړ ړول په دے خبره چه دغه فصل یکښ ما کړے دے په خپل تخم سره - نو دا شاهدان قبول دی " جامع الفتاوٰی "

مسئله :- یو سړی دعوه وکړه په یو داسے زمکه چه په هغے کښ وَنے وے - نو قاضی ورله حکم وکه - بیا مدعٰی علیه دعوه کړه چه وَنے یکښ ما تالے کړیدی - او حال دا دو چه مدعی شاهدانُ چه شاهدی کړے وه - نو صرف په زمکه نے شاهدی کړے وه - نه په بل څهٔ - نو قاضی به نه آوری داد عوه دَ مدعٰی علیه " تیره شوے حواله "

---

[1] دا دَ اصل کتاب ترجمه ده - نیکن "نه" لفظ یکښ کاتب زیات کړے دے - او کوره ترجیح - ۱۲ مترجم

[2] دا مسئله او په دے پسے دا تلونکے مسئله دواړه دَ حوالے نه خلاف دی - خبر نه یم چه کاتب یکښ وے ستر کے پټے کړیدی - اوکوره ترجیح مسئلے دَ مزارعت ۱۲ - مترجم ÷

دَ مضاربت مسئلے

(نیم سوده)

مسئله :- چا چه دَ بل نه روپئ آخستے وی - دَ هغه شاهدان غوره دی - په دے خبره چه هغه روپئ تا ماله قرض راکړیدی - او حال دائی چه مالک دَ دروپو ورته وائی چه هغه ما تاله درکړیدی په طریقه دَ نیم سوده - یا وائی چه هغه م درکړیدی په طریقه دَ بضاعت (دَ بضاعت مطلب دادے چه ته به پرے تجارت کئ - فایده به ئے تول ځمائی - ستا صرف په ما مداد او احسان دے -) " قاضی خان په مضاربت کښ "

مسئله :- شاهدان دَ هغه چا چه دَ بل نه ئے روپئ آخستے ئی او شاهدان په دے خبره ودره ئی چه دا روپئ ما په نیم سوده اخستے غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چانه چه دغه روپئ ئے درکړی ئی - او شاهدان په دے خبره ودره ئی چه دغه روپئ ما تاله قرض درکړے وے - خو دا په هغه صورت کښ چه روپئ اخستونکی په روپو کښ تصرف کړے وی - جو روپئ آخستونکے ضامن دے - " ترجیح په مسئلو دَ مضاربت کښ "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ روپو چه روپئ ئے ورکړی وی بل له او شاهدان[1] ودره ئی په دے خبره چه هغه روپئ ما دَه له قرض ورکړے دی - غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه دغه روپئ ئے آخستے وی - او شاهدان په دے خبره ودره ئی چه هغه روپئ ما په طریقه دَ نیم سودی آخستے دی - خو دا په هغه صورت کښ چه روپو آخستونکی لا په روپو کښ څه تصرف نه وی کړے - او ضمان نشته په روپو آخستونکی باندے - " تیره شوے حواله "

مسئله :- روپئ چه ئے آخستے ئی هغه شاهدان ودره ئی په دے خبره چه دا په طریقه دَ مضاربت دی - او دَ روپو مالک په دے خبره شاهدان ودره ئی چه دغه روپئ ما تاله درکړی دی په طریقه دَ بضاعت (مداد) نو شاهدان دَ روپو آخستونکی غوره دی - " وجیز په مضاربت کښ "

مسئله :- چا چه دَ بل نه په نیم سوده روپئ آخستے وی - دَ هغه شاهدان غوره دی که دواړه مختلف شو په هغه مقرره اندازه دَ نفع کښ چه مقرره کړے شوے وه دَ پاره دَ

---

[1] دا مسئله دَ حولنے نه مخالفه ده - په دے کښ شاهدان دَ روپئ ورکونکی غوره دی - دَ دے مسئلے دَ پاره ادد ارتلپ دَ دانلو تکے مسئلے دَ پاره او گوره ترجیح مسئلے دَ مضاربت - ۱۲ مترجم

دوپئ اخستونکی۔ (مثلاً دهٔ وئیل چه تا ماله نیمه نفعه مقرر کړے ده۔ او مالک دَ روپو وئیل چه درېمه) " ترجیح په مسئلو دَ مضاربت کښ "

مسئله :- یو دعوه دَ قرض کئ او بل دَ مضاربت نو شاهدان دَ قرض غوره دی (مثلاً زید بکرته وائی چه هغه روپئ تا ماله قرض دا کړیدی۔ او بکرو دته وائ چه په نیم سوده رم ددکړیدی۔ نو شاهدان دَ زید غوره دی۔) محیط سرخسی په باب دَ دوؤ متعارضو شهادتونو کښ "

مسئله :- چا چه بل له په نیم سوده روپئ ورکړیدی دَ هغه شاهدان غوره دی که دواړه سره مختلف شو پس دَ تصرف نه په خاص والی او په نه خاص والی کښ " ترجیح په مسئلو دَ مضاربت کښ "

مسئله :- چا چه بل له په نیم سوده روپئ ورکړے دی۔ که هغه وئیل چه ما دغه روپئ ورکړیدی خاص دَ طعام دَ تجارت دَ پاره۔ او ده وئیل چه تا ماته دَ څه خاص تجارت نوم نه وو آخستے۔ نو که روپئ آخستونکی لا په دغه روپو کښ تصرف نه وو کړے (یعنے څه شئے نے پرے لا نه وو آخستے) نو دَ هغه حق نشته په عام والی کښ۔ (یعنے خاص دَ طعام سودا گری به پرے کئ " ترجیح په مسئلو دَ مضاربت کښ "

مسئله :- چا چه روپئ دَ بل نه په نیم سوده آخستے دی۔ دَ هغه شاهدان غوره دی که دواړو منلی چه مونږ خاص تجارت مقرر کړے وو۔ خو مختلف شوی وو۔ په قسم دَ تجارت کښ (مثلاً دواړو منلی چه تجارت دَ طعام مقرر شوے وو۔ خو یو وئیل چه خاص دَ غنمو تجارت مونږه یاد کړے وو او بل وئیل چه نه) " تیره شوے حواله "

مسئله :- چا چه دَ بل نه په نیم سوده روپئ آخستی دی هغه وئیل چه تا ماته دَ نقد او نسیه دواړو حکم کړے وو۔ او مالک دَ روپو وئیل چه ما تا ته خاص دَ نقد حکم کړے وو۔ نو که شاهدان نه وی جو خبره دَ روپئ آخستونکی غوره دی۔ او که دواړو شاهدان ورډول نو شاهدان دَ خاص والی غوره دی " وجیز په مضاربت کښ "

مسئله :- چا چه دَ بل نه په نیم سوده روپئ آخستی دی۔ دَ هغه شاهدان غوره دی په دے خبره باندے۔ چه مالک دَ روپو چیلے اصلی روپئ آخستے دی۔ که مختلف شو دوائ پس دَ ویشلو دَ منافع نه۔ (یعنے مضارب ورته وائی چه تا دَ تقسیم نه مخکښ خپل رأس المال آخستے دے۔ او هغه وائی چه نه۔ نو شاهدان دَ مضارب غوره دی " ترجیح په مسئلو دَ مضاربت کښ "

مسئله :- چاچه د بل نه روپئ آخستے وی په نيم سوده - هغه که په دے خبره شاهدان وړاندې کړل چه تا ځما سره دريمه حصه د منافعے کړے وه - او مالک د دوی په دے خبره شاهدان وړاندې کړل چه ما ويل چه د منافع دريمه دده - خولس په ترے کے وی - نو شاهدان د مضارب (يعنے د هغه چاچه روپئ ئے آخستے دی په نيم سوده) غوره دی "قاضيخان په مضاربت کښې"

مسئله :- چاچه د بل نه روپئ آخستے دی په نيم سوده - هغه شاهدان وړاندې ئې په دے خبره چه تا ځما سره سل روپئ کړے وے - (چه د منافعے نه به دركوم) يا په دے خبره چه تا ماله هيڅ نه وو مقرر کړی - او اوس خپل مناسب اجرت غواړی - نو دا شاهدان غوره دی - د مالک د دوی د شاهدانو نه په دے خبره چه تا له د منافعے نيمه مقرر کړے شوے وه - "تبره شوے حواله"

زيد د بکر نه روپئ په نيم سوده آخستے وے - تجارت ئے پرے وکه - فايده حاصله شوه هغه ئے سره او ويشله - اوس ئے اختلاف داغے پر اصلی روپو کښې نو زيد شاهدان وړاندې ئې په دے خبره چه بکر اقرار کړے دے چه زيد ماله اصلی رقم د منافع د تقسيم نه وړو ستو واکړے دے واپس - او بکر شاهدان وړاندې ئې په دے خبره چه زيد اقرار کړيدے چه هغه اصلی روپئ ما بکر ته نه دی واپس کړی - او دوارو د يو بل د اقرار تاريخ وخوو - نو کوم يو چه وړومبے تاريخ خوولے د هغه شاهدان غوره دی - او که دوارو تاريخ خوولے وو خو تاريخ ئے يو وو - نو د زيد شاهدان غوره دی "قاضی خان په دعوه د منقول کښې"

د شرکت مسئلے

مسئله :- دوو تنو شرکت مفاوضه[له] کړے وو - په دے کښې يو تن حکم وکه - دوو تنو وکيلانو ته چه مونږ له يو مرئے په بيعه واخلئ - نو هغوی واخسته - بيا دواړه شريکان د شراکت د ورانولو نه وروستو مختلف شو په بابت د دغه مرئی کښې نو کوم چه حکم کړے وو - هغه ويل چه دا مرئے هغوی ځما په حکم آخستے دے ځمونږ د جدائی نه وروستو نو خاص ځما دے - او هغه بل ويل چه دا ئے آخستے دے ځمونږ د جدائيئ نه مخکښې نو ځما او ستا شريک دے او دواړو په خپله خپله دعوه شاهدان وړاندې کړل نو کوم يو چه د آخستو حکم نه وو کړے د هغه

[له] شرکت مفاوضه او عنان شرکت واقی د دے د پاره او کورئ د کتاب دا په مسئلو د شراکت کښې - ۱۲ - مترجم

شاهدان غوره دی "ترجیح په مسئلو د شراکت کښی"

مسئله:- په دے تیره شوے مسئله کښی شاهدان د حکم کولو غوره دی - که دواړه سره مختلف شو په دے طریقه چه حکم کونکی وئیل چه دا مرئے ئے آخستے دے خو نو د جد لیئے نه پخوا نو شریک دے او هغه بل وئیل چه دا ئے آخستے دے وروستو خو نو د جدا ئیئے نه - نو خاص ناله ئے آخستے دے - اوکه دا دواړه مسئلے د شراکت عنان په صورت کښی وے - نو هم دغه حکم دے "ترجیح په مسئلو د شرکت کښی"

مسئله:- یو سړی شاهدان وُدرول په بل باندے چه دده مال څما او د ده شریک دے په شراکت مفاوضه سره - نو حکم به کیږی د دے مدعی د پاره په دغه نیم مال سره "تیره شوے حواله"

مسئله:- چا دعوه وکړه د یو داسے شی چه ود د بل په قبضه کښی - نو دے وئیل چه داشے څما او د ده شریک دے - نو مدعیٰ علیه شاهدان وُدرول په دے خبره چه دا خاص څما ملکیت دے - او دے چه څما سره شریک وو - دهٔ خپله حصه ماته را بخلے او ما قبض کړیده - نو مدعیٰ علیه شاهدان قبول دی "تیره شوے حواله"

مسئله:- چا دعوه وکړه چه زهٔ د دے سړی سره د ده په مرئی کښی شریک یم (یعنی دا مرئے څما او د ده په شراکه دے) نو قاضی ورله حکم وکړه - چه نیم ستا دے - پس د هغے نه مدعیٰ علیه دعوی کوله - چه دا مرئے خو ماته د پلاره میراثه پاتے شوے دے - نو د مدعیٰ علیه شاهدان قبول نه دی - لکن که د دغه مدعی د طرفه د ملکیت د حاصلو لو دعوی ئے کوله - او شاهدان ئے وُدرول (چه دهٔ ماته خپله حصه بخلے ده مثلاً) نو بیا د مدعیٰ علیه شاهدان قبول دی "تیره شوے حواله"

مسئله:- کوم شاهدان چه شاهدی کئی په دے خبره چه دا شئے د زید او د بکر شریک دے - دا شاهدان غوره دی د هغه شاهدانو نه چه شاهدی کئی په دے خبره چه دا یوازے د زید دے "واقعات محیط"

د قسمت مسئلے

مسئله:- دوو تنو او دیشلهٔ یو لوئ کور - هر یو خپله خپله برخه واخسته - بیا په دے کښی یو تن دعوه وکړه په یوه داسے کمره چه وه د هغه بل په قبضه کښی او شاهدان ئے

وُدرول په دے خبره چه دا ځما په برخه کښې رسیدلے ده - نو دا شاهدان قبول دی "وجیز په مسئلو قسمت کښې"۔

مسئله :- که دوه تنه مختلف شو په بابت دَ یو داسے دیوال کښې چه وا قع وود دَ دواړو دَ حصو په مینځکښې نو هر یو وئیل چه دا ځما حصه ده داخله شوے ده دَ دَه په حصه کښې - او دواړو شاهدان وُدرول په خپله خپله دعوئ نو حکم به کیږی دَ هر یو دَ پاره په هغه حد سره چه دَ هغه بل په قبضه کښې دے "وجیز په قسمت کښې"۔

مسئله :- کوم شاهدان چه شاهدی کئ په دے خبره چه دا پنځوانے دے دا شاهدان غوره دی دَ هغه شاهدانو نه چه شاهدی کئ په دے خبره چه دا وُسنے دے "خلاصه په مسئلو دَ حیطانو کښې"۔

دَ دعوؤ مسئلے

مسئله :- دوه تنه شاهدی کئ چه دَ زید بکر نه چه کوم زر روپئ مثلاً پورا مے وے هغه ئے ورته پریخے دی - بکر ئے آزادی کړیدے - او دوه تنه شاهدی کئ چه دَ زید بکر نه زر روپئ پورے دی نو شاهدان دَ آزادئ غوره دی - د لے حاله چه تاریخ دواړو جانبو نه ئې ذکر کړے "اشباه په آخر دَ مداینات کښې"۔

مسئله :- شاهدان دَ دے خبرے چه فلانے مړ شوے دے - غوره دی دَ هغه شاهدانو نه چه شاهدی کئ په جوندی والی دَ دغه فلانی باندے "وجیز برهانیه په اول باب دَ استحسان کښې"۔

مسئله :- شاهدان دَ مدعا علیه په دے خبره باندے چه دے مدعی ماته خپل حق پریخے دے - ابراء ئے کړیده - غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی نه په دے خبره چه دَ دَه په ذمه ځما اوس دومره مال پورے دے "جامع الفصولین"۔

مسئله :- مدعی شاهدان وړاندے کړل چه ځما دے سړی نه دومره مال پورے دے او مدعی علیه شاهدان وړاندے کړل په برات باندے دیته په دے خبره چه دغه مال

[1] دَ دے سره دَ کوم هغه مسئله چه تیره شوے ده دَ دریم کتاب په مسئلو دَ شهادت کښې او دَ شامی دَ تکملے په شهادتونو کښې ئے وئیلی دی - چه خبره دا ده چه شاهدان دَ او سنی والی غوره دی دَ شاهدانو دَ قدیم والی نه - هر څنګه چه وی اوکه تاریخ خولے شوے وو نو بیا هم تاریخ واله غوره دے - ۱۲ مترجم

دی مدعی ماته پریښے دے) نو شاهدان دَ مدعی دَ مال غوره دی. که تاریخ دَ برارت وړومبے وو. او که تاریخ دَ برارت وروستے وو. نو شاهدان دَ برارت غوره دی." ترجیح په مسئلو دَ دعوے کښې"

مسئله:۔ په دے نیره شوے مسئلے کښې که دواړو تاریخ نه وه ذکر کړے. یا یو تاریخ ذکر کړے وو. او بل نه یا دواړو تاریخ ذکر کړے وو. خو یو وو. نو په دے صورتونو کښې شاهدان دَ برات غوره دی" نیره شوے حواله"

مسئله:۔ شاهدان دَ مدعی بے قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه که دواړو دَ ملك مطلق دعویٰ کوله (یعنے یو ویَل چه دا ځما دے. او بل ویَل چه ځما دے) "درر په دعوه دَ دوو تنو کښې"

مسئله:۔ شاهدان دَ مدعی بے قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه که دواړو دَ ملك مطلق دعوه کوله. (یعنے یو ویَل چه دا ځما دے. او بل ویَل چه ځما دے) او دواړو تاریخ ذکر کاوو. خو تاریخ دَ دواړو برابر وو" ترجیح په مسائلو دَ دعوو کښې"

مسئله:۔ که دواړو دَ مطلق دعوه کوله نو شاهدان دَ مدعی بے قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه. لکن که دواړو تاریخ ذکر که. او تاریخ دَ خاوند دَ قبضے وړومبے وو. نو بیا به حکم کیږی دَ پاره دَ خاوند دَ قبضے. لکه چه حکم ورله کیږی په صورت دَ دعوے دَ کورنی پیدا ایښت کښې. (مثلاً مدعی بے قبضے شاهدان ورله ئی چه دا څاروے ځما دے ځما کورنے پیدا دے. او خاوند دَ قبضے هم دا دلیل شاهدان ورله ئی نو شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی)" نیره شوے حواله"

مسئله:۔ دوؤ تنو دعوه وکړه دَ یو داسے څیز چه دوؤ بل په قبضه کښې. نو یو خو په دے خبره شاهدان ؤدرول چه دا ځما دے دَ لسو کالو نه. او هغه بل په دے خبره چه دا ځما دے دَ پنځو کالو نه نو حکم به کیږی دَ پاره دَ وړومبی وخت والا. او که دواړو تاریخ نه وو خوولے. نو بیا به دَ دواړو ؤدسی نیم نیم" نیره شوے حواله"

مسئله:۔ شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه[1] دا کوره ځما په قبضه کښې دے دَ یو کال نه. غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه په دے خبره چه دا کوره ځما

---

[1] دا دَ اصل کتاب ترجمه ده. لیکن معلومیږی چه کاتب په عبارت کښې کمی بری کړے. او عبارت داسے پکار وو. شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دا کوره ځما دے دَ یو کال نه وکوره ته ترجیح ۱۲ مترجم

په قبضه کښې دے دَ دوؤ کالونه۔" تیره شوے حواله"

مسئله:۔ دَ دوؤ ننو په قبضه کښې یو کور دے۔ دواړه پرے دعوه کړی۔ اوهر یو په دے خبره شاهدان وړاندې چه دا کور څما دے۔ نو حکم به کیږی دَ هر یو دَ پاره په هغه حصه سره کومه چه دَ هغه بل په قبضه کښې ده۔" ترجیح په مسئلو دَ دعوو کښې"

مسئله:۔ شاهدان دَ مدعی بے قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه په هغه صورت کښې چه دواړو تاریخ نهٔ ذکر کړے۔ یائے ذکر کړے ئې خو یوئې۔" تیره شوے حواله"

مسئله:۔ شاهدانؑ دَ خاوند دَ تاریخ غوره دی۔ دَ شاهدانو دَ هغه بل نه په هغه صورت کښې چه یو تاریخ ذکر کړے ئې۔ او بل نه۔ (او دواړه مدعیان بے قبضے ئې۔ اوهر یو دعوه کړے ئې چه دا ما په بیعه آخستے دے دَ زید نه)" تیره شوے حواله"

مسئله:۔ شاهدان دَ وړومبی تاریخ واله غوره دی۔ که دَ دعوے څیز دَ دواړو مدعیانو په قبضه کښې وو۔ او دواړو تاریخ ذکر کړے وو۔" تیره شوے حواله"

مسئله:۔ که دوؤ مدعیانو په خپله خپله دعوه (دَ ملک مطلق یا دَ میراث) شاهدان وړاندې وُل۔ او تاریخ دَ دواړو یو وو۔ یا دواړو تاریخ نه وو ذکر کړے۔ یا صرف یوتن تاریخ ذکر کړے وو۔ او په دے دواړو کښې یو هم خاوند دَ قبضے نه وو۔ نو دواړه مدعیان برابر دی۔ (یعنے حکم به کیږی دَ پارهٔ دَ دواړو په شریکه سره)" تیره شوے حواله"

مسئله:۔ که دواړو مدعیانو په خپله خپله دعوه شاهدان وُړاندې وُل او تاریخ دَ یو وړومبے دوؤ دَ بل نه۔ نو شاهدان دَ وړومبی تاریخ واله غوره دی۔" تیره شوے حواله"

مسئله:۔ مدعی بے قبضے شاهدان وُړاندې وُل چه دا څیز څما دے۔ او خاوند دَ قبضے شاهدان وُړاندې وُل۔ چه دا ماد مدعی نه په بیعه آخستے دے۔ نو شاهدان دَ خاوندٌ قبضے غوره دی۔" ملتقی الأبحر په باب دَ دعوے دَ دوؤ تنو کښې"

مسئله:۔ شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی۔ که دواړو دعوه کوله دَ یو جهت نه (مثلاً مدعی بے قبضے وئیل چه دا کور ما په بیعه آخستےٌ دَ زید نه۔ او خاوند دَ قبضے وئیل چه دا ما په بیعه آخستے دے دَ زید نه) او دواړو تاریخ ذکر نه کړلو۔ یا دواړو یو تاریخ وخوو

ﻠﻪ که دا صورت په دعوه دَ ملک مطلق کښې فرض کړے شی۔ او دواړه مدعیان بے قبضے دی۔ یا دواړه خاوندان دَ قبضے وی نو بیا دا حکم بنا دے دَ امام ابو یوسف صاحب رح پر قول باندے۔ ۱۲ مترجم

ﻠﻪ په اصل کتاب کښې دا ځائے لیک وو چه یو خاوند دَ قبضے وی لیکن دا غلط دے۔ اذکوهٔ حواله۔ ۱۲ ۔مترجم

اوکه دواړو تاریخ وخوو۔ او دَ یو تاریخ مخکښ وو دَ هغه بل نه۔ نو خاوند دَ مخکښ تاریخ غوره دے۔ اوکه یو تن تاریخ اوخوو۔ او هغه بل وُنه خوو۔ نو بیا خاوند دَ قبضے غوره دے په خلاف دَ هغه صورت نه چه دَ دواړو دعوه په یو دا سے کوروی چه هغه وی په قبضه دَ خرڅونکی کښی۔ (یعنے دادواړه مدعیان بے قبضے وی۔ او یو تاریخ ذکر کړے وی۔ او بل نه وی ذکو کړے) نو په دے صورت کښی شاهدان دَ خاوند دَ تاریخ غوره دی " خزانة الفتاوٰی "۔

مسئله :۔ شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دا ځما دے دَ دوه کالو نه غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه په دے خبره چه دا ځما په قبضه کښی دے دَ دریو کالو نه۔ او دَ امام صاحب رح نه روایت دے چه دا به دَ خاوند دَ قبضے شی " ترجیح "۔

مسئله :۔ شاهدان دَ هغه چا چه دعوه کوی په یو شی۔ او شاهدان وُدروی په دے خبره چه دا اوس ځما په قبضه کښی دے۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه بل مدعی نه په دے خبره چه دا ځما په قبضه کښی دے دَ یو ے میاشتے نه۔ دارنګ شاهدان دَ دعوه کونکی دَ یو شی په دے خبره چه دا شئے ځما په قبضه کښی دے دَ یوے جمعے نه۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه بل مدعی نه په دے خبره چه دا ځما په قبضه کښی دے دَ یوے میاشتے نه۔ (اوګوره ترجیح) " قاضی خان په دعوه دَ منقول کښی "۔

مسئله :۔ مرئے وو دَ یو سړی په قبضه کښی شاهدان ئے وُدرول په دے خبره چه دا ځما مرئے دے دَ لسو کالو نه۔ او بل مدعی شاهدان وُدرول په دے خبره چه دا ځما مرئے دے ځما په قبضه کښی وو دَ یو کال نه تر دے پورے چه ځانه په زور واخستو دے سړی چه اوس ئے په قبضه کښی دے دا مرئے۔ نو دغه مرئے هغه یو له دے چه په قبضه کښی ئے دے " تیره شوے حواله "۔

مسئله :۔ شاهدان دَ مدعی په دے خبره باندے چه په دے عامه لارکښی دَ ښاروو منډو یا ګنتیئے وغیره چه دے۔ دا نوے جوړ کړے شوے دے۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه بل منکری نه په دے خبره چه دا قدیمی دے " ترجیح په مسئلو دَ دعوٰے کښی "۔

مسئله :۔ شاهدان دَ دے خبرے چه دا کار په جبر شوے دے۔ غوره دی دَ هغه شاهدانو نه چه شاهدی کوی په رضا والی باندے " دررغرر په آخر دَ

قبول دَ شهادت کښې“

مسئله :- شاهدان دَ قرضداری په اداکولو بانده یا په ابراء بانده (یعنې په دې خبره چه دے خاوند دَ قرضے ته هغه مال چه ما ته ئې پورے دے۔ ما اداکړے دے۔ یا ده راته هغه پریښے دے) پس دَ دے نه چه دے قرضداری مخکښې انکار کړے وی۔ چه ما ته ئې هیڅ نشته۔ قبلیږی ـ” ترجیح په مسئلو دَ دعوے کښې“

مسئله :- شاهدان دَ هغه چا چه بل ته ئې مال پورے وی۔ او په دے خبره شاهدان ودروی چه دے مالدار دے۔ بود پرے شته۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ قرضداری نه په دے خبره چه زهٔ مفلس او خوارزاد یم۔” قاضی خان په بیان دَ شهادت کښې په افلاس بانده“

مسئله :- یو سړی دعوه وکړه په بل بانده دَ زرو روپو۔ نو مدعا علیه ورته ووئیل چه تالره خما په ذمه هرګز څه نه وو۔ نو مدعی شاهدان ودرول په زرو روپو بانده۔ پس دَ دے نه مدعا علیه شاهدان ودرول چه هغه درته ما اداکړی دی۔ یا په دے خبره چه هغه راته تا پریښې دی۔ زهٔ دِ ترے آزادی کړے یم۔ نو قبول دی دا شاهدان دَ مدعا علیه ئے دردپه مسئلو دَ تخالف کښې“

مسئله :- یو سړی په بل بانده دَ زرو روپو دعوه وکړه۔ نو مدعا علیه ورته ووئیل چه تالره خما په ذمه هیڅرے څه نه وو۔ او زهٔ تا نه پیژنم۔ نو مدعی شاهدان ودرول په مال بانده۔ او س مدعا علیه شاهدان ودروی په دے خبره چه هغه مال ما تا ته اداکړے دے۔ یا په دے خبره چه هغه راته تا بالکل پریښے دے۔ نو په جامع صغیر کتاب کښې ذکر دی۔ چه دَ مدعا علیه دا شاهدان قبول نه دی۔ او په قدوری کتاب کښې وائی چه قبول دی۔ ” قاضی خان په مسئلو دَ دعوے کښې“

مسئله :- شاهدان دَ بیعﷺ غوره دی۔ دَ شاهدانو دَ برارت نه ـ” ترجیح په مسئلو دَ دعوے کښې“

مسئله :- یو مدعی شاهدان ودرول په دے خبره چه دا خما دے۔ بیا مدعیٰ علیه شاهدان ودرول په دے خبره چه دَ مدعی دے شاهدانو دَ دے څیز دعوه کړے وه۔ دَ خان دَ پاره نو قبول دی شاهدانﷺ دَ مدعی ئے تیره شوے حواله“

ﷺ وکوره چه دا مسئله دَ دې وبی کتاب په مسئلو دَ دعوے کښې دَ کوم عبارت نه معلومیږی۔ ۱۲ مترجم

ﷺ دا عبارت خطا دے۔ صحیح دا دے چه قبول نه دی۔ لاکن کهٔ دَ مدعی نه مراد وپه دے مدعا علیه واخستے شی نو بیا صحیح دے۔ اوګوره ترجیح مسئلے دَ تسب ۱۲ مترجم

مسئله :- شاهدان دَ مدعی بے قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه - که هایو ویئل چه دا پنیر خما دے - ما رغکړے دے دَ خپلے بیزے دَ پیونه " قاضیخان په مسئلو دَ دعوے کښې "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه - که هر یو شاهدان وُدرول په دے خبره چه دا خما مرئے دے - خما په ملکیت کښې پیدا شوے دے خما دَ ونجے او دَ مرئی نه " تیره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی - دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه که دَ دوارو جګړه وه - په پنیر کښې نو مدعی بے قبضے ویئل چه دا خما دے ما تیار کړے دے دَ هغه پیونه چه خما ملکیت وو - او خاوند دَ قبضے ویئل هم دا رنګه " تیره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان دَ مدعی بے قبضه غوره دی - دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه - که هر یو شاهدان وُدرول په دے خبره چه دا خما وینځه ده - دا مرئے دَ دا وړیے خما په ملکیت کښې " تیره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضه په دے خبره چه دا خما مرئے دے - پیدا شوے دے خما دَ دے وینځے نه - غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه په دے خبره چه دا خما مرئے دے - پیدا شوے دے خما په ملکیت کښې " تیره شوے حواله "

مسئله :- دَ یو سړی په قبضه کښې یو مرئے وو - دعوه پرے وکړه دوؤ تنو - او دا دواړه بے قبضے وو - او هر یو تن دَ دے دوارو مدعیانو نه په دے خبره شاهدان وُدرول - چه دا خما مرئے دے خما په ملکیت کښې پیدا شوے دے خما دَ دے وینځے او دَ مرئی نه - نو حکم به کیږی چه دا مرئے نیم دَ یو مدعی دے او نیم دَ بل " تیره شوے حواله -

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی - دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه - که دواړو شاهدان وُدرول په بابت دَ چرګے کښې - او هر یو ویئل چه دا خما ده خما په ملکیت کښې پیدا شوے ده " قاضی خان په دعوه دَ ملک کښې "

مسئله :- شاهدان دَ مدعی بے قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضه نه - که هر یو په دے خبره شاهدان وُدرول چه دا خما وینځه ده - دا مرئے دَ دا وړیے

دے حُما په ملکیت کښې "جامع الفصولین"

مسئله:- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا مرئے یا خاروے حُما دے۔ په ما چه چا راخوځ کړیدے۔ دا دَ هغه په ملکیت کښې پیدا شوے وو۔ غوره دی۔ دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه په دے خبره چه دا حُما دے۔ پیدا شویدے حُما په ملکیت کښې۔ "ترجیح البینات"

مسئله:- دوؤ تنو شاهدان ورول۔ هر یو په دے خبره چه دا خاروے حُما کورنے پیدا دے۔ او دواړو تاریخ دَ پیدائیښ خوولو۔ نو حکم به کیږی دَ هغه یو دَ پاره چه تاریخ ئے دَ دغه خاروی دَ عمر سره برابر وی۔ برابره خبره دا۔ که دغه خاروے دَ دواړو په قبضه کښې وی۔ یا دَ یو په قبضه کښې وی۔ یا دَ چا دریم په قبضه کښې وی "تیره شوے حواله"

مسئله:- که دعوه دَ کورنی پیدائیښ وه۔ (مثلاً په دواړو کښې هر یو وئیل چه دا خاروے حُما دے۔ حُما کورنے پیدا دے۔ یعنے حُما دَ خپل خاروی نه پیدا دے) او تاریخ دواړو نه وو خوولے۔ نو حکم به کیږی چه دَ غه خاروے دَ خاوند دَ قبضے دے۔ دا په هغه صورت کښې چه دغه خاروے په دے دواړو کښې دَ یو تن په قبضه کښې وی "ترجیح البینات په مسئلو دَ دعوے کښې"

مسئله:- په دے تیره شوے مسئله کښې که دواړو تاریخ نه وو ذکر کړے او دغه خاروے دَ دواړو په قبضه کښې وو۔ یا دَ یو دریم په قبضه کښې وو۔ نو حکم به کیږی چه دَ دواړو شریک دے "تیره شوے حواله"

مسئله:- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په هغه صورت کښې چه شاهدان وردوی په کورنی پیدائیښ دَ یو خاروی باندے۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه په دے خبره چه دا خاروے حُما دے۔ حُما کورنے پیدا دے۔ یا په دے خبره چه دا خاروے حُما دے۔ لکن هاله۔ که مدعی بے قبضے دعوه نه وی کړی په خاوند دَ قبضے باندے دَ شه فعل (کار) لکه کانړه یا په زور آخستل۔ بیا دادَ تلو نور خه۔ او که مدعی بے قبضے دے سره پرے دَ فعل هم دعوه کوله۔ نو بیا دَ هغه شاهدان غوره دی۔ (مثلاً مدعی بے قبضے دا دعوه کوله چه دا خاروے حُما دے۔ خو تا دا نه په زور نیولے دَے نو بیا شاهدان دَ مدعی بے قبضے غوره دی۔ او کوم دعوه دَ ترجیح) "جامع الفصولین"

مسئله:- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا خاروے حُما دے۔ حُما

کورنے پیدا دے۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه په دے خبره چه دا څما دے خودے خاوند دَ قبضے لرم په اجاره ورکړے۔ یا م ودته کانړه کړے۔ یا م ورله په طریقه دَ عاریت ورکړے دے ؛ جامع الفصولین ؛

مسئله :۔ که مدعی بے قبضے شاهدان ورډول په دے خبره چه دا (مثلاً خاروے) څما دے پیدا شوے دے څما په ملکیت کښ۔ او خاوند دَ قبضے هم دارنګ شاهدان وُدرول۔ نو شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی ؛ ترجیح البینات په مسئلو دَ دعوے کښ۔ نقل کړے ده دَ اشباه کتاب نه ؛

مسئله :۔ که مدعی بے قبضے دَ یو مرئی دَ کورنی پیدا ایښ سره دَ آزادولو دعوه هم کوله۔ یائے ورسره داد عوه کوله۔ چه دا څما څوئ دے۔ نو مدعی بے قبضے غوره دے ؛ ترجیح البینات په مسائلو دَ دعوے کښ ؛

مسئله :۔ کوم یو چه داد عوه کئ چه دا خاروے (مثلاً) څما دے۔ څما کورنے پیدا دے۔ دَدَه شاهدان غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه چا نه چه دعوه کوی دَ ملک ریښے وائی چه دا خاروے څما دے) برابره خبره ده چه بے قبضے وی۔ او که خاوند دَ قبضے وی ؛ قاضیخان په دعوه دَ منقول کښ ؛

مسئله :۔ یو خاروے وو په قبضه دَ دریم کښ۔ دوؤ تنو پرے دعوه وکړه۔ خو په دے دواړو کښ یو شاهدان ودرول چه دا خاروے څما کورنے پیدا دے۔ او هغه بل په دے شاهدان وُنه ودرول۔ نو شاهدان دَ کورنی پیدا ایښ غوره دی ؛ تیره شوے حواله ؛

مسئله :۔ شاهدان دَ مدعی بے قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه۔ لکن که خاوند دَ قبضے دعوه کوله دَدے خبرے چه دا څما په ملکیت کښ پیدا شوے دے۔ نو بیا شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی ؛ تتمه ؛

مسئله :۔ شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه۔ که هر یو شاهدان وُدرول په دے خبره چه دا خاروے څما دے۔ څما په ملکیت کښ پیدا شوے دے ؛ ترجیح په مسئلو دَ دعوے کښ ؛

مسئله :۔ شاهدان دَ مدعی بے قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه۔ که دواړو دعوه کوله۔ هر یو ویل چه دا خاروے څما دے۔ څما کورنے پیدا دے) او دواړو جدا جدا تاریخ او خودَ پیدا ایښ۔ او دَ دغه خاروی عمر دَ مدعی بے قبضے

دَ تاریخ سره برابر وو" تیره شوے حواله"

مسئله:- په دے تیره شوے مسئله کښ که دَ ذغه څاروی عمر دَ خاوند دَ قبضے دَ تاریخ سره برابر وو۔ یا عمر معلومیدل ئے مشکل وُو۔ یا دَ دواړو تاریخ دَ دغه څاروی دَ عمر نه مخالف وو۔ نو (په دے درے واړو صورتونو کښ) حکم به کیږی چه دغه څاروے دَ خاوند دَ قبضے شه " تیره شوے حواله"

مسئله:- شاهدان دَ هغه بیا چه دَ کورنی پیدائیش په دعوه کښ ئے تاریخ دَ څاروی دَ عمر سره برابر وی۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ هغه بل نه۔ برابره خبره ده۔ چه دواړه بے قبضے وی۔ یا یو یکښ بے قبضے وی " قاضی خان په دعوی دَ منقول کښ"

مسئله:- دوه تنو دعوه وکړه په یو داسے څاروی چه وو دَ بل په قبضه کښ نو هر یو تن دَ دے دواړو مدعیانو په دے خبره شاهدان وُدرول چه دا څاروے خما دے۔ پیدا شوے دے خما په ملکیت کښ۔ او حال داوو چه دَ دغه څاروی عُمر معلومیدل مشکل وو۔ یا دے دواړو مدعیانو چه کوم کوم تاریخ دَ پیدائیش خودلے وو۔ دَ څاروی عمر دَ هغه دواړو نه مخالف وو۔ نو حکم به کیږی چه څاروے دَ دواړو مدعیانو شه په شریکه۔ "وجیز"

مسئله:- څاروے وو دَ یو سړی په قبضه کښ۔ نو دوه تنو پرے دعوه کوله نو هر یو دَ دے دواړو مدعیانو نه شاهدان وُدرول په دے خبره چه دا څاروے خما دے پیدا شوے دے خما په ملکیت کښ نو حکم به کیږی دَ پاره دَ دواړو۔ برابره خبره ده۔ که دواړو تاریخ خودلے وی۔ یا دواړو نه وی خودلے۔ لیکن که دَ دغه څاروی عمر دَ یو مدعی دَ تاریخ نه مخالف وو۔ نو بیا به حکم کیږی دَ پاره دَ هغه بل مدعی " تیره شوے حواله"

مسئله:- دوه تنو شاهدان وُدرول په کورنی پیدائیش دَ یو څاروی باندے او دواړو تاریخ خوو۔ او تاریخ دَ یو مخکښ وو۔ دَ هغه بل نه۔ نو دغه څاروے به دَ هغه یوشی۔ چه دَ دغه څاروی عُمر ئے دَ تاریخ سره برابر وی۔ او که عمر معلومیدل ئے مشکل وو۔ نو بیا به حکم کیږی دَ پاره دَ دواړو مدعیانو په شریکه " ترجیح په مسئلو دَ دعوے کښ"

مسئله:- دوه بے قبضے مدعیانو که دَ یو څاروی دَ کورنی پیدائیش دعوه کوله۔ او دَ څاروی عمر معلومیدل مشکل وو۔ نو دَ دواړو شاهدان برابر دی.

(یعنې حکم به کیږي د پاره د دواړو مدعیانو) او که په دے دواړو کښې یو خاوند د قبضے وو نو بیا هغه خاوند د قبضے غوره دے۔" درر په مسئلو د دعوے کښې"

مسئله:۔ که د چا په خلاف حکم وکړے شه په کورنی پیدائیش د څاروی سره یا په ملک مطلق۔ بیا دغه شاهدان وُددول په دے خبره چه دا څما دے۔ څما کورنے پیدا دے یا په دے خبره چه ما د دے ملکیت د دے مدعی نه د چا په حق کښې چه حکم شوے دے) حاصل کړے دے (مثلاً په بیعه رم توے آخستے دے۔ یائے راته هبه کړے وغیره) نو شاهدان قبول دي۔" ترجیح البینات"

مسئله:۔ یو مدعی بے قبضے شاهدان تیرکړه چه دا غوایه څما دے۔ څما د غوانه پیدا دے۔ نو قاضي ورلره حکم وکه۔ نو په خاوند د قبضے چه چا خرڅ کړے وو۔ خاوند د قبضے ولګیده د هغه نه ئے خپلے روپئ واپس غوښتلے۔ نو دغه خرڅونکی شاهدان وددول په دے خبره چه دا غوایه څما کره پیدا شوے دے څما د غوانه۔ او حال دا وو چه د کوم مستحق د پاره چه قاضي حکم کړے دے هغه هم حاضر وو د دے شهادت په وخت کښې نو شاهدان د خرڅونکی غوره دي۔" تبیره شوے حواله"

مسئله:۔ شاهدان د مدعی بے قبضے غوره دي د شاهدانو د خاوند د قبضے نه که هر یو شاهدان وُددول چه دا څاروے یا مرغه څما په ملک کښې پیدا شوے دے۔ "تیره شوے حواله"

مسئله:۔ که چا شاهدان وُددول چه زه د فلانی مړی د تره خوئ یم۔ (د هغه تره چه وو) د طرفه د مور او د پلار د دواړو۔ او د چا سره چه ئے مقدمه وه۔ هغه شاهدان وُددول۔ چه دا مدعی د هغه د تره خوئ دے۔ (د هغه تره چه وو) د طرفه د مور نه د طرفه د پلار نه۔ نو که په مختلفې شاهدانو سره حکم نه وی شوے۔ نو دفعه به شي۔ او حکم به پوره نه کیږي۔" تیره شوے حواله"

مسئله:۔ یو مدعی شاهدان وُددول چه زه د فلانی مړی د تره خوئ یم۔ او شاهدانو ئے نو مونه ذکو کړل تونیکه پوره۔ نو د چا سره چه ئے مقدمه وه۔ هغه شاهدان وُددول چه دے مدعی خو اقرار کړے دے چه زه د بل فلانی خوئ یم۔ نو جګړه د مدعی به دفعه شي۔ (او شاهدان به ئے بیکاره شي" تیره شوے

---

[1] دا مسئله غلاف ده هم د هوښه نه۔ هم د هغے مسئلے نه چرته مسئلے مخکښې تیره شوې ده او هم د واقعے نه۔ هاں که مثلاً دا عبارت درست وګڼو۔ چه مدعی بے قبضے په دے خبره شاهدان وُددوي چه دا مریئه ما آزاد کړے دے۔ نو بیا خبره صحیح ده۔ ۱۲۔ مترجم

حواله۔

مسئله :- په دے تیره شوے مسئله کښې دَچا سړی چه دَ مدعی مقدمه وه۔ که هغه په دے خبره شاهدان وُدرول چه دَ دغه مړی پلار فلانے وو۔ غیر وو دَ هغه یو نه کوم چه دے مدعی خوولے دے۔ تو په دے سړی نه دفعه کیږی شاهدان دَ مدعی دبلکه شاهدان دَ مدعی غوړ دی۔)" ترجیح په مسئلو دَ دعوے کښې۔

مسئله :- یو سړی شاهدان وُدرول په خپل نسب باندے۔ دچه حُمادا نسب دے) او شاهدانو ئے دَ پلار او دَ نیکه او دَ مړی دَ پلار او دَ نیکه نومونه واخستل او مدعاعلیه شاهدان وُدرول په دے خبره چه دَ دغه مړی نیکه فلانے وو۔ غیر وو۔ دَ هغه یو نه کوم چه دا مدعی ثابتوی۔ نو قبول نه دی شاهدان دَ مدعا علیه " تیره شوے حواله۔

مسئله :- که چا دعوه کوله دَ خپل پلار دَ میراث۔ نو مدعا علیه شاهدان وُدرول چه دَ دے مدعی پلار ځوک بل سړے دے غیر دے۔ دَ هغه نه چه دے ئے ثابتوی۔ (یعنے دغه مړے نه دے) نو قبول نه دی شاهدان دَ مدعاعلیه " تیره شوے حواله۔

مسئله :- چا دعوه وکړه چه زهٔ دَ فلانی مړی دَ تره ځوئ یم۔ دَ طرفه دَ پلار نه او نومونه ئے واخستل تر بڼی نیکه پورے۔ نو مدعاعلیه شاهدان وُدرول چه دَ دے مدعی پلار ځوک بل سړے دے۔ غیر دے دَ هغه چا نه چه دے ئے ښئ او یائے شاهدان وُدرول په دے خبره چه دَ دے مدعی پلار یه په خپل ژوندانه کښې وئیل چه زهٔ دَ فلانی (دکوم مړی په میراث چه وس جګړه ده۔ دَ هغه دَ پلار) ورور یم۔ دَ طرفه دَ مور نه۔ نهٔ دَ طرفه دَ پلار نه۔ نو په دے دواړو صورتونو کښې شاهدان دَ مدعا علیه قبول نه دی ١۔ مګر که په دے خبره ئے شاهدان وُدرول چه فلانی قاضی حکم کړیدے دَ دے مدعی دَ پلار دَ نسب په ثابتوالی سره دَ فلانی نه کوم چه غیر دے دَ هغه چا نه چه دعوه ئے کړیده دے مدعی (نو بیا قبول دی " قاضی خان په مسئلو دَ دعوے کښې۔

مسئله :- چا دعوه وکړه چه زهٔ دَ فلانی نسبی یم په عصوبت سره (مثلاً

---

١ په اصل کښې داځائے لیک دی چه قبول دی۔ خو دا غلطه ده۔ او معلومیږی چه کاتب غلطی کړیده صحیح عبارت هغه دَ کوم چه مالیکلے دے۔ او دا رنګ په اصل کتاب کښې داځائے کاتب نو رهم پوره کړیږی کړیده۔ ١٢ مترجم محمد ابراهیم عفی عنه ٢ دَ عصوبت دَ معنے دَ پاره او ګوره دَ میتغنی کتاب حاشیه په مسئلو دَ دعوے کښې چه په یو سبب سره وی۔ یا په دوؤ سببو نو سره۔ او دَ دے مسئلے او دَ دا تلونکے دواړو مسئلو دَ پاره او ګوره ترجیح کتاب مسئلے دَ نسب ١٢ مترجم۔

وے ویل چه زه ئے د تره خوئ یم) نو د چا سره چه ئے جگړه ده - هغه شاهدان ودرول - چه نسب د دے نه مخالف دے - کوم چه دے مدعی خودلے دے - نو که د مدعی په شاهدانو سره حکم شوے وی - نو د مدعاعلیه په شاهدانو سره به اوس حکم نه کیږی - او که نه وی شوے - نو د دواړو شهادتونه به اوغورزیګی " درر په فصل د اشترا کبنی "

مسئله :- چا شاهدان ودرول چه زه د فلانی مړی د تره خوئ یم - د طرفه د مور او د پلار - نو د چا سره چه ئے جگړه وه هغه شاهدان ودرول چه دا مدعی د هغه د تره خوئے دے د طرفه د مور نه د پلار (یعنے د ده پلار او د دغه مړی پلار دواړه د یوے مور دی - پلار ئے جدا جدا وو) یا ئے په دے خبره شاهدان ودرول - چه هغه مړی اقرار کړے وو چه زه د ده (مدعی) د تره خوئ یم) پوازے د مور د طرفه نو په دے سره د مدعی شاهدان بیکاره کیږی که د هغه په شاهدانو سره قاضی لا حکم نه وو کړے - او که قاضی حکم کړے وی - نو بیا نه " تیره شوے حواله "

مسئله :- یو سړی شاهدان ودرول په دے خبره چه زه د فلانی مړی د تره خوئے یم - او ذکر ئے که خپل نسب - نو د چا سره چه ئے جگړه وه - هغه شاهدان ودرول په دے خبره - چه د مړی نیکه فلانے وو - غیر وو - د هغه چا نه چه خودلے دے مدعی - نو که د مدعی په شاهدانو سره قاضی نه وی کړے - اوس به هیڅ حکم نه کوی حکه چه د دواړو جانبو شهادتونه وجنګیدل (نو او غورزیدل) او که په مخکښ شهادت سره قاضی حکم کړے وو - نو اوس به په دے دویم سره حکم نه کوی " ترجیح په مسئلو د دعوے کښ "

مسئله :- یو سړی شاهدان ودرول په دے خبره چه زه د فلانی مړی د تره خوئ او میراث خور یم - بے ځما نه ئے بل میراث خور نشته - او دویم مدعی شاهدان ودرول چه زه ئے یم ورور - او بے ځما نه ئے بل میراث خور نشته - او دریم مدعی شاهدان ودرول چه زه ئے خوئ یم - بے ځمانه ئے بل میراث خور نشته نو حکم به کیږی په نسب سره د پاره د دے د ریواړو - لیکن میراث به ئے خاص د خوئ وی نه د بل " تیره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان د مدعی بے قبضے په هغه چا باندے چه مجهول النسب وی په دے خبره چه دے ځما خوئ دے د دے شخه نه - غوره دی د شاهدانو د خاوند د قبضے نه په دے خبره چه دے ځما خوئے دے او مور نه ئے نسبت ونکړی " تیره

شوی حواله"

مسئله :- شاهدان دَ یو ځوانئ ته دسیل لی هلک په دے خبره چه زهٔ دَ فلانی سړی او دَ فلانۍ ښځے ځوئ یم ۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ یو بل سړی او دَ هغه دَ ښځے نه په دے خبره چه دے ځمونږ ځوئ دے " وجیز "

مسئله :- یو سړی شاهدان وړدول په دے خبره چه فلانے مړشویدے او دا شئے ئے ځما مور ته میراث پریخے دے ۔ بیا ځما مور دا ما ته میراث پریخے دے او قاضی ورلره حکم وکه ۔ نو دَ چا سره چه ئے جګړه ده ۔ او س هغه شاهدان وړدوی په دے خبره چه اے مدعی ستا مور دَ کومے چه ته دَ مرګ او دَ میراث دعوه کوے هغه مړه شوے ده پخوا دَ هغه فلانی نه چه ته وائے هغے ته ئے میراث پریخے دے نو بعضو عالما نو وئیلی دی چه په دے سره بیکاره کیږی شاهدان دَ مدعی او بعضو وئیلی دی چه نه ۔ ځکه چه زمانه دَ مرګ نه داخې دَ قاضی دَ حکم دَ لاندے ۔ " فصولین "

مسئله :- میراث حواره سره مختلف شول دَ خپلوانو دَ مرګ په تاریخ کښ (چه کوم یو مخکښ مړ دے دَ کوم یو نه) نو ځوک چه دَ میراث دَ زیاتوالی دعوه کوی ۔ دَ هغه شاهدان غوره دی ۔ " قنیه په مسئلو دَ دعوے کښ " (اوګوره ترجیح دَ نسب مسئلے ۔)

مسئله :- یو سړی شاهدان وړدول په دے خبره چه فلانے کور چه دَ دے سړی په قبضه کښ دے ۔ ځما دے ۔ او مدعا علیه شاهدان وړدول په دے خبره چه دا کور دَ فلانی غائب سړی دے ۔ هغه دَ دے مدعی نه په بیعه آخستے دے ۔ او زهٔ ئے وکیل کړے یم دَ دے په حفاظت سره ۔ نو دَ مدعا علیه شاهدان قبول دی ۔ او دے به دَ دغه مدعی دَ جګړے نه خلاص شی ۔ او دے به وکیل اوګڼړلے شی دَ غایب او حکم به نه کیږی په هغه غائب سړی باندے دَ دے خبرے چه هغه قیمهٔ آخستے دے " ترجیح په مسئلو دَ دعوے کښ "

مسئله :- یو سړی دعوه وکړه په یو شی ۔ چه دا ځما دَ پلار میراث دے ۔ نو خاوند دَ قبضے او وئیل چه دا دَ یو بل فلانی سړی ود ۔ هغه په ما دا خرځ کړے دے نو دا دعوه دَ خاوند دَ قبضے به قاضی نه آوری " تبره شوے حواله "

مسئله :- شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره باندے چه دا شئے ځما

دے۔ غوره دی د شاهدانو د خاوند د قبضے نه په دے خبره باندے ۔چه دادے مدعی حما نه په بیعه آخستے وو۔خو مونږ بیا اقاله کړے دو ۔(یعنے دغه بیعه مونږ وړانه کړے وه۔ او بعضو عالمانو ویلی دی چه په دے صورت کښې قبلیږی شاهدان د خاوند د قبضے" وجیز"
(اوګوره ترجیح مسئلے د بیعے)

مسئله ۱۔ یو سړی دعوه وکړه په بل باندے چه مادے سړی له په فلانئ ورځے په فلانی ځائے کښې روپئ قرض ورکړی دی ۔نو مدعا علیه شاهدان ودرول چه زه په دغه ورځ په بل ځائے کښې وم ۔ غیرد دغه ځائ نه کوم چه ته ختئ ۔نو دا شاهدان قبول نه دی۔ په دے سره دفعه نه راځی ۔" جامع الفصولین په لسم فصل کښې "

مسئله ۲۔ دوه تنه بے قبضے وو ۔ هر یو دعوه کوله۔چه دا فلانے شئے ماته د پلار پاتے شوے دے ۔ په میراثه کښې ۔ او دواړو تاریخ خوو۔ او تاریخ د یو مخکښې وو نو امام محمد صاحب ویلی دی چه په دعوے د میراث کښې تاریخ له اعتبار نشته نو حکم به کیږی۔ د دواړو مدعیانو د پاره ۔ نیم به د یو شی۔ او نیم د بل" ترجیح البینات په مسئلو د دعوے کښې"

مسئله ۳ اوکه په دے تیره شوے مسئله کښې دواړو مدعیانو تاریخ نه وو ذکر کړے۔ یا دواړو یو تاریخ خوولے وو۔ نو هم به حکم کیږی د پاره د دواړو " تیره شوے حواله"

مسئله ۴۔ که د میراث دواړو مدعیانو د خپل خپل مورث د ملکیت تاریخ اخوو۔ د مثلاً یو ویل چه دا شے ماته د پلار میراث پاتے شوے ۔او هغه د پنځلسو کالونه مالک وو ۔او هغه بل ویل چه دا ماته د خپل پلاره میراث پاتے شوے ۔او هغه ته د لسو کالو نه مالک وو) نو په دے صورت کښې د تاریخ وړو بے والے معتبر دے ځکه د ټولو اماګانو په نیز " تیره شوے حواله"

مسئله ۵۔ شاهدان د عیسائیږے ښځے (چه خاوند ئے مسلمان نه وو) په دے خبره باندے چه ما اسلام راوړے دے د خپل خاوند د مرګ نه وړستو۔ غوره دی که میراث خوروړ د خاوند ورته وئیل ۔چه تا اسلام راوړے وو۔ مخکښې د هغه د مرګه نه د نو تاله میراث نشته۔)" ملتقی المسائل"

مسئله ۶۔ شاهدان د یوے داسے ښځے چه خاوند ئے مسلمان وو۔ او دا شاهدان ودروی په دے خبره چه ما اسلام راوړے دے ۔ مخکښې د خپل خاوند د مرګه نه ۔نو

دا شاهدان غوره دی ۔ که دَ خاوند میراث خورو ورته ویل چه تا اسلام داوړے دے دَ هغه دَ مرګ نه ورستو ۔ نو تا لره میراث نشته " تیره شوے حواله "

مسئله :۔ شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دا غوکے ځمادے ۔ نیم ما ورله ورکړے ۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه په دے خبره بانده چه دا ځما دے ۔ نیم ما ورکړے ۔ که دواړه نیمے ښکاره نه وے ۔ او که معلومیږے ۔ نو دَ هر یو به هغه خپله وړه حصه شی " ترجیح په مسئلو دَ دعوے کښی "

مسئله :۔ شاهدان دَ خاوند دَ قبضے غوره دی ۔ دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه که هر یو په دے خبره شاهدان وړاندې کړی ۔ چه دا وریخته ځما دی ۔ ما پریکړے دی ۔ دَ خپلے بیزے نه " قاضیخان "

مسئله :۔ شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره بانده چه دا بیزه ځماده چه دا وریخته ترے ما قینچی کړیدے ۔ غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه ۔ په دے خبره چه دغه بیزه دَ کومے چه دا مدعی دعوه کوی ۔ ځماده ۔ او دا وریخته ترے ما قینچی کړیدی " تیره شوے حواله "

مسئله :۔ شاهدان دَ مدعی بے قبضے غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه که هر یو شاهدان وړاندې په دے خبره چه دا قرآن شریف ځما دے ۔ ما لیکلے دے ۔ په خپل ملکیت کښی " قاضیخان په دعوه دَ منقول کښی "

مسئله :۔ شاهدان دَ مدعی بے قبضے غوره دی ۔ دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه که دواړه مختلف شوی وُو په بابت دَ یوے زمکے کښی ۔ نو هر یو شاهدان وړاندې چه دا زمکه ځما ده ۔ په دے کښی ما پنبه کرلے ده ۔ یا دا آبادی ما کړے ده " تیره شوے حواله "

مسئله :۔ که په جګړه شوی وو ته په بابت دَ یوے داسے زمکے چه فصل ورپکښی ولاړ وو ۔ نو هر یو شاهدان وړاندې چه دا زمکه ځما ده ۔ او دا فصل ورپکښی ما کرلے دے ۔ نو حکم به کیږی په دغه زمکه او په فصل دواړو سره دَ پاره دَ مدعی (بے قبضے) " تیره شوے حواله "

مسئله :۔ شاهدان دَ ښځے مدعی بے قبضے په هغه صورت کښی چه دا دانی چه دا (وریځ یا مالوچ) ځما دی ما وریشلے دی ۔ او تا دانه په زور آخستے دی ۔ غوره دی دَ هغه ښځے دَ شاهدانو نه چه دغه (وریځ یا مالوچ) ئے په قبضه کښی وی ۔ او دانی چه دا

ما وریښلے دی "جامع الفصولین".

مسئله :- کومه ښځه چه خاوند دَ قبضے ده - دَ هغے شاهدان غوره دی - دَ هغه ښځے دَ شاهدانو نه - چه مدعیه بے قبضے ده - که هر یوے وئیل چه دا (مالوچ ځما دی) ما وریښلے دی - "قاضیخان په دعوه دَ منقول کښی".

مسئله :- یو سړی شاهدان وَدرول په یوه داسے زمکه چه په هغے کښی آبادی وه نو قاضی ورله حکم وکه - بیا مدعی علیه دعوه کوله - چه دا آبادی پکښی ما کړیده - نو چه دَ کوم مدعی په حق کښی قاضی حکم کړیدے - که دَ هغه شاهدانو شاهدی کړے وه دَ زمکے او نور څه نه وو وئیلی - نو دا دعوه دَ مدعا علیه به آوریدے شی - او که هغو په زمکه او په آبادی دواړو باندے شاهدی کړے وی - نو بیا به دا دعوه نه شی آوریدلے کیدلے "جامع الفصولین".

مسئله :- شاهدان دَ یو مدعی په دے خبره چه دا خر ځما دے - ځما نه غائب شوے وو - دَ اَو میاشتو نه - غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه په دے خبره چه دا ما په بیعه آخستے دے - او لس میاشتے ئے کیږی "ترجیح".

مسئله :- شاهدان دَ مدعی بے قبضے په دے خبره چه دا ما دَ دے خاوند دَ قبضے دَ پلار نه په بیعه آخستے دے - غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند دَ قبضے نه په دے خبره چه دا ځما دَ پلار ملکیت وو - تر وخته دَ مرگه پورے "ترجیح په مسئلو دَ دعوه کښی".

مسئله :- شاهدان دَ ښځے په دے خبره چه دا کور ځما دے - غوره دی دَ شاهدانو دَ خاوند نه په دے خبره چه دا ځما دے که او سیدل پکښی دواړه (شاهدان دَ ښځے غوره دی) ځکه چه ښځه په معنے کښی بے قبضے ده "تیره شوے حواله".

مسئله :- شاهدان دَ خاوند دَ قبضے په دے خبره چه دا مرئے ځما دے - پیدا شوے دے ځما په ملکیت کښی - غوره دی دَ شاهدانو دَ مدعی بے قبضے نه په دے خبره چه دا ځما دے - پیدا شوے دے ځما په ملکیت کښی "بزازیه په ترجیح کښی".

مسئله :- که دَ دواړو په قبضه کښی یو شے وو - نو په دے دواړو کښی یو شاهدان وَدرول چه دا ټول ځما دے - او هغه بل شاهدان ودرول چه دا نیم ځما دے - نو شے به دَ هغه مدعی شی - چه دعوه ئے کړیده دَ ټول "تیره شوے حواله".

مسئله :- یوه ښځه ده دَ دوو تنو په قبضه کښی دواړو پرے دعوه کوله - نو یو

خو په دے شاهدان ؤدرول۔ چه دا ونیخه خما ده۔ ماته پاتے شوے ده۔ دَ پلار نه په میراث کښې اوهغه بل په دے خبره شاهدان ودرول۔ چه دا خما ده۔ نو ونیخه به دَ دواړو شی په شریکه "نیره شوے حواله"

مسئله:۔ که یو تن دعوه کوله چه دا ما دَ زید نه قیمةً آخستے دے۔ او دویم دعوه کوله چه دا ماته زید بخلے دے۔ یا دا چه خیراتی ئے داکړے دے۔ یا دا چه ماته ئے گانړه کړیدے نو قیمةً آخستل غوره دی۔ (یعنے چاچه دَ قیمةً آخستلو دعوه کړیده هغه غوره دے "بزازیه"

مسئله:۔ کوم شاهدان چه شاهدی کوی په زیاتوالی باندے۔ هغه غوره دی دَهغه شاهدانو نه چه په کموالی شاهدی کوی (مثلاً زید بکرته وائی۔ چه تا یو توکے په لس روپئ راخرخ کړیدے۔ اوهغه وائی چه په پنځلس۔ یا زید وائی چه تا دوه توکی په لس روپئ راخرخ کړی دی۔ اوهغه وائی چه یو په لس نو شاهدان دَ زیاتوالی غوره دی) " درر غرر په مخالف کښې"

مسئله:۔ دَ مدعاعلیه په خلاف قاضی حکم وکه په کورنی پیدائیش سره یا په ملکیت مطلقه سره (یعنے مدعی شاهدان تیرکړه په دے خبره چه دا څاروے خما دے۔ خما کورنے پیدا دے۔ یا په دے خبره چه دا څاروے خما ملکیت دے۔ نو قاضی ورلره حکم وکه) پس دَ دے نه دغه مدعا علیه شاهدان ؤدروی په حاصلولو دَ ملکیت باندے دَ دغه مدعی نه (مثلاً وائی چه دهٔ ماته را بخلے دے) نو قبول دی دا شاهدان "قاضیخان په دعوی دَ منقول کښې"

مسئله:۔ که یو مدعی شاهدان ودرول په دے خبره چه دا ما په بیعه آخستے دے دَ زیدنه۔ او دویم مدعی شاهدان ودرول چه دا ماته بکر را بخلے دے۔ او ما نرے قبض کړیدے او دریم مدعی په دے خبره چه دا ماته دَ خپل والد مرحوم نه میراث پاتے شویدے۔ او څلورم مدعی شاهدان ودرول چه دا مال خالص خاص دَ خدائے په نامه داکړے دے اوما نرے قبض کړے دے۔ نو حکم به کیږی چه څلور حصے دِ شی هر یو به یوه یوه حصه واخلی۔ "ملتقی په دعوے دَ دوؤ تنو کښې"

مسئله

که سری شاهدان ؤدرول چه دا کور خما دے۔ او دا نیخه خما وینزه ده۔ اودغه نیخے شاهدان ودرول چه دا کور خما دے۔ او دا سړے خما مریے دے۔ او کور دَ دواړو په قبضه کښې نه وی۔ نو دغه کور به دَ دواړو شی نیم نیم۔ او که کور په دوئ کښې دَ یو په

قبضه کښې وو۔ نو دَ هغه په قبضه کښې به پرېخودے شي۔ او حکم به نه کیږي دَ یو په مړني توب سره هم۔ او بعض عالمان وائي چه کوم که دَ یو په قبضه کښې وو۔ نو دَ هغه بل شاهدان تړے غوده دي۔ نو حکم به کیږي چه کور دَ بے قبضے شه۔ "ترجیح المبینات"

مسئله :- که دوه تنو دعوه کوله۔ او هر یو شاهدان وددول چه دا کور ځما په قبضه کښې دے۔ نو کور به دَ دواړو په قبضه کښې وکړنولے شي۔ "ستیره شوے حواله"

مسئله :- (یو سړے مړشه۔ دوه ځامن تړے پاتے شو) نو یو ځوئ شاهدان ودودوی په دے خبره چه ځما پلار چه مړ دے دَ هغه دے زیاته زر روپئ دی۔ ځکه چه په دَهٔ نے څه شئے خرچ کړے وو۔ او هغه بل ځوئ شاهدان وددوی۔ چه دغه زر روپئ ځونږ پلار زیاله قرض ورکړے وے۔ نو حکم به کیږي دَ هر یو دَ پاره په پنځه پنځه سوه روپئ سره۔ (یعنے نیمے به یو ځوئ واخلی او نیمے بل)" تیره شوے حواله"

مسئله :- دَ یو سړي په قبضه کښې کور وو۔ نو دا اوچت شه دَ هغه دود۔ دعوه ئے پرے وکړه په زور شور چه داکور ځونږ دَ پلار وو۔ دَ هغه نه میراث پاتے شوے دے مونږ دواړو ته۔ او یو پردی سړي شاهدان وُددول په دے خبره چه دا ځما کور دے۔ او خاوند دَ قبضے انکار کاوو دَ دواړو دَ دعوے نه۔ او دائے ونیل چه دا ځما دے۔ ما نه دَ چا نه میراث کښې نه دے پاتے شوے۔ نو حکم به کیږي چه کور دِ شلور حصے شي۔ درے حصے به دغه پردے سړے واخلی۔ او یوه حصه به مدعی ځوئے واخلی۔ او کوم چه خاوند دَ قبضے وو۔ دَ خدائ شان نه کوره چه هغه پاتے شه بے کوره۔ "ترجیح په مسئلو دَ دعوے کښې"

مسئله :- یو سړي شاهدان وُدرول په دے خبره چه دَ زید کور چه دے دا دَ فلانی کور وو۔ هغه مړ شوے دے۔ دوه کاله۔ او دغه کور ئے ماته میراث پاتے شوید ے۔ او بل مدعی شاهدان وددرول په دے خبره چه فلانے مړ شوے دے۔ یو کال ئے کیږي۔ او دغه کور ئے ماته میراث پاتے شوے دے۔ او زید دَ دواړو دعوے نه منکر وو۔ هغه خو ونیل چه دا کور ځما دے۔ نو امام محمدؒ صاحبؒ ونیلی دي چه دغه کور به دَ دواړو مدعیانو شي۔ نیم دَ یو۔ نیم دَ بل۔ او په مرګ کښې تاریخ له اعتبار نشته۔ "تیره شوے حواله"

مسئله :- یو لوئ کور وو دَ یو سړي۔ بره حصه ئے دَ بل وه۔ او دَ بره ختلو لار دَ دغه کور په صحن کښې وه۔ نو دواړه مختلف شو په بابت دَ دغه صحن کښې۔ نو کور سړه دَ صحن نه به شي دَ کوز کور واله۔ او دَ بره ختو لار به شي دَ بره حصے واله۔ او که دواړه په خپله

خپله دعوه شاهدان وړاندې کړي. نو د هریو د پاره به په هغه حصه سره حکم کیږي. کومه چه د هغه بل په قبضه کښې وه." ترجیح په مسئلو د دعوے کښې"

مسئله :- یو سړي شاهدان وړاندې کړل د بل په یو کور باندې. چه دا ځما دے. نو مدعا علیه شاهدان وړاندې کړل په دے خبره چه دے مدعي د دے دعوے نه مخکښې ویلي وو. چه دا کور ځما نه دے. یا دا کور ځما نه وو. نو په دے سره غورځیږي شاهدان د مدعي " تیره شوے حواله"

مسئله :- د پنځو تنو کور وو. د پنځو وارو تیر یدل په یوه ډیوډۍ وو. نو یو پکښې ونګیده د هغے چت ئے اوچت که. او دعوه ئے اوکړه چه دا ځما دے. نورو هم دعوه وکړه هر یو وئیل چه دا ځما دے. پس که د غه چت لاندې په دے کښې د یو تن ملکیت نه وي. او یا هغه د یو په سامان سره مشغول وي. نو چت به په مینځ کښې هغه لره وي او خبره به د هغه معتبره وي سره د قسمه. او که د چت لاندې د یو ملکیت نه نه وه. او د ده په سامان سره مشغول هم نه وي. نو په مینځ کښې به د ټولو وي. او خبره به معتبره وي. د ټولو او هر یو له جائزه ده. چه هغه بل له د خپلے حصے په بابت کښې قسم ورکي. حال که شاهدان نه وو. او که په دے کښې یو شاهدان وړاندې کړل. نو د هغه به شي. او که ټولو شاهدان وړاندې کړل نو د هر یو د پاره به حکم کیږي. په هغه حصه سره چه د هغه بل په قبضه کښې وه." تیره شوے حواله"

مسئله :- یو سړي دعوه وکړه چه فلانے کور ما د دے خاوند د قبضے نه په بیعه آخستے دے. نو خاوند د قبضے د بیعے نه انکار وکړو. نو مدعي شاهدان وړاندې کړل په قیمة آخستلو. پس د هغے نه خاوند د قبضے شاهدان وړاندې کړل په دے خبره چه دے مدعي دا کور ما ته د څه عیب د وجے نه بیا واپس کړے وه. نو دا شاهدان قبول دي." زبدة الفتاوی"

د شهادت مسئلے

مسئله :- د یو شاهد تعدیل وکړ یو ټولي. او دوؤ تنو پرے جرحه وکړه. نو جرحه غوره ده. (اوګوره ترجیح مسئلے د شهادت) " وجیز"

مسئله :- شاهدان د مدعي په عدالت د خپلو شاهدانو باندے غوره دي. د شاهدانو د مدعا علیه نه په جرحه باندے. (اوګوره) " ترجیح مسئلے د شهادت"

مسئله :- که جمع شو شاهدان دَ نکاح او شاهدان دَ ملکیت او شاهدان دَ طلاق - او شاهدان دَ آزادولو نو شاهدان دَ طلاقو او دَ آزادولو غوره دی - د مثلاً تجے شاهدان وُدرول چه زۀ دے خپل خاوند طلاقه کړے یم - او خاوند نے شاهدان وُدرول چه دَ دے سره ما نکاح کړے دے - نو شاهدان دَ طلاقو غوره دی - او که مرئی شاهدان ودرول چه زۀ دے خپل مالک آزاد کړے یم - او هغه شاهدان وُدرول چه دا مرئے ځما ملکیت دے - نو شاهدان دَ آزادئ غوره دی - (اذکورۃ ترجیح) "وجیز په مسئلو دَ شهادت کښ"

دَ غلا متعلق مسئله

مدعی بے قبضے شاهدان وُدرول په دے خبره چه دا سامان ځما نه غلا کړے شویدے دَ یو ے تیمے میاشتے نه - او خاوند دَ قبضے شاهدان وُدرول په دے خبره چه دا دَ فلانی ملکیت وو - هغه نه یو کال کیږی چه دَ پلاره میراثه پاتے شوے وو - بیا ترے ما په بیعه آخستے دَ نو دا صحیح دغه دهٔ - دَ امام صاحب رح او دَ امام ابو یوسف صاحب په نزدیه دَ سره غوره نکی شاهدان دَ مدعی " قنیه"

مسئله

متعلق دَ هغه چا چه منع کړے شوے وی دَ خرید فروخت نه

قاضی دَ څه وجے نه په یو سړی باندے بندیز ا یخے دے - چه نه به سودا خرید و فروخت نه کوے - نو چا چه ترے څه شئے په بیعه آخستے - هغه او دے سره مختلف شو - نو هغه وائی چه دا ما ستا نه په دا سے حال کښ آخستے چه نه بنه وے - په تا بندیز نه وو - او دے وائی - چه دا تا ځما نه په بیعه آخستے په حالت دَ بندیز کښ (نو دا بیعه نه دهٔ شوے او دواړو شاهدان وُدرول په خپله خپله دعوه باندے - نو شاهدان دَ قیمۃ اخستونکی غوره دی - " قنیه په مسئلو دَ دعوے کښ"

مسئله

متعلق دَ هغه مرئی یا هلکِ چه اذن ورته کړے شوی وی دَ تجارت

شاهدان دَ هغه چا چه یو مرئی یا یو هلک دَ دهٔ په حق کښ اقرار کړے وی - نو دے

شاهدان وددوی په دے خبره چه دے مرئی یا دے هلک دا کاد پس دَ اذن نه کړیدے
نودا شاهدان عورم دی۔ دَ شاهدانو دَ دغه هلک یا مرئی نه په دے خبره چه دا کار
ما پخوا دَ اذن نه کړے وو" وجیز" (اوګوره ترجیم)

دَقلم رفتار

دَ کاغذ په کرخوکښ دا ځائی بس شه۔ دا دسے رساله ده چه دَ دے په جمع کولوسره ځما
مقصد عامو خلقو ته فائده رسول دی۔ او خاص خدائی پاک ته سوال کوم
چه دا قبول کړی۔ او دَ قیامت په وُرځ ما ته دَ تقصیراتو عفوه وکړی
خدائی پاک ډیر سخی او کریم دے۔ مهربانه او رحیم دے۔ دَ نیک
عمل توفیق حاصلیږی۔ خاص دَ هغه په امداد خاص په هغه
م توکل دے۔ او په هغه م اعتماد دے۔ ثنا دَ خدائے
پاک وائیم بے حسابه چه پوره شه دا کتاب۔ او
درود ډِوی دَ هغه په نبیؐ بانندے چه نوم
مبارک ئے محمدؐ (صلے الله علیه وسلم)
دے۔ خاتم دے دَ مرسلانو

سکنه بهادر شاه [illegible]
منجانب عبدالمطلب تعلم خود انجمن ملا [illegible]
۲۶/۹/۶۶ ملک [illegible]

منجانب سنٹرل جیل پشاور قیدی [illegible] ساله

۲۶/۹/۶۶

(سید الرحمٰن کاتب خدرخیل)

قاضی القضاۃ دیر سوات چترال ملاکنڈ

افسیر دستار فلمع مردان

قاضی عبدالمطلب ولد قاضی شمس الاحد مرحوم

قیدی ۲۰ سالہ خطیب سنٹرل جیل پشاور

24/9/66

در حقیقت مالک ہر شے خداست

این امانت چند روزہ پیش ماست

الراقم قاضی عبدالمطلب قلم خود

قیدی ۲۰ سالہ بعد رفتہ 24/9/66

د پښتو رساله

په بیان د دې کښې

چه د مدعی او مدعا علیه نه علاوه بل د چا

حضور ضروری دے او چا له قسم نشته

مترجمهٔ

فقیر محمد ابراهیم بنیری بازارگوی

ناشران

حاجی عبدالمنان محمد اجمل تاجران کتب

مالکان

اسلامی کتب خانه قصه خوانی پښاور

(مطبوعه:- حمیدیه الیکٹرک پریس پشاور)

قاضی القضاۃ ریاست سوات چترال ملاکنڈ
آف پیروشاہ قاضی عبدالمطلب ولد
قاضی شمس الاحمد ساکنہ پیروشاہ
ضلع مردان تحصیل ملاکنڈ
خطیب سنٹرل جیل پشاور
قیدی ۲۰ سالہ

الراقم قاضی عبدالمطلب قلم خود
مورخہ 25/9/66

دوسرا پتہ ریاست سوات
تحصیل بریکوٹ خاص بنجام
مانیار
قاضی عبدالمطلب قلم خود 25/9/66

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

ثنا خاص خدای پاک لره ده - او نزولِ رحمت دِ وی په هغه ذات باندے چه نشته نبی وروستو د هغه نه - (یعنے په حضرت محمّد صلی الله علیه وسلم) او د هغه په آل او په اصحابو اوپه لښکر او په ټولی باندے دِ وی - او ډیر ډیر سلام.

پس د دے نه زه وایم چه دا یوه رساله ده په بیان د داسے مسئلو کښ چه د هغے علم د قاضی د پاره ډیر ضروری دے - چه د مدعی او د مدعا علیه نه علاوه بل د چا حاضریدل ضروری دی - او د مقدمو په خاوندانو کښې په کوم یو له قسم ورکیږی - او کوم له نه - او زه خاص د خدای پاک نه غواړم چه ماله د دے اجر واکړی - (د قیامت په وُرځے) په کومے وُرځے چه به هر چا ته خپل خپل عمل ښکاره کیږی - نیک دے او که بد - پاک دے او که سخا - په تحقیق سره خدای پاک خاوند د لوئے مهربانئے دے - او ډیرے سخا -

د نکاح متعلق

(ضروری دے حضور د خاوند یا د وکیل)

مسئله :- یو سړی د بل په منکوحه ښځه د نکاح دعوه کوی (چه د دے سره ما نکاح کړیده) نو د دے مقدمے په وخت کښ د دغه ښځے د خاوند حاضرولے ضروری دے - "بینة المفتی الامام السیجستانی"

مسئله :- که جینئ بالغه شوه - او خاوند ئے لوئ وو - او دا دغه خاوند له د پلار نیکه نه علاوه بل چا په نکاح ورکړے وه - او د کوم وخت چه دا خوانئ ته ورسیده نو دے خپل ځان خوره کړ (یعنے دے وئیل چه زه په دے نکاح راضی نه یم او نکاح ئے رد کړ) نو اے که خاوند د دغه جینئ غائب وی - حاضر نه وی نو هم به قاضی حکم کوی - چه دی دواړه د نکاح نه جدا شول او که نه نو (امام محمّد صاحبؒ) په جامع کتاب کښ دے خبرے ته اشاره کړیده چه قاضی به د جدا ئیئ حکم نه کوی - تر څو پورے چه د هغه غائب خاوند د طرف نه خصم (یعنے جګړه کونکے) یا وکیل حاضر نه وی - ځکه چه دا حکم کول دی په غائب باندے په جدا ئیئ سره (او حکم په غائب جایز نه دے) " احکام الصغار للاشرونی

فی النکاح "

مسئله :- که چا دَ بل په ښځه دعوه کوله چه دا دَ نکاح ځما ښځه شوې دې - او حال داوو- چه دَ دغه ښځې خاوند ښکاره په ښکاره موجود وو- نو دَ دغه خاوند حاضرول نے هم ضروری دے- اوکه چا دعوه کوله چه دَ دے جینئ پلار دا ماله په نکاح داکړیده - نو دَ دے دعوے دَ صحیح کید لو دَ پاره دَ جینئ دَ پلار حضور ضروری نه دے-

(دَ ښځې حضور ضروری نه دے-)

مسئله :- یو سړی دعوه وکړه چه ما خپله خوانه جانلو دے زید له دَ هغې په اجازت سره په نکاح ورکړیده - نو اوس ترې دَ هغې مهر غواړم - او زید اقرار وُکه چه دوُ ما په نکاح آخستے ده - او دا ئے وُنه ویل چه زه دَ هغې سره یوځائے شوے یم - نو قاضی به زید ته حکم کوی چه مهر ئے ورکه - او دَ قاضی محکمے ته دَ دغه جینئ حاضریدل ضروری نه دی " مجموعة قدری افندی فیمن یکون خصما نقلاعن البزازیه "

(حضور دَ خاوند ضروری نه دے په دے دعوه کښ چه دا ځما ونیځه ده -)

مسئله :- یو سړی دعوه وکړه چه دا ځما ونیځه ده - او حال دا دَ چه دَ هغې نکاحی خاوند موجود وو- خو حاضر نه وو- غائب وو- نو دَ مدعی دَ دے دعوے دَ صحت دَ پاره دَ هغه خاوند حضور ضروری نه دے " دعوی المحیط ومجمع الفتاوی فی اول الدعوی "

(دَ عدت تیره ونکے ښځے دَ نکاح په دعوه کښ حضور دَ خاوند ضروری دے-)

مسئله :- یو سړی دَ بل په عدت[1] تیره وُنکے ښځے دَ نکاح دعوه کوی نو کوم خاوند چه دا طلاقه کړیده - دَ هغه حضور ضروری دے - طلاق بائن وی - او که رجعی - (یعنې برابره خبره ده چه دَ دغه طلاقو په عدت کښ ورته بیا دَ خاوند رجوع کول صحیح وی - اوکه نه وی) " من نکاح البزازیه "

مسئله :- په نوازل کښ راوړی دی چه دَ ښځې په مخکښ که دوُ معتبر و شاهدانو دَ دے خبرے شاهدی وکړه چه ته خپل خاوند په دریوُ طلاقو طلاقه کړے ئے - نو که خاوند ئے غائب وی جو هغې له بل میړه کول[2] جائز دی - اوکه حاضر وی نو هغه څکه چه خاوند ئے انکار وکه - نو بیا به حاجت پیښیږی - دَ قاضی حکم ته چه دا دواړه دِ جدا کړے شی - ښځه طلاقه شوے ده - او حال دا دے چه دا حکم به دَ خاوند دَ حضور نه جائز نه دے " اسکوتی فی الطلاق "

---

[1] دا مطلب نه دے چه په عدت کښ ئے دوسره نکاح کړے - بلکه دا دعوه کوی چه دا ځما ښځه ده دَ نکاح ۱۲ مترجم

[2] یعنې پس دَ عدت تیرولو نه - ۱۲ - مترجم

(حضور دَ خاوند ضروری دے په وخت دَ حکم کښې او دا رنګ حضور دَ ښځې)

مسئله :- که چا دعوه دَ نکاح کوله په یوه داسے ښځه چه خاوند ئے موجود وو- نو دَ دغه خاوند حاضریدل ضروری دی- امام تمرتاشی صاحب وائی چه دَ هغه دَ قول نه په ښکاره طریقه دا خبره معلومیږی چه دَ دغه ښځے حضور هم ضروری دے- (دَ قاضی محکمے ته)

(دَ فلانئ حضور ضروری دے-)

مسئله :- یو سړی خپلے ښځے ته وئیلی وو- چه ماکه په تا فلانئ ښځه وکړه نو ته طلاقه ئے- اوس ښځه دعوه کوی- چه دا شرط موجود شوے دے- (یعنے تا په ما هغه فلانئ کړیده جو زه طلاقه شوے یم) نو اے دَ دے دعوے په وخت کښې دَ دغه فلانئ ښځے حاضریدل ضروری دی او که نه- په دے کښې دوه روایته دی- خو صحیح دا دے- چه دوه ضروری دی "فصل ثالث جامع الفصولین"

(دویم خاوند له قسم ورکول په معلومتیا باندے په نزد دَ صاحبینو)

مسئله :- یو سړی دَ دوو شاهدانو په شهادت دَ یوے ښځے سره نکاح کړے وو- بیا دغه ښځه دَ نکاح نه منکره شوه- او حال دا دے چه هغه شاهدان مړه شوی وو- جو ښځے بل میړه وکه- نو اوس وړومبنے خاوند نه دَ دے ښځے سره مقدمه کولے شی- او نه ورله قسم ورکولے شی- ترکومے پورے چه دویم خاوند له قسم ورنکړے شی- دَ هغه په علم باندے- نو که هغه قسم وکه (چه ماته معلومه نه ده- چه دی سره نکاح کړے وو) جو هغه به بری شی او که دَ قسم نه ئے انکار راوړو نو بیا به وړو مبنے خاوند دَ دے ښځے سره مقدمه کوی او قسم[1] به ورله ورکوی- خو دا دَ صاحبینو رح قول دے- او دَ امام اعظم صاحبؒ په نزد دَ نکاح په باب کښې قسم نشته- لکن فتویٰ دَ صاحبینو رح په قول ده "الحاوی للامام الحصیری"

(دَ جینئ دَ ورکونکی دَ نسب بیان ضروری دے.)

مسئله :- مذکوردی په فوائد دَ شیخ الاسلام برهان الدین کښې چه یوه وړه جینئ دَ پلار نیکه نه سوا بل چا په نکاح ورکړے وه- چه ځوانئ ته ورسیده نو نکاح ئے رد که- روے وئیل چه زه دے نکاح ته غاړه نکدم) او دَ قاضی په حضور کښې ئے دعوه وکړه- نو اے په دے دعوه کښې دا وئیل ضروری دی- چه زه خپل رود یا تره مثلاً په نکاح ورکړے وم او که ضروری نه دی- نو وئیلی ئے دی- لکه چه په ادب القاضی کښې مذکور دی- چه ضروری دے بیان دَ نسب دَ هغه چا چه دا ئے په نکاح ورکړے او دا رنګ (ذکر کول ئے ضروری دی) په هر کار کښې "احکام الصغار فی النکاح"

[1] دے مدعی دا او ښځه مدعا علیها ده نو دے عاجز شاهدان خو په قبر کښې دی- هغه وُددرولے نه شی- جو ښځه به قسم کوی چه ستا سره م نکاح نه ده شوے- نو خیره به خلاصه شی- او ښځه به ئے ووزی دَ لاسه- ۱۲- مترجم.

(ضروري دے حضور دَ شاهدانو په وخت دَ حکم دَ قاضي کښې په نکاح سره)

مسئله :- (خاوند ویٔیل چه په دے نکاح کښې شاهدان وُو- او ښځے ویٔیل چه نه وُو- یا ښځے ویٔیل چه زهٔ دَ دے نکاح په وخت کښې په عدت کښې وُمه- جو خبره دَ خاوند معتبره ده نو قاضي به حکم کوی دَ دے دواړو په نکاح سره لکه چه ثابت شوے وی په شاهدانو سره یا نے شوه دا خبره چه) کوم وخت چه قاضي حکم کوی چه دا نکاح شویدے- نو اے دَ دے حکم په وخت کښې حضور دَ شاهدانو ضروری دے دَ پاره دَ دے چه دغه ښځه دَ خاوند دَ پاره حلاله شي- او که نه- نو اکثر عالمان وائی چه ضروری دے- (او) که ښځے ویٔیل چه تا ځما سره په عدت کښې نکاح کړیده- یا ئے داسے ویٔیل چه تا ځما سره په داسے حال کښې نکاح کړیدے چه زهٔ په عدت کښې وُمه -(نو خبره دَ خاوند معتبره ده) لکن که ښځے ته دا معلومه ده چه دَ قاضي دَ حکم په وخت کښې هم په عدت کښې ده - نو بیا ښځے له دَ دغه خاوند سره وسیدل او کور والی نهٔ ئے پریښودل او میراث ترے وړل جائز نه دی- او که دا ورته معلومه وه- چه دَ حکم په وخت کښې ئے عدت پاتے نه وو- نو بیا ورله دا خبرے ترے جائزے دی. ځکه چه دَ قاضي حکم ورله ثابتوی نوے نکاح نو ضروری ده چه دَ عدت نه خالی وی) او که صورت دَ مسئلے داسے وو چه خاوند دعوه کوله چه دا نکاح بے شاهدانو شوے دے- یا ئے دَ دے په شان نور څه ویٔیل- او ښځے دَ نکاح دَ صحیح والی دعوه کوله- او دَ خاوند دَ خبرے نه ئے انکار کاوو- نو دَ دواړو په مینځکښې به جدائی راوستے شي- او په خاوند بانډے به وی دغه ښځے له نیم مهر- یعنے که لا کور والے ئے ورسره نه وی کړے -" خلاصة النکاح"

(که جینئے ځوانئ ته دَ رسیدو سره نکاح رد که- نو دَ غائب خاوند حضور ضروری دے- او دَ وړوکی حضور ضروری نه دے)

مسئله :- یوه وړه جینئے وه- دَ دَ پلار نیکه نه سوا بل چا په نکاح ورکړے وه) چه بالغه شوه نو هغے خپل ځان غوره کړ (نکاح ئے رد که) او حال دا وو چه خاوند ئے غائب وو- نو دَ دواړو جدائی به نه راوستے کیږی- ترکومے پورے چه ئے خاوند حاضر نه شي- او که په دے صورت کښې خاوند ئے هلک وو- نو دا انتظار به نه کیږی- چه هلک دَ ورسی ځوانئ ته. بلکه قاضي به اوس دَ جدائی حکم وکړی- خو دَ هلک دَ پلار یا دَ وصی په حضور کښې- ولے هله کوی دَ جینئے دَ دَ دعوے دفعه ونکړے شوه " احکام الصغار من البحر الرائق فی النکاح"

(دَ خاوند حضور ضروری دے کوم وخت چه قاضي ئے نکاح ماته وی په سبب دَ نامردئ سره)

مسئله :- که حکم دَ نکاح دَ فسخ کولو وو- په سبب دَ نامردئ سره- او ښځے دَ دے مطالبه وکړه- نو دَ قاضی دَ حکم په وخت کښې دَ دغه خاوند حضور ضروری دے- ځکه چه دَ نامردئ په سبب چه نکاح فسخ کیږی نو دَ قاضی په حکم سره کیږی- دغه وجه ده چه په غیر مصر کښې نافذ (یعنے چلیدل ونکے) نه دے (دا خبره په دے بنا ده چه قاضی خاص په مصر کښې یعنے په ښهر کښې وی)" خزانة الفتاوٰی "

مسئله :- تپوس ترے وکړے شه دَ هغه چا په بابت کښې چه ښځے نے پرے دَ نامردئ دعوه کړے وی- او قاضیؒ ورله دَ یو قمری کال مهلت ورکړے وی- چه هغه که دَ شرعی حکم دَ خوف په وجه غائب شه (دَ دے یرے نه چه دَ یو کال) دَ تیریدلو نه وروستو به قاضی دا نکاح فسخ کړی) په دے بابت کښې شرعی حکم څه دے- نو دَ دے په جواب کښې ئے او وئیل چه دَ خاوند حضور دَ جدا ایئے په ټولو صورتو نو کښې ضروری دے- ځکه چه دَ ښځے خاوند که غائب وی نو قاضی دَ جدا ایئے حکم نه شی کولے- ختم شوه دا خبره " بحرالرائق "

مسئله :- دَ وینځے په آزادیدلو او دَ ښځے په طلاقیدلو چه هسے دَ ثواب په خاطر شاهدی وکړے شی نو هم قبلیږی- اګر که طلب ترے نه وی شوے- او دعوه نه وی شوے او دَ ښځے او دَ وینځے حضور ضروری نه دے- لکن ضروری دے حضور دَ خاوند او دَ مالک دَ پاره دَ دے چه شاهدان ورته په وخت دَ شاهدئ کولو کښې اشاره وکړی (چه دَه خپله فلانئ ښځه طلاقه کړیده- یا دَه خپله فلانئ وینځه آزاده کړیده) " شروط الحلوانی "

او په دولسم فصل دَ جامع الفصولین کتاب کښې ذکر دی چه دوه تنو که په ذخیره شاهدی کوله چه فلانی غائب سړی دا خپله وینځه آزاده کړیده - یا دا خپله ښځه ئے طلاقه کړیده- نو دا شاهدی قبوله نه ده -او که وینځه او ښځه غائبه وی نو خیر دے- (خو چه هغه حاضر وی) قبوله ده - ځکه چه وینځه او ښځه که اوس حاضرے شی- او تکذیب وکړی- (یعنے او وائی چه ده ئے نه یم آزاده کړے- دَه ئے نه یم طلاقه کړے) نو دے وینا له څه اثر نشته- نو که حاضرے نه شی نقصان نه لری -" بزازیه فی الاستحقاق "

سله که ښځے په خپل خاوند دَ نامردئ دعوه وکړه او معلومه شوه چه دَ نکاح نه پس نو دے وخته پورے ورسره خاوند جماع نه ده کړے شوے- نو قاضی به نګی دغه خاوند له به ئے یو کال مهلت ورکوی- که په دے موده کښې ئے هم دَ صحبت کولو قدرت ونه موند- نو بیا به ورته قاضی او وائی چه نه دے دا ښځه طلاقه که- که نه ئی نو زه به ستاسو جدائی راولم- نو که خاوند نه طلاقه وله او ښځے دَ جدائے طلب کاوَ- نو قاضی به دَ جدائی حکم وکړی او دَ جدائی به دَ یو طلاق بائن په حکم کښې وی - او په دے مسئله کښې دَ نامرد نه مراد عنین دے یعنے داسے سړے چه آله ئے وی خو جماع نه شی کولے -۱۲- مترجم - سله په شامی کتاب کښې دَ شهادت په شرح کښې وئیلی دی چه دا رنګے شاهدی قبوله ده اګر که ښځه خاوند دداره دَ دے نه منکر وی ۱۲- مترجم

(دَ ښځے حضور ضروری نه دے په دعوه دَ طلاق کښې- خو دَ خاوند حضور ضروری دے)

(دَ مجبوب هلک بالغ کیدلو ته به انتظار نه کیږی - او که نامرد وو نو بیا انتظار شته)

مسئله:- امام محمّد صاحب په جامع کتاب کښ ویلی دی. چه دَ وړوکی هلک ښځه که دا هلک او موندلو چه مجبوب دے (یعنی آلهٔ تناسل بالکل لانئ بانئ دَ جړه ایستلے شویٔ) نو قاضی به دَ ښځے په حضور کښ دَ دواړو دَجدائیٔ حکم کوی. او دَ هلک دَ ځوانئ رسیدلو ته به انتظار نه کوی. په خلاف دَ هغه صورت نه چه ښځه خپل خاوند لره چه وړوکے هلک وی. بیا مومی عنین (نامرد) چه دَ دے سره صحبت نه شی کولے. په دے صورت کښ به قاضی فی الحال دَ دواړو جدائی نه داولی. بلکه انتظار به کوی. دَ دے خبرے چه هلک ورسی ځوانئ ته. خو دا خبره ضروری ده چه قاضی به دَ جدائیٔ حکم هله کوی - چه دَ هلک دَ جانبه خصم (یعنی مقدمه کونکے) حاضروی. پس که دَ هلک پلار وو. یا وصی. نو هغه به دَ هلک دَ طرف نه په دے کښ خصم ودریګی - څرنګ چه دَ هلک دَ جانبه په نورو خبرو کښ ودریګی. په دے بنا باندے که دَ دغه هلک پلار نه وو. او دَ پلار وصی هم نه وو - نو نیکه او یا نیکه چه څوک وصی کړے وی - هغه به دَ هلک دَ دے نه خصم شی. او که نیکه ئے هم نه وو. او دَ نیکه وصی ئے هم نه وو - نو بیا به قاضی دَ هلک دَ جانب نه څوک خصم ودروه وی. نو که خصم په دے مقدمه کښ یو داسے حجت وړاندے که. چه په هغه سره دَ دغه ښځے حق باطلیږلو یعنی په دے خبره ئے شاهدان وړدول چه دا ښځه په دے عیب راضی شوے ده. یا په دے خبره ئے شاهدان وړدول چه دے ښځے ته دَ نکاح په وخت کښ دا عیب معلوم وو نو بیا به قاضی دَ دغه ښځے او دَ هلک په مینځکښ جدائی نه داولی - او که خصم څه حجت پیش نکړے شو. او ښځے له ئے قسم ورکول او غوښتل نو هغے له به قسم ورکړے شی. پس که ښځے دَ قسم کولو نه انکار داوړه نو دَ دواړو دَجدائیٔ حکم به ونکړے شی. او که ښځے قسم اوخوړ نو قاضی به دَ دواړو په مینځ کښ جدائی او غوړ ذوی. دا نلټ لیکلی دی په ذخیره کښ. او دَ قاضی ظهیرالدین په فتاوٰی کښ.

(دَ وړوکی خاوند دَ بلوغ انتظار به نه کیږی)

زکه وایم چه دَ دے په شان هغه مسئله هم ده کومه چه قاضی ابوجعفر استروشنی دَجامع په مسئلو دَ نکاح کښ راوړیده. او هغه داده چه دَ پلار نیکه نه سوابل چاکه جینئ هلک له په نکاح ورکړه. بیا جینئ ځوانئ ته اورسیده. او هلک لانه وو رسیدلے. نو جینئ نکاح رد که. او جدائی ئے اوغوښتله. او خبره ئے قاضی ته وړاندے کړه. نو دَ دے انتظار به نه کیږی چه هلک دِ ورسی ځوانئ ته. بلکه قاضی له بنائیږی چه اوس دَ دواړو په مینځ کښ

جدائی داولی۔ خو دومره خبره ده چه دَ هلک که پلار وو یا وصی۔ نو هغه به داحاضر کړی۔ او ورته به اووائی چه دَ هلک دَ طرف نه که څه حجت (دلیل) لرے۔ نو پیش کړئ او که حجت نه وو چو دَ دوارو دَ جدائی حکم به وکړی دَ هلک دَ والد او په حضور کښې۔ او دا حکم هاله دے چه دَ جینئ خاوند نابالغه وی۔ او که صورت دَ مسئلے دا سے وو چه دا جینئے دَ پلار نیکه نه علاوه بل چا په ورکوالی کښې په نکاح ورکړے وه۔ بیا دا ځوانئے ته ورسیده) او حال داوُو چه خاوند ئے بالغ وو۔ خو حاضر نه وو غائب وو۔ او دے (ځوانئے ته دَ رسید وسره) خپل ځان غوره که (نکاح ئے رد که) نو اے په دے صورت کښې چه خاوند ئے غائب دے۔ قاضی به حکم دَ جدائی کوی۔ او که نه نو (نو امام محمدؒ صاحبؒ) په جامع کښې دے خبرے ته اشاره کړیده۔ چه نه به کوی تو کوم پورے چه دَ خاوند دَ طرف نه خصم (جګړیدونکے) یا وکیل حاضر نه وی۔ دَ امام محمدؒ صاحب رح دَ اشارے نه دا وجه معلومیږی چه دا حکم کول دی په غائب باندے۔ په جدائیئے سره۔ (او حکم په غائب جائز نه دے)

(دجینئے دَ بلوغ انتظار به کیدے شی)

مسئله:- نابالغه جینئے خپل پلار په نکاح ورکړے وه۔ هغے خپل خاوند لیونے او منل نو دا نه چه قاضی به دَ دوارو دَ جدائیئے حکم وکړی۔ دَ هغے دَ پلار په حضور کښې بلکه صبر به کیدے شی دے خبرے ته چه جینئے ورسی ځوانئ ته۔ ممکنه ده چه جینئے پس دَ بلوغه نه راضی شی۔ من احکام الصغار للاشتروشنی)

(دَ دوؤ دیرو نکاح چه خپلوا تو ذمیانو کړیوی۔ او بیا په دے دوارو کښې یو مسلمان شی)

مسئله:- دَ ذمیانو[1] نه یوه جینئے وه۔ او یو هلک وو۔ دَ یو بل سره ئے دَ خپلوا تو په ذریعه نکاح وشه۔ بیا په دے بعض خاوند کښې یو مسلمان شه۔ او اسلام ئے پیژندلو نو امام شافعی صاحب رح خو په دے کښې مخالفت کړے دے۔ لکن حمونږ په نزد دا اسلام راوړل صحیح دی بیا که هغه بل هم هوښیار وو۔ اسلام ئے پیژندلو۔ نو په هغه به اسلام پیش کړے شی۔ چه نه هم مسلمان شه۔ نو که اسلام ئے راوړ۔ جو دوارو به په خپل نکاح پاتے کړے شی۔ او که داتے نه وړو جو قاضی جو قاضی به دَ دوارو په مینځ کښې جدائی داولی۔ او ذکر کړیدی ابو زید په اسرار کتاب کښې په هغه مسئله کښې چه دَ پلار نیکه نه علاوه بل ولکی جینئے په نکاح ورکړی۔ دائے ذکر کړیدی چه دَ لیونی اسری نسخے کا اسلام راوړل مینه دواړه کافران

---

[1] ذمی هغه کافر دے چه دَ مسلمان بادشاه په سوری کښې اوسی او جزیه ورکوی۔ او دَ هغه دَ ځان ومال حفاظت لکه دَ مسلمانانو کیږی۔ ۱۲ مترجم ؒ

وو- نو دَ لیونی پلار ته به اسلام پیش کړے شی (چه ته مسلمان شه) پس که اسلام ئے راوړو جو دیره ښه شوه- او که وائے نه وړ- جوجدائی به وکړے شی دَ دواړو په مینځ کښی (یعنی دَ لیونی اود هغه دَ مسلمانے ښځے نکاح به مات شی) او که اسلام راوړ دَ یو داسے وړوکی هلک ښځے چه هوښیار نه وو- نو دَ هلک په پلار به اسلام نه پیش کیږی- ځکه چه دَ وړوکوالی دَ پاره حد ښته دے- (یعنی ځوانئی ته رسیدل دی)

د پیش کول دَ اسلام په پلار دَ لیونی باندی که دَ لیونی ښځه مسلمانه شوه اومبسوط کافی دواړه کافی دی) او فخرالاسلام بزدوی صاحبٌ دَ اصول فقهه په هغه باب کښی چه په هغے کښی بیان دے دَ امورِ معترضه وُ (یعنی دَ پیش کیدونکو څیزونو) ذکر کړیدی چه دَ لیونی اسلام راوړل نه صحیح کیږی او دَ عقل لږوکی معتوه (یعنی دَ بوله) او دَ هوښیار هلک اسلام راوړل صحیح دی- او که دَ لیونی ښځه مسلمانه شوه- نو دَ هغه ولی ته به اسلام پیش کړے شی- اودے به دَ مور و پلار تابع کړنړی په مسلمان والی کښی- او د ارتداد مرتد کرنړی دَ هغوی په مرتد کیدلو سره (یعنی هغوی که اسلام راوړ نو دا لیونے به هم مسلمان گڼړے شی- او که هغوی ورومبیه مسلمانان وُو- بیا مرتد شول یعنی خدائے دِ نکړی دَ اسلام نه واوړیدل نو دے به هم مرتد گڼړے شی.)

فخرالاسلام صاحب بیا وئیلی دی چه وړوکے هلک په اول حالت کښی دَ لیونی په شان دے چه عقل او تمیز ئے نه وی- او چه هوښیار شی نو بیا دے او معتوه برابر دی- خو په لیونی او هلک کښی فرق ښته دے- او هغه دا دے چه دَ لیونی ښځه که مسلمانه شوه نو دَ هغه مور او پلار ته به فی الحال اسلام پیش کیږی- ورو سته ولے به پکښ نه وا ولو- او که دَ وړوکی هلک ښځه مسلمانه شوه نو دَ هغه مور و پلار ته به اسلام نه پیش کوو- بلکه صبر به کوو چه هلک ځوانئے ته اوځے پوهے ته اورسی- بو بیا به دَه ته اسلام پیش کړو- ځکه چه دَ وړوکوالی دَ پاره حد ښته دے او دَ لیونتوب دَ پاره خاص حد نشته) او معتوه دَ هوښیار هلک په شان دے" من احکام الصغار فی النکاح".

(دَ لیونی اسلام راوړل صحیح نه دی او دَ معتوه عقل والا او دَ هوښیار هلک صحیح دی)

(اختلاف دَ ښځے او دَ خاوند په بابت دَ بچی کښی)

مسئله:- یو سړی یوه ښځه په نکاح واخسته- بیا دَ هغه ښځے یو بچے وُشه- نو خاوند ئے اووئیل چه ما ته دَ یو بے میاشتے نه په نکاح اخستے ئے- او هغے اووئیل چه نه بلکه دَ یو کال نه- نو دَ هغه بچی نسبت ثابت دے دَ خاوند نه- او که دواړو دا منله چه نکاح دَ یو بے میاشتے نه شوی ده- نو دَ بچی نسب به بیا دَ خاوند نه ثابت نه دی- او که ښځے په دے خبره شاهدان وُدرول چه دَه زَه په نکاح اخستے یمه دَ یو کال نه نو دا شاهدی قبوله ده- او دا جواب (یعنی دا حکم) صحیح دَ درست دے په هغه صورت

کښې چه بچي شاهدان وُدرُوي - پس دَ هغې نه چه لوئې شي - او که دا شاهدان وُدرول په داسې حالت کښې وو - چه بچي وړوکي وو نو په دې صورت کښې دَ عالمانو اختلاف دې - بعضو وئيلي دي چه دا شاهدي قبوله نه ده - ترڅو پورې چه دَ بچي دَ جانب نه قاضي څوک خصم (مقدمه کونکې) ونه دره وي - ځکه چه نسب دَ بچي حق دې - نو قاضي به دَ ده دَ طرف نه څوک خصم وُدرَوي - دَ پاره دَ دې چه شاهدي دَ خصم دَ جانب نه شي - او بعضو وئيلي دي چه دې تکليف ته حاجت نشته - بلکه قاضي به شاهدي آوري بې دَ دې نه چه دَ بچي دَ طرف نه څوک خصم اُودروي په دې بنا باندې چه شاهدي په نسب باندې دَ ثواب په خاطر چه وي نو هم قبليږي - بې دَ دعوې نه (يعنې اگر که دَ شاهدئ طلب نه وي شوې) نو دا داسې حکم دې چه عالمان پکښې مختلف شوي دي - بعضې وائي چه شاهدي قبوله ده - او بعض وائي چه نه ده " من احکام الصغار في الطلاق "

که خاوند مجبوب ظاهر شه نو دَ جينئ دَ بلوغ انتظار به کيږي)

مسئله :- که چا خپله وړه لور يو سړي له په نکاح ورکړه - او جينئ دَ لسو کالو وه - او سړې مجبوب وختلو - (يعنې دَ کار نه وو - سامان ئې نول دَ بيخه ايستلې شوې وو) نو قاضي به في الحال دَ دواړو په مينځ کښې جدائي نه داولي بلکه صبر به کوي تر دې پورې چه جينئ اورسي ځوانئ ته - نو که دا ځوانئ ته اورسيدله په داسې حال کښې چه دا معتوهه (يعنې بوله) وه او دَ دې نه دَ څه کيد لو اميد نه وو - نو دَ دې طرف نه به ئې پلار دعوه وکړي او قاضي به جدائي راولي دَ دواړو په مينځ کښې دَ نکاح به رخصت شي) " من خزانة الاکمل في النکاح "

دَ سزاگانو او دَ جنايت کولو متعلق

دَ چا نه چه غلا شوې ده - دَ هغه حضور ضروري دې - په هغه صورت کښې چه غل اقرار کړې وي په غلا سره - يا شاهدان پرې شاهدي کوي - او دا دَلته حضور ئې ضروري دې په وخت دَ لاس پريکولو کښې - ځکه چه دَ غلا دَ دې فعل ظاهر والې نه راځي مگر په ده سره - مستصفي شرح المنافع په مسئلو دَ غلا کښې "

(دَ سزا ورکولو په وخت کښې حضور دَ شاهدانو ضروري دې)

مسئله :- دَ غل لاس چه پريکيږي - نو چا چه پرې دَ غلا شاهدي کړې - او چا چه پرې دعوه کړې دَ دوا په حضور دَ لاس پريکيدلو په وخت کښې ضروري دې - تو دې پورې

چه کړې دواړه غائب شول یا مړه شول نو بیا به دَ دغه غل لاس نه پریکیږي - او دا حکم په هر حد (هره سزا کښې) دے - سِوا دَ سنګسارئ او دَ قصاص نه -

ذهٔ وایم چه لیکن مصنف په دا تلونکي باب کښې دَ دے حکم خلاف ته صحیح وئیل نقل کړي دي - دَ دمشق شام مفتي علاءالدین صاحب رح دَ تنویرالابصار په شرحه کښې وئیلي دي چه صحیح خبره داده چه دَ شاهد (نو حضور ضروري نه دے " شرح المنظومة "

مصنف هم دا خبره دا زنګ پا نے کړیده - او شرنبلالي صاحب په داسے طریقه لیکلے چه دَ هغے نه دَ دوو مبئ خبرے غوره والے معلومیږي - " تیره شوے حواله " دا تول بیان په ټولو سزاګانو کښې جاري دے - لیکن په سنګسارئ کښې نه دے -

(په وخت دَ قصاص کښې حضور دَ شاهدانو ضروري نه دے)

او په قصاص کښې به په قصاص کولو سره حکم کیږي - او چا چه پرے دَ قتل شاهدي کړیده که هغه حاضر نشه نو هم خیر دے - او دا حکم استحساني دے - لکه چه په کافي الحاکم کتاب کښې راوړې دي - او دَ سنګسارئ په سزا کښې ذات دَ شاهدانو ضروري دے - (او حضور ئے ضروري نه دے -) دا رنګ ذکر دي په بحرالرائق کتاب کښې " من المنح في السرقة "

(په زناکار به اول په کڼو ویشتلو شاهدان شروع کوي)

مسئله :- په چا چه دَ زنا ثبوت شوے وي - که هغه محصن وي نو په یو خالي میدان کښې دِ په کڼو او ویشتلے شي - تردے پورے چه مړ شي - خو دوه مبیه به شاهدان په ویشتلو شروع کوي - که زنا ثابت شوے وي په شهادت سره - که چرے دَ سنګسار کیدلو سزاوار وي نو مبینه به شاهدان په کڼو کنداو لو ځکه شروع کوي - چه په دے کښې یو قسم حیله ده - دَ پاره دَ دفعے - ځکه چه کله کله سړے زړه ور شي چه په دروغه شاهدي وکړي - لیکن چه بیا هغه کار کولو ته راو بللے شي - نو دے منع راوړي (نو دلته ممکنه ده چه دا شاهدي ئے په دروغه کړې وي - او دَ خپلے شاهدئ نه راو ګرزي -) نو که شاهدانو انکار وکړ (چه مونږ نه ولو) نو دغه مجرم به دَ رجم دَ سزا نه خلاص شي -

او دَ امام نووي صاحب رح په شرحه دَ کنز کښې ذکر دي چه ټولو شاهدانو یا بعضو که انکار وکړه چه مونږ کاڼے ورومبیه نه ولو - یا غائب شول یا مړه شول دا رنګے (یعنے ټول یا بعض) یا یو یکښې لیونے شه - یا ړوند شه - یا چا پا شه - یا دَ مسلمانئ نه وګرزیدو - یائے چا ته دَ زنا کنزل کړی وو - نو دَ هغے په سزا کښې ئے اتیا دُرے وُخوړے نو په دے ټولو صورتونو کښې به دَ امام اعظم صاحب رح او دَ امام محمّد صاحب رح په نیز حد او غورزیګي - (مجرم به دَ رجم

نه خلاص شی) او دَ امام ابویوسف صاحبؒ نه هم دا روایت دے "شرح مختصر الوقایه لابی المکارم"

(دَ غل مریٔ دَ لاس پریکیدلو په وخت کښې دَ هغه دَ مولا حضور ضروری دے۔ او په اقرار کښې نه)

مسئله: که مریٔ غلا وکړه نو ترکومے پورے چه دَ هغه مولیٰ (یعنے مالک دَ مریٔ) حاضر نه وی۔ دَ هغه لاس به نه پریکیږی۔ او دا حکم په نزد دَ طرفینو رح دے۔ او دا دلیل څو دَ امامانو صاحبانو رح اختلاف دے په هغه صورت کښې چه په مریٔ دعوه دَ قتل عمد شوے وی۔ او شاهدان پرے تیر نکړی نو دَ طرفینو رح په نزد دَ شهادت آدریدلو په وخت کښې حضور دَ مولے ضروری دے۔ او که مرے غائب وو۔ او مدعی په مولیٰ باندے شاهدان ودرول چه ستا مریٔ فلانے سړے قصداً وژلے دے۔ نو دا شاهدی قبوله نه ده۔ او دا حکم اتفاقی دے۔ "من المنیه فی الحدود"

مسئله: کوم مرئے چه تښتیدلے وی۔ که په هغه دَ غلا ثبوت وشه۔ چه غلائے کړیده نو دَ هغه لاس به نه پریکیږی۔ ترکومے پورے چه مولائے حاضر نه وی۔ او امام ابویوسف صاحبؒ وائی چه پریکیږی به۔ "من التاتارخانیة فی الآبق من الفصل السادس"

مسئله: که مریٔ دَ یوسے داسے خبرے اقرار وکه چه په هغے سره پرے حد یا قصاص لازمیږی۔ (مثلاً اقرار ئے وکړه چه ما دَ فلانی ښځے سره زنا کړیده یا ما فلانے سړے قصداً وژلے دے) نو حد یا قصاص به پرے فی الحال ثابت شی۔ او دَ اقرار په حالت کښې دَ مولیٰ حضور ضروری نه دے۔ او که اقرار ئے ونکړه۔ بلکه شاهدانو پرے شاهدی کوله۔ نو په دے صورت کښې دَ امام اعظم صاحبؒ او دَ امام محمد صاحب رح په نزد دَ مولیٰ حضور ضروری دے۔ "من شرح مجمع البحرین لابن الملک فی الحجر"

(دَ مولیٰ حضور ضروری دے که دَ هغه په ماذون مریٔ شاهدی کیدله۔)

مسئله: که په یو داسے مریٔ باندے چه مولیٰ ورته دَ تجارت کولو اذن کړے وو۔ شاهدانو شاهدی کوله چه دَه فلانے سړے قصداً وژلے دے۔ یا دَه فلانی سړی ته دَ زنا کنزل کړیدی یا دَه دَ فلانئے ښځے سره زنا کړیده۔ یا دَه شراب څښلی دی۔ او مریٔ دَ دے نه انکار کاوُ او مولیٰ ئے حاضر وو۔ نو دا شاهدی جائزه ده۔ او په دے باندے څو دَ عالمانو صاحبانو اتفاق دے۔ او که مولیٰ ئے غائب وو۔ نو بیا دَ طرفینو رح په نزد قبوله نه ده۔ او دَ امام ابویوسف صاحبؒ په نزد قبوله ده۔ ځکه چه دَ هغه په نزد قبلیگی شهادت په قصاص او په حد سره په دے مریٔ باندے۔ چه اذن دَ تجارت ورته شوے وی۔ او دا دلیل هغه مرئے هم دے چه منعه وی دَ تصرف

کولو نه - او که شاهدانو په مرئی باندے دَ غلا شاهدی کوله (چه دهٔ غلا کړیده) او دغه غلا دَ لاس پریکولو موجبه ده - نو دا شاهدی قبلیګی چه مولی ئے ود سره حاضروی جو دَ مرئی لاس په پرے کړے شی - او په دے کښ اختلاف نشته - او که مولائی حاضر نه وی - نو دَ طرفینو دا قول دے - چه دا شاهدی دَ لاس پریکولو په بابت کښ قبوله نه ده - او دَ ضامن والی په بابت کښ قبوله ده - (یعنے کوم شئے چه دهٔ غلا کړیے دے په دَ هغے ضامن وی) او دَ امام ابویوسف صاحب رح قول داوے چه دا شاهدی دَ لاس پریکولو په بابت کښ قبوله ده - او که دَ دغه غلا (دَ لاس پریکولو موجبه نه وه خو) دَ مال موجبه وه - نو بیا دَ دے شاهدئ په قبلیدو کښ هیڅ اختلاف نشته - برابره خبره ده چه مولی ئے حاضروی او که غائب وی - او که په مرئی باندې شاهدانو داسے شاهدی کوله چه دهٔ اقرار کړیدے دَ زنا یا دَ شراب څکلو یا دَ نورو داسے خبرو چه په هغے سزا پرِ دَ خدائ پاک حد لازمیده - نو دا شاهدی پرے قبوله نه ده -

(دَ مولی حضور ضروری دے - کوم وخت چه پرِ دَ اقرار شاهدئ کیږی)

او که شاهدانو پرے دا شاهدی کوله - چه دے مولی اقرار کړیدے چه ما فلانے سړے قصدًا وجلیدے - یا ما فلانی ته دَ زنا کنزل کړیدی - نو که مولی ئے حاضروی جو دا شاهدی قبوله ده - او که نه وی نو نه - او دا دَ طرفینو قول دے -

(که په وړوکی شاهدی کیږه نو دَ واکدار حضور ئے ضروری دے)

مسئله :- که په یو داسے وړوکی هلک یا په یو داسے پے وقوفه بوله سړی چه پلار یا بل ولی واکدار ورته دَ تجارت کولو اذن کړے وو - شاهدانو شاهدی کوله چه ده دَ فلانئ ښځے سره زنا کړیده یا دهٔ شراب څکلی دی - یا دهٔ فلانی ته دَ زنا کنزل کړیدی - نو دا شاهدی پرے قبوله نه ده برابره خبره ده چه پلولی واکدار ورسره حاضروی - او که نه وی - او دَ قتل په دعوه کښ پرِ جائزه ده - که ولی ئے حاضرو وی ځکه چه دَ هغه موجب (یعنے کوم شے چه په دے سزا لازمیږی هغه) دیت دے په قبیلے دَ قاتل باندے - او که ولی ئے غائب وو - نو بیا قبوله نه ده - هیڅ اختلاف پکښ نشته - او دَ غلا په دعوه کښ پرے قبوله ده - ولی ئے غائب وی - او که حاضر ده "قاضیخان من العدلیته فی الدعوی"

(حضور دَ مرئی په یو حال کښ -)

مسئله :- یو سړی په بل باندے دعوه وکړه چه دهٔ حماد مرئی ستړګه[1] قیبه کړیده - او دَ مرئی قیمت زر روپئ وو - او مدعاعلیه انکار وکړه چه ما دا کار نه دے کړے - نو که مرئی ئے ژوندی وی

---

[1] یعنے په یوه سترګه ئے ړوند کړے دے - ۱۲

جو حضور ئے ضروری دے۔ لیکن کہ مرئی یا دو مره ورو کے وی چه خپل حال نه شی بیا نولے نو
بیا ئے حضور شرط نه دے۔ او کہ مدعی شاهدان ور وړل په خپله دعوه باندے نو د تاوان
آخستلو حکم به ورله وکړے شی۔

(د ورو کی او د خاروی حاضرول ضروری نه دی۔)

او په بزازیه کتاب کښ دا رېږی چه د خره یا د بل حیوان حاضرول ضروری نه دی۔ که دعوه
د هغه د ستو کے د تاوان طلبولو وه۔ او دا دلیل حکم دے که چا دعوه د زخم کوله په یو خاروی
کښ۔ یا د یو شیرے ځائے دعوه ئے کوله په یو توکی کښ (مثلاً وئیل ئے چه د ده ځما د خاروی
شا زخمی کړیده۔ یا دهٔ ځما خادر شیرے کړیدے) نو د دغه خاروی او د توکی حاضرول ضروری
نه دی۔ ځکه چه د کوم چه دے دعوه کوی۔ هغه په واقع کښ هغه جُز دے چه غائب دے۔ او
که دعوه ئے د بل څه په بابت کښ وه۔ نو بیا ئے حاضرول ضروری دی۔" من دعوی البزازیة
فی الفصل الخامس عشر۔"

(د مرئی حضور په یو حال کښ)

مسئله:۔ که چا دعوه وکړه په بل باندے۔ چه دهٔ د یو داسے مرئی ستر که قپه کړیده
چه قیمت ئے زر روپئ وو۔ او مدعا علیه د دے دعوے نه انکار وکه چه ما نه ده کړے۔ او مدعی
اقرار کاؤ چه هغه مرئے ژوندے دے۔ او مدعی شاهدان ؤ وړل غوښتل په خپله دعوه باندے
نو قاضی به دا شهادت نه آوری او په مدعا علیه باندے به د تاوان حکم نه کوی۔ تر کومے پورے
چه مرئے حاضر نه وی۔ او که مرئے مړ وو یا دو مره ورو کے وو چه د خپل ځان نه ئے تعبیر
نشه کولے (یعنے خپل حال ئے نشه بیا نولے) نو بیا به قاضی دا شهادت آوری۔ او د مدعی
د پاره به په مدعا علیه باندے د تاوان حکم کوی۔ او د مرئی حاضرول ضروری نه دی۔ او دا دلیل حکم
دے که چا په بل باندے دعوه وکړه چه دهٔ ځما د یو داسے ترکی آس ستر که قپه کړے ده
چه قیمت ئے زر روپئ دے۔ او مدعا علیه د دے نه انکار وکړو۔ او مدعی په خپله
دعوه شاهدان ؤ وړل نو اگر کہ آس حاضر نه وی۔ قاضی به په مدعا علیه باندے
حکم کوی د پاره د مدعی په قیمت د دغه ترکی آس سره" مشتمل الاحکام"

مسئله:۔ هر کوم مرئے چه د تجارت نه منع وی۔ یعنے مالک ورته د تجارت
کولو اذن نه وی کړے۔ دا سے مرئے په فعل نیولے کیږی۔ او په خپل قول نه نیولے کیږی۔
(یعنے که څه جرم ئے وکه۔ نو په هغے نیولے دے۔ او که په څه شی سره ئے اقرار وکه نو په دے
امر نه نیولے کیږی۔)

(دَ بیعے او دَ بیعے په شان نورے معاملے چه دی دَ هغے متعلق)

(دَ خرڅونکی او دَ اخستونکی حضور)

مسئله :- که بکر دَ زید نه یوه وینځه په بیعه واخسته۔ او لا قبضه کړے ئے نه وه چه بل سړے دَ دغه وینځے مستحق وګرځیده په شهادت دَ شاهدانو سره یعنے دعوه ئے کوله او شاهدان ئے ورول ئے غوښتل په دے خبره چه دا وینځه زما ده) نو قاضی به دَ دے مستحق دَ شاهدانو شاهدی نه آوری۔ او دَ دغه وینځے په بابت کښ به ورله حکم نه کوی۔ ترکومے پورے چه زید او بکر دواړه حاضر شوی نه وی۔ ځکه چه ملکیت آخستونکی لره دے۔ او قبضه خرڅونکی لره۔ دَ یعنے بکر دَ بیعے په وجه دَ وینځے مالک شوے دے۔ خو لا قبض کړے ئے نه وه۔ قبضه پرِ دَ زید ده) نو دَ دواړو حضور ضروری شه۔ ځکه چه دَ مستحق دَ شاهدانو شاهدی چه دا ده دا نکی دَ بکر مالکوالے او دَ زید قبضه دواړه باطلوی۔ بیکاره کوی۔ نو دا سے شوه لکه دعوه دَ کاڼړے (مثلاً یو سړی دَ بل نه یو خاورے کاڼره کړے وو۔ بیا دریم سړی پرِ دعوه کوله او شاهدان ئے وردول چه دا زما دے۔ نو په دے صورت کښ ضروری دے حضور دَ هغه چا چه دغه خاورے ئے په کاڼره ورکړے او دَ هغه چا چه په کاڼره ئے آخستے دے) او که صورت دَ مسئلے دا سے وو چه بکر دَ زید نه وینځه په بیعه آخستے وه۔ او قبضه کړے ئے وه۔ پس دَ هغے نه دَ دغه وینځے څوک مستحق را پیدا شه۔ نو په دے صورت کښ دَ اخستونکی یعنے دَ بکر حضور ضروری دے۔ او دَ خرڅونکی یعنے دَ زید حضور ضروری نه دے۔ او دَ شفعے په ذریعه آخستل چه دی دَ دے حکم دَ مستحق والی په شان دے۔ یعنے که چا زمکه دَ بل نه په بیعه واخستله۔ او لا قبضه کړے ترے نه وه چه یو دریم سړی پرے دَ شفعے دعوه کوله او شاهدان ئے وردول نو ضروری دے حضور دَ خرڅونکی او دَ اخستونکی۔ او که اخستونکی زمکه قبضه کړی وی۔ نو بیا یوازے دَ اخستونکی حضور ضروری دے۔)

او دَ سید الدین صاحب په فتاوی کښ مذکور دی چه (یو دے شئے که چا بے اجازته خرڅ که نو مستحق له (یعنے کوم چه ئے حقدار دے هغه له) حق دَ دعوے کولو شته دے په خرڅونکی باندے اګرکه دَ خرڅ دَ غه شئے اوس دَ خرڅونکی په قبضه کښ نه وی۔ بلکه دَ آخستونکی په قبضه کښ وی ځکه چه خرڅونکے غاصب دے۔ (یعنے په زور آخستونکے دے۔) نو چا چه ترِ په بیعه آخستے دے هغه غاصب دَ غاصب شه۔ او دعوه دَ مدعی په هغه چا باندِ چه دَ دے مدعی

ئے څه شئے په زور اخستے وی ۔ اگر که دغه شئے او س په قبضه کښ نه وی صحیح دہ ۔ ځکه چه مدعی په هغه باندے دَ یو فعل دعوه کوی (چه تا دا نه فلانے شئے په زور آخستے دے ۔ او که دعوه دَ یو داسے شی وه ۔ چه په اجاره ورکړے شوے وو ۔ (یعنے یو سړی بل له څه شے په اجاره ورکړے وو ۔ بیا یو مستحق داغے دعوه ئے کوله چه دا خو ځما دے) نو چاچه په اجاره ورکړے ۔ او چاچه په اجاره آخستے دَ دواړو حاضروالے ضروری دے ۔ ځکه چه ملکیت دَ هغه یو دے چه په اجاره ئے ورکړے او قبضه پرے دَ اجاره کردہ ۔ نو دَ دواړو حضور ضروری شه په شان دَ کانړے لکه چه مخکښ تیرشوی دی " من مشتمل الاحکام فی باب ما یدعیه الرجلان "

مسئله ۔ که چا په بل باندے څه شئے خرڅ کړ ۔ او اخستونکی ته ئے ونه سپاره چه بیا یو دریَم سړی پرے دعوه کوله (چه دا ځما دے) نو ضروری دے حضور دَ اخستونکی او دَ خرڅونکی او دا دلیَ حکم دے که یو سړی ځمکه خرڅه کړی وی ۔ او دغه ځمکه لا دَ دهٔ په قبضه کښ وی او یو بل سړے ئے آخستل غواړی په شفعه سره نو دَ دغه خرڅونکی حضور هم ضروری دے ۔ او چاچه ترے په بیعه آخستے ده ۔ دَ هغه حضور هم ضروری دے ۔

(دَ وړوکی حضور ضروری نه دے)

او که چا په یو وړوکی هلک دَ څه شی دعوه کوله ۔ او وصی دَ دغه هلک حاضر وو ۔ نو دَ تتمه کتاب په شرحه کښ شیخ امام خواهر زاده صاحب ویَلی دی چه دا جایزه ده ۔ او دَ دغه هلک حضور ضروری نه دے ۔

او امام ناطقی صاحب رح ذکر کړیدی چه په وړوکی هلک که دعوه دَ داسے قرضے وه چه هغه پرے دَ وصی په ذریعه لازمه شوے وه ۔ (مثلاً وصی ئے لګیدلے وو ۔ دَ دهٔ دَ پاره ئے څه معامله کړے وه ۔ په دے بابت کښ پرڅه قرضه راغلے وه) نو دَ دے دعوے په وخت کښ دَ دے وړوکی حضور ضروری نهٔ دے ۔

(دَ وړوکی حضور ضروری دے سره دَ ولی یا دَ وصی نه)

او که دعوه دَ داسے قرضے وه چه هغه پر دَ وصی په ذریعه نه وه راوختے لکه دَ ضائع کولو تاوان شه (مثلاً دغه هلک دَ بل څه شئے هلاک کړے وو ۔ ضایعه وو ۔ او س پرے مالک دعوه کوی) یا دَ دے په مثل نور څه راخله ۔ نو بیا دَ دے دعوے په وخت کښ دَ دے هلک حاضروالے ضروری دے دَ پاره چه دهٔ ته اشاره وکړے شی ۔ (چه دے هلک دا کار کړیدے ۔)

او خصّاف صاحب رح ذکر کړیدی چه یو سړی که په یو داسے وړوکی هلک چه دَ تجارت او دَ تصرّف کولو نه منعه وو ۔ دعوه دَ استهلاک کوله (چه دهٔ ځما فلانے شئے هلاک کړیدے)

یا که پرے دعوه کوله چه دۀ خما نه فلانے شئے په زوره اخستے دے۔ تبنتولے ئے دے۔ نو که مدعی وئیل چه خما شاهدان حاضر دی۔ جو دعوه به نے داوریدلے شی۔ اودهلک حاضروالے ضروری دے۔ خو سره د پلار یا سره دوصی نه۔ تردے پورے چه قاضی حکم وکړی په مال سره جو دهلک پلار یا وصی نه په دادا کولو حکم وکړے شی۔ (چه ته ئے مدعی نه اداکه) اوکه دهلک نه پلار وو او نه وصی او مدعی قاضی نه دا درخواست اوکړو چه ته د هلک د پاره څوک وصی اونیسه نو قاضی به دا درخواست منظور کړی۔ لیکن کوم وخت چه هلک له څوک وصی کړی۔ په دغه وخت کښ د هلک حاضروالے ضروری دے۔ او بعض وروسنئی عالمان وائی چه د هلک حاضروالے د دعوے په وخت کښ ضروری دے۔ برابره خبره ده۔ چه هلک مدعی وی او که مدعا علیه۔ لکن هغه وئیلی دی خائسته دا خبره چه ضروری ونګټرلے شی حاضروالے د بچو په وخت د دعوے کښ۔ لکه چه ذکر کړی دی شیخ امام خواهرزاده"۔ (او محکښ تیرشوی دی) " من فتاوی العدالیة فی الدعوی"

مسئله:- که چا په بل بانډے یو شئے خرڅ که۔ او اخستونکی لا قبضه کړے نه وه چه مستحق پرے دعوه کوله (چه دا خما دے) (دشاهدان ئے ودرول نو دے شاهدانو شاهدی به قاضی نه آوری۔ ترکومے پورے چه اخستونکے او خرڅونکے دواړه حاضر نه وی۔ ځکه چه ملکیت د اخستونکی دے۔ او قبضه پرے د خرڅونکی ده۔ نو مستحق به نکی دواړه په مقابله کوی په ذریعه د شهادت سره۔ تو داسے شوه لکه د کانړے۔ اوکه اخستونکی پرے قبضه کړی وی پس د هغے نه پرے مستحق شاهدان ودرول غواړی نو په دے صورت کښ صرف د اخستونکی حضور ضروری دے۔ او د شفعے په ذریعه اخستل چه دی د دے حکم په شان د حکم د مستحق والی دے۔ (دا مسئله د دے باب په شروع کښ په تفصیل سره بیان شویده" من الفصولین فی الباب الثالث"

(د اول اخستونکی حضور ضروری دے)

مسئله:- زید د بکر نه په زر روپئ یوه وینځه واخستنه۔ او روپئ ئے ورنکړے۔ او وینځه ئے بے د بکر د اجازت نه قبضه کړه۔ بیا زید ونګیدغه وینځه ئے په خالد بانډے په سل اشرفئے خرڅ کړه۔ او دواړو خپل خپل شئے قبضه که۔ (یعنے زید اشرفئے واخستے او خالد وینځه) بیا زید غائب شه۔ نو بکر راغے او اراده ئے وکړه چه زۀ د خالد نه وینځه واپس کول غواړم۔ نو د دے مسئلے حکم دا دے چه بکر کو مرخیره کړے۔ که خالد د هغے تصدیق وکه نو بکر له حق د واپس اخستلو شته دے۔ او که تکذیب ئے وکه چه دا خبره ما ته نه ده معلومه۔ نو د دے

منځکښې جګړه نشته. ترکومې پورې چه حاضر نه شي زید "من الظهيرية في الفصل الرابع من الدعوى فيمن يصلح خصماً"

دَ میراث خور یا دَ وصی حضور

مسئله:- بکرته دَ زید زر روپئ قرض وے۔ یا بکر دَده نه زر روپئ په نورا اخستے دَے او دَ بکر په قبضه کښې اوس موجود وے۔ یا ئے هغه له زر روپئ په طور دَ امانت ورکړے وے او دَ هغه په قبضه کښې دغه روپئ اوس موجود وے۔ بیا یو سړی په بکر دعوه کوله۔ او شاهدان ئے وړاندې په دے خبره چه خاوند دَ دے زرو روپو (یعنے زید) مړ شوے دے او کوم روپئ چه ئے دے بکر نه دی۔ ځما دَ پاره ئے دَ هغے وصیت کړے دے۔ او حال دا وو چه بکر دَ دغه روپو اقرار کاوو۔ لیکن داځ ویل چه ما ته معلومه نه ده چه زید مړ دے او که نه دَے مړ۔ نو قاضی په دَ دے دواړو په مینځ کښې جګړه نه منی۔ ترکومې پورے چه دَ زید میراث خور یا وصی حاضر نه کړے شي۔ دا حکم هله دے چه بکر اقرار کوی دَ مال او که داځ ویل چه دا روپئ ځما ملکیت دے۔ او ځما څخه دَ زید دَ مال نه هیڅ شے نشته۔ نو بیا به بکر دَ مدعی خصم وی۔ (یعنے مدعی به ورسره مقدمه کولے شي) "الکتاب المذکور المحل المذکور"

حضور دَ خرڅونکی او دَ اخستونکی

مسئله:- که په بیعه ئے واخسته یوه وینځه او لا قبضه کړے ئے نه وه۔ چه بل مستحق ئے پیدا شه۔ هغه شاهدان وړاندې په دے خبره چه دا ځما وینځه ده۔ نو دا شاهدی به قاضی نه آوری او دَ مستحق دَ پاره به قاضی حکم نه کوی دَ وینځے۔ ترکومے پورے چه خرڅونکے او اخستونکے نه وی حاضر۔ ځکه چه ملکیت دَ آخستونکی دے۔ او قبضه پرے دَ خرڅونکی ده۔ نو ضروری شه حضور دَ دواړو "مشتمل الاحکام فی الدعوے"

او که چا کور په بیعه واخست خو لا قبضه کړے ئے نه وه چه بل مستحق راغے۔ په دے خبره ئے شاهدان وړاندې چه دا کور ځما دے۔ نو په دے وخت کښې حاضروالے دَ خرڅونکی ضروری دے۔ سره دَ آخستونکی نه۔ ځکه چه ملکیت دا خستونکی دے۔ او قبضه دَ خرڅونکی ده۔ او دا ارنګ حکم دے په دعوه دَ شفعے کښې چه په بیعه اخستونکی لا زمکه نه وی قبض کړے۔ نو حضور دَ خرڅونکی او دَ اخستونکی ضروری دے۔ (لکه چه مخکښې تیر شوی دی) "من البزازیه وکذا فی البحر وغیرهما من الدعوی"

(حضور دَ مستحق)

مسئله:- زید دَ بکر نه په بیعه یو څاروے آخسته وو۔ بیا خالد دَ شهادت په ذریعه

دَ دغه ځاروی مستحق اوګرځي - نو زید دَ بکر نه دَ روپو واپس کولو اراده وکړه - نو بکر په دے خبره
شاهدان ودرول چه دا ځاروے ځما دے - ځما کورنے پیدا دے - او یا په دے خبره چه دا
ځاروے ما دَ خالد نه په بیعه آخستے دے - یا ماته ئے بخلیے وغیره - نو اے دا شهادت
دَ خالد دَ غائب والی په حالت کښ قبلیږی او که نه - بلکه حضور ئے ضروری دے - نو په دے
مسئله کښ عالمان مختلف شوی دی - بعضے وائی چه حضور ئے ضروری دے - او بعض
وائی چه ضروری نه دے - او دا قول (چه نه دے) د پر ظاهر او شه دے[له] من جامع الفصولین
فی الفصل الثالث وکذا فی السادس عشر"

مسئله :- یو سړی په بیعه واخسته یوه وینځه - هغے دَ دَه تخنه بچے راوړ - نو یو بل
سړے ئے مستحق وګرځیدلو په ذریعه دَ شهادت سره (یعنے بل سړی شاهدان ودرول چه دا
وینځه ځما ده او قاضی ورله حکم وکړه) نو مستحق به وینځه آخلی سره دَ بچی نه -

(بچے دَ مور تابع دے او میوے دَ ونو)

او که مالک دَ دے وینځے دَ چا دَ پاره اقرار وکړ (چه دا ستا وینځه ده) نو دَ چا دَ پاره چے اقرار
کړیدے - هغه به یوازے دغه وینځه آخلی نه بچے - او دا رنګ حکم دے که دَ یو سړی دَ کجورو ونے
وے او میوے پکښ موجود دے بیا بل سړی شاهدان ودرول چه دا ونے ځما دی - نو حکم
به کیږی دَ پاره دَ مدعی چه دا ونے او میوے دواړه دَ دَه شوے - او را پاتے شو دا خبره چه
دَ شهادت په دے تیره شوے مسئله کښ) اے دَ بچی په بابت کښ دَ قاضی حکم کول (چه
دا هم دَ مدعی شه) ضروری دے او که نه - نو بعضو عالمانو صاحبان وئیلی دی چه ضرورت
ورته نشته (په مور پسے به ځی) دا رنګ ذکر کړیدی امام محمدؒ صاحب په اقضیو کښ - او هم
مذکور دی په منتقی کتاب کښ - او امام محمد صاحبؒ په جامع صغیر کښ وئیلی دی چه دَ
بچی په بابت کښ دَ قاضی حکم ضروری دے - او که بچے دَ بل سړی په ملکیت کښ وو نو بیا ضروری
دے حضور دَ دغه بل سړی - دا قول بیان هاله دے چه دَ وینځے بچے شوے وی دَ هغه چا کره
چه په بیعه ئے آخستے ده - خو دَ آخستونکی نه نوی شوے - او که دَ دَه نه شوے بچو - پس هغے
نه بل سړے دَ دغه وینځے مستحق شه - نو په جامع صغیر او کبیر دواړو کښ امام محمدؒ صاحب
وئیلی دی چه دَ مستحق دَ پاره به په آخستونکی باندے حکم کیږی په قیمت دَ بچی سره
او آخستونکے به دَ خرڅونکی نه ځمونږ په نزد دَ دغه بچی هغه قیمت وصوله وی

له جامع الفصولین په شپاړسم فصل کښ وئیلی دی چه دَ مستحق حضور ضروری نه دے په وخت دَ
شاهدئ کښ - او په دریم فصل کښ ئے اختلاف ذکر کړیدے - خو بیائے دے آخری مذهب ته غوره وئیلی دی - ۱۲ مترجم

کوم قیمت چه ئے دَدے جګړے په وخت کښ دے - اوکه بچے مړ شوے وی - نو بیا په آخستونکی
هیڅ نشته -

مسئله :- زید دَ بکر نه یو خر په بیعه آخستے وو - بیا پرِ خالد دعوه اوکړه او شاهدان
ئے وُدرول چه دا خما دے - نو قاضی دَ بخارا ورله حکم وُکړ - او زید دَ قاضی نه لیکلے سند واخست
بیا زید دَ بکر تالاش شروع که - نو ئے موند په سمرقند کښ - پس بکر اقرار وُکه چه ما خر
خرڅ کړے دے په تا باندے - خو انکار ئے کاوو چه دا سند دَ قاضی دَ بخارا نه دے - نو حکم
به کیږی دَ پاره دَ زید - خو دَ سمرقند قاضی له دا جائزه نه ده چه په بکر باندے حکم اوکړی
چه ته زید له دَ خره روپئ واپس ورکړه - بلکه که زید شاهدان ودرولی وی - نو دا حکم به کوی
چه دَ بخارا قاضی صاحب دَ زید دَ پاره حکم کړیدے - او خرئے ترِ آخستے دے - او دا خبره
چه خرئے ترے آخستے دے - ځکه ضروری ده چه که زید نه خر نه وی آخستے شوے - نو دَ خره
روپئے به ترے نه واپس واخلی - بیا نو) لازمیږی چه عوض او دَ کوم شی چه عوض دے دا دواړه
دَ یو سړی په ملکیت کښ جمع شی (او حال دا دے چه دا نه شی کیدے) او که بکر دَ زید دَ دعوے
په جواب کښ او وئیل چه دا خر په ما چه کوم سړی را خرڅ کړے وو - دا دَ هغه په ملکیت کښ
پیدا شوے وو - نو ستا حق نشته چه خما نه روپئ واپس واخلے - او په دے خبره ئے شاهدان
وُدرول نو دا شاهدی قبوله ده خو هله که خالد حاضر وو - او دَ خره حاضرول هم ضروری
دی - او امام ظهیرالدین صاحب وائی چه دَ خره حاضرول ضروری نه دی - کوم چه آخستے
شوے وی په بیعه فاسده سره -

(دَ مبیع حاضرول ضروری دی نه دَ مرئی)

مسئله :- که چا دعوه وکړه چه زهٔ خپل قیمت چه ما ورکړے دے واپس آخلم ځکه
چه دا بیعه فاسده شوے ده - او خرڅونکی انکار وکه دَ بیعے نه - یا ئے اقرار وکړو نو دَ خرڅ هغه
څیز حاضرول ضروری دی - ځکه چه دَ بیعے وړاندے ول داسے دی لکه دَ سره بیعه کول - او په
هغے کښ خو دا ضروری ده چه دَ خرڅ هغه شے دِ موجود وی تیار وی - اخستونکی ته ئے سپارلے
شی - معلوم دی - په خلاف دَ هغے نه چه حکم وکړے شی په اصیل نو ب باندے (یعنی قاضی
حکم وکړی چه دا مرئے مرئے نه دے حرّالاصل دے -) بیا زید چه مثلاً دغه مرئے دَ بکر
نه په بیعه آخستے دے - هغه شاهدان وُدروی په بکر باندے دَ دے خبرے چه
دا مرئے اصیل دے آزاد دے (نو تا څرنګه خرڅ کړیدے په ما باندے - زهٔ درنه
خپلے روپئ غواړم) نو په دے وخت کښ دَ دغه مرئی حضور ضروری نه دے - او دَ زید

حق شته چه خپلے ددپیٔ دَ بکرنه واپس دا واخلی "جامع الفصولین فصل ثالث"

مسئله:- یو سړی دَ بل نه څه شئے په بیعه واخست نو دویم سړی پړے دعوه کوله چه ستا خرخوکی دا شئے دَ خرخولونه مخکښ ماله په اجاره راکړیے ے - یائے ماته گانړه کړیے ے - نو حکم دا دے چه دا مدعی دَ دغه آخستونکی سره جګړه نه شی کولے - ترکومے پورے چه خرخونکے حاضر نه وی - نو که حاضر شه او دے مدعی پړے شاهدان ووړول نو شاهدی به قبول شی - "بینة المفتیین فی الدعویٰ"

مسئله:- دَ یو یتیم هلک وصیؒ وکښیل سړۓ وکیل که چه ته ماله دَ دے یتیم دَ مال نه فلانے شئے په بیعه واخله نو دا بیعه جایزه نه ده - ترکومے پورے چه دغه وصی په خپله حاضر نه وی "من ادب الاوصیاء فی الوکالة"

دَ اجارے او دَ غصبؒ او دَ وکیل کولو متعلق

مسئله:- زید دَ بکرنه دوے خاروی کرایه کړی وو - بیا بکر وکښیل یو خاروۓ ئے تربل له په اجاره ورکه - او بل ئے ترے بل چاله په طور دَ عاریت ورکه - او بل ئے په بل چا خرڅ که نو چه زید دلته دغه خاروے دَ دی په قبضه کښ ولیدل چه دره وارو یو یو قبضه کړے وو - نو اوس په کورو که بیعه دَ عذر دَ وجه نه وه - (مثلاً سخت ضرورت ئے وو) نو بیعه جائزه ده او اجاره ئے ماته شوه - او که بے عذره وه - نو بیعه نه ده شوے - او کوم سړی چه دَ عاریت په طور خاروے آخستے دے دَ هغه او دَ زید جګړه نشته - ترکومے پورے چه خاوند دَ خاروی حاضر نه وی (ځکه چه دَ عاریت والا قبضه قبضه دَ ضامن والی نه ده - او چا ته چه یئخاروے بخلے شویے - دَ هغه سره زید جګړه کولے شی - اګرکه بکر حاضر نه وی)

پا ئے شوه اجاره نو په کتاب کښ ذکر دی چه اجاره کړَ دَ دغه خاروی ډیر مستحق دے دَ خپلے اجارے پوره کولو پورے - او خو ترِ بعض عالمان وائی چه دَ امام محمدؒ صاحبؒ مراد په دے اجاره کړ سره ورومبے اجاره کړدے - (یعنے زید) او دویم اجاره کړئے خصم دے (یعنے زید دویم اجاره کړ سره جګړه کولے شی - اګرکه بکر نه وی حاضر) لکن صحیح خبره دا ده چه چه دویم اجاره کړ دَ زید خصم نه دے - ترکومے پورے چه خاوند دَ خاروی نه وی حاضر

له وصی دَ یتیم دَ مال نه ځان له څه شے په بیعه آخستے شی خو په دے شرط چه په هغے کښ دَ یتیم فایدهٔ وی ۱۲ مترجم ۱۲

له یعنے دَ چا نه څه شئے په زور آخستل - ۱۲

شوے۔ لکه چه ضروری دے حضور دَ بکر په مسئله دَعاریت کښ " من بینة المفتی فی الدعوی "

(حضور دَ اجاره کړ په دعوه دَ غصب کښ)

مسئله :۔ زید دَ بکر نه یوکور په کرایه آخستے وو۔ بل سړی دا کور دَ زید نه په زور وُنیو۔ اوس بکر په دے بل سړی دعوه کوی نو دا دعوه صحیح نه ده۔ ترکومے پورے چه زید حاضر نه وی۔ ځکه چه په کور باندے دَ بکر قبضه نشته۔ او دعوه دَ زید په دے بل سړی صحیح ده۔ اګر که بکر حاضر نه وی۔ ځکه چه بکر دے دَ فائدے مالک کړے دے۔ چه دَ اجارے معامله ئے ورسره کړے ده۔ نو بے دَ بکر دَ حاضریدو نه هم جګړه کولے شی " فصل الثالث من الفصولین "

مسئله :۔ زید دَ بکر نه کور په اجاره آخستے وو۔ اوس پرِ خالد دعوه کوی چه دا ځما دے۔ نو دا دعوه صحیح نه ده۔ ترکومے پورے چه زید او بکر دواړه حاضر نه وی۔ ځکه چه دَ کور مالک بکر دے۔ او قبضه پرے دَ زید ده۔ نو ضروری شه حضور دَ دواړو " من الفصولین فیمن یصلح خصمًا "

مسئله :۔ که زید خپل کور بکر له په اجاره ورکه۔ او هغه ته ئے او سپارل۔ بیا یو سړی دغه کور دَ بکر نه په زور وُنیو نو اوس چه زید په دغه سړی باندے دعوه کوی چه دا کور ځما ملکیت دے۔ دا دعوه صحیح نه ده۔ ترکومے پورے چه بکر حاضر نه وی۔ ځکه چه زید دَ ملکیت دعوه کوی۔ او قبضه دَ بکر ده۔ نو ضروری دے حضور دَ بکر لکه چه خاوند دَ شفعے اراده وکړی دَ زمکے دَ آخستو په سبب دَ شفعے سره (او حال دا وی چه دغه زمکه چه چا خرخه کړی وی هغه لا آخستونکی ته نه وی سپارلی۔ نو ضروری دے حضور دَ خرڅونکی هم او دَ اخستونکی هم۔) ځکه چه ملکیت خو دَ هغه یو دے چه په بیعه ئے آخستے ده۔ او قبضه پرے دَ خرڅونکی ده نو دا سے شوه لکه دعوه دَ کانړے او دَ اجارے (مثلًا زید دَ بکر نه څه شے کانړه کړے وو۔ اوس پرے خالد دَ ملکیت دعوه کوی نو دَ زید او دَ بکر دواړو حضور ضروری دے۔ او دَ اجارے مسئله دَ دے نه مخکښ تیره شوے ده۔)" من العمادی "

(دَ مزارع حضور ضروری دے)

مسئله :۔ دَ زمکو په دعوو کښ اے ضروری دے حضور دَ هغه چا چه په مزارعت ئے زمکه اخستی وی او که ضروری نه دے (مثلًا زید مزارع دے۔ دَ بکر نه ئے زمکه په برخه خوئی اخستے ده دَ پاره دَ کرونډے۔ اوس خالد په دغه زمکه دَ ملکیت دعوه کوی نو په دے وخت کښ دَ زید حضور هم ضروری دے۔ او که نه) نو که تخم دَ مزارع وو۔ نو هغه دا سے دے۔ لکه په اجاره

اخستونکے حضور ئے ضروری دے - اوکه تخم دَ هغه دَ جانبه نه وو- نوکه فصل راختلے وی چوهم دارنګ حکم دے - اوکه نه وی راختلے نو بیا دَ هغه حضور ضروری نه دے - دا حکم هله دے که په زمکه دعوه دَ ملک مطلق وه - (مثلاً خالد دا دعوه کوله چه دا زمکه ځما ده - او سبب دَ ملکیت ئے نه ذکر کا وو -) اوکه دا سے دعوه ئے کوله چه بکر ځما نه دغه زمکه په زور اخستے ده او زمکه دَ مزارع (یعنے دَ زید) په قبضه کښ وه - نو بیا دَ دے دعوے په وخت کښ دَ مزارع حضور ضروری نه دے - ځکه چه خالد دعوه کوی په بکر باندے دَ یو فعل روانی چه دَ ځما نه په زور آخستے ده) " من الخلاصة فی اول الدعوٰی "

(دَ مولیٰ حضور ضروری نه دے)

مسئله :- که مربی دَ چا دَ پاره په څه شی سره اقرار کا وو - نو دا ضروری نه ده چه دَ دَے اقرار په وخت کښ دِ مالک دَ مربی حاضروی - اوکه مربی اقرار نه کا وو بلکه په مربی دَ څه خبرے شاهدان وړه ولے شو - نو په دے وخت کښ ئے دَ مالک حضور ضروری دے - مونږ دَ طرفینو رح او دَ امام ابو یوسف صاحب رح په نزد ضروری نه دے - " من الخلاصة من کتاب الماذون "

زهٔ وایم که دَ مربی مالک دَ خپل مربی دَ پاره په بل چا دَ څه شی دعوه کوله - نو اے دَ دے دعوے په وخت کښ دَ مربی حاضرولے ضروری دے اوکه نه - نو دَ فقهـٖ عالمانو ویلی دی چه مربے دَ څه شی نه مالک کیږی - اوکه مالک شه نو دغه شئے ئے دَ مالک دے - دَ دے ظاهر نه معلومیږی چه دَ دے دعوے په وخت کښ دے دَ مربی حاضرولے ضروری نه شی ځکه چه قبضه لشته دَ هغه مربی چه مجبور وی (یعنے منعه وی دَ تجارت کولو نه -) او دَ فقهـٖ عالمانو چه دا ویلی دی چه مربی که دَ امانت په طور دَ چا څخه څه شے کیخود - او بیا مربے چرته غائب شه - نو مولیٰ ئے نه شی راخستے - دَ دے نه معلومیږی چه دَ دعوے په وخت کښ دِ دَ مربی حضور ضروری شی - او ما دَ دے مسئلے په بابت کښ چرته صحیح روایت نقل نه وو موندلے - خو بیا رم دَ خدائی پاک په مهربانئی سره هم دا مسئله دَ عماد ئے په دریم جلد کښ او موندله صاف صاف ئے ویلی دی چه که دَ مربی امانت وو دَ یو سړی څخه - یا هغه دَ مربی نه زر روپئی په زور آخستے وی - یا ئے ترے قرض آخستے وی - یا په مربی څه شے خرڅ کړے وو دَ هغې نه ئے ورته پورے دے - نو که دے سړی چه دا مال ورڅخه دے اقرار وکه چه دا مال چه ما له چا راکړے دے هغه دَ دے زید مربے دے (مثلاً) او زید ئے تصدیق وکه (چه رشتیا ولے) نو قاضی په دغه سړے چه دَ مربی مال ورته پورے دے نه مجبوره کوی چه نه دغه مال دَ مربی

مالک (یعنے زید) له ورکه - برابره خبره ده چه دغه مال یل څه شئے وی اوکه روپئ وی ځکه چه دَ جګړے حق دَ مرئی دے دَ هغه شی په بابت کښ کوم چه دَ ده په قبضه کښ دے دا حکم هله دے چه دا سړے اقرار کوی چه دا مال ما ته دَ دے مدعی (یعنے دَ زید) دَ مرئی په ذریعه دا رسید لے دے - او دا اقرار نه کوی چه دا دَ دے مدعی دے - اوکه اقرار ئے کاوو دَ مدعی په ملکیت لکه مدعی ته ئے ووئیل چه دا ستا مال دے ما ستا دَ مرئی نه په زور آخستے دے یا ستا مرئی ماله راکړے دے - او مدعی په دے خبره کښ دَ هغه تصدیق کاوو - نو دَ چا ځنه چه دغه مال دے - قاضی به هغه نه مجبوره کوی - چه ته دَ غه مال زید ته چه ته ئے دَ پاره اقرار کوے وسپاره - ځکه چه هغه اګرکه اقرار کوی چه دا مال دَ ده دے - لیکن دوا ړه منی دا خبره چه دغه مال دَ غائب (مرئی) دَ جانب نه رسیدلے دے هغه چا ته چه اوس ورځنه دے - نو په دے بنا دوا ړو دا خبره او منله چه خاوند دَ قبضے خصم نه دے (یعنے دَ چا ځنه چه دغه مال دے - دَ هغه او دَ مولی مقدمه نشته - ترکومے پورے چه مرئے نه وی حاضر شوے -) ختم شه مضمون دَ عماد ئے -

(دَ مولی حضور ضروری نه دے)

مسئله :- دَ بل مرئی نه چا هبه وکړه (یعنے څه شئے ورته او بخلو) بیائے اراده اوکړه چه زَه ترِ وا پس غواړم - نوکه مرئے دا سے وو چه خپل مالک ورته دَ تجارت کولو اذن کړے وی - نو دا سړے ترے خپل شئے واپس آخستلے شی - اګرکه دَ دغه مرئی مالک نه وی حاضر اوکه مرئے دَ تجارت نه منعه وو - اذن ورته نه وو شوے - نو بیا دا سړے ترے خپل شئے نه شی واپس کولے - ترکومے پورے چه دَ مرئی مالک حاضر نه وی "بزازیه فیمن یشترط حضوره فی الدعوٰی"

مسئله :- زید دَ بل سړی بو مرئی ته خپله وینځه او بخله - نو هغه وینځه قبضه کړه - بیا زید اراده اوکړه دَ خپلے وینځے دَ واپس آخستلو او حال دا وُ چه دَ دغه مرئی مولی غائب وو نو که وینځه دَ مرئی دَ مولی په قبضه کښ وی - جو زید په خپله هبه کښ رجوع نه شی کولے (یعنے دَ مرئی نه ئے نه شی واپس کولے - ځکه چه هغه دَ دے حاضر (یعنے دَ مرئی) په قبضه کښ نه ده - چه دے ورسره مقدمه وکړی - اوکه وینځه دَ مرئی په قبضه کښ وی - نو اوس په کورو - که مرئی ته دَ مالک دَ جانبه اذن دَ تجارت کولو شوے وو - نو زید په خپله هبه کښ رجوع کولے شی - اوکه نه وو شوے نو بیا زید رجوع نه شی کولے - ترکومے پورے چه مالک دَ مرئی نه وی حاضر "من مجمع الفتاوٰی فی الهبة"

(دَ مرئی حضور ضروری دے)

مسئله:- دَ یو مرئی دَ مرئی نوب یو سړی دعوه کوله- نو ضروری دے حاضر والے دَ دغه مرئی- او دا رنګ دَ مرئی حاضر والے ضروری دے- که دَ مرئی وکیل دعوه دَ آزاد والی دَ دغه مرئی کوله- او که قاضی حکم وکړه- چه دا مرئے اصیل دے (یعنے په اصل کښ آزاد دے- مرئے نه دے) نو په دے صورت کښ دا مرئے چه چا دَ بل نه په بیعه آخستے وی- دے که دَ هغه نه خپلے روپئ واپس کول غواړی نو په دغه وخت کښ حضور دَ دغه سړی چه دَ آزاد والی حکم پرے شوے دے- ضروری نه دے "من الخلاصة فی الفصل الحادی عشر فی الدعویٰ"

(دَ اجاره کر حضور ضروری دے)

مسئله:- یو سړی دعوه وکړه دَ یو دا سے کور یا دَ یو دا سے ښاروی چه بل په اجاره آخستے وو- تو دَ مدعی دَ شاهدانو شهادت نه قبلیږی- ترکومے پورے چه اجاره کرا و په اجاره ورکونکے حاضر نه وی دواړه- او دا رنګ که دعوه په یو دا سے شی وه- چه بل نه ګانړه وو- نو نو ضروری دے حضور دَ ګانړه چی- او دَ هغه چا چه په ګانړه ئے ورکړے -" من دعوے الخانیة "

مسئله:- او صاف[1] صاف وئیلی دی په هغے کښ (یعنے په شرح الاصل کښ) چه په بیعه آخستونکے خصم کوزی دَ اجاره کر لکه چه ذکر دی (په فوائد ظهیر الدین کتاب کښ- مثلاً زید دَ بکر نه یو ښاروے اجاره کړے وو- بیا بکر و لګیدَ دغه ښاروے ئے په خالد باندے خرڅ کړه- تو چه زید راغے او وے لیدَ چه ښاروے دَ خالد سره دے نو دے دَ خالد سره مقدمه کولے شی- اګر که بکر حاضر نه وی) خو دا حکم مخالف دے دَ هغے نه چه ذکر دے په (ذخیره کتاب او په فتاوی صغری) کښ (او هغه دا دے) چه چا شئے په بیعه آخستے وی- هغه خصم نه کوزی دَ اجاره کراو دَ ګانړه چی- (یعنے دَ هغه سره اجاره کراو ګانړه چی مقدمه نه شی کولے ترکومے پورے چه ورو ئے مالک ئے حاضر نه وی-) او کوم شے چه چا دَ بل نه په جایزه طریقه په بیعه آخستے وی او لا قبض کړے ئے نه وی- په دغه شی که مدعی دعوه کوله چه دا زما دے- او خرڅونکے حاضر نه وو- نو ایا دے دا مدعی دَ دغه آخستونکی سره مقدمه کولے شی- او دغه آخستونکے ئے خصم دے- او که نه نو دَ دے جواب ورکړے دے (شیخ الاسلام برهان الدین او دیرو عالمانو دَ ثمرقند چه دَ خرڅونکی حضور ضروری دے- او بعضو وئیلی دی چه ضروری نه دے

[1] دَ تعجب خبره ده چه په اصل عربی کتاب کښ په دے مسئله کښ بعض بعض نومونه دا سے بیزایه بیزایه پریخی شوی چه دَ هغے په وجه دَ اصل عبارت هیڅ ربط نه ظاهریږی- ما دَ جامع الفصولین کتاب په امداد سره صحه پریخی ځایونه پها توس کښی د ننه داوړی دی- او س په عبارت کښ هیڅ خدشه نشته- مطلب صاف دے- ۱۲ مترجم محمد ابراهیم عفی عنه ۱۲

نو په دے کښې دَ عالمانو اختلاف شه - اوکه دَ کانړے په څیز دعوه وکړه - نو ضروری دے حضور دَ کانړه چې - او دَ هغه چا چه په کانړه ئے ورکړے - دغه څیز او په دے حکم کښې دَ عالمانو اتفاق دے - دادنلئ (ذکردی په ذخیره کښې) او ورو ستو تړے دا بیان دے چه مدعی بے قبضے که په خاوند دَ قبضے باندے دعوه کوله دَ یو کور چه دا ما دَ فلانی غائب نه په بیعه آخستے دے په جائز آخستلو سره - او خاوند دَ قبضے دعوه کوله چه دا اَخما دے نو دے خصم دے - (یعنے دَ دَهٔ سره دغه مدعی مقدمه کولے شی - اګرکه هغه غائب حاضر نه وی -) دادنلئ فتوی ورکړیده دا شیخ الاسلام برهان الدین) نو دَ دے دا سے مثال شه - لکه چه په خاوند دَ قبضے ئے دعوه کړی وی چه تا ما باندے په بیعه قطعی سره دا خرڅ کړیدے (نو دَ غائب حضور نه ضرورت نشته) " فی اوائل الثالث من الفصولین "

مسئله :- زید دعوه کوله په بکر باندے دَ غصب (چه تا زما نه فلانے شے په زور آخستے دے) او حال دا دے چه دغه شے اوس دَ بکر په قبضه کښې نشته - نو دا دعوه به قاضی آوری او که دَ غصب خبره نه وه خوزید پرِ دَ ملکیت دعوه کوله (چه دغه فلانے شے زما ملکیت دے) او حال دا وو چه دغه شے دَ مدعا علیه په قبضه کښې نه وو - نو دا دعوه به قاضی نه آوری ځکه چه دَ ملکیت په دعوه کښې مدعا علیه هله خصم (مقابل) ګرځی - چه دَ دعوے په څیز ئے قبضه وی - او دَ غصب په دعوه کښې خصم خصم ګرځی په فعل سره (یعنے په مدعا علیه که دعوه څوک دَ یو کار کوی - چه تا زما نه فلانے شے په زور آخستے دے - نو په دے صورت کښې مدعا علیه ئے خصم شه - اګرکه دغه شے دَ مدعا علیه په قبضه کښې نه وی " من مجمع الفتاوی "

(دَ مرئی حضور ضروری دے)

مسئله :- یو مرئے وُسیده دَ خپل مالک سره څه مال ئے اوګټلو او دَ بل چا څخه ئے دَ امانت په طور کیخود - بیا دغه مال دَ امانت دار څخه هلاک شه - نو دَ مرئی مالک له جائز دَه چه دَ امانت دار نه ئے دا واخلی ځکه چه هغه خو دَ دَهٔ مال وو - دَ دَهٔ مرئی بے دَ دَهٔ دَ اجازے نه په طور دَ امانت ورکړے وو - نو دا سے شوه - لکه چه چا دَ بل نه په زور څه مال آخستے وی - او بیا ئے بل له امانةً ورکړے وی - او په خزانة کتاب کښې ذکردی - چه دَ یو مرئی مالک دعوه وکړه په بل باندے چه زما مرئی ستا څخه دومره مال امانت ایخلے دے - ذه ئے درنه غواړم نو دا دعوه صحیح نه ده - سره دَ دے نه چه دَ مرئی مال خو دَ مالک دے - نو وجه دا ده چه دغه مال امانت دارته دَ غائب مرئی دَ جانب نه رسیدلے دے - (یعنے هغه ورله په طور دَ امانته ورکړے)

نو دَ مالک دعوه به ئے قاضی نه آوری ـ" بزازیه فی الماذون "

مسئله :- یو مرئ زر روپئ دَ چا څخه امانت کیخودے ـ او غائب شه ـ یائے چاله زر روپئ قرض ورکړے ـ بیا غائب شه ـ یا دَ مرئ نه چا زر روپئ په زور واخستے ـ بیا مرئے غائب شه ـ بیا داغے مالک دَ دغه مرئ نو چا چه دَ مرئ نه په زور مال آخستے وو ـ په هغه یا په امانتدار یا په قرضداری ئے دعوه کوله ـ نوکه مرئے غائب وو ـ دا دعوه به قاضی نه آوری ـ برابره خبره که دعوه دَ روپو وه ـ اوکه دَ بل څه شی وه ـ او برابره خبره ده په چا چه دعوه کوی ـ هغه دَ دَ ملکیت اِقرار کوی اوکه نه کوی ـ دا حکم هله دے ـ چه مدعا علیه دَ دے خبرے دعوه کوی چه دغه مال ما ته دَ دے مدعی دَ مرئ دَ جهت نه دا رسیدلے دے ـ په دَ ئے شان سره چه مدعا علیه وائی چه ستا مال دے ـ ستا مرئ ستا نه آخستے وو ـ او ماله ئے په طور دَ امانت راکړیے ـ یا ماله ئے قرض راکړے دے ـ یا تو ئے ما په زور آخستے دے ـ او وجه دا ده چه مدعا علیه او مالک دَ مرئ دواړه په دے خبره متفق وی ـ چه دغه مال مدعا علیه ته رسیدلے دے دَ مرئ دَ لاسه او دَ هغه قبضه قبضه دَ امانت ده ـ نو مدعا علیه به نه شی مجبوره کیدے ـ په ورکولو دَ دغه مال باندے دغه مالک له ـ (تو کومے پورے چه مرئے حاضر نه وی) من البزازیة فیما یشترط حضوره فی الدعویٰ "

مسئله :- یو مرئ دَ خپل مالک مال یو سړی له ورکه (بیائے مالک راغے په دغه سړی ئے دعوه کوله ـ خپل مال ئے تِرِغوختلو) او مالک دَ دے خبرے اقرار کاوو چه دغه مال تاله ځما مرئ ورکړے ـ نو دے مالک له دَ اخستو حق نشته ـ اوکه دغه سړی هغه مال دے مالک له ورکه نو دا جائزه نه ده ـ (ځکه چه ورکول هغه چاله دی چه دَ چا نه ئے آخستے دی) اوکه مدعی (یعنے مالک) انکار کاوو ـ چه دغه مال تاله ځما مرئ نه دے درکړے ـ او دعوه ئے کوله چه دغه مال ځما دے ـ او شاهدان ئے ورړول په ملکیت خپل ـ تو بیا دغه مال آخستے شی ـ لیکن که خاوند دَ قبضے شاهدان ورړول په دے خبره چه دا مال ماله ستا مرئ راکړیدے ـ نو دعوه دَ مالک به دَ دَه نه دفعه شی " من الفصولین الفصل الثالث "

(دَ امانت ایخودونکی حضور ضروری دے)

او ذکر دی په اصل کښ چه مالک دَ مرئ له دَ دے خبرے حق نشته ـ چه کوم امانت مرئ دَ بل چا څخه ایخلے دے ـ هغه دَ امانتدار نه دا واخلی ـ برابره خبره ده چه مرئ نه ئے دَ تجارت اذن کړے وی اوکه نه (مالک دغه امانت نه شی اخستے) تر کومے پورے چه مرئے حاضر نه وی او دا خبره معلومه شوی نه وی چه دا مال مرئ په خپله گټلے دے ـ ځکه چه کیدے شی چه

دغه مال دَ بل چا وی۔ مرتی لهٔ پہ طور دَ امانت ورکړے وی۔ نو که دَ شهادت پہ ذریعه معلومه شوه۔ چه دغه مال دَ مرتی دے۔ نو بیا بہ اخستلے کیدے شی۔" من الخلاصۃ فی الفصل الرابع فی الودیعۃ۔"

مسئله:۔ دَ زید پہ قبضه کښې څه شئے دے۔ خالد پرے دعوه کوی۔ او شاهدان ورکړی چه دا شئے ماه دَ بکر نه پہ بیعه آخستے دے۔ او زید وائی چه دا ماته بکر چه غائب دے پہ طور دَ امانت ایښے دے۔ نو دَ امام صاحبؒ پہ نزد زید خصم نه ګرزی۔ (یعنے خالد ورسره جګړه نه شی کولے) ځکه چه زید او خالد دواړه دا خبره منی چه اصلی ملکیت دَ بکر دے۔ (او هغه حاضر نه دے) او که زید انکار کاوو چه دا شئے دَ بکر نه دے۔ نو بیا به پہ زید باندے هم حکم وشی۔ او پہ بکر باندے به چه غائب دے هم حکم وشی (دَ پاره دَ خالد) او که زید اقرار کاوو چه دا دَ بکر دے۔ او دَ خالد ئے تصدیق کاوو چه ته رښتیا وائے۔ تا دَ بکر نه پہ بیعه اخستے دے۔ نو قاضی بہ زید ته حکم نه کویٰ[1] چه ته ئے خالد ته وسپاره۔

زهٔ وایم که دَ اقرار کولو نه یعنے دَ زید قبضه عادیتی قبضه وی۔ نو ځائیګی چه واوُدیدے شی۔ دا دعوه دَ خالد چه پہ زید باندے ئے کوی۔ چه دا سے ماه دَ بکر نه چه غائب دے۔ او زید ورله اقرار کوی پہ بیعه اخستے دے۔ (ځائیګی چه دا دعوه واوریدلے شی) پہ نزد دَ هغه چا چه هغه عادیت اخستونکے خصم ګرزوی۔ پہ هغه صورت کښې چه دَ چا څخه یو شے پہ طور دَ عاریت پروت وی۔ او بل سړے پرے دعوه کوی۔ او شاهدان ورکړی چه دا زما دے۔ (نو دی وائی چه دَ چا څخه عاریۃً پروت دے دا سړے دَ مدعی خصم دے یعنے مقدمه ورسره کولے شی) تر دے پورے چه دی وائی چه چا عاریۃً اخستے دے۔ دا ضروری نه ده چه دے دِ سره دَ عاریت ورکوونکی حاضر وی۔ لکه چه مخکښی[2] به بیان شی۔ نو ځائیګی چه حکم وکړے شی پہ زید باندے۔ او هم پہ بکر باندے چه غائب دے۔ پہ شهادت دَ هغه شاهدانو چه شاهدی کوی پہ بیعه۔ ځکه چه خالد چه دَ کوم شی دعوه کوی پہ غائب باندے (یعنے پہ بکر چه دَ بیعے دعوه کوی) هغه سبب دے دَ هغه شی چه دعوه ئے کوی پہ حاضر باندے (یعنے پہ زید) او دے دعوه دَ ملک منفعت کوی (یعنے وائی چه دَ نفع آخستنو مالک زهٔ یم) نو چه دَ چا پہ لاس کښې چه دغه شے دے۔ یعنے زید هغه خصم ګرزیدے دَ طرفه دَ هغه غائب نه (چه بکر دے) پہ خلاف دَ اجارے نه۔ (یعنے که دغه شے زید دَ بکر نه پہ اجاره اخستے وی۔ او خالد پرے دا ئټ دَ بیعے دعوه کوی۔ نو دَ دے حکم جدا دے) ځکه چه پہ دے صورت کښې پہ

[1] دَ پاره دَ دے چه لازم نه شی حکم پہ غائب باندے پہ اقرار دَ زید سره۔ ۱۲ مترجم
[2] یعنے پہ فصولین کتاب کښې۔ ۱۲۔ مترجم

زید دا ضروری نه دہ - چه دغه شئے خالد ته او سپاری - آو که مالک یعنی بکر حاضر وی - بلکه یو روایت خو دَ امام صاحبؒ نه دا دے چه چا دغه شئے په اجاره اخستے دَ هغه دا حق شته دے چه دغه بیعه ماته کړی (کوم چه په دے صورت کښ بکر دَ خالد سره کړے دہ) لیکن صحیح روایت دا دے چه دا بیعه موقوفه دہ - نو (اجاره او عاریت) دواړه یو شان نه شو - (دَ اجارے په صورت کښ دَ خالد دَ دعوے دَ پاره دَ بکر حضور ضروری دے - او دَ عاریت په صورت کښ ضروری نه دے -) لیکن که خالد دَ قیمةً اخستلو دعوه کوله پخوا دَ اجارے نه مثلاً خالد وئیل چه دا ما په بیعه آخستے دے - په داسے حال کښ چه زید لا دَ بکر نه په اجاره نه وو آخستے) نو بیا خائیگی چه دا دعوه په زید باندے واوریدے شی -

(حضور دَ خرڅونکی او دَ اخستونکی)

مسئله :- یو سړی دَ بل نه څه شئے په بیعه واخست او وے وئیل چه دَ دریو ورزو پکښ ماله خیار دے - بیا راغے بل مستحق دعوه ئے کوله چه دا شئے څما دے - نو امام صاحبؒ وائی چه په دے وخت کښ ضروری دے حاضروالے دَ هغه چا چه دغه شئے ئے خرڅ کړے او دَ هغه چا چه په بیعه ئے آخستے - او که چا دَ بل نه څه شئے په بیعه باطله سره واخست - (مثلاً دَ مالک دَ مرئی نه ئے داسے مرئے په بیعه واخست چه هغه تختیدلے وو - بیا دغه مرئے راغے - او س پرے بل مستحق دعوه کوی - او شاهدان وُدروی چه دا څما دے) نو چا چه په بیعه باطله آخستے دے - هغه سره په دا مدعی مقدمه نه شی کولے - (بلکه دَ مدعی خصم خرڅونکے دے) "من الفصولین فیمن یصلح خصماً"

مسئله :- زید څوک وکیل کړے وو - په دے خبره چه نه څما ونځه فلانی ځائے ته او دسوه - بیا ونځے شاهدان وُدرول په دے خبره چه زه زید آزاده کړے یم - نو دا شاهدی قبوله دہ - خو په دے بابت کښ چه وکیل به ئے نه شی بوولے - او دَ آزادئ په بابت کښ قبوله نه دہ - تر کومے پورے چه حاضر نه وی زید چه غائب دے" لابن ملک ومجمع البحرین فیمن یکون ولایکون خصماً"

مسئله :- زید وکیل دَ بکر دَ خدمت دَ پاره ئے عمر مقرر که - او وے وئیل چه ستا په مال کښ که عمر څه نقصان راوست نوزهٔ ئے ضامن یم - نو او س که عمر دَ بکر نه څه روپئ پټے کړے - او دَ هغه نه و تختیدو نو څه حکم دے - آیا دَ بکر حق شته چه دَ دغه روپو وصولی دَ زید نه وکړی - جواب ئے دا دے چه وو -

مسئله :- یو سړی په بل باندے دَ څه شی دعوه وکړه - نو مدعاعلیه اراده وکړه

بل ځائے ته دَسفر کولو۔ پس مدعی ترے وکیل او غوخت۔ نو هغه په دے مقدمه کښ دَ خپل طرفه څوک وکیل که۔ بیا مدعاعلیه اراده وکړه چه زهٔ خپل وکیل دَ وکالت نه دُ باسم نو دے دا نه شي کولے ترکومے پورے چه مدعی حاضر نه وی۔ او که مدعی غائب وو۔ او مدعاعلیه دغه وکیل دَ خپل وکالت نه معزوله که۔ نو نه معزوله کیږی۔ ځکه چه دَ دے وکالت سره پورے حق (یعنے حق دَ مدعی) متعلق شوے دے ؂ من صرۃ الفتاوٰی فی الوکالۃ ؒ

(دَ چا دَ حیا نیه چه دے بیا وشوے دے۔ دَ هغه حضود)

مسئله:۔ زید دَ بکر په وینا سره دَ بکر دَ جانب نه خالد ته ضامن شه۔ چه سنا څه حساب بکر ته کیږی دَ هغے زهٔ ضامن یم۔ او بکر غائب شه۔ نو خالد دعوه کوله۔ او شاهدان ئے وُدرول په زور و رپور (چه ځما بکر ته پورے دی۔ او ته ئے ضامن ئے نو ستا نه ئے غواړم) نو دا شاهدی قبوله ده۔ ترکومه پورے چه بکر حاضر نه وی۔ او که زید دَ بکر وینا سره دا ضمانت نه وو کړے بلکه په خپله خوشئ ئے ضامن شوے وو۔ نو بیا په دَ صورت کښ خاص په زید باندے به حکم وکړے شي ؂ من بینۃ الملتقی فی الکفالۃ ؒ

(دَ قیمت لګونکو بیان)

مسئله:۔ (که دَ اخستونکی او دَ خرڅونکی اختلاف وو۔ دَ دعوے دَ څیز په قیمت او ضرورت پیښ شه دَ چا ته تحقیق کولو ته۔ چه دَ دے قیمت به څومره وی۔ نو) نو قیمت لګونکی ضروری ده چه دوه تنه وی۔ دواړه به دَ شاهدئ په لفظ سره خبر ورکوی دَ خرڅونکی او دَ اخستونکی په حضور کښ۔ او قیمت لګونکی په هر کسب کښ هغه کسان کیدے شي چه پوهه وی په دغه کسب کښ ؂ بزازیه ؒ

مسئله:۔ یو مرئی شاهدان وُدرول په خپل مالک چه تا وئیلی دی که فلانی خپل مرئے آزاد کړو نو ځما دا مرئے آزاد دے۔ او فلانی خپل مرئے آزاد کړیدے۔ (نو زهٔ هم آزاد شوم) نو دا شاهدی قبوله نه ده۔ او که دَ مرئی دَ آزادولو شرط کورته ننوتل وو۔ (مثلاً مالک ئے وئیلی وُو چه فلانے که کورته داخل شه نو ته آزاد ئے۔ بیا مرئی شاهدان ودرول په دے خبره چه دا شرط موجود شویدے۔ نو زهٔ آزاد شوے یم۔) نو دا شاهدی قبوله ده او ځمونږ دَ اماما نو پرے اتفاق دے۔ او دا رنګ حکم دے دَ ثابتولو دَ هر داسے شرط چه په هغے کښ دَ بل نقصان وی۔ (په دے قسم شرط شاهدی قبوله نه ده)

مسئله:۔ چا په بیعه آخستے وو یو مرئے۔ بیا ثابته شوه چه دا مرئے نه وو۔ بلکه آزاد سړے وو۔ او قاضی ورله حکم وکه چه دے اصیل دے۔ نو اوس چه اخستونکے دَ خرڅونکی نه

خپلے روپئ واپس کول غواړی۔ په دے وخت کښې دَ دغه خرڅ کړی شوی سړی حضور نه دے ضروری ۔ "خلاصة الفتاوی فی الدعوی"

(حضور دَ حواله ورکونکی او دَ هغه چا چه حواله پرے کیږی)

مسئله:۔ دَ زید یکر ته روپئ پورے دی مثلاً نو بکر غواړی چه دَ زید دَ قرضے حواله په خالد وکړی یعنے دَ خالد لاس ورکول غواړی چه دے ترے خلاص شی۔ نو دَ دے حوالے صحیح کیدلو دَ پاره دَ خالد حاضر ولے ضروری نه دے[1]۔ که خالد ئے بیا وکه۔ او خالد غائب وو۔ بیا خالد ورروستو خبر شو (او اجازه ئے وکړه) نو هم دا حواله صحیح کیګی۔ او دارنګ دَ حواله ورکونکی حاضر والے هم ضروری نه دے۔ که خالد زید ته او وئیل چه په بکرچه غائب دے ستا زر روپئ پورے دی دَ هغه حواله په ما واخله۔ او طالب دَ قرضے راضی شه په دے خبره او اجازت ئے وکه۔ نو حواله صحیح شوه۔ دَ دے نه ورروستو بیا رجوع نه شی کولے ۔ "من لسان الحکام فی باب الحوالة"

مسئله:۔ چا چه په نسب سره اقرار وُکه سوا دَ پلار والی او دَ مور والی نه لکه ورور شه او تره شه۔ (مثلاً زید دَ بکر په حق کښې اقرار وکه چه دے ځما ورور دے۔ یا ئے دا اقرار وکه چه دے ځما تره دے۔ نو دا[2] اقرار ئے دَ نسب په بابت کښې معتبر نه دے۔ ځکه چه په دے کښې دَ نسب کیخودل دی په بل باندے۔ (یعنے چه دے وائی بکر ځما ورور دے نو په خپل پلار ئے نسب کیخود چه بکر ځما دَ پلار ځوئ دے۔ او چه وائی دے زما تره دے۔ نو په خپل نیکه ئے نسب اړه وی۔ چه دے ځما دَ نیکه ځوئ دے۔ نو خالی دا اقرار دَ نسب په بابت کښې نه تبلیګی) او دَ صدر الشریعة په بعض حاشیو کښې راوړی دی چه دَ چا دَ پاره چه اقرار شوے دے که هغه دَ اقرار کونکی مړئے وی (مثلاً سړی دَ خپل مړئی په بابت کښې او وئیل چه دے زما ځوئ دے یا زما پلار دے) نو دَ هغه نسب به خالی په دے اقرار سره ثابت شی او دَ مړئی تصدیق ته ضرورت نشته۔ او که مړئے پردے وی نو بیا چه دَ چا مړئے دے دَ هغه تصدیق ته ضرورت شته دے۔ " نقل الفتاوی فی الاقرار"

---

[1] په بدائع صنائع او بحرالرائق کښې وئیلی دی چه په چا باندے حواله ورکړے کیګی دَ هغه حاضر والے په مجلس کښې حوالے کښې ضروری دے په نزد دَ طرفینو۔ او دَ دے دواړو قول صحیح دے۔ دارنګ مذکور دی په شپږم جلد دَ بدائع او دَ بحر کښې۔ او په دوئیم جلد دَ مجمع الانهر کښې دَ بزازیه نه دا خبره نقل ده۔ چه په غائب سړی که حواله ورکړے شوه بیا چه هغه ته معلومه شوه۔ او قبوله ئے کړه۔ نو دا حواله صحیح کیږی ۱۲۔ مترجم

[2] او که زید مړ شه او بل وارث ئے نه وو۔ نو بکر به ئے دَ میراث مستحق وی۔ دارنګ وئیلی دی په هدایه کښې۔ او دا اقرار دَ نفقے وغیره په بابت کښې هم قبول دے۔ لکه چه راوړی دی شامی ۔ ۱۲ ۔ مترجم ح

مسئله :- یوه مقدمه[1] وه دَ قرضے یا دَ زمکے یا دَ نسب یا دَ نکاح یا دَ طلاق وغیره خو
دَ سزا گانو او دَ قصاص نه وه - په دے مقدمه کښ دَ قاضی په محکمه کښ شاهدانو دَ پاره دَ یو
داسے سړی یا په یو داسے سړی شاهدی وکړه چه هغه حاضر نه دے بلکه په بل کلی کښ یا
په بل ښهر یا په بله علاقه کښ دے - غرض دا چه دَ دے قاضی په تعلق کښ نه دے - دَ بل
قاضی په تعلق کښ دے - نو دا قاضی به په دے شهادت سره په دغه غائب سړی باندے حکم
نه کوی - بلکه دے په هغه بل قاضی ته دَ خپل جانب نه یو خط لیکی - په خط کښ به دَ مدعی
او دَ مدعا علیه او دَ دعوے او دَ شهادت او دَ شاهدانو نومونه په تفصیل سره ذکر کوی -
بیا به پرے دوه تنه وړونکی شاهدان کړی - یعنی هغوته به ئے واوروی - یا به ئے په مضمون
دَ کاغذ پوهه کړی - او دَ دے وړونکو شاهدانو نومونه به هم په کاغذ کښ ولیکی - تاریخ به پرهم
دَ لیکلو واچوی - بیا پرے دا قاضی دَ دی په محکمه کښ خپل مهر ولګوی - او دے ته به ئے
وسپاری چه دا خط فلانی قاضی صاحب ته ورسوئے) او کوم وخت چه کاغذ هغه بل
قاضی ته ورسی نو هغه به ئے صرف دَ مهر په لیدو سره نه آخلی - هله به ئے اخلی چه حاضر شی
خصم (یعنی دَ مقدمے هغه خاوند چه هلته دے) او هله چه دوه تنه سړی یا یو سړے او دوه
ښځے شاهدی وکړی - په دے خبره چه دا دَ فلانی قاضی خط دے - موږ ته ئے آورولے دے - او
مهر ئے پرے لګولے دے - او بیا ئے موږ ته په خپله محکمه دَ قضا کښ سپارلے دے " ملتقی
الابحر فی کتاب القضاء "

مسئله :- یو سړی یوه وینځه خپلے ښځے ته او بخښله - او حال دا دو چه دغه وینځه په دغه
کور کښ موجوده وه - خو دَ ښځے په حضور کښ نه وه - نو ښځے او وئیل چه ما قبوله کړه
نو دا صحیح نه ده - تر کومے پورے چه دَ هغے په حضور کښ نه وی " کذا فی المنتقی والبزازیه
والهندیه فی الهبة "

(دَ وکیل دَ حق بیان)

مسئله :- که چا دعوه کوله چه زه دَ زید وکیل کړے یم په طلبولو دَ هر هغه مطلب
یا هر هغه حق سره چه دَ زید دے په بکر باندے - نو ضروری دے دَ ده دَ وکالت په اثبات
کښ حاضروالے دَ بکر (یعنی دَ بکر په حضور کښ به په خپله دعوه شاهدان ور دوی
پس که دَ بکر په حضور کښ ئے خپل وکیل والے ثابت کړ - بیا ئے یو بل خصم راوست په هغه

[1] په قوس یعنی په بریکټ کښ دننه چه کوم بیان دے دا ما دَ ملتقی الابحر دَ زائد عبارت
ترجمه کړے ده - دَ پاره دَ دے چه دَ اصل کتاب دَ عبارت مطلب پرے واضح شی - ۱۲ مترجم

ئے (دَزیں) دَ څه حق دعوه کوله - نو په خپل وکالت به بیا شاهدان ودروی " من وکالة المنح کذا فی الدرر "

مسئله :- مونږ دَ دے اجازه کوو - یعنے دَ دے خبرے چه یو وکیل یوازے جګړه وکړی - (او دا تفسیر مونږ دَ دے وجه نه وکه) چه یو وکیل که بے دَ هغه بل دَ رائے نه یوازے خبره کوله - نو بیا دَ عالمانو اتفاق دے چه دا جائز نه ده (مثلاً زید دوه تنه وکیلان کړی وَو چه تا سو فلانئے معامله یا کار وکړئ - اوکه دَ جګړے او دَ مقدمے ضرورت پیښیدلو نو هم وکړئ - نو که اوس یو وکیل په خپله رائے کار کوو - او دَ هغه بل رائی نه وه نو دا جائز نه ده - اوکه رائے دَ دواړو وه نو بیا جائزه ده -) او (باتے شوه دا خبره) چه کوم وخت یو وکیل دَ مدعا علیه سره جګړه کوی نو دَ دغه مقدمے په وخت کښ دَ هغه بل وکیل حضور ضروری دے او که نه - نو په دے بابت کښ اکثر عالمان وائی چه نه[1] " کذا فی شرح المجمع لابن ملک "

(دَ مجبور حضور ضروری دے)

مسئله :- په چا چه قاضی دَ څه وجه نه دَ تجارت کولو یا دَ خپل تصرف کولو بندیز کړی (او دے نه ففهم کښ حجروائی) دَ دے دَ صحیح والی دَ پاره دَ دغه منع کیدا ونکی سړی حضور ضروری نه دے - (مثلاً یو سړے بے وقوفه دے یا بد چلنه او بد خرڅه دے - ولی ئے غواړی چه قاضی پرے ممانعت کیدی چه تصرف نه کوی - نو دَ قاضی دَ دے حکم دَ صحیح کیدلو دَ پاره دَ هغه حضور ضروری نه دے -) " من الکتاب المزبور نقلاً عن الاشباه "

(دَ هلک حضور ضروری نه دے)

مسئله :- رشید الدین صاحب رح په خپله فتوی کښ وئیلی دی چه کوم وخت قاضی دَ یو وړوکی دَ پاره څوک وصی مقرر کوی - په دغه وخت کښ دَ دغه وړوکی حاضرولے ضروری نه دے - بلکه دا خبره ضروری ده چه قاضی ته دَ دغه وړوکی موجودوالے معلوم وی - چه په ښتو شته - او دغه وړوکے دِ دَ قاضی په ولایت او تصرف کښ وی - وئیلی ئے دی چه دا حکم چه بیان شه - په دے خبره دلیل دے چه دَ وړوکی حضور ضروری نه دے - په وخت دَ دعوے او په وخت دَ حکم دَ قاضی کښ - لیکن غوره قول دا دے چه ضروری دے حضور دَ وړوکی په وخت دَ دعوے کښ - او په محیط کتاب او په دَ ذخیره کتاب کښ ذکر دی چه که چا دَ ترضے دعوه کوله په مړی باندے - او دَ مړی میراث خواره واړه وکړ - نو دَ تولو حاضرولے ضروری

[1] حکم چه اتفاق خو په دائی کښ بکار دے - دا ضروری نه ده چه دَ جګړے په وخت کښ دِ دوا یه موجود وی دا دلیل ذکر دی په هدایه کښ - ۱۲ مترجم محمد ابراهیم عفی عنه -

نه دے۔ بلکه کافی کیږی حضور دَ یو وړوکی۔

مسئله:۔ کوم نا بالغه هلک نه چه اجازت دَ بیعے کولو کړے شوے وی۔ هغه که په چا باندِ څه مال دعوه کوله نو دَ هغه دَ وصی حاضرواﺉ ضروری دے۔ او دارنګ که مرئ په چا باندِ دَ څه مال دعوه کوله نو دَ هغه دَ مالک حاضرواﺉ ضروری دے۔ "من دعوئ مشتمل الاحکام"

(دَ وړوکی حضور سره دَ واکداره)

مسئله:۔ که چا یو داسے وړوکی باندے چه هغه دَ تصرف کولو نه منعه وو۔ دَ څهٔ مال دعوه کوله په هلاکولو یا په غصب سره (مثلاً ووئیل ئے چه دے وړوکی څما مال هلاک کړے دے۔ یا څما نه ئے په زور آخستے دے) نو که مدعی ووئیل چه څما شاهدان حاضر وی۔ نو دَ مدعی دعوه به واوریدے شی۔ او دَ دغه وړوکی حضور ضروری دے۔ ځکه چه وړوکے په خپل فعل نیولے کیږی (او په اقرار نه نیولے کیږی) او شاهدان دَ شاهدئ کولو په وخت کښی محتاج دی۔ هغه ته دَ اشارے کولو۔ (یعنے دِ ی په هغه ته اشاره کوی چه دے هلک داکار کړیدے۔ نو ضروری شه حضور دَ هلک) لیکن دَ هلک سره به ئے پلار یا وصی هم حاضریږی۔ نو که په هلک دَ څه مال ثبوت وکړے شه۔ دَ هلک دَ مال نه به ئے پلار یا وصی ادا کړی۔

(دَ وړوکی حضور ضروری دے)

او که پلار او وصی ئے نه وو۔ او مدعی قاضی ته درخواست وکړ چه ته ورله وصی وټاکه۔ نو قاضی به دا خبره منظوره وی۔ لیکن دَ وصی مقرر کولو په وخت کښ دَ دغه هلک حضور ضروری دے۔ او بعض دروستنی عالمانو وئیلی دی چه دَ وړوکی حاضرواﺉ دَ دعوے په وخت کښی ضروری دے۔ برابره خبره ده که وړوکے مدعی وی او که مدعا علیه۔ او صحیح خبره داده چه دَ دعوے په وخت کښ ضروری نه دے حاضرواﺉ دَ وړو او دَ نی رودونکو۔ "هکذا ذکر فی المحیط من مشتمل الاحکام فی الدعوئ"

مسئله:۔ چا دَ بل نه څه شے په بیعه آخستے وو۔ او س ئے پکښ او منډ لو څه عیب نو څوک سړے ئے وکیل که چه ته دا شے خرڅونکی ته دَ دے عیب په سبب واپس کړه۔ او دے په خپله چرته لاړ شه۔ نو چه وکیل دَ خرڅونکی مخے ته ووړ هغه دعوه کوله چه آخستونکے په دے عیب سره راضی شوے وو۔ نو او س وکیل ئے ورته نه شی واپس کولے۔ او توقف به کوی تر دے پورے چه حاضر شی هغه سړے چه دا شے ئے آخستے وو په بیعه (یعنے هغه سړے چه دا وکیل ئے وکیل کړے دے)۔ "من مجموعة قدوری آفندی فی الوکالة یا لخصومة"

(دَ متولی حضور ضروری دے۔)

مسئله :- دَ وقف یو کور یا زمکه دَ یو سړی په قبضه کښې وه په څه عوض سره (مثلاً چا دَ وقف کور آخستے وو په اجاره - یا زمکه ئے آخستے وه په مزارعت) بل سړی پرے دعوه دَ مستحق والی کوله په یو جهت سره (مثلاً وئیل ئے چه دَ دے مالک زهٔ یم ما په بیعه آخستے) نو په دے وخت کښې ضروری دے حضور دَ متولی یا دَ متولی دَ وکیل - او که خاوند دَ قبضے دَ دے مدعی دَ پاره اقرار وُکه - یا دے مدعی په خپله دعوه شاهدان وُدرول او قاضی ورله حکم وُکه او حال دا وو چه متولی یا وکیل حاضر نه وو - نو دَ قاضی دا حکم نافذ (چلیدونکے) نه دے - او که قاضی ورله دَ دے حکم لیکلے سند ورکه نو په هغے به عمل نه کیږی - په دے باندِ دَ روم دَ عالمانو فتوی ده - ختم شه دا مضمون -

مسئله :- که (چا دَ بل نه په بیعه یو مرئے آخستے وُ بیا دے) دے آخستونکی دا خبره ثابته کړه - چه دے څما نه تښتیدلے وو - او حال دا وُ چه دغه مرئے لوئ وو - یا ورکے وو خو هوښیار وو - نو دا آخستونکے دغه مرئے خپل خرڅونکی ته دَ دے تښتیدنے دَ عیب په سبب واپس کولے شی - او خپلے روپئے ترے بیرته راګرزولے شی - خو دا حکم هله دے - چه مرئے پس دَ تښتیدلو نه واپس راغلے وی - او دغه نیولے وی - او که نه وی نو دے دَ خرڅونکی سره جګړه نه شی کولے - ترکومے پورے چه دغه مرئے حاضر نه شی - " من صرة الفتاوی فی البیع العیب "

(دَ خاوند دَ قرضے حضور ضروری نه دے)

مسئله :- (یو قرضدار دَ قرضے په بابت کښې قید ته اچولے شوے وو - ادس) شاهدان(۱) شاهدی کوی دَ هغه په غریب والی باندے - نو دَ دے شهادت دَ آوریدو دَ پاره دا خبره ضروری نه ده - چه خاوند دَ قرضے دِ حاضر وی - لیکن که خاوند دَ قرضے یا دَ هغه وکیل حاضر وو - نو قاضی به ئے دَ هغه په مخکښې دَ قید نه راآزاده وی - او که حاضر نه وو نو دَ چا په ضمانت به ئے راآزاده وی " من انفع الوسائل "

مسئله :- که شاهدانو شاهدی کوله چه فلانے سړے غریب او مفلس دے نو په دے شهادت کښې دَ دغه فلانی سړی حاضروالے ضروری نه دے " بزازیه "

(په چا چه بندیز کیګی دَ هغه حضور ضروری نه دے)

مسئله :- (مثلاً زید بے وقوفه او بوله سړے دے - واکه ادعه دا غواړی چه زید دَ تصرف نه مجبوره کړے شی - یعنے بندیز پرے کیخودے شی - نو دَ بندیز دَ پاره دَ قاضی حکم ضروری دے او که (قاضی په زید باندے بندیز کیخود) بیا زید هوښیار او ښه شه - نو دغه بندیز به ترے نه پورته

کیږی۔ ترکومے پورے چہ قاضی حُکم وُنہ کړی۔ خو پہ دے کښں دَ امام محمّد صاحب رح اختلاف دے۔ او کوم وخت چہ قاضی پہ زید باندی بندیز کړی۔ پہ دغہ وخت کښں دَ قاضی حضور تہ حاضروالے دَ زید ضروری نہ دے " من الاشباہ "

مسئلہ:۔ (فرض کړہ چہ زید بے وقوف یا ډیر غافل سړے دے۔ یا قرضدارے دے۔ دَ زید واکں اروکی دا غواړی چہ پہ دہ ممانعت کیخودلے شی چہ دَ بیع او دَ تصرف نہ منعہ شی۔ یا خاوند دَ قرضے غواړی چہ دَ زید نہ مال منعہ کړے شی۔ او دَ قرضے دَ وصولئ دَ پارہ خرڅ کړے شی مثلاً نو) پہ داچہ قاضی دَ ممانعت حکم کیخودل غواړی۔ دَ ھغہ حاضروالے ضروری نہ دے۔ پہ ھغہ ممانعت کیخودل صحیح دی۔ کہ حاضروی او کہ غائب۔ لیکن دومرہ خبرہ دہ چہ دغہ مجبور (پہ چا چہ ممانعت ایخے شوے) کہ غائب وو۔ نو هله بہ مجبور کیږی چہ خبر ورتہ دَ ممانعت اورسی۔ او عالم شی پہ دے خبرہ چہ زہٗ فلانی قاضی مجبور کړے یم (نو کہ دَ خبرے نہ مخکښں نے څہ معاملہ دَ بیعے وغیرہ وکړہ ھغہ صحیح دہ)

مسئلہ:۔ پہ یو سړی باندے قرضہ وہ۔ ثابتہ شوے وہ۔ دَ دہ پہ اقرار سرهٔ۔ یا پرے دَ قاضی پہ مخکښں شاھدان وړاندی لی وُو۔ نو دَ قاضی دَ حکم کولو نہ مخکښں مخکښں دا قرضدار غائب شہ۔ دَ قاضی حضور تہ نہ حاضریدلو۔ نو امام ابو یوسف صاحب رح وائی چہ قاضی بہ دَ دغہ قرضداری دَ طرفہ څوک وکیل وړاندے دی۔ او پہ ھغہ بہ دَ مال حکم وکړی۔ کہ مدعی دا تقاضا کولہ۔ پس کہ مدعی دا غوښتلہ چہ دغہ قرضدارے مجبور کړے شی (خپل مال ترے منعہ کړے شی) نو دَ امام صاحب رح او دَ امام محمّد صاحب رح قول دا دے چہ قاضی بہ حکم نہ کوی او ممانعت بہ پرے نہ کړی۔ ترکومے پورے چہ دغہ غائب قرضدارے نہ وی حاضر شوے۔ چہ حاضر شی نو هله بہ پرے دَ مال حکم کوی۔ خو امام محمّد صاحب رح وائی۔ چہ پس دَ حکم نہ بہ پرے ممانعت کړی۔ " قاضیخان فی الحجر "

مسئلہ:۔ مثلاً زید دَ بکر نہ څہ شے پہ طور دَ عاریت آخستے دے۔ او س پرے خالد دعوہ کوی چہ دا خما دے۔ او شاھدان پرے وُړاندی نو ضروری دے حضور دَ زید او

لہ خو دا دَ صاحبینو رح پہ قول بنا دے۔ او دَ امام صاحب رح پہ نزد پہ آزاد عاقل بالغ سړی باندے حجر یعنے بندیز کیخودل جائز نہ دی۔ لیکن کہ ضرر نے عام وُو۔ نو بیا جائز دی۔ او دا سے کسان درے۳ دی۔ یو جاھل طبیب چہ خلقو لہ مهلک دارو ورکوی او خیال نے دا وی چہ دا مفید دی۔

دویم۲ جاھل مفتی چہ غلط فتوے ورکوی۔ یا خلقو تہ چیلے ښئی۔ دریم ھغہ مفلس او فریب سړے دے چہ پہ کرایہ دَ خلقو نہ شیز ونہ آخلی او بیا کرایہ نہ شی ورکولے۔ تو حاکم لرہ دَ دے دریو کسانو حجر جائز دے۔ دا رنګ ذکر دی پہ قاضیخان کښں۔ ۱۲ مترجم

لہ او دَ امام صاحب رح پہ نزد دَ قرضے پہ باب کښں پہ چا ممانعت نہ شی کیخودلے۔ ۱۲ مترجم رح

دَ بکر۔ او کہ دغه شئے بکر زید له په طور دَ امانت ورکړے وو۔ نو اے په دے صورت کښ دَ زید او دَ بکر دَ دواړو حضور ضروری دے۔ او کہ نه۔ نو په دے کښ هم اختلاف دے۔

مسئله:۔ دَ زمکو په دعوو کښ دَ مزارعانو (چاچه زمکه په مزارعت یعنے په برخه خوړے اخستے) حاضریدل ضروری دی۔ او کہ نه۔ په دے مسئله کښ هم دَ عالمانو اختلاف دے بعضو ضروری ګڼلی دی۔ او بعضو نه۔ او بعض وائی چه کہ تخم دَ مزارعانو وو۔ نو حضورئے ضروری دے۔ ځکه چه دِی زمکے په اجاره آخستے دی۔ او کہ تخم دَ خاوندانو وو نو بیا دَ مزارعانو حاضروالے ضروری نه دے۔ ځکه چه دی دَ زمکو دَ خاوندانو مزدوران دی۔

هاں که چا په بل باندے دعوه کوله چه تازمانه فلانئ زمکه په زور نیولے ده۔ او حال داوو۔ چه دغه زمکه اوس دَ مزارع په لاس کښ وه۔ نو دَ مزارع حضور په دے دعوه کښ ضروری نه دے۔ "من فصول العمادیه"

مسئله:۔ ددیم کړی ثقه سړی لره معزول کول جائز نه دی۔ په باب دَ کانړے کښ۔ اګر که هغه سړے حاضروی چا ته چه کانړه دے۔ ترکومے پورے چه هغه راضی نه وی ریعنے زید لګیدلے وو۔ دَ بکر نه ئے څه شئے کانړه اېخے وو۔ مثلاً او دی دَ کانړے په وخت کښ ویلی وو۔ چه دا شئے به دَ خالد ځمه دی۔ او که په میعاد باندے زید ته خپله قرضه وصوله نه شوه۔ نو چو خالد به ئے خرڅ کړی۔ او دَ زید قرضه به ادا کړی۔ نو اوس که بکر خالد لره دَ وکالت نه معزوله کول غواړی۔ او دَ خرڅولو نه ئے منعه کول غواړی نو نه شی کولے۔ اګر که زید حاضروی۔ لیکن که زید پرے راضی شه۔ نو بیا خیر دے۔ "مشتمل الاحکام په مسئلو دَ وکالت کښ"

قاضی عبدالمطلب
لتلم خود
شیری دوساله
26/9/66

خلیفه جان نشرال دبلیشیر
ضلع مردان
سکنه پیر شاه

چاله قسم ورکول شته او چاله نه[1]

ردابکاره خبره ده - چه دَ امانت ارښخه يعنے دَ هغه چا څخه چه څه شے ورته په طوردَ امانت ايښلے شوے وو - که امانت بے اختیاره غلا کړے شه - ضايعه شه - ورک شه - نو دے ئے ضامن نه دے - په امانت کښ ضمان نشته - لکن که امانت دار مړ شه او ميراث خوروته ئے دَدے امانت پته نه وه - او امانت دارهم دَدے امانت حال نه وو بيان کړے چه فلانے شے يا دومره روپئ څما څخه امانت دی - نو په دے صورت کښ ضمانت شته - يعنے که دَ امانت ایښودونکی امانت ثابت شه - اودَ شی پته نه وه - نو دے به ئے دَ امانت داردَ ميراثے نه آخلی - په شان دَ نورو قرض خواهانو - خو دومره خبره ده چه دَدَه دَ امانت مثل که په بازار کښ موندے کيدے شه - نو مثل به ورته کیږی - او که نه وی نو قيمت - او پوره بيان داد ے - چه امانتدار که مړ شه نو مونږ به ګورو - که ده په خپل مرض موت کښ دَدے امانت وصيت کړے وی پس دَ هغے نه مړ شوے وی - بيا دَ غه امانت دَ شی څه پته نه لګی چه څه شه - نودَ امانت دار په ميراثے کښ ئے ضمان نشته - او که وصيت ئے نه وی کړے - نو بيا دوه خبرے دی - يا به ئے ميراث خوروته دَدے امانت علم ئ يا نه - که علم ورته وو - او خاوند دَ امانت هم ويئل چه دی ته معلوم ده - چه ما ورله امانت ورکړے وو - او چرته پته ئے اونه لګی نوهم په ميراثے کښ ئے ضمان نشته - او که ميراث خوروته ئے علم نه وودَ امانتدار دَ مرګ په وخت کښ - نو يا به دَ امانت دغه شے موجودوی يا نه - که موجود وو - او ثابته شوه په شهادت يا دَ ميراث خورو په اقرار سره چه دا امانت دے نو خاوند ئے امانت به ئے واخلی - او که نه وو موجود نو بيا به قرض ورکړی - دَ امانت داردَ ميراثے نه به ئے وصولوی - او که دَ امانت څه حصه موجوده وه - او څه نه وه - تو که امانتداردَ امانت حال نه وو خوولے چه دا څما څخه امانت دے - نو خاوند دَ امانت به موجوده حصه واخلی او باقی به وصولوی په ميراث کښ - او که امانت داربيان دَحال کړے وو - نو بيا به دَ هغے موجوده حصه آخلی - دارنګ ذکر دی په فتاوی تمرتاشی کښ - او س دا ور[...]

---

[1] دَدے ځائے نه دَ کتاب دَ آخره پورے دَ اصل کتاب عبادت دېر مختصر وو - او ځينے مسئلے ئے پريښے وے نو دَدے وجے نه ما په دے حصه کښ لږ دَ تفصيل نه کار آخستے دے - او په توس (بريکټ) کښ دننه مې وضاحت کړے دے - ۱۲ مترجم

بیان دَ اصل کتاب)

(په امانت کښې ضمان راتلل)

وئیلې دی دَ المنتقی کښې چه په امانتونو کښې ضمان راځی - چه امانت دار مړ شی - او ئې اَلَّا
ئې پریکړی - (یعنې دا بیان ونکړی چه فلانے شے ځما څخه په طور دَ امانت دے -) لکه شریک
شه - او مفاوضه کونکے - (یعنې یو سړی دَ بل سړی په مال کښې دَ مفاوضې یا دَ عنان شراکت کړے
وو - مال دَ هٔ په لاس کښې وو - هغه مړ شه - او خبره ئې مجهوله پریښوده - دا خبره ئې ښکاره
نکړه چه ځما سره دَ فلانی شراکت دے - نو دَ دے ژوندی حصه دَ هغه سړی په طور دَ امانت
وه - خو ضمان پکښې راځی - یعنې دے به ئې دَ هغه دَ میراثے نه وصولوی - نو چه سړے مړ شی -
او پردی امانتونه مجهول پریکړی - په هغې کښې ضمان راځی) لکن لس مسئلے داسے دی - چه
په هغې کښې (په دے صورت کښې هم) ضمان نه راځی - لکه چه ذکر دی په اشباه کتاب کښې
(یوه مسئله داده چه) دَ یو وقف متولی چه دَ وقف غلے دَ چا څخه دَ امانت په طور کیښودی - او بیا
مړ شی - دَ یتیمانانو حصے مجهولے پریږدی - پته ونه لګی چه دَ چا څخه ئې ایښودے دی - نو ضمان
پرے نشته - (بله مسئله داده) بادشاه که (دَ مال غنیمت دَ ویشلو نه مخکښې) څه غنیمت دَ
چا غازی سره په طور دَ امانت کیښو - بیا بادشاه وفات شه - او څه مال دَ دغه غنیمت ئې بیان
نه کړلو - چه دَ چا څخه ئې امانت ایښے دے - نو په بادشاه ئې ضمان نشته - (دادوه مسئلے شوے - دریمه
مسئله داده - چه قاضی که دَ یتیم مال دَ چا څخه دَ امانت په طور کیښودلو - او بیان دَ حال ئې
ونکړه - خبره مجهوله پاتے شوه - او قاضی مړ شه - نو په قاضی ئې ضمان نشته - دَ میراثے
نه به ئې نه وصولیږی - څلورمه مسئله داده - چه دَ یو واړه وصی مړ شه دَ تجهیل په حالت
کښې - یعنې دَ دغه هلک دَ څه مال بیان ئې ونکړلو - او خبره نا معلومه پاتے شوه - نو دَ وصی
په میراث کښې ئې ضمان نشته - پنځمه مسئله داده چه پلار که دَ تجهیل په حالت کښې مړ شه
او دَ ځوی یا دَ لور څه مال چه ورځخه وو - دَ هغې ئې بیان ئې و نکړلو - خبره نا معلومه پاتے شوه
نو په دے صورت کښې هم ضمان لازم نه دے - خو چه څه میراث ئې وصی او به وصی - شپږمه
مسئله داده - چه دَ زیب څخه دَ چا امانت وو - زیب دَ مرګ په وخت کښې خپل میراث خور بکر
ته دَ دغه امانت خبره وکړه - بیا مړ شه - نو بکر ته خو دَ امانت خبره معلومه وه - لکن بیا دے
هم مړ شه - خو دے تجهیل اوکړو - خبره ئې ښکاره نه کړه - نو دَ دغه امانت ضمان په ده نشته
اوومه او اتمه مسئله داده چه مثلاً دَ زیب کره سیلئے پردے څه شے را غورزولے وو - یا دَ دغه

بله دَ شرکت مفاوضه او دَ عنان تفصیل دَ مخکښې کتاب په مسئلو دَ شرکت کښې په حاشیه کښې ما -
پوره پوره بیان کړے دے - ۱۲ مترجم محمد ابراهیم سالارزی عفی عنه -

شی مالک دغه شے دَ زید کره ایخلے وو۔ او زید ئے پرے نه وو خبر کړے۔ نو هغه ته معلومه نه وه چه چا ایخلے دے۔ بیا فرض کړه چه زید دَ تجهیل په حالت کښې دَ دنیا نه لاړ شه۔ نو دَ دغه شی ضمان به ئے په میراثه کښې نه راځی۔ نهمه مسئله داده چه یو وړوکے دَ تصرف کولو نه مجبور وو۔ منعه وو دَ هغه څخه چا څه شے دَ امانت په طور کیخودلو۔ بیا دغه هلاک مړ شه په حالت دَ تجهیل کښې نو ضمان پرے نشته۔ لسمه مسئله دَ مفاوض ده۔ یعنے یو سړی دَ بل سړی په مال کښې دَ مفاوضے شراکت کړے وو۔ او مال دَ ده په لاس کښې وو۔ بیا مړ شه په حالت دَ تجهیل کښې نو ضمان پرے نشته۔ لکن صحیح خبره داده۔ چه په دے صورت کښې ضمان راځی۔ لکه چه مخکښې تیر شوی دی نو په کومو مسئلو کښې چه ضمان نه راځی۔ هغه دا نه دی۔ لسمه تر ے لاړه) په دے مسئلو باندې دَ وهبانئے کتاب په شرح کښې او دَ تنویر کتاب په شرح کښې ما نهه مسئلے نورے زیاتے کړیږی دپه دے نهو دا تلو نکو کښې دَ تجهیل په صورت کښې ضمان نشته) نیکه دے۔ او دَ نیکه وصی دے او دَ قاضی وصی دے۔ او شپږ مجبورین دی۔ د بیخ کوم چه دَ تصرف کولو نه منع دی۔ یا منع کړی شوی دی) څکه چه ممانعت[1] دَ اوؤ سببونو دَ وجے راځی۔ دَ وړکوتوالی یا دَ مړنی توب یا دَ لیونتوب یا دَ ډیر غفلت۔ یا دَ قرض۔ یا دَ بے وقوفئ۔ یا دَ بولتوب په وجه (نو دَ وړوکی مسئله خو مخکښې تیره شویده۔ پاتے شو شپږ مجبورین۔ نو دا نهه مسئلے دی۔ دَ دے نهو مسئلو وضاحت دا دے۔ چه دَ نیکه سره دَ نوسی څه مال وو۔ یا نیکه دَ نوسی دَ پاره څوک وصی کړے وو۔ دَ هغه سره دَ دغه وړوکی څه مال وو۔ یا قاضی ورله څوک وصی نیولے وو۔ بیا نیکه یا دغه وصی مړ شه په حالت دَ تجهیل کښې۔ نو دَ نیکه او دَ وصی په میراث کښې ضمان نشته۔ یا یو مړنے یا یو لیونے وو۔ چه دَ تصرف نه منع وو۔ یا څوک سړے ډیر غافله وو۔ یا پرے دَ چا قرض وو۔ یا بے وقوفه او بیخره وو۔ یا بوله وو۔ دَ تصرف کولو نه منعه کړے شوے وو۔ او چا ورڅخه امانت کیخودلو۔ بیا دی مړه شو دَ تجهیل په حالت کښې نو ضمان پرے نشته) دا[2] نولس[19] مسئلے په دے بیتونو کښې راوړے شوی دی ۔۔

امانت په لاس چه امین وکړی له دنیا نه انتقال
مکرهاں که مفاوض وو یا دَ وقف وو واکدار

امانت پرے لازمیږی په میراث کښې بهرحال
یا دَ غنیمت نه چا له ورکه امانت سپه سالار

یا مکان ئے سپیلے وو پردے شے دا غور زولے
یا بل چکښې څه شئے وو بے خبره ایخے غلے۔

[1] وړوکوالے او مړنی توب او لیونتوب دا درے واړه دَ حجر سببونه دی۔ باقی دَ امام صاحبؒ په نزد په عاقل بالغ آزاد سړی حجر نشته۔ مگر په هغه چا دے چه ضرر ئے عام وی۔ نو دا بیان دَ صاحبینو رح په قول بنا دے۔ ۱۲
[2] په دے نولسو واړو کښې دَ تجهیل په صورت کښې امانت ضمان دَ امانتدار په میراثه کښې نه راځی ۱۲ مترجم

بل دے میراث خوراو یا تے نورہ مجوران میراث به تے سالم او مسلم وی بے ضمان	یا پلار نیکه قاضی وو او یا وو دَ دی وصیان دا نولس ا میںان دی کہ یو مرشد بے بیا نه

(دَ امانتدارهٔ خبرے قبلیدل په یو شرط سرہ)

زهٔ وائیم چه دَ مقاوض دَ مسئلے په باب کبن ما ته مینه خبر کرے ئے۔ نو دَ هغے نه مه غافله کیږه۔ او په منظومه محبیه کتاب کبن وئیلی دی۔ چه هر هغه امانتدار چه دَ امانت دَ رسولو دعوه کوی۔ (دائی چه ما خاوند دَ امانت ته امانت ورکړیے) نو خبره ئے معتبره ده۔ لکن په هر حالت کبن نه۔ بلکه په دے شرط سره چه ظاهر حال دَ هغه تکذیب نه کوی۔ (یعنے په ظاهر کبن دروغژن نه معلومیږی) لکه متولی او وصی که دَ زیاتے خرچے کولو دعوه ئے وکړه۔ او خرچ ئے بیان کړه۔ او دَ چا خبره چه قبلیږی۔ په هغه قسم هم لازمیږی۔ بے دَ هغه لسو مسئلو نه چه په قنیه کتاب کبن ذکر دی۔ یوه مسئله دَ وصی ده۔ یعنے دَ یو یتیم هلک وصی دعوه کوله چه ما په دے یتیم باندے دومره مال خرچ کړے لګولے دے۔ نو په دے کبن اتفاق دے چه په دے وصی قسم نشته۔

(دَ چا خبره چه بے قسمه قبلیږی)

او که دَ وړوکی هلک وصی دَ دغه هلک په یو مرئی څه خرچه صرفه وکړه۔ بیا وصی وئیل چه ما پرے دومره مال لګولے دے) نو دَ دے وصی خبره بے قسمه قبلیږی (دا دویمه مسئله شوه او دریمه دا ده چه) قاضی که دَ یو یتیم څه شئے خرڅ کړے وو۔ بیا چا چه ترے په بیعه اخستے وو هغه دَ څه عیب په وجه دَ دغه شی واپس کول غوښتل۔ نو قاضی او وئیل چه تا خو وئیلی وو۔ چه تسئے دَ هر عیب نه آزاد ئے۔ دَ هر عیبه سره ئے ما قبول دے۔ نو په دے کبن په قاضی قسم نشته (او څلورمه مسئله دا ده چه) چا په قاضی باندے دعوه کوله چه تا مال دَ یتیم بچی یا دَ وقف زمکه یا کور په اجاره راکړیے (نو زهٔ ئے غواړم) او قاضی انکار کاوو۔ نو قاضی له به قسم نهٔ شی ورکیدے (او پنځمه دا ده چه) یو سړی چا (پردی) سړی ته هبه کړے وه (څه شئے ورته بخلے وو۔) اوس ئے دا غوښتله چه زهٔ ئے بیا بیرته راکړخوم۔ نو چا ته چه ئے بخلے وو۔ هغه وئیل چه هغه شئے هلاک شوے دے۔ ضایعه شوے دے۔ نو قسم پرے نشته (شپږمه دا ده چه) هبه کوونکی وئیل چه ما تا ته دا هبه کړے وه۔ (دا شئے مے در بخلے وو) په دے شرط سره چه ته به مالہ دَ دے عوض راکوے۔ او هغه وئیل چه تا بے عوضه را بخلے۔ نو چا ته چه ئے هبه کړیده۔ هغه له قسم نشته۔ (او مه دا ده چه) دَ وقف متصرف که وئیل۔ چه ما په دے وقف دومره خرچه کړے۔ نو قسم ورله نشته (اتمه دا ده) چه یو سړی دَ خپل وړوکی ځوئے دَ پاره یو کور په بیعه

اخستے وہ۔ بیا پرے دَ شفیع خاوند دعوہ وکړہ۔ نو دی دواړہ دَ دغہ کور پہ قیمت کښې مختلف شو۔ نو دَ وړوکی دَ پلار خبرہ معتبرہ دہ۔ او قسم ورلہ نشتہ۔ (نہمہ دادہ چہ) یو مرتی دَ بل نه ځمه شے پہ بیعہ واخستہ۔ نو خرڅونکی اووئیل۔ چہ تا تہ دَ بیعے اودَ تصرف کولو اجازت مالک نہ دے کړے۔ او دهٔ وئیل چہ کړے ئے دے۔ نو دَ دهٔ خبرہ قبولہ دہ۔ او دهٔ لہ قسم نشتہ۔ (لسمہ دادہ چہ) یو سړی دَ خپل وړوکی ځوئ دَ پارہ یوہ زمکہ پہ بیعہ واخستہ۔ نو خاوند دَ شفیع پرے دعوہ وکړہ دَ شفعے۔ جو دہ دَ خپل ځان دَ پارہ دَ اخستلو نہ انکار وکړہ۔ او دَ ځوئ دَ پارہ ئے دعوہ وکړہ۔ نو پہ دے سړی قسم نشتہ۔

زهٔ وایم چہ پہ دے مسئلو باندے زیاتے کړیدی دَ خدائے پاک پہ مهربانئ سرہ څمدَ پاسہ پنځوس مسئلے ځما خوښہ دہ چہ دلتہ ئے ذکر کړم۔ دَ پارہ دَ دے چہ خلق ترے فائدہ واخلی۔ او دَ متنو تو خاوندانو دَ امام صاحب رح پہ قول صرف پہ نهو څیزونو کښې دَ قسم نشتوالے ذکر کړیدے۔ (واوره هغہ نهہ څیزونہ دَ مترجم نہ۔ یو نکاح دے۔ کہ چا په[1] ښځہ دعوہ وکړہ دَ نکاح چہ تہ ځما دَ نکاح ښځہ ئے۔ او هغے انکار وکړہ۔ یا ښځے پہ چا دعوہ وکړہ دَ نکاح او هغہ منکر وو۔ او دَ مدعی شاهدان نہ وو۔ نو منکر لہ بہ دَ امام صاحبؒ پہ نزد قسم نہ شی ورکیدے۔ او دَ صاحبینو رح پہ نزد ورلہ قسم شتہ۔ دویم[2] رجعت دے۔ کہ سړی خپلہ ښځہ پہ طلاق رجعی سرہ طلاقہ کړے وہ۔ او پس دَ عدت تیریدلو نہ دواړہ مختلف شو۔ نو سړی وئیل چہ ما پہ عدت کښې دننہ رجوع کړے وہ۔ او ښځے انکار کاوو۔ یا ښځے دعوہ کولہ چہ تا رجوع کړے وہ پہ عدت کښې۔ او سړے منکر وو۔ نو پہ دے دواړو صورتونو کښې هم منکر لہ قسم نشتہ۔ دریمہ[3] ایلاء دہ۔ لکہ چا ایلاء کړے وہ۔ یعنے قسم[4] ئے کړے وو چہ زهٔ بہ خپلے ښځے تہ څلور میاشتے نہ نزدے کیږم۔ بیا څلور میاشتے تیرے شوے۔ نو دواړہ سرہ مختلف شو۔ خاوند ئے دعوہ کولہ چہ ما پہ دغہ مودہ کښې دننہ رجوع کړے وہ۔ دَ خپلے خبرے

---

[1] دا عامہ قاعدہ دہ چہ څوک دعوہ کونکے وی دَ هغہ شاهدان وی۔ او څوک چہ منکر وی هغہ لہ قسم۔ نو مدعی کہ پہ خپلہ خبرہ شاهدان تیر کړہ نو قاضی بہ ئے پہ حق کښې فیصلہ اوکړی۔ او کہ دَ مدعی شاهدان نہ وُو نو بیا بہ منکر قسم کوی۔ چہ قسم دکړی نو دے بہ او کټی۔ او کہ دَ قسم نہ ئے انکار اوکړو نو بیا بہ بائیلی۔ نو عامہ قاعدہ دہ چہ منکر لہ قسم دے۔ خو دا راتلونکے نهولے مسئلے دَ کتاب دَ آخرہ پورے چہ دی پہ دے ټولو کښې منکر لہ قسم نشتہ۔ یعنے کہ مدعی پہ خپلہ دعوہ شاهدان ونہ درول نو منکر بہ قسم نہ کوی خبرہ بہ هسے ختم شی۔ ۱۲ مترجم [2] کہ چا قسم اوخوړ پہ خدائے پاک سرہ چہ زهٔ بہ دَ څلورو میاشتو پورے خپلے ښځے تہ نزدے نہ شم یا بہ ورسرہ کورولے اونکړم یا څہ بل لفظ ئے اووے۔ یا ئے قسم او خوړ چہ زهٔ بہ ستا سرہ پورے صحبت ونکړم مثلاً۔ نو حکم دا دے چہ خاوند کہ ورسرہ صحبت ونکړلو نو دَ دغہ څلورو میاشتو نہ وروستو بہ یو طلاق بائن واقع شی۔ بیا بہ ورتہ رجوع نہ شی کولے۔ تر کومے پورے چہ دَ دواړو پہ رضا سرہ دَ دی نوی نکاح ورتہ تړلے شی۔ او کہ پہ دغہ څلورو میاشتو کښې دننہ ئے قسم مات کړلو۔ دَ ښځے سرہ ئے همبستری وکړہ۔ نو طلاق نیکی بہ نہ۔ او خاوند بہ دَ قسم ورکولو کفارہ ورکوی او دا سے قسم کولو تہ پہ شریعت کښې ایلاء وئیلے شی۔ ۱۲۔ مترجم۔

نه دا گوره بیا لے وُم ۔ ورسره یو ځائے شوے یم ۔ او ښځے انکار وکړلو نو ښځے له قسم نشته ۔ او که ښځے په دغه مُده کښ دننه یا پس دَ دغے مُدے نه دعوه کوله دَ رجوع چه ته دا گرزه بیا لے وے دَ خپلے خبرے نه او سړی انکار کاوو ۔ نو سړی له قسم نشته ۔ شلورم استیلاد دے ۔ لکه وینځے په خپل مالک دعوه وکړه چه ځما ستا نه بچے شوے دے ۔ هغه مړ دے ۔ یا م ستا نه بچے غورزولے دے په دا سے حال کښ چه اندامونه ئے بیا بروکو ۔ نو زه ستا دَ بچی مود شوے یم ۔ او مالک ئے انکار کاوو ۔ نو قسم ورله نشته ۔ پنځم مرئی ولے او شپږم نسب دے ۔ لکه چا په یو مجهول نسبه سړی دعوه وُکړه چه ته م مرئے ئے ۔ یا دا چه ځما ځوئے ئے ۔ او هغه انکار کاوو ۔ یا مجهول نسبه سړی په چا دعوه وکړه چه ته ځما مالک ئے ۔ یا دا چه ته ځما پلار ئے او هغه انکار کاوو ۔ نو منکر له په دَ صورتونو کښ قسم نشته ۔ اووم (موالات دے) لکه یو سړی په بل یا نیز دعوه وکړه چه ته ځما آزاد کړے شوے مرئے ئے ۔ یعنی ما آزاد کړے ئے او هغه انکار کاوو یا ئے دعوه وکړه ۔ چه زهٔ ستا آزاد کړے مرئے یم ۔ او هغه انکار کاوو ۔ یا ئے دعوه وکړه چه ته ځما مولا ئے ۔ یعنی ما در سره دَ موالات تړنه تړلے ده ۔ یا دا چه تا ما سره دَ موالات دوستی قائمه کړے ده ۔ او هغه انکار کاوو ۔ نو په دے صورت کښ منکر له قسم نشته ۔ په دے اوو واړو مسئلو کښ دَ امام صاحبؒ په نزد قسم نشته ۔ او دَ صاحبینو رح په نزد شته ۔ او مفتی به قول دَ صاحبینوؒ دے ۔ اتم حد دے ۔ لکه زید په بکر دعوه وکړه چه تا په ما دَ زنا تهمت لگولے دے ۔ نو په تا به حد دَ قذف جاری کیږی ۔ یعنی اتیا دُرے ۔ او بکر انکار کاوو چه ما تهمت نه دے لگولے ۔ نو بکر له قسم نشته ۔ نو که دَ زید شاهدان نه وُو ۔ بکر به قسم نه کوی ۔ او که زید په خپله خبره شاهدان تیر کړه ۔ او بکر خلور تنه شاهدان دَ زید په زنا کاری تیر نه کړے شو ۔ نو په بکر به اتیا دُرے لگی ۔ دے ته حد قذف وئیلے شی ۔ نهم لعان دے ۔ لکه ښځے په خپل خاوند دعوه وکړه چه تا په ما دَ زنا تهمت لگولے دے ۔ نو په تا لعان دے ۔ او خاوند ئے انکار کاوو ۔ چه ما نه دے لگولے نو خاوند له قسم نشته ۔ یعنی که ښځے په خپله دعوه شاهدان وُنه درول نو خاوند له ئے قسم نشته خبره به هسے خلاصه شی ۔ او که ښځے په خپله دعوه شاهدان وُدرول نو بیا به لعان کوی ۔ او دَ لعان مسئله دا ده چه سړی که په خپله ښځه دَ زنا تهمت ولگاوو یا دَ هغے دَ بچی په بابت کښ ئے او وئیل چه دے ځما نه دے ۔ خبر نه یم چه دَ چا نه دے ۔ نو حکم دا دے ۔ چه ښځے که دَ قاضی په مخکښ دا دعوه وکړه چه ځما خاوند په ما دَ زنا تهمت لگولے دے ۔ نو قاضی به دواړو له قسم

سله دَ موالات بیان دَ مخکښ کتاب په حاشیه کښ دَ مرئی دَ آزاده ولو په مسئلو کښ تیر شوے دے ۱۲ مترجم ۔ سله په دے اتم او نهم کښ صاحبین رح دَ امام صاحب رح سره موافق دی ۔ په دے خبره کښ چه منکر له قسم نشته ۔ ۱۲ مترجم

ورکوی - وروستیه به خاوند دا ونړ قسم کوی - چه خدائ پاک ګواه دے - یا زهٔ شاهدی کوم په خدائے پاک سره چه کوم تهمت ما په دے خپله ښځه لګولے دے په دے کښ زهٔ رشتینے یم - خاوند به څلور ځله داونړ وائی - بیا به پنځم ځل به وائی - چه ما کوم تهمت په دے ښځه لګولے دے - که زهٔ په دے کښی دروغژن یم - نو په ما دے دَخدائے پاک لعنت وی - نو چه خاوند دا اووائی - بیا به ښځه څلور ځله دا ونړ قسم کوی - چه زهٔ شاهدی کوم په خدائ پاک سره چه دهٔ کوم تهمت په ما لګولے دے - دے په دے کښ دروغژن دے - او په پنځم ځل به وائی - چه دهٔ کوم تهمت په ما لګولے دے که په دے کښ رشتینے وی - نو په ما دے دَخدائ پاک غضب وی - نو چه ښځه او خاوند داونړ قسمونه وکړی - قاضی به دَ دواړو په منځکښ جدائی واچوی - او په یو بائن طلاق به ښځه طلاقه شی - یعنے په داسے طلاق سره چه سړے به په کښ رجوع نه شی کولے - او دغه بچے به اوس دَ دهٔ نه نه ګڼړلے کیږی - دَ مور بچے دے - مور ته به ورسپارلے شی - دَ ښځے او خاوند دے قسمونو خوړلو ته په شریعت کښ لعان ویلے شی)

(یو دیرش مسئلے چه منکرله په هغے کښ قسم نشته)

په بحر رائق کتاب کښ دَ قاضی خان کتاب نه نقل کړی دی - چه منکرله قسم نه ورکیږی په یو دیرش مسئلو کښ - په ځینو کښ اتفاق دے - او په ځینو کښ اختلاف - نو هغه نهٔ[9] مسئلے ئے په مختصر طریقه سره ذکر کړیدی (چه قسم نشته په دے صورتونو کښ) او دَ لور[10] ورکولو په صورت کښ که لوبه وی او که وړه وی (یعنے یو سړے په بل دعوه کوی - چه تا ماله خپله لور په نکاح راکړے ده - او هغه انکار کوی - لور لویه ئی او که وړه - نو په دے صورت کښ پلارله) دَامام صاحبؒ په نزد قسم نشته - او دَ صاحبانو په نزد دَ لور دَ ورکوالی په صورت کښ پلارله قسم شته - او دَ وینځه[11] دَ مالک په وینځه ورکولو کښ په نکاح سره (یعنے دَ وینځے په مالک یو سړے دعوه کوی - چه تا ماله خپله وینځه په نکاح راکړے ده - او مالک انکار کوی - نو مالک له په دے صورت کښ قسم نشته -) او دَ صاحبینو رح په نزد شته - او دَ[12] خاوند دَ قرضے دَ وصیتوب په دعوه کښ (یعنے دَ قرضے خاوند په چا دعوه کوی - چه ته دَ مړی وصی ئے - نو ما چه په دغه مړی قرضه ده - ته ئے دَ هغه دَ میراثے نه راکه) او هغه انکار کوی (چه زهٔ ئے وصی نه یم) نو انکار کوونکی له قسم نشته - او په[13] وصی باندے دَ قرضے په دعوه کولو کښ (یعنے دَ مړی یو وصی دے - ځوک پرے دعوه کوی - چه ما په مړی دومره قرضه ده او حال دا دے چه دَ مدعی شاهدان نشته - او وصی دَ دغه قرضے نه انکار کوی - نو وصی له قسم نشته) او په[14-15] وکیل باندے دَ دعوے کولو په صورت کښ په دواړو مسئلو کښ لکه دَ وصی (یعنے خاوند دَ قرضے په یو سړی دعوه کوله - چه ته دَ زید چه ما

ورته قرضه ده۔ وکیل ئے۔ نو قرضه رام دا کړه۔ او هغه وئیل۔ چه زهٔ دَ زید وکیل نه یم۔ او یا دَ زید څوک سړے وکیل وو۔ او وکالت ئے ثابت وو۔ خاوند دَ قرضے پړ دعوه کوی۔ چه حما زید ته دومره قرضه ده۔ او وکیل دَ قرضے نه انکار کوی۔ نو په دے دوارو صورتو نو کښں منکوله قسم نشته لکه چه وصی په دوارو تیرو شوو مسئلو کښں قسم نشته) او په [17] هغه صورت کښں چه دَ یو سړی په قبضه کښں شه شئے وی۔ دوه تنه پرے دعوه کوی۔ هر یو وائی چه دا ما سنا نه په بیعه آخستے دے نو خاوند دَ قبضے اقرار وکړی۔ دَ یو دَ پاره۔ او دَ هغه بل په بابت کښں انکار وکړے نو دَ کوم یو مدعی په بابت کښں چه ئے انکار کړے دے۔ هغه دے مدعا علیه له قسم نه شی ورکولے۔ او دارنګ [18] حکم دے چه خاوند دَ قبضے که انکار وکړلو دَ دواړو په بابت کښں (چه نه رام په ده خرڅ کړے۔ او نه په ده) بیا ورله قاضی قسم ورکا وو دَ یو په بابت کښں (چه نه قسم او خوړه چه په ده مدعی رام نه دے خرڅ کړے) نو ده دَ قسم خوړلو نه انکار وکه۔ دَ دے انکار په وجه پرے قاضی حکم وکړه (چه دا دَ دے مدعی شه) نو اوس که دغه بل مدعی مدعا علیه له قسم ورکول غواړی نه شی ورکولے۔ او په [19] هغه صورت کښں چه دوه تنه دعوه کوی۔ هر یو وائی چه دے خاوند دَ قبضے دا شے ما ته را بخلے دے۔ او سپارلے ئے دے۔ او خاوند دَ قبضے دَ یو دَ پاره اقرار وکړی۔ (چه ورته ئے رام بخلے او سپارلے دے۔) نو دَ دغه بل مدعی دَ پاره به ورله قسم نه ورکیږی۔ او دارنګ [20] حکم دے که دَ یو دَ پاره ئے انکار وکړلو۔ نو دَ هغه بل دَ پاره به قسم نه ورکیږی۔ د یعنے که قاضی ورله دَ یو مدعی دَ پاره قسم ورکا وو۔ چه ته قسم او خوره۔ چه دهٔ ته دے نه دے بخلے۔ او هغه دَ قسم خوړلو نه انکار وکړلو۔ نو دَ دغه مدعی شه۔ اوس به ورله دَ دے بل مدعی دَ پاره قسم نه ورکیږی) او په [20] هغه صورت کښں چه دوه تنه دعوه کوی هر یو وائی چه دے خاوند دَ قبضے دا شے ما ته ګانړه کړے دے۔ او ما ترے قبض کړے دے۔ او خاوند دَ قبضے اقرار وکړی په دے کښں دَ یو تن دَ پاره۔ نو دَ هغه بل دَ پاره به اوس قسم نه ورکیږی۔ او دارنګ [21] که خاوند دَ قبضے انکار وکړی دَ دواړو دَ دعوے نه۔ بیا ورله قاضی دَ یو په بابت کښں قسم ورکوی۔ او دے انکار راوړی (نو دَ دغه مدعی به شی په طریقه دَ ګانړے) او دَ هغه بل په بابت کښں به ورله قسم نه ورکیږی۔ او په [22] هغه صورت کښں چه دوه تنه دعوه کوی په خاوند دَ قبضے باندے۔ یو وائی چه دا شے دهٔ ما ته ګانړه کړے دے۔ او ما ته ئے سپارلے دے۔ او بل وائی چه ما ترے په بیعه آخستے دے۔ او خاوند دَ قبضے اقرار وکړی په ګانړه کولو سره۔ او انکار وکړی دَ بیعے نه او وائی چه ما نه دے خرڅ کړے) نو اوس به ورله قسم نه ورکیږی دَ هغه مدعی دَ پاره چه دعوه دَ قیمت [ئے] اخستلو ئے کړے ده۔ او که په دے دوؤ مدعیانو کښں یو دعوه د اجارے کوله۔

چه دا مال دے خاوند دَ قبضے په اجاره راکړے دے - او بل دعوه کوله دَ بیعے - چه دا په ما بائع دے خاوند دَ قبضے را خرڅ کړے دے - نو خاوند دَ قبضے اقرار وکړلو په اجاره ورکولو سره - (چه ما دا له په اجاره ورکړے دے) او دَ بیعے نه ئے انکار وکړلو - (نو اجاره ثابته شوه) او س به خاوند دَ قبضے له قسم نه ورکیږی - دَ پاره دَ هغه مدعی چه دَ بیعے دعوه ئے کړے ده - او (په دے مسئله کښی) دَ بیعے مدعی ته به او وئیلے شی - چه ته انتظار وکړه دَ هغه مُدے دَ ختمیدلو پورے چه کومه دَ اجارے ده - او یا دِ بیعه وړانه که - او (په مختکښی مسئله کښی به ورته او وئیلے شی - چه ته) دَ کاتړے آزادیدلو پورے صبر وکړه - او که نه کیږے - نو بیعه دِ وړانه که - او په[24] هغه صورت کښی چه یو دعوه کوی چه دے خاوند دَ قبضے ماله دا شے خیراتی راکړے دے - او ما ترے قبض کړے دے - او بل دعوه کوی چه دے خاوند دَ قبضے دا شے په ما را خرڅ کړے دے او خاوند دَ قبضے اقرار وکړی دَ پاره دَ یو تن دَ دے دواړو نه نو دَ کوم یو دَ پاره چه ئے اقرار وکړلو - دَ هغه به شی - او دَ هغه بل دَ پاره) خاوند دَ قبضے له به قسم نه ورکیږی - (ځکه چه دَ قسم ورکولو فائده داوی - چه که قسم ئے وخوړ - نو دَ مدعی دَ دعوے نه به خلاص شی - او که انکار ئے وکړلو دَ قسم نه - نو دَ مدعی په حق کښی به حکم وکړے شی - نو دلته چه دا قرار په وجه دَ دعوے دغه څیز دَ یو مدعی شه - او س که دَ دغه بل دَ پاره ورله قسم ورکوو او هغه انکار وکړی - چه زه قسم نه خورم - نو مونږ دا نه شو وئیلے - چه دا شے جوړ دَ دے دویم مدعی شه - دا وجه ده دَ قسم نه ورکولو - او دا وجه په دے اکثرو مسئلو کښی جاری ده -) او په[25-26] هغه صورت کښی چه دوه تنه دعوه کوی په یو سړی باندے دَ اجارے - هر یو وائی - مثلاً چه دا کور دَه ماله په اجاره راکړے دے - او خاوند دَ قبضے اقرار وکړی دَ پاره دَ یو مدعی - یا انکار وکړی دَ قسم کولو ته په بابت دَ یو مدعی کښی - نو او س به ورله دَ دغه بل مدعی په بابت کښی قسم نه ورکیږی - په خلاف دَ هغه صورت نه چه (مثلاً زید او بکر) دواړه دعوه کوی په خاوند دَ قبضے باندے دَ غصب (زید وائی چه دا شے دَه ځما نه په زور آخستے دے - او بکر وائی چه ځما نه ئے په زور آخستے دے - نو خاوند دَ قبضے اقرار وکړی دَ یو دَ پاره (مثلاً دَ زید دَ پاره) یا دَ دواړو دَ دعوے نه انکار وکړی - نو کوم وخت چه قاضی ورله دَ یو په بابت کښی قسم ورکوی دے انکار وکړی دَ قسم نه (مثلاً دَ زید په بابت کښی ئے دَ قسم خوړلو نه انکار داوه) نو په دے دواړو صورتونو کښی به خاوند دَ قبضے له دَ دغه بل مدعی دَ پاره (چه بکر دے) هم قسم ورکیږی (نو که دَ بکر په بابت کښی ئے قسم اوکړلو - نو دَ هغه دَ دعوے نه به خلاص شی - او که دَ قسم خوړلو نه ئے انکار وکړلو - نو ضمان به پرے لازم شی - یعنے دغه شے خو دَ زید شوے دے - خاوند دَ قبضے به بکر له

دَ هغه مثل یا قیمت ورکوی) او دا رنګ حکم دے دَ امانت دَ دعوے په صورت کښ (مثلاً زید وئیل چه دا شے ما دے خاوند دَ قبضے له په طور دَ امانت ورکړیے دے. او بکر وئیل چه ما ورله په طور دَ امانت ورکړیے دے) او دا رنګ حکم دے دَ عاریت دَ دعوے په صورت کښ (مثلاً زید وئیل چه دا دے خاوند دَ قبضے ضمانه په طور دَ عاریت آخستے دے. او بکر هم دا رنګ دعوه کوله. نو دَ امانت دَ دعوے او دَ عاریت دَ دعوے په صورت کښ هغه حکم دے. کوم چه په غصب کښ اوس اوس ذکر شه. یعنے په دے دریو وارو کښ به خاوند دَ قبضے له قسم ورکیږی. دَ پاره دَ دوئم مدعی خو) قسم به په دے طریقه کوی چه نه ئے ما ته داشے شته. او نه ئے قیمت چه دومره روپئے دے.

او[٢٧] په هغه صورت کښ چه خرڅونکے دعوه کوی دَ وکیل نیونکی په راضی کیدلو دَ عیب باندے (مثلاً زید بکر وکیل کړے وو. چه فلانے څیز ته ماله په بیعه واخله. نو بکر ورله واخست. نو بکر بیا دغه څیز دَ څه عیب په وجه خرڅونکی ته واپس کول غوښتل. نو خرڅونکی په وکیل یعنے په بکر دعوه کوی چه زید په دے عیب سره راضی شوے وو. نو که دَ خرڅونکی په دے دعوه شاهدان نه ئی) نو وکیل له (یعنے بکر له) به قسم نه ورکیږی.

او[٢٨] په هغه صورت کښ چه انکار وکړی دَ وکیل کولو نه په بابت دَ نکاح کښ (مثلاً زید له بکر یوه ښځه په نکاح واخسته. نو اوس زید بکر ته وائی چه ما خو ته نه وے وکیل کړے په دے نکاح سره. او بکر دعوه دَ وکالت کوی. نو که دَ بکر شاهدان نه وی. زید له به قسم نه ورکیږی.)

او[٢٩] په هغه صورت کښ چه مختلف شی کاریګر او فرمائش کونکے دَ فرمائش په هغه څیز کښ. (مثلاً زید یو چمیار ته فرمائش کړے وو. خبره ئے ورسره خلاصه کړے وه. نو چمیار ورله پنړے جوړے کړے. اوس زید وائی چه ما بوټان وئیلی وو. او چمیار وائی چه پنړے دے وئیلے وے) نو په دے دواړو صورتونو کښ یو له قسم هم نشته.

او[٣٠] په هغه صورت کښ چه کاریګر دعوه کوی په یو سړی باندے چه تا ما ته دَ فلانی شی فرمائش کړے وو) نو اوس به ئے آخلے) او هغه وائی چه زه او دَ فرمائش نه خبر نه یم. نو قسم ورله نشته.

یو[٣١] دیرشمه مسئله داده چه یو سړی دعوه وکړه په قرضدار باندے. چه زه وکیل یم دَ خاوند دَ قرضے دَ طرف نه چه غائب دے. هغه زه خپل وکیل کړے یم دَ قرضے په وصولولو او په مقدمه کولو کښ نو قرضدار انکار وکړلو (چه ته ئے نه ئے وکیل کړے. نو که دَ دغه سړی په خپله دعوه شاهدان نه ئی) نو قرضدار له به قسم نه ورکیږی. دا قول دَ امام صاحب رح دے

او صاحبینؒ وائی چه په دے صورت کښ قرضداری له قسم شته - دا رنگ ذکر کړی دی - بعض عالمانو او شمس الائمه خلوانی صاحب رحمه الله وئیلی دی - چه قرضداری له په قسم ورکیږی - دَ ټولو اماما نو په نزد - ختم شه بیان رد هغه مسئلو چه په قاضی خان کتاب کښ دی - او س بحر کتاب واله وائی چه) په دے تیرشوی بیان سره معلومه شوه چه کوم بیان په خلاصة الفتاوٰی کتاب کښ دے - په هغے کښ کوتاهی ده - او کے دے - ځکه چه صاحب دَ خلاصے وئیلی دی - کوم شئے چه داسے وی - چه هغه دَ سړی په اقرار سره په هغه لازمیږی - دَ هغے دا حکم دے - چه دَ هغے په انکار کولو سره پرے قسم راځی -

(درے مسئلے دی چه په هغے کښ هم منکرله قسم نشته)

مګر په دریو مسئلو کښ دا حکم نه دے - یوه مسئله دَ هغے نه داده - چه یو سړی څوک وکیل کړے وو - چه ته ځما دَ پاره فلانے څیز په بیعه واخله - نو وکیل ورله هغه په بیعه واخست - بیا وکیل دَ څه عیب په وجه خرڅونکی ته دَ دغه څیز دَ واپس کولو اراده وکړه - نو خرڅونکے ورله قسم ورکول غواړی - ورته وائی چه ته په خدای پاک سره داسے قسم اوخوره چه ماته نه ده معلومه چه زه چا وکیل کړے یم - هغه په دے عیب راضی شوے وو - نو وکیل له قسم نشته - اوکه وکیل اقرار وکړه (چه وو هغه پرے راضی شوے وو) نو دا پرے لازمیږی) او بیا دَ غه شے نه شی واپس کولے خرڅونکی ته - (نو په دے مسئله کښ دَ وکیل په اقرار سره خبره لازمیږی - اوکه انکار ئے وکړو نو قسم پرے نشته)

دویمه مسئله داده چه که په حکم کونکی باندے ئے دعوه وکړه دَ رضا نو قسم به ورله نه ورکیږی - اوکه هغه اقرار وکړلو - نو په هغه لازمیږی - (مثلاً زید بکر وکیل کړے وو - چه ته ځما دَ پاره فلانے څیز په بیعه واخله - نو هغه ورله واخست - بیا زید په دغه څیز کښ څه عیب اولیدلو - نو خرڅونکی ته ئے دَ واپس کولو اراده وکړه - نو خرڅونکی دعوه وکړه په حکم کونکی باندے یعنے په زید باندے دَ دے خبرے چه ته په دے عیب راضی شوے وے - او زید انکار کا وو - نو حکم کونکی له یعنے زید له قسم نشته - اوکه زید اقرار وکړه چه وو زه راضی شوے وم - نو په دے اقرار سره پرے خبره لازمیږی - (یعنے بیا ئے نه شی واپس کولے)

دریمه مسئله داده - چه کوم سړے دَ بل وکیل وی - دَ قرضے په وصولولو کښ - که قرضداری پرے دعوه وکړه - چه ته کوم سړی وکیل کړے ئے - هغه زه دَ قرضے نه آزاد کړے یم - (ماته ئے قرض پریخے دے) او قرضداری دا غوښتله چه وکیل له قسم ورکړی په علم باندے - (یعنے وکیل ته ئے وئیل چه ته په خدای پاک قسم اوخوره - او وایه چه ماته نه ده معلومه چه هغه ماته

قرضه پریخلے دہ) نو په وکیل قسم نشته - او که وکیل اقرار وکړلو - چه وو - هغه د ده پرېخلے وو - نو په وکیل دا اقرار لازمیږی - (یعنی وکیل به ورسره دَدغه قرضے په بابت کښ جګړه نه شی کولے - او دا مطلب نه دے - چه چا دَ غه وکیل وکیل کړیں ے - په هغه دا اقرار لازمیږی - اوس وہاندے صاحب دَ بحر رایق کتاب وائی چه) ما دَ ےہ مخکښې یو دیرش نبرے شوے مسئلو باندے دا اووه دا تلونکے مسئلے زیاتے کړیدی۔

(اووهٔ مسئلے دی چه په هغے کښ هم منکر له قسم نشته)

مسئله :- خرخونکی که انکار وکړلو دَ عیب دَ اوس موجود والی نه نو قسم به ورله نه ورکیږی دَ امام صاحب رح په نیزد - او که اقرار ئے وکړلو - نو دا اقرار به پرے لازم شی - لکه چه ذکر شوی دی (دَ بحر) په مسئلو دَ خیار عیب کښ (مثلاً بکر په زید باندے یو مرئے خرخ کړے وو - اوس زید په بکر دعوه کوی دَ دغه مرئی دَ تختیں لو چه دے ځان نه تختیں لے دے - نو دَ تختیں لو عیب ورکښ موجود دے - زهٔ ئے تا ته واپس کول غواړم - او بکر انکار کوی - نو بکر له قسم نشته - یعنی بکر په دے خبره قسم نه خوری - چه دغه مرئے زید څخه نه دے تښتیدلے -

هاں ! که زید په خپله خبره شاهدان مقرر کړه - نو بیا به بکر دا سے قسم خوری - چه دا مرئے ما څخه چرے نه دے تختیں لے - او که بکر اقرار وکړلو چه وو دا مرئے زید څخه تختیں لے وو - نو دَ دے اقرار حکم پرے لازم شه - یعنی بکر خصم وګرځیده - نو بکر له به قسم ورکیږی چه نه قسم او خوره - او وایه چه دا مرئے ما څخه نه دے تختیں لے - ځکه چه دَ تختیں لو عیب که دَ زید څخه ثابت شه - نو هم دا دَ مرئی دَ واپس کولو سبب نه شی ګرځیدے - تر کومے پورے چه دا ثابته نه شی - چه دَ خرخونکی څخه پکښ هم دَ تښتیدو دا عیب موجود وو -)

مسئله [۲] :- که په شاهدانو باندے چا دعوه وکړه - چه دهٔ دَ خپل شهادت نه چه دَ قاضی په مخکښ کړے وو - رجوع کړے ده - او شاهدان انکار وکړلو چه ما رجوع نه ده کړے - نو شاهدان له قسم نشته - او که اقرار ئے وکړلو - چه وو زهٔ دَ دغه شهادت نه راګرځیدلے یم - نو په دغه شهادت سره چه دَ مدعا علیه څه نقصان شوے دے - دے دَ هغے ضامن دے - دَ ده نه به تاوان اخستے کیږی -

مسئله :- غل که دَ غلا کولو نه انکار کا دو - او یل پرے دعوه دَ غلا کوله (نو چه دَ مدعی شاهدان دی - خو ثبوت به دَ غلا وشی - لاس به ترے پرے کړے شی - حالانکه دغه غلا دَ لاس پریکولو موجبه نه - او که دَ مدعی شاهدان نه وو) نو غل له به قسم نه ورکیږی - دَ پاره دَ لاس پریکولو - (هاں ! دَ مال دَ ثابتولو دَ پاره په ده لوه قسم ورکیدے شی - یعنی که په دے صورت کښ ئے قسم و نخوړ - نو دَ غلا مال به پرے ثابت شی - خو لاس به ترے نه پریکیږی)

سله که دَ خلاصے دغه ده مسئلے ورسره تمل کړے شی - نو بیا دری دیرش جو ړیږی - ۱۲ - مترجم رح

او که غلی اقرار وکړلو. چه وو - مادا غلا کړے ده - نو بیا به ترے لاس پریکیږی.

مسئله :- او دا رنګ ذکر کړیدی اسبیجابی صاحب رح چه پلار له به قسم نه ورکیږی د وړوکی هلک په مال کښ - او نه وصیؒ له د یتیم په مال کښ . او نه متولیؒ او متصرفؒ له د پاره د جماعت (مسجد) او د پاره د وقفونو - مګر که په دوی باندے دعوه د عقد کیدله - نو بیا به دوی له قسم ورکیږی (یعنے که وړوکی هلک څه جنایت او جرم وُکه - او دعوه پرے وکړے شوه - او د وړوکی پلار یا وصی د دے دعوے نه انکار وکه - یا چا د جمات په دیوال دعوه وکړه - یا د وقف په یو کور یا داسے دعوه ئے وکړه چه ما د دغه مبنیٰ متولی په اذن سره د وقف په دے کور کښ دومره خرڅه کړیدہ - او متولی انکار کاوو - نو په دے ټولو کښ چه د دعوه کونکی شاهدان نه وی - منکرله قسم نشته.

مګرهاں! که د یو وړوکی په پلار یا په وصی چا دعوه وکړه چه تا ماله د وړوکی فلانے زمکه مثلاً په اجاره راکړے ده - او دغه وئیل چه نه - یا چا د وقف په متولی دعوه کوله چه تا ماله د وقف فلانے کور مثلاً په اجاره راکړے دے - او هغه وئیل چه نه - نو منکرله به قسم ورکیږی) ختم شه (یعنے مضمون د بحر ختم شه)

زه وایم (دا د شیخ شرف الدین صاحب کلام دے - ذکر کړی ئے دی په خپله حاشیه کښ چه په اشباه والنظائر کتاب ئے لیکلی ده - او نوم ئے تنویر البصائر دے) چه کوم اته دیرش مسئلے ذکر کړے هغه (یعنے مؤلف د بحر) په هغے مایو شو نورے مسئلے زیاتے کړیدی.

(یو ویشت مسئلے دی چه په هغے کښ هم منکرله قسم نشته)

یوه مسئله دا ده چه یو سړی که په بل باندے د څه شی دعوه وکړه "چه دا ځما دے" او اراده ئے وکړه مدعا علیه له د قسم ورکولو - نو مدعا علیه او وئیل "چه دا خو ځما د وړوکی ځوئے دے" نو مدعا علیه له به قسم نه ورکیږی - او په فتاوی فضلی کښ ذکر دی چه قسم به کوی - د ټولو اماماتو په نزد (لیکن سائحانی وئیلی دی چه دا قول د ظاهر نه خلاف دے.) نو چه قاضی ورله قسم ورکوی - که دغه د قسم کولو نه انکار راوړه - او دعوه د زمکے وه - نو قاضی به حکم وکړی چه زمکه د مدعی شوه - او بیا به انتظار کوی د هلک د لوئیدو په دے - نو چه ځوانیٔ ته اورسی - نو که د مدعی تصدیق ئے وکه نو خیره به په نا ره حال پاتے شی - او که هلک د لوئیدو نه پس د دغه مدعی تکذیب وُکه - (یعنے دے وئیل چه دے دروغژن دے - زمکه ځما ده) نو د هلک پلار به لګی د دغه زمکے قیمت به مدعی له ورکوی - او د مدعی نه به زمکه وا خستے شی - او هلک له به ورکړے شی - نو دا مسئله داسے شوه - لکه چه د یو سړی په بل د څه شی دعوه وُکی "چه دا ځما دے"

او مدعا علیه) اقرار وکی دَ یو بل غائب سړی دَ پاره (چه دا خودَ فلانی غائب سړی دے - او دغه غائب
دا سے وی) چه نه ئے انکار ښکاره وی - او نه تصدیق (یعنے دا نه معلومیږی چه هغه دا مدعا
علیه په دے اقرار کښ د ښتینے کنړی - او که دروغژن ئے کنړی) نو دَ مدعا علیه نه قسم
نه غوړ ښکی (نو قاضی به مدعا علیه له دَ مدعی دَ پاره قسم ورکوی - که دَ قسم کولو نه ئے انکار وکه
نو حکم به وکی په دغه شی سره دَ پاره دَ مدعی - اودَ غائب دَ راتلو انتظار به کیږی - که حاضر شه
اودَ مدعی تصدیق ئے وکه - نو خیره خلاصه ده - که نه ئی نو دغه شے به هغه له ورکړے شی -
او مدعا علیه به دَ دغه شی قیمت ورکوی مدعی له - اوس شیخ شرف الدین صاحب وائی - چه) زهٔ
وایم چه (پلار که دعوه وکړه - چه دا شے ځما دَ ځوئ دے - نو په دے کښ دوه قوله بیان شو
یو قول دَ قسم نه ورکولو - او بل دَ قسم ورکولو - نو) دَ دویم مبنی قول په بنا باندے دا مسئله راجع
شوه - دَ اشباه کتاب دے قول نه چه پلار له به قسم نه ورکیږی دَ ځوئ په مال کښ (دا خبره
عکس ته ښوے ده) او راجح ځکه شوه - چه کوم وخت پلار اقرار وکه - چه دا زما که ځما
دَ ځوئ ده - نو معلومه شوه - چه دا ئے دَ ځوئ مال دے - خو په دے شبهه پریوځی (شبهه
دا ده - چه اشباه کتاب وله چه وئیلی وُو - هغه دَ دا سے مال په بابت کښ وه - چه په
یقینی طریقه معلومه وی - چه دا ئے دَ ځوئے دے - او ځمونږ په دے مسئله کښ دا یقینی
معلومه نه ده - کیدے شی - چه پلار ئے دَ مدعی دَ دعوے نه دَ خلاصیدو دَ پاره دا دعوه
دَ حیلے په طور کړی وی) دویمه مسئله دا ده - چه یو سړی یو کور په بیعه واخسته - نو
دا غے خاوند دَ شفعے او دعوه ئے پرے وکړه - نو اخستونکی انکار وکه - چه ما په بیعه
نه دے آخستے (او اقرار ئے وکه چه دا ځما دَ ځوئ دے) نو په نوازل کتاب
کتاب کښ وئیلی دی - که یو سړی په بیعه یو کور واخسته - بیا حاضر شه
خاوند دَ شفعے - جو اخستونکی دَ قیمتهٔ اخستلو نه انکار وکه - او اقرار وکه
چه دا ځما دَ وړوکی ځوئ دے - او (دَ خاوند دَ شفعے) شاهدان نهٔ وی په دَ دے
خبره چه دا تا په بیعه آخستے دے -) نو په آخستونکی باندے قسم نشته
ځکه چه په هغه لازم شوے دے هغه اقرار چه دَ ځوئ دَ پاره ئے
کړے دے - نو دَ دے نه وروستو اوس دَ بل دَ پاره ودله اقرار کول جائز نه دی
(نو که ده له قسم شی - او دے دَ قسم کولو نه انکار وکی - نو دَ قسم نه انکار کول چه دی دا
دَ مدعی په حق کښ اقرار دے - نو لازم به شی اقرار دَ پاره دَ مدعی پس ئے اقرار کولو نه دَ پاره
دَ ځوئ - او دا جائزه نه ده - نو دَ دے وجے نه مونږه او وئیل چه قسم ورله نشته - او که په

دے مسئله کښې مدعي دَ شفعې شاهدان ودرول چه تا په بیعه آخستے دے - نو بیا یې
دَ دغه هلک پلار خصم شي - یعنې مقدمه به ورسره کولے شي - ځکه چه هغه دَ ځوی په ځائے
ولاړ دے -

درېمه مسئله داده - چه دَ سړی په قبضه کښې که یو مریے وو - یا یوه وینځه وه - یا څه
توکے وو - او دوؤ تنو پرے دعوه کوله (هر یو مدعي وئیل چه دا ځما دے - یا هر یو وئیل - چه
دا ما دَ خاوند دَ قبضے نه په بیعه آخستے دے) او خاوند دَ قبضے نے دَ قاضي مخے ته دا وسته بیا
هغه په دے مدعیانو کښې دَ یو دَ پاره اقرار وکه - یا دَ بو مدعي په بابت کښې نے دَ قسم کولو نه
انکار وکه - نو قاضي حکم وکه دَ پاره دَ دغه - نو اوس ورله دغه بل مدعي په خپل بابت کښې
قسم نه شي ورکولے - او که دعوه پرے دَ غصب وه (چه دا نا ځمانه په زور آخستے دے -)
نو په دے صورت کښې ورله قسم ورکولے شي - ځکه چه که دَ قسم نه نے انکار راوړه - نو دا
به اقرار شي په غصب نو ضمان به پرے لازم شي - (دا مسئله دَ بحر په مسئلو کښې مخکښې
تیره شوے ده -) صرف دومره فرق دے چه دلته دعوه دَ ملک مطلق یعنې دا دعوه چه دا
ځما دے زیاته ده وے کوره) دارنلپ ذکر دی په نوازل کتاب کښې -

څلورمه مسئله داده - چه که پلار دَ خپل واړه ځوئ دَ پاره یو کور په بیعه واخسته
بیا پرے بل دَ شفعې دعوه وکړه - او) دے خاوند دَ شفعې مختلف شو په اندازه دَ روپو کښې -
(ده وئیل چه ما په دو مره آخستے - او هغه وئیل چه په دومره) نو خبره دَ پلار معتبره ده
او قسم پرے نشته - لکه چه ځمونږ دَ مذهب په ډیرو کتابو نو کښې دارنلپ ذکر دی -

پنځمه مسئله داده - چه غل که دا دعوه وکړه - چه ما دَ غلا هغه شے هلاک کړے ضایعه
کړے دے - او دَ چا نه چه نے غلا کړے وه - هغه او وئیل چه نه هغه ستا څخه موجود دے - نو
خبره دَ غل معتبره ده - او قسم پرے نشته - او ابو اللیث صاحبؒ په نوازل کتاب کښې وئیلی دی
چه دَ ابو القاسم صاحبؒ نه سوال وکړے شه - چه که غل دَ لاس پریکیدو نه ورستو دَغه غلا
مال ضائع کړه نو ضمان پرے شته او که نه - نو وے وئیل چه نه حکم یو دے - که دَ لاس
پریکیدلو نه نے مخکښې ضایعه کړے وی - (بیا نے لاس پرے کړے شوے وی) او که وروستو نے ضایعه
کړے وی (په دواړو صورتونو کښې پرے ضمان نشته - او که دَ لاس پریکیدلو نه نے مخکښې
ضایعه کړے وی - او بیا نے لاس پرے نکړے شه - نو ضمان پرے شته دے) بیا ابو القاسمؒ
ته او وئیلے شو - چه غل که او وئیل چه ما هغه مال ضایعه کړے دے - او خاوند دَ مال او وئیل
چه نه هغه ستا څخه موجود دے - تا نه دے ضایعه کړے - نو اے غل له به قسم ورکیږی - نو

وے وئیل چه ضروری دہ داخبرہ چه خبرہ دَ عَل معتبرہ شی۔ او قسم پرے نشته۔

شپږمه مسئله دادہ۔ چه چا بل ته هبه کړے وہ۔ (څه شئے ئے ورته بخلے وو) بیا ده دَرجوع کولو ارادہ اوکړہ۔ نو چا ته چه ئے بخلے وو۔ هغه دعوہ وکړہ۔ چه هغه شئے ضایعه شوے دے نو خبرہ ئے معتبرہ دہ۔ او قسم پرے نشته۔ لکه چه ذکر دی په قاضیخان کتاب کښ۔ او په نورو کښ (دا مسئله په یو دیرش مسئلو کښ تیرہ شوے دہ)

اوومه مسئله دادہ۔ چه چا دعوہ وکړہ په بل باندے چه ته دَ فلانی سړی وصی ئے۔ او هغه دَ وکیل نوب نه انکار وکه۔ نو قسم پرے نشته (دا مسئله هم په یو دیرش مسئلو کښ راغلے دہ)

اتمه مسئله دادہ چه چا دعوہ وکړہ په بل باندے۔ چه ته دَ فلانی سړی وکیل ئے۔ او هغه دَ وکیل توب نه انکار وکه۔ نو قسم پرے نشته۔ دا دواړہ مسئلے ذکر دی په بزازیه کتاب کښ

نهمه مسئله دادہ چه یو سړی بل ته دَ څه شی هبه کړے وہ۔ (یعنے ورته ئے بخلے وہ) نو هبه کونکے دعوہ کوی۔ چه ما دا هبه په شرط دَ عوض کړے وہ (یعنے په دے شرط چه ته به ئے عوض راکوے) او هغه وائی چه نه۔ تا څه شرط نه وو ذکر کړے۔ نو چا ته چه هبه کړے شوے دہ دَ هغه خبرہ معتبرہ دہ۔ او قسم پرے نشته۔

لسمه مسئله دادہ۔ چه یو مرئی څه شے په بیعه واخست۔ نو خرخونکی ورته اووئیل چه ته خو دَ مالك دَ جانبه دَ تصرف منعه ئے۔ اذن درته نشته۔ او مرئی اووئیل۔ چه ما ته ئے اذن کړے دے۔ نو خبرہ دَ مرئی معتبرہ دہ بے دَ قسم نه۔

یولسمه مسئله دادہ۔ چه که یو مرئی دَ بل مرئی نه څه شئے په بیعه واخستلو۔ او یو پکښ اووئیل چه زۀ دَ تصرف دَ بیعے نه منع یم۔ او هغه بل اووئیل۔ چه ما ته او تا ته دواړو ته دَ مالك دَ طرفه اذن دَ بیعے شوے دے۔ نو خبرہ دَ اذن واله معتبرہ دہ بے دَ قسم نه۔

دولسمه مسئله دادہ چه قاضی دَ یو یتیم مال خرخ کړے وو نو چا چه په بیعه آخستے وو اوس هغه دَ څه عیب په سبب واپس کول غواړی۔ نو قاضی ورته وائی چه تا زۀ دَدے عیب نه آزادی کړے یم (یعنے تا وئیلی وو چه دَدے عیب سره م قبول دے۔) نو خبرہ دَ قاضی معتبرہ دہ بے دَ قسم نه۔ او داد تلئ که چا په قاضی دعوہ وکړہ چه تا ماله دَ یتیم فلانئے زمکه په اجارہ راکړے دہ۔ (او قاضی انکار وکه) او مدعی غوښتله چه قاضی له قسم ورکړی۔ نو قاضی له به قسم نه ورکیږی۔ ځکه چه دَ هغه خبرہ دَ حکم په طور گنړلے کیږی۔ او داد تلئ حکم دے په هر هغه شی کښ چه په قاضی ئے دعوہ کوی۔

دیارلسمه مسئله دادہ۔ چه دَ جینئے پلار دَ دغه جینئے دَ خاوند نه دَ مهر مطالبه کوله

نو کولے شی۔ که جینئ ورته وی۔ او که لویه وی۔ خو باکره وی۔ (یعنے دَ رحم پرده ئے په ځائ وی) او که دَ جینئ پلار او خاوند سره مختلف شو دَ غه جینئ په باکره والی کښ (نو خاوند ئے دعوه کوله چه ثیّبه ده۔ ثیبه دَ باکرے ضد دے۔ او پلار ئے وئیل چه باکره ده) او دَ خاوند په خپله خبره شاهدان نه وُو۔ نو دَ قاضی نه ئے دا غوښتله چه دَ جینئ پلار له قسم ورکی چه دَ ته دا نه ده معلومه چه ثیّبه ده۔ نو امام ابو یوسف صاحب وئیلی دی۔ چه دار نلهٔ قسم به ورکیږی۔ او خصاف ذکر کړی دی چه قسم به نه ورکیږی۔ لکه چه څوک بل سړے په دے خبره وکیل کړی۔ چه ته ځما قرضه دَ فلانی نه قبض که۔ نو قرضدار دے دعوه وکی چه زهٔ خاوند دَ قرضے آنادی کړے یم دَ قرضے نه زما ته ئے خپله قرضه بریخے ده) او وکیل ئے انکار کوی چه هغه دَ ته ابراء نه ده کړے۔ او دَ قرضدار شاهدان نه وی۔ نو هغه دا غواړی چه وکیل له قسم ورکړے شی) نو وکیل له به قسم نه ورکیږی۔ دار نلهٔ حکم جوړ دَ جینئ په مسئله کښ دے۔ دا دنلهٔ وئیلی دی په فتاوی ظهیریه کښ۔

څوارلسمه مسئله دا ده چه یو سړی په بیعه آخستے وه یوه وینځه۔ بیا ئے دعوه وکړه دَ دے خو دَ نکاح خاوند خو شته۔ نو خوځونکی وویل چه دَ دے یو خاوند وو۔ چه ځما مرئے وو۔ هغه دا وینزه طلاقه کړیده۔ بخوا دَ بیعے نه۔ (یعنے په تا م لا نه وه خرڅه کړے۔ چه هغه طلاقه کړے ده) یا دا چه هغه مړشوے دے۔ نو خبره ئے معتبره ده۔ قسم پرے نشته۔ دار نلهٔ ذکر دی په فتاوی سراجیه کښ۔ او خدائ پاک دیر زیات علم لرونکے دے۔ او دا بیان دَ دے کتاب سره خاص دے۔ لکه چه نور دیر بیانو نه پکښ هم داسے دی۔ چه په بل کتاب کښ نشته۔ دا رنلهٔ وئیلی دی شیخ شرف الدین غزی صاحب په خپله حاشیه دَ اشباه کښ او س صاحب دَ منتقی وائ چه) زهٔ وائیم چه کومه حاشیه صالح په اشباه والنظائر کتاب باندے لیکلے ده (او نوم ئے الجواهر الزواهر دے) په هغے کښ ئے او وه مسئلے نورے زیاتے راوړے دی۔ (او هغه دا دا تلونکے مسئلے دی) نو موتړ وایو چه پنځلسمه مسئله دا ده چه مدعا علیه که دَ مدعی په یو شاهد کښ طعن وکه۔ او وے وئیل۔ چه دے شاهد دَ دے شهادت نه مخکښ دَ ځان دَ پاره دَ دے کور دعوه کړے ده۔ (نو شاهدی ئے قبوله نه ده) او شاهد انکار وکه (چه ما پرے دعوه نه ده کړے) نو مدعاعلیه غوښتله چه قسم ورلره ورکی نو قسم به نه ورکیږی۔ دا رنلهٔ ذکر دی په جمع الفتاوی کښ۔

شپاړلسمه مسئله دا ده۔ چه دَ مړی میراث دَ یو خاص نوی په قرضو کښ ډوبه وه (مثلاً دَ لسو تنو پرے قرضه وه۔ او میراث ئے هم دومره وه۔ چه دا قرضه پرے پوره ده

ا او که جینئ لویه وه او باکره نه ده۔ نو بیا ئے پلار دَ هغے دَ اذن نه مهر نه شی قبض کولے۔ ۱۲ مترجم

کیږه یا ترے کمه وه) بیا داغے یو بل قرض والا - او دعوه ئے وکړه چه په دغه مړی ځما دومره قرضه ده نو دَ چا سره چه به دے په دے بابت کښ مقدمه کوی هغه دَ دغه مړی میراث خوړ دے - خو هغه له به قسم نه شی ورکیدے - ځکه چه هغه که دَ ده پاره اقرار وکه نو دا اقرار ئے نه قبلیږی (ځکه چه میراثه ړوبه ده) نو قسم به ورله نه ورکیږی " مجمع الفتاوٰی کتاب "

اوولسمه مسئله دا ده - چه دَ یو سړی بل نه زر روپئ وے - نو هغه ئے اقرار وکه - (یعنے مالک دَ روپو پسے دعوه وکړه چه ده اقرار کړیدے په دے زرو روپو سره) بیا هغه انکار وکه دَ اقرار نه (چه ما اقرار نه دے کړے - نو اے ! دے انکار کونکی له به په خدائ پاک قسم ورکیږی - په دے خبره چه اقرار ئے نه دے کړے (او که نه) نو دَ بوسی صاحبؒ وئیلی دی چه " او " - او صفار صاحب وئیلی دی چه " نه " بلکه په حق به ورله قسم ورکیږی - (یعنے دا سے قسم به کوی چه ما ته ئے هیڅ حق نشته) " مجمع الفتاوٰی "

اتلسمه مسئله دا ده - چه یو سړی بل له ورکړے وے څه روپئ - بیا سره دوا ړه مختلف شو نو چا چه آخستے دے هغه دعوه کوله چه ما دَ امانت په طور آخستے وے - (نو چه ضایع شوے زهٔ ضامن نه یم -) او چا چه ورکړے دے - هغه وئیل چه نا بلکه تا دَ ځان دَ پاره اخستے وے - (یعنے قرض وے - یا دے ما نه په زور اخستے وے - نو ته ئے ضامن ئے) نو مدعا علیه له به قسم نه ورکیږی - قاضی به وائی چه خبره دَ مالک دَ روپو معتبره ده - ځکه چه دے بل اقرار کړیدے - دَ ضمان په یو سبب سره - او هغه پردے مال قبض کول دی " مجمع الفتاوٰی "

نولسمه مسئله دا ده چه یو سړی بل سړے قاضی له راوست او دعوه ئے وکړه چه فلانے ځوئے دَ فلانی مړشوے دے - او بل میراث خوړ ئے نشته بے ځما نه - او دَ هغه دی سړی نه دومره دومره مال پوردے دے - نو مدعا علیه دَ دے دعوے نه انکار وکه - نو قاضی ته او وئیل ځوئ (چه میراث خور دَ مړی دے) چه ته ورله قسم په دے خبره ورکه چه دَ ته دا نه ده معلومه چه زهٔ ئے ځوئ یم - او هغه مړ شوے دے - نو قسم به ورله نه ورکیږی - بلکه ځوئ به شاهدان تیره وی په دے دواړو خبرو چه زهٔ ئے ځوئ یم او هغه مړ دے -) بیا به قسم ورکیږی مدعا علیه له په هغه مال باندے چه ځوئ پسے دَ پلار دَ پاره دعوه کوی - او بعض عالمانو وئیلی دی چه قسم به ورکیږی مدعا علیه له په علم باندے (یعنے قسم به په دے خبره کوی چه ما ته نه ده معلومه چه دے دَ هغه ځوئ دے - او هغه مړ دے) بعض عالمان وائی چه دا اول قول دے دَ امام صاحبؒ - او دویم دَ صاحبینو رح - او حلوانی صاحبؒ وئیلی دی چه صحیح دویم قول دے - یعنے دا چه مدعا علیه له به قسم ورکیږی په علم باندے " ولوالجیه "

اوشلمه مسئله دا ده. چه مدعی که په چا دَ زرو روپو دعوه وکړه (چه دهٔ ته څما زر روپئ دی او مدعاعلیه قاضی ته اووئیل. چه دے مدعی په ما باندے دَ فلانی ځائ دَ قاضی صاحب په حضور کښ دعوه کړے وه. نو بیا دَ خپلے دے دعوے نه وتے وو. ما ته ئے ابراء کړے وه. (یعنے زما دَ دعوے نه آزادی کړے یم) نو ته ورله قسم ورکه چه زهٔ ئے نه یم آزادی کړے دَ دے دعوے نه. نو که دهٔ قسم وخوړ. نو زهٔ به وخورم چه ما ته ئے هیڅ نشته. نو دَ دے مسئلے په حکم کښ عالمان مختلف شوی دی. خو صحیح خبره دا ده چه قسم به ورکیدے شی دَ هغه په دعوه باندے (یعنے مدعی دَ مال له به قسم ورکیږی دَ مدعاعلیه په دے دعوه باندے چه دهٔ دا ته ابراء کړے وه. نو مدعی به داسے قسم کوی. چه ما دے مدعاعلیه ته دَ دے دعوے نه ابراء نه ده کړے. یعنے دا دعوه م ورته نه ده پریخے)

یوَ دیشتمه مسئله دا ده. که یو سړی مثلاً په زید باندے دعوه وکړه چه زید څما دا توکے خیرے کړے دے. او توکے ئے دَ ځان سره دَ قاضی مخے ته راوړے. او اراده ئے وکړه چه زید له قسم ورکړے شی په سبب باندے. نو قسم به نه ورکیږی په سبب باندے (مطلب دا دے چه په زید به دَ خیرولو په سبب ضمان راځی. نو دَ خیرلو په بابت کښ به ورله قسم نه ورکیږی. چه کوندیا داسے قسم وخوره چه ما نه دے خیرے کړے. ځکه چه کیدے شی چه دَ مالک په اذن ئے خیرے کړے وی. یا ئے دَ خوشلو نه مخکښ خیرے کړے وی. او په ده ئے خیرے خرخ کړے وی. او په دے صورت کښ دَ مدعی خوشاهدان نشته. نو زید له به دَ ضمان په سبب یعنے په خیرلو قسم نه ورکیږی. خو قاضی به ورته وائی چه ته قسم وکه چه دَ دے خیرلو په وجه ده له په ما ضمان نشته. او س صاحب دَ منتقیٰ وائی چه) زهٔ وایم چه دا مسئلے چه دَ ورومبو مسئلو سره یو ځائ کړے شی نو ټولے دوه پنځوس جوړیږی. نو بکار دی یاد ساتل دَ دے مسئلو. (مترجم وائی چه دا ټولے مسئلے چه را یو ځائے کړے نو یو کم شپیته کیږی. ځکه چه یو دیرش دَ قاضی خان کتاب هغه دی. او اوه پسے بحر کتاب زیاتے کړی دی. او څوارلس[14] دَ تنویر الابصار هغه. او اووه دَ زواهر. او چه دَ خلاصے دَ دریو ذکر شوو مسئلونه ورسره دوه ټل کړے شی نو یو شپیته ترے نه جوړیږی. او یوه مسئله دا را نلوکے ده. نو ټولے دوه شپیته[62] شوے.

او امام حلوانی صاحبؒ وئیلی دی چه مجهولوالے څرنګ چه شهادت لره منعه کوی. دا رنګ قسم لره هم منعه کوی. (یعنے که چا دَ نا معلوم شی په بل دعوه کوله. لکه یو شریک په بل

---

[1] په تکمله رد المختار کښ دَ دے ټولو مسئلو مجموعه تعداد یو شپیته خودلے شویٔ. لکن دَ هغے وجه دا ده چه دَ بحر په هغه اوو مسئلو کښ دَ متولی مسجد او دَ ناظم اوقاف مسئله یوه شمارلے ده. او مطلب یو دے. ۱۲ مترجم

شریک دعوه دَ خیانت کوله په مجمله طریقه چه ده څه خیانت کړیدے۔ اودَ هغې بیان ئے ونه کړلو او په دے ئے شاهدان وړاندې کول غوښتل نو دا شاهدان قبول نه دی۔ اوکه مدعا علیه له ئے قسم ورکول غوښتل نوهم مدعا علیه له قسم نشته۔ لکن که قاضی دَ یتیم په وصی باندې۔ یا دَ وقف په یو منتظم باندې څه تهمت لیدلو۔ او دَ څه خیانت شک ئے پرے کیدلو۔ او دَ څه خاص شی دعوه ئے پرے نه کوله۔ نو دَ وقف او دَ یتیم دَ خیال ساتلو په وجه ورله قسم ورکولے شی۔

واللہ اعلم۔ وصلی اللہ علی سیدنا محمد وآلہ واصحابہ اجمعین

سله په اشباه کښ ویلی دی چه په مجهول شی چاله قسم نه شی ورکیدے۔ مګر په یو څو مسئلو کښ۔
یوه داده :- که دَ قاضی شک راتللو دَ یتیم په وصی باندے۔
دویمه داده :- که دَ قاضی شک راتللو دَ وقف په واکدار باندے نو دَ وقف او دَ یتیم په خاطر دا به ورله قسم ورکولے شی۔
دریمه داده :- که امانت ایښودونکی په امانت لرونکی باندے دَ مجمل خیانت دعوه وکړه۔
څلورمه داده :- چه دعوه ئے دَ مجهولے کانړے وکړه۔ مثلاً مدعی او وئیل چه ما دَ زیب تخه یو تو کے امانت یا کانړه ایخلے وو۔ او دغه توکے ئے معین نکړلو۔
پنځمه داده :- چه دعوه ئے دَ غصب وکړه چه دَه څما نه یو توکے په زور اخستے دے مثلاً۔
شپږمه داده :- چه دعوه ئے دَ غلا وکړه په مجمله طریقه۔ نو په دے ټولو صورتونو کښ مدعا علیه منکر له قسم شته دے ۱۲۔ مترجم

(محمد ابراهیم عفی عنه سالارزوی)

تمت بالخیر

(په کتابت دَ سید الرحمن کاتب دَ خدرخیل)

مینجر دَ اسلامی کتب خانے پیښور ښار